# شیخ زاید
## علمي - څېړنیز ژورنال

علمي، څېړنيزه، درې مياشتنۍ خپرونه

۱۴۰۳ المریز کال، لومړۍ ګڼه، غبرګولی، پرله پسې۳۴مه ګڼه


### په دې ګڼه کې لولئ:


- په پروان کې د جلال الدین خورازم شاه له ...
- د محمد صدیق پسرلي د شاعرۍ کوډونه
- په خوست ولایت کې د ماشومانو په راتلونکي ...
- جنین او احکام یې د اسلام له نظره
- په کرسټالي جالۍ کې د ایکس وړانګو د تداخل په وخت ...

او داسې نور ...





شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

۳۴


# Shaikh Zayed


Quarterly Academic & Research Journal 2024

No: 34


## In this Issue:


- The First Defeat of Mughals' Pride by ...
- The Codes of Poetry of Muhammad Siddiq Pasarlai
- Investigating the effects of child labor on children's ...
- Fetus and its Rulings according to Islam
- Study of charged states during X-ray interference in crystalline

& ETC...




بسم الله الرحمن الرحيم

# شیخ زاید پوهنتون

## شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

د شیخ زاید پوهنتون علمي څېړنیزه درې‌میاشتینۍ خپرونه

( ټولنیز او طبیعي علوم )

د ۱۴۰۳ل (۱۴۴۵ ق) کال لومړۍ ګڼه، غبرګولی ــ پرله‌پسې ۳۴مه ګڼه

۳۴

# شیخ زاید پوهنتون

# علمي څېړنو معاونیت

# علمي مجلې آمریت

# علمي مجلې عمومي مدیریت


**د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون**

**مسؤول مدیر: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب**

**علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي**

**علمي مجلې نشراتو مدیر: رحیم الله راحل**

**متونو سمونې مدیر: نعمت الله ذهین**

**برېښنالیک: journals@szu.edu.af**



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع ګل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهندوی صالح خان صالح | کمپیو ټر ساینس پوهنځی |
| پوهندوی سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهندوی نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهنمل ګوهرشاه ګوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |



**پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان**

**۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱۶۵ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷**

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو  پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه همهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته  په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لپاره دې (SMART) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيری وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟

- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې لهٔ امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري ليندیو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، ليکنه دې د ليکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لپاره (**Pashto Nazo**) ، د درى لپاره (**Bahij Zar**) د عربي لپاره (**Traditional Arabic** ) او د انګليسي متن لپاره دې (**Time New Roman**) فونټونه وکارول شي .
- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پايله، مناقشه او نتيجه ګيري راوړل شي. په پايله کې دې هره نتيجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړانديزونه دې د پايلې، مناقشې او نتيجه ګيرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګليسي (**Abstract**) د ليک سايز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې يې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر يې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګليسي ژبه د ليکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښناليک، د تقريظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان وليکل شي.
- ✓ مأخذونه بايد د الفبا په تورو ترتيب، شمېر يې له اتو کم نه وي، د ټولنيزو علومو ماخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبيعي علومو ماخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

| گڼه | سرليک | ليکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| | د ټولنيزو علومو برخه | | |
| ۱ | په پروان کې د جلال الدين خوارزمشاه له لوري د مغولي غرور لوموړی ماتې | پوهنوال زروالي صديقي | ۱ |
| ۲ | د مطبوعاتي پاليسی ارزښت او اغېز | پوهنوال محمد خان نيازی | ۱۵ |
| ۳ | آمره قواعد | پوهنوال محمدالله مندوزی او پوهنمل فضل الرحمن ايوبي | ۳۱ |
| ۴ | د قرآن کريم په تفسير کې اجماع او د هغې بېلګې | پوهندوی عاشق الله احمدزی | ۳۹ |
| ۵ | د محمد صديق پسرلي د شاعری کوڅونه | پوهندوی ظاهرشاه زهير | ۴۷ |
| ٦ | په ژبه کې د مورفو فونيميکي اوښتونو ژبپوهنيزه څېړنه | څېړندوی خالد تکل | ٦۷ |
| ۷ | د عامه افکارو د روزنې، پنځونې او لارښوونې سرچينې | پوهنوال محمدخان نيازی او پوهندوی اسد الله تنهی | ۷۷ |
| ۸ | د پښتو ژبې د ژوبلېدو علتونه | پوهنمل ګل احمد محبت | ۹۷ |
| ۹ | د عربون قرارداد پېژندنه | پوهنمل پاخون مياخېل | ۱۰۵ |
| ۱۰ | په خوست ولايت کې د ماشومانو په راټلونکي او ټولنيز ژوند د شاقه کارونو اغېزو څېړل | پوهنمل قدرت الله صديقي او پوهنيار امير محمد صابر | ۱۱۹ |
| ۱۱ | په پوهنتونونو کې د شخړو په کمولو کې د محصلانو ونډه | پوهنمل ګل ولی محمدزی او پوهنيار اکمال ناصر اميري | ۱۴۳ |
| ۱۲ | د چاپي خپرونو د رکود لاملونه او حل لارې | پوهنيار هلال ارشاد | ۱۵۷ |
| ۱۳ | جنين او احکام يې د اسلام له نظره | مفتي سيدالرحمن سعيد | ۱٦۵ |

| د طبیعي علومو برخه | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴ | په مالي پوهه کې د ریاضیاتو د تطبیق او ریاضیکي موډولونو د اهمیت څېړل | پوهنمل احسان الله همتي او پوهنمل محمد زبیر تنویر | ۱۸۷ |
| ۱۵ | د انسان په روغتیا باندې د کثافاتو اغېزې او د هغې د مخنیوي لارې چارې | پوهنمل قدیرالله هاند او پوهنمل رحمت الله عابد | ۲۰۳ |
| ۱٦ | د لوړ ترتیب پولینومي معادلو د حل موندلو څېړل | پوهنمل عبدالله عابد | ۲۱۵ |
| ۱۷ | په کرسټالي جالۍ کې د اېکس وړانګو د تداخل په وخت کې د چارج لرونکي حالت مطالعه | پوهنیار مولا خان زیارمل | ۲۳۱ |
| ۱۸ | په انساني حجراتو کې د کریب سایکل د کیمیاوي میکانېزم څېړل | پوهنیار مهاجر الهام | ۲۴۷ |
| Page<br>267 | **Abstracts in English** | | |

# په پروان کې د جلال الدين خوارزمشاه له لوري د مغولي غرور لومړۍ ماتې

پوهنوال زرولي صديقي، شیخ زاید پوهنتون، ټولنيزو علومو پوهنځی، تاريخ او جغرافيې څانګه.
**برېښناليک:** zarwalisedeqi@gmail.com

**لنډيز**

د هېواد په شمال کې د پروان سيمه له لرغوني زمانې راهيسې يو ځانګړی ستراتيژيک ارزښت لري او همدې موقعيت او طبيعت ورته د ښکلا ترڅنګ د نظامي استحکاماتو وړتيا هم ورکړې ده او د سکندر له مهاله زيات يرغلونه يې په شا تمبولي دي.
د چنګيزخـــــان تاړاکونو د هغه مهال په ټوله سيمه د وېرې او ظلم يو پراخه سيوری خپور کړی و؛ خو جلال الدين خوارزمشاه د مغولو د دې ظلم، غرور او دبدبې انتها لکه د لمر د څرک د لنډ مهال لپاره په پروان کې ټکنی کړه او مغولو هم درک کړه، چې د زمريانو ټاټوبی د خپل غچ وړتيا لري؛ نو له دې امله زيات په انديښنه کې شول او دا يې وپتيله، چې په يو هنر او تکتيک سره له دې ځای څخه ځان خلاص کړي او هم د خپل نظامي تکتيک په بدلولو سره د ياد خوځښت او ميړانې ارادې مړاوې کړي.

د يادونې وړ ده، چې د مهال له لحاظه دا جنګ په کال ۶۱۸ هجري قمري کې واقع شو، چې شخصاً د چنګيزخان لپاره هم يو ډېر حيرانوونکی جنګ و. دا جنګ په داســې مهال کامياب شــو، چې له دې وړاندې مغولو په سياسي، ټولنيزه، اقتصادي او فرهنګي ساحه کې د پام وړ منفي بدلون رامنځته کړی و او له مخې يې د تمدن دا پراخــــه ځانګو په يوه ويجاړوونکې او ويروونکې بيديا بدله شوې وه؛ ځکه مغولو له ويجاړتيا او وژلو پرته بل څه نه پېژندل.

اوس په دې اړه اصلي پوښتنه دا ده، چې څرنګه او د کومو لاملونو له مخې جلال الدين خوارزمشاه د پلار د مهال د مسلسلو ماتو وروسته په پروان کې د مقابل لوري يعنې مغولو په ماتې وتوانيده؟

په دې جنګ کې د جلال الدين محمد خوارزمشاه شخصيت يو ځانګړی مقام لري او خپله چنګيز هم د هغه په وړتيا او لياقت معترف دی او خپلو زامنو ته وايي: ((هر پلار دی همداسې بچی راوړي)).

په دې مقاله کې د پروان درې جنګونه، د هغې طرز او نظامي تکتيک او د هغو اقوامو اتحاد، چې د ســلطان ملا يې وتړله او دا جنګ يې تر بريا ورســاوه، لکه: غوري، خلجي، ترکي، قبچاق او نور افغاني اقوام، په دې جنګ کې د خپل مشترک دښمن په مقابل کې سره متحد شول او وتوانيدل، چې د دښمن

د تکبر کاسه نسکوره او سوبه ترلاسه کړي، خپله چنګیزخان هم په دې جنګ کې په خپله ماتې معترف دی او وایي: موږ تراوســه د ماتې خوند نه و څکلی او له دې څخه به موږ د راتلونکې کامیابۍ لپاره یوه ستراتیژي جوړه کړو، چې بیا د داسې ماتې سره مخ نه شو.

**کلیدي کلمې:** پروان، جلال الدین، چنګیزخان، خوارزمشاهیان، مغول.

**سریزه**

بسم الله والحمد لله والصلواة والسلام علی رسول الله وبعد: قال تعالی اعوذ باالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم واعتصمو بحبل الله جمیعا و لاتفرقو (الایه).

د مغولو تاړاک او د هغې تاریخي مخینه د تاریخ په بېلابېلو کتابونو کې په داســې ډول منعکس شــوې، چې له ورایه ترې د مغولو د قهر، ظلم او وحشـــت انګازې څرګندیږي، په دې علمي او څېړنیزه مقاله کې، د مغولو د هغه لنډ مهال یعنې کال (٦١٨) هجري قمري څخه یادونه شــوې ده، چې د محمد خوارزمشاه تر مړینې وروسته یې زوی سلطان جلال الدین منکبرني د تاریخ د حساس پړاو دغه حالت بدل کړ او په تاریخ کې یې دا ثبت کړه، چې د مغولو په څېر د هغه مهال سوپر پاور هم په افغانستان کې ماتې وخوړه او دوی، چې بیخې یې د خپلې ماتې تصور نه کاوه، د ماتې د تریخ خوند سره اشنا کړل او د زهرو دا ګوټ یې ورته په زوره له کومي تېر کړ، په دې مقاله کې په دې اړه بحث شـوی، چې سـلطان جلال الدین خوارزمشـاه څوک، پـــه کوم تکتیک او سـتراتیژۍ د مغولو د خطرناک طوفان په وړاندې مدبرانه ودرید او په پروان کې یې ورته د ماتې لاملونه برابر کړل؟

داچې بېلابېل تاریخونه د مغولو په مسـلسلو او مکررو سـوبو باندې څرخي؛ خو دا چې پروان یې د زوال او ماتې ډګر ګرځیدلی دی؛ نو اړتیا وه، چې دا موضوع هم د تاریخ د علم مینه والو ته روښانه او څرګنده شي.

بل دا چې د یادې سوبې مهم راز د سلطان جلال الدین خوارزمشاه د اړونده سرتېرو په اتفاق کې نغښتی دی او د اسـلام مبارک دین همیشـه خپلو پیروانو ته دا لارښـوونه او سـپارښـتنه کوي، چې تاسـو په خپلو منځونو کې اتفاق او اتحاد وساتئ او د خپل دښمن په مقابل کې لکه د یو واحد او نه ماتیدونکي صف ودرېږئ او که داسـې و نه کړئ؛ نو دښـمن به پر تاسـو بریا ترلاسـه کړي او زور به مو له منځه یوسي. د څېړنې اصـلي پوښـتنه به دا وي، چې څرنګه او د کومو لاملونو له مخې جلال الدین خوارزمشـاه د پلار د مهال د مسلسلو ماتو وروسته په پروان کې د مقابل لوري یعنې مغولو په ماتې و توانیده؟

## موخې

### الف: اساسي موخې

۱- د مغولو سره د پروان په جنګ کې د سلطان جلال الدین خوارزمشاه ستراتیژي پېژندل

۲- د اتفاق او نظامي تکتیک د ګټو تحلیل

۳- د پروان په جنګ کې د سلطان ګټه او د ټولو وګړو د مورال پیاوړتیا او د مغولو په وړاندې د پاڅونونو د انګیزې خلق کول.

### ب- فرعي موخې

۱- د مغولو پېژندل

۲- د خوارزمشاهي لړۍ پېژندل

۳- د سلطان جلال الدین منکرني شخصیت او د هغې جنګي کارنامې تحلیلول

۴- د پروان جنګ او د مغولو د ماتې د بهیر لاملونه پېژندل

۵- د مغولو په جنګ کې د هیواد د هر اړخیز انحطاط جاج اخیستل

## کړنلاره او کارتوکي

د څېړنې تګلاره کتابتوني ده او د موضوع په تړاو د معتبرو سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې ده او په دې اړه د اړونده تاریخي متونو تر مطالعې وروسته بیا د هغې تاریخي تحلیل ترسره شوی، چې روښانه کړي، موضوع د مختلفو تاریخی روایتونو په منځ کې کوم توپیرونه او ورته والی لري.

## د افغانستان په شمال کې د پروان ولایت

دا ولایت د ګران هېواد افغانستان یو له خورا لرغونو تاریخي سیمو څخه ګڼل کېږي، چې د هېواد په شمال کې له کابل څخه ۶۴ کیلومتره لرې والی لري او د جغرافیاوي موقعیت له مخې د ختیځو طول البلدونو د ۶۹ درجو، ۱۳ دقیقو او ۱۸ ثانیو او د شمالي عرض البلدونو د ۳۵ درجو، ۷ دقیقو او ۲۴ ثانیو ترمنځ پروت دی.

په ۳۲۸ مخزیږدي پیړۍ کې مقدوني سکندر هم ورته راغلی او د خپلو سوبو د معمول مطابق یې دلته هم د قفقاز د سکندریې په نوم سره یوه نظامي قلعه ودانه کړې؛ دا چې خپله پروان د هندوکش د غرونو د لړیو په منځ کې واقع دی او سکندریه یې د قفقاز په نوم سره یاده شوې، یو شمېر مورخین او

ځېرونکي په دې اړه په دې اند دي، چې یونانیانـــو د هندوکش د غرونو لړۍ د قفقاز د غرونو سره ورته ګڼلې دي (سنګروال،۱۳۸۲: ۲۶۱-۲۶۲).

د هېواد د اوسني اداري تشکیل له مخې د پروان شمال ته بغلان، جنوب ته یې کابل او وردګ، ختیځ ته یې کاپیسا او لویدیځ ته یې بامیان ولایتونه پراته دي (دولت آبادی ، ۱۳۷۱ :۳۵)

**سلطان جلالالدین منکبرنی**

نوموړی هوښیار او زړور شخصیت د محمدخوارزمشاه مشرـزوی دی، په کال (۶۰۹) هجري کې ورته محمدخوارزمشاه د غور اړوند ټولې چارې، چې کله محمدخوارزمشاه یاده لړۍ او د هغې اړونده سیمې و نیولې؛ نو بیا یې دا ســیمې جلال الدین ته ورکړې او د دې ځای مســؤل یې وټاکه؛ خو داچې زیات زړور و؛ نو همیشــه به یې د خپل ځان سره ګرځاوه او کربرملک یې په غزني کې ځای ناسـتی و؛ خو دا مهال لا هرات او پیښور د غوري لړۍ له مشرانو سره پاتې وو (اقبال اشتیانی،۱۳۸۴: ۵۹).

د نوموړي د نوم په اړه مؤرخین په دې اند دي، چې جــلال الدین د نوموړي لقب او نوم یې (منګُبرني، منګبرتي، منکوبر) دی، چې اصـلي مانا او د تسـمیې وجه یې هم څرګنده نه ده او د خوارزمشـاهي لړۍ وروستی سلطان ګڼل کېږي، د ابسکون په جزیره کې د پلار تر مړینې وروسته ورته رسماً د چارو واګې وسپارل شـوې؛ نو له دې ځای څخه ګرمو سیمو ته ولاړ او بیا له دې ځای څخه خراسـان ته راغی او له خراسان څخه غزني ته ولاړ او په دې جریان کې یې د اووه په شمېر کې جنګونه د وینه څښونکو مغولو سره ترسره کړل، چې په دې لړ کې یې په شــپږو جنګونو کې مغولو ته د پام وړ ماتې ورکړه او د هغې د تېر کبر او غرور کاسه یې نسکوره کړه (قزوینی، ۱۳۸۶،ص: ۱۳۹).

خو د نوموړي د نوم د مانا په اړه بیا جویني په دې نظر دی، چې د دې کلمــې مانا ده( خداداد یانې الله ورکړی) (جوینی،۱۳۸۵،جلد دویم، ص: ۲۸۹).

او د همدې لیکنې په ۲۸۷مخ کې بیا د قاضي احمـد غفاري د تاریخ جهان آرا په حواله سره لیکي، چې سـلطان جلال الدین په پوزه باندې یو خال درلود او (مینګ) په ترکي ژبــــه کې خال ته ویل کېږي او (بورون) پوزې ته ویل کېږي؛ نو له دې امله په دې نوم بانــــدې مشــهور شــوی دی؛ خو بیا په دې اړه

زیاتوي، چې دا وجه تسـمیه سـمه نه ده؛ ځکه چې دا د سـلطان خپل نوم دی او لقب یې جلال الدین و (جوینی،۱۳۸۵،جلد دویم، ص: ۲۸۷).

سلطان جلال الدین په نیشاپور کې د مغولو د تمدن ضد ځواکونو سره، د (۶۱۷)هجري کال په وروستیو کې مخ شـو او هغوی ته یې سـخته ماتې ورکړه او بیا د هـــرات په لور ولاړ او د لارې په اوږدو کې یې شـــمس الملک له زندان څخه خلاص کړ او هغه یې غزني ته واســتاوه او خپله هم د (۶۱۸) هجري په لومړیو کې هلته ورســـید او امین الملک یې د (۳۰۰۰۰) سرتېرو سره هرکلي ته راغی او د دې ترڅنګ سیف الدین اغراق، اعظم ملک او مظفرملک د افغانانو مشران او یو شمېر د قرلق ترکان یې هم مرستې ته حاضر شـول او دا مهال جلال الدین د امین ملک د لور ســـــره نکاح وکړه او د مغولو سره د جنګ ترتیبات یې ونیول (اقبال اشتیاني، ۱۳۸۴: ۶۰).
عطاء ملک جویني هم یاده مو ضوع تاییدوي او لیکي: کله چې سـلطان( غزنین ) غزني ته ورسـیده؛ نو امین ملک یې د پنځوسوزرو سرتېرو سره مرستې ته حاضر شو او بیا یې د نوموړي د لور سره نکاح وکړه او په ژمي کې هم دلته پاتې شـو او چې کومو ځایونو ته د سلطان خبر ورسـیده، له هرځای څخه ورته د اسلام سرتېرې راورسیدل او ترڅنګ یې لکه د زمرو ودریدل، چې په دې کې د غور زیات مشـــران او سرتېري هم شامل وو.

ز هر سو سپه شد برو انجمن　　که هم با گهر بود و هم تیغ زن

ژباړه:

له هر لوري ورته سرتیري راجمع شوو　　چي هم د خپل ذات او اصل له مخې لوړ وو او هم تورزن

او چې کله یې کار تر دې مرحلې ورسـېده؛ نو بیا د پروان په لوری روان شــو او هلته ورته خبر ورســید، چې د مغولو لښـکرې د تکجک او ملغور په شـمول د مغولو سره یوځای شـوې دي او د والیان قلعه یې محاصره کړې ده؛ نو خپل نظامي توکي یې همدلته پـــــه پروان کې پرېښـودل او د یادې قلعه محاصرې خلاصـــولو ته یې ځان ورســـاوه او دلته یې زیات مغول له تېغه تېر کړل او مغولو ته یې لومړی تاریخي ماتې ورکړه (جوینی،۱۳۸۵،جلد دویم، ص: ۱۳۵-۱۳۶).

**د پروان په جنګ کې د مغولو په وړاندې د جلال الدین سوبه**

دا جنګ مؤرخینو په درې مرحلو باندې ویشلی دی:

**لومړی جنګ**

لکه چې وړاندې هم ترې یادونــــه وشـوه، په دې جنګ کې سـلطان د اړینو وسـایلو تر پوره کولو او ترتیبولو وروســته د خپلو بېلابېلو ګڼو قومونو له سرتېرو سره، هغه ځای ته ورســیده، چې د لوګر ســیند ورڅخه سرچینه اخلي او دا ځای یې خپل نظامي مرکز وټاکه او چې کله خبر شــو، چې مغول په تخارستان کې د والیان د قلعه په محاصره بوخت دي؛ نو خپل وسایل یې په پروان کې پرېښودل او ځان یې د همدغې قلعه د محاصرې ازادولو ته ورســاوه او د مغولو سره یې دلته یو ســخت جنګ وکړ، چې تقریباً د زرو په شـمار کې مغول مړه او نور یې د جنګ له میدان څخه و تښـتیدل، مغولو په داسـې حال کې، چې ماتې یې خوړلی وه د امو له ســیند څخه تېر شــول او له زیاتې وېرې یې پل هم ویجاړ کړ او ځانونه یې تر چنګیز ورسول او د یادې پېښـې ټول تفصیل یې ورته ورکړ، له دې سوبې وروسته جلال الدین بېرته پروان ته واپس شو (اقبال اشتیانی، ۱۳۸۴، ص:٦٠).

طبقات ناصري د راوړتې په حواله سره دا جنګ د افغانستان په تاریخ کې د لویو او خورا مهمو جنګونو څخه ګڼي، چې د مغولو د نظامي او جنګي قدرت په اوج کې، چې زیاتې ســیمې یې نیولې وې او تر دې مهال یې هیڅ ماتې نه وه خوړلې، په دې جنګ کې د یوې تاریخي ماتې سره مخ شول او لوی لامل یې دا و، چې جلال الدین خوارزمشــاه د خپلو ټولو افغاني قبایلو ترمنځ وحدت او اتفاق رامنځته کړ (منهاج سراج،۱۳٦۳،جلد دویم، ص:۱۱۸).

**دویم جنګ**

کله چې چنګیزخان د جلال الدین سره د لومړي جنګ له ماتې خبر شو؛ نو له ده څخه د انتقام په موخه یې قوتوقو نویان د خپلو زیات شـمېر لښـکرو سره راواسـتاوه، چې مؤرخینو یې شـمېر د (۳۰۰۰۰) او (۴۵۰۰۰) ترمنځ ښـودلی دی او دا جنګ بیا د جلال الدین او قوتوقو ترمنځ د پروان سره د یو فرسـخ په فاصله کې واقع شو، جلال الدین په دې جنګ کې د خپل لښکر ښي لوری ملک امین ته ورکړ او چپ لوری یې سیف الدین اغراق او خپله یې د جنګ د منځ طرف واخیست او یو سخت او خونړی جنګ د دواړو لورو ترمنځ شروع شــو، جلال الدین په دې جنګ کې خپلو سرتېرو ته امر صــادر کړ، چې له خپلو اسـونو څخه پیاده شئ، خپله سـپرلی له لاسـه ونیسـئ او د دښـمن سره لاس په لاس جنګ شروع

کړئ، دې خونړي او تاریخي جنګ دوه ورځې دوام وکړ، چې په لومړی ورځ کې هېڅ يو لوری ته کومه مثبته پایله ترلاسه نه شوه؛ لیکن په دویمه ورځ قوتوقو خپلو لښکرو ته داسې لارښوونه وکړه، چې یو ځانګړی شکل جوړ کړئ او په خپلو اسونو یې نصب کړئ، چې د جلال الدین سرتېرو ته معلومه شي، چې دوی ته د چنګیرخان له لوری نوې مرسته ورسیده او دوی به په دې سره مات شي، د دوی دا تکتیک نږدې و، چې د جنګ پایله بدله کړي؛ خو د جلال الدین سرتېرو په کمـــال رشادت او زړورتیا سره مقاومت وکړ او برعکس د قوتوقو سرتېرو ماتې وخوړه او د تېښـــتې لار یې ونیوله او په دې و توانیدل، چې چنګیز ته خپل ځانونه ورسوي، په دې سره په ټولو مسلمانانو کې یو ډول خوشحالي خپره شوه او چې کله د یادې سوبې خبر د خراسان اړوند نورو ښارونو او د ماوراءالنهر جنوب ته ورسید، چې د چنګیزي لړی غرور او زور نور مخ په زوال دی؛ نو په دوی کې هم یوه د خوشحالۍ ولوله راپیدا شوه، هلته هم د چنګیزیانو پر وړاندې پاڅونونه ترسره شول او د مغولو سرتېري یې ووژل او مغولو د تخارستان نیول شوې قلعه (والیان) هم پرېښوده او له دې ځای څخه وتښتیدل (اقبال اشتیانی، ۱۳۸۴، ص:۶۱).

د تاریخ جهان ګشـــای لیکوال هم په ورته نظر دی، چې مغولو تاریخي ماتې وخوړه او خپل ځانونه یې تالقان ته د چنګیزخان خواته ورسول (جوینی،۱۳۸۵،جلد دویم، ص: ۱۹۶).

ویل کېږي، چې کله چې ســـلطان جلال الدین منکبرنی په پروان کې د قوتوقو نویان ځواکونه وځپل او مات یې کړل او دوی د تېښـتې لاره ونیوله او تر چنګیزخان یې ځانونه ورسـول او چنګیزخان هم له دې ټکان ورکونکې پیښې څخه خبر شـو؛ نو خپل سکون او مورال یې له لاسه ورنه کړ او ویې ویل: قوتوقو نویان همیشه له جنګ څخه ګټونکي راځي او هېڅکله یې هم د ماتې خونـــد نه دی څکلی؛ نو له دې ماتې وروسته به اوس په خپلو ټولو چارو کې بشپړ احتیاط کوي (اقبال اشتیانی، ۱۳۸۴، ص:۷۰).

د تاریخ اجتماعي ایران لیکوال هم پـــه دې نظر دی، چې د دوه ورځو په دې جنګ کې مغولو د پام وړ ماتې خوړلې ده (راوندی،جلد دویم، ۱۳۵۴،ص: ۲۹۵).

**درېیم جنګ**

د یاد جنګ د عمومي شننې په اړه ویل کېږي، چې د مغولو په دویم جنګ کې تر سختې ماتې وروسته، چګنیز پـه پوره زیرکتیا او تجهیز سره د جلال الـدین د مـاتولو او د نوموړي سره د پریکنده جنګ پـه موخه بشـپړ ترتیبات ونیول او درک یې کړه، چې نوموړی یې د سـترواکۍ د زوال عامل کیدای شي؛ خو

دا پلا يې د نور جنګي او نظامي تکتيکونو په نسبت يو بل تکتيک و کاراوه او هغه د جــــلال الدين د سرتېرو او قبايلو ترمنځ د نفاق اچول وو، چې د پروان د دويم جنګ وروســـته ورته ښـــه زمينه برابره وه؛ ځکه چې هلته دوی د ســوبې وروسـته په خپلو کې د غنايمو په سر باندې يو له بل سره په جنګ شـوی وو او په خپلو کې يې زيات مشـــران وژلي وو او دې نظامي حربې د چنګيز سره پوره مرسته وکړه او په پايله کې په دې جنګ کې کامياب شو (منهاج سراج، جلد دويم، ۱۳۶۳،ص: ۱۱۸).

سلطان د هند په لوري روان شو او د سند تر سينده ورسيد؛ خو د مغولو او خپله د چنګيزخان له خوا په جدي توګه تعقيب شو او د سند تر سيند يې ځان ورته ورساوه؛ خو نوموړی په ډېره مېړانه او شهامت په داسې حال کې، چې د مغولو د بې شمېره غشيو لاندې نيول شوی و، بيا هم په الهي نصــــرت په دې و توانيده، چې له دې لس ګزو پــــه اندازه ژور سيند څخه تېر شي او چې کله دا ټوله صـحنه چنګيزخان خپله مشاهده کړه؛ نو خپلو زامنو ته يې مخ راوګرځاوه او ورته يې وويل: ((چې پلار دې همداسې بچی راوړي)) او زياته يې کړه، چې هوښـياران بايـــد له دې څخه غافله نـــه شي؛ ځکه چې د نوموړي په اصطلاح دا به زياتې فتنې رامنځته کړي (جويني،۱۳۸۵،جلد دويم، ص: ۱۴۲).

**په دې جنګونو کې د جلال الدين د سوبې لاملونه**

په دې اړه مؤرخينو د بېلابېلو لاملونو څخه يادونه کړې ده، چې جــــلال الدين په پوره مېړانه او زړورتيا سره په دې لومړيو جنګونو کې د لومړي پلا لپاره د مغولو پر وړاندې د جنګ ګټونکی شـو او هغوی ته يې داسې ماتې ورکړه، چې بيخي د هغوی لپاره، چې تر دې مهاله يې هيڅ ماتې نـــه وه ليدلې، يوه ډېره حيرانونکې خبره او انديښنه وه، چې د لاملونو څخه يې په لاندې توګه يادونه کيږي:

(۱) د خپلو نظامي لښکرو او بېلابېلو اقوامو پورې منسوب سرتېرو ترمنځ يې يو بې مثاله اتحاد، همکاري او همغږي رامنځته کړه.

(۲) بل دا چې په خلکو کې يې د مغولو د ظلم او وحشت پر وړاندې د انتقام او غچ يوه روحيه او انګيزه پيدا کړه، په داسې حال کې، چې دا روحيه د نوموړي د پلار پر مهال بيخي له منځه تللې وه او هر څوک په خپل سر و او هر چا کوشـش کاوه، چې د جنګ په ځای خپل ځان په امن کړي او د نورو غم ورسره نه وو او دا کار د قهريدلی او ظالم دښمن لپاره يوه ښه وسيله وه، چې زيات ښارونه تر تسليمدو وروسته هم د بخښنې څخه مستفيد نه شو او په بې رحمۍ سره يې ټول اوسيدونکي قتل عام شول.

پورتني مو ضوعات په کم توپير سره اقبال اشـتياني او انصـافي هم راخيسـتي دي، اشـتياني وايي: جلال الدين خپلو سرتېرو ته د زړه ډاډ ورکړ (اقبال اشتياني، ۱۳۸۴،ص: ۶۱)

او انصـافي بيا وايي: جلال الدين بېلابېل قومونـــــه( ترک، افغانان، غوريان، قبچاق ) او نور سره راټول کړل (انصافی، ۱۳۸۶،ص: ۶۶).

**د جلال الدين د ماتې خوړلو لاملونه**

خو بيا په وروسـتيو کې دا نامتو شـخصـيت هم د مغولو د زوال ځپړې وواهه او ماتې يې وخوړه، چې يو شمېر تاريخونه ترې په لاندې توګه يادونه کوي:

۱- د جلال الدين د سرتېرو ترمنځ په غنايمو باندې جنګ او جنجال شـو او چنګيزخان له دې اسـتفاده وکړه او دا نفاق يې د دوی ترمنځ په خپلو تبليغاتو او نورو پروپاګندو سره هم زيات کړ، په دې اړه هم په تاريخونو کې داسې وينو:

(( دا مهال د امين الملک او سـيف الدين اغراق ترمنځ د يو اس په سر باندې اختلاف پيدا شـو او موضوع تر جنګ ورسيده او امين ملک سيف الدين په قمچينه وواهه او سلطان د دې موضوع سمه او ژوره څېړنه ونه کړه او سطحي يې په نظر کې ونيوله.

سيف الدين په دې ورځ چپ پاتې شو؛ خو چې کله شپه شوه؛ نو د کرمان او سيقران د غرونو په لوری ولاړ او د نوموړي په تلو سره دلته يوه لويه تشـه رامنځته شـوه او د سـلطان قوت ورباندې زيات زيانمن شـو)) په دې اړه يو شـاعر وايي: تنصـــــرت بعدالحق عارا اللطمة و ماکان فيها لو صـبرت لها ضـرر (جوينی،۱۳۸۵،جلد دويم، ص: ۱۳۸-۱۳۹).

ژباړه: د حق سره د مرستې کولو وروسته د لالچ په خاطر و ګرځيدې که لږ صبر دې کړی وی، په دې کې درته زيان نه و.

۲- په دې اړه سمناني بيا په دې نظر دی، چې د سلطان جلال الدين د مشـرانو ترمنځ په نفاق اچولو کې د چنګيزخان لاس هم و او په دې رابطه نوموړي د خپلو ځانګړو جاسوسانو په واسطه سره سيف الدين اغراق ته د دې ژمنه ورکړه، چې زه به درته په اوښـانو اوښـانو طلا درکړم او تاسـو له جلال الدين څخه جلا شـئ او دا چې لـه وړانـدې هم د دوی او ترکـانو ترمنځ اختلاف شـتون درلــــود؛ ځکـه چې

محمدخوارزمشاه د غوریانو لړۍ ړنګه کړې او له منځه وړې وه؛ نو له دې امله له جـــلال الدین څخه وګرځیده (پناهی سمنانی ،۱۳۷٦،ص : ۱٦۴).

## د پروان د جنګ پایلې او اغیزې

### الف: سیاسي

د جلال الدین د سرتېـــرو او د خوارزمشاهي لړۍ د اړونده ټولو سیمو د وګړو پـــه منځ کې د مغولو او تاتاریانو په دې مـاتې سره یو ډول نوی روح او د مقابلې انګیزه راولاړه شوه او د خلکـو ترمنځ هغه وېره او ډار له منځه ولاړ چې تر دې مهاله یې د مغـولو له جنګونو څخه درلود او دا ورته څرګنـده شوه، چې مغولي لړۍ نور په ماتیدو ده، یوازې وحدت او سالم قیادت ته اړتیا ده، چې د زمریانـو د ټاټوبي د نفاق په خوب ویده وګړي له خوبه بیدار کړي، د خراسان او ماوراءالنهر د جنوب سیمو کې خلک د مغولـــو خلاف پورته شـول او پاڅـــونونه یې وکړل او د دوی سرتېري یې ووژل او دوی خپله هم له تخارستان څخه و تښتیدل او درک یې کړه، چې نور ورته دلته پاتې کیدل په ګټه نه دي(اقبال اشتیاني، ۱۳۸۴،ص: ٦۱). یاده مو ضوع په کم توپیر سره سـمناني هم راخیستې ده او لیکي: دا مهال، چې مغولـــو د تخارستان مشهوره قلعه(والیان) تر محاصرې لاندې نیولې وه، هغه یې ترک کړه او د تیښتې لاره یې و نیوله (پناهي سمناني،۱۳۷٦،ص : ۱۵۹).

په ټولیزه توګه په دې اړه ویلی شـو، چې له منځه تللی سـیاسي وحدت یو پلا بیا رامنځته شـو او دا هغه څه و، چې محمدخوارزمشاه پرې نه و توانیدلی.

### ب: اجتماعي او اقتصادي

پرته له شکه د هغه مهال اسلامي نړۍ ته د مغولو له تاړاک څخه خـورا زیات تاوان ورسید، د ښارونو او کلیو ټولنیز سیسـتم زیانمن شـو، کرنیزې ځمکې شـړې او په بیدیاو تبدیلې شـوې، عامه ځایونه، لویې لارې نا امنه او بازارونه ویجاړ شول، همدارنګه سوداګري، صنعت او کرنـــه ډېره زیانمه شوه او د خلکو شتمني او پانګه لوټ شوه، د خراسان د ځمکو د خړوبولو مشهور او منظـم سیستم او کاریزونه له منځه ولاړل او د ټولنې د هر پوړ وګړي ووژل شـول او یا هم، له خپلو سـیمـــو څخه وکوچیدل، له دې امله ویلای شو، چې دلته په ټولیزه توګه په اجتماعي او اقتصادي ډګر کې یـــو زوال او انحطاط رامنځته شو، چې تشه یې تر ډېره محسوسیده او لا ډېره درده ونکې او خواشینوونکې یې دا وه، چــې علم او فرهنګ

له متمدن او فرهنګ پال ټاټوبي څخه په کډه شو؛ خــو دې جنګ یو پلا بیا دا مړاوې غوټۍ په غوړېدا کړې (قراګزلو، ۱۳۸۴،ص: ۲۶۴).

**ج: فرهنګي**

مغول د فرهنګ په نوم د کومې ځانګړې اصطلاح سره اشنا نه وو او نه یې هم د فرهنګ مراعت پېژانده او په دې اړه یې ټولو فرهنګي شخصیتونو او فرهنګي کړنو ته هېڅ پاملرنه نــه کوله او یوازې د ویجاړتیا او د خلکو له وژلو او ازارولو یې بل څه نه پېژندل.

او دا لامل و، چې علمي او فرهنګي مراکز یې ویجاړ کړل او پـــــه ډېره بې دردۍ یې له منځه یوووړل ( صفا،۱۳۸۴،ص: ۳۴).

د جلال الدین خوارزمشاه په رامنځته کېدو او رسماً واک ته په رسیدو او د مغولو سره د مسلسلو جنګونو وروســته، خال، خال علماء، فا ضلان، ادیبان او شــاعران رامنځته شــول او دلته یې د خپل فرهنګ تېر عظمت یو پلا بیا را ژوندی کړ.

**پایله**

جلال الدین محمد خوارزمشــاه د پروان په جنګ، چې (٦١٨) هجري قمري کې د مغولو سره واقع شــو او پایله یې د نوموړي په سوبه منتج شوه، د نوموړي شخصیت یې پــه تاریخ کې وځلاوه او ترڅنګ یې د خراسان او په ځانګړي ډول د اوسني افغانستان تاریخي او ستراتیژیک اهمیت څرګند کړ؛ ځکه چې له خوارزم او د هغه مهال د پراخه خراســان په ټولو ســیمو کې محمد خوارزمشــاه د مغولو په وړاندې په ټولو جنګونو کې یو پر بل پسې ماتې وخوړه او دا سلسله همداسې روانــه وه او ټول ښارونه ورځ تر بلې د مغولو لاس ته ورتلل او یوه غمیزه د اسلامي نـــړۍ او په ځانګړي ډول د محمد خوارزمشــاه تر واک لاندې سیمو کې، په خورا بې رحمۍ د شدت په حالت کې وه او له ټولو څخه یې لاره ورکه کړې وه.

د پایلې پــه توګــه یو څو ټکي دلتــه خورا مهم دي، چې د بېلابېلو کتـابونو او څېړنو لـه مطالعې څخه څرګندیږي لکه تاریخ جهـــان ګشـایی، تاریخ مغول از حمله چنګیز تا تشکیل دولت تیموری، تاریخ اجتماعي ایران، لب التواریخ، طبقات ناصري او یو شــمېر څېړنې لکه تأثیر ایلغار مغول در مسـیر تاریخ

ایران، حمله مغول بــه ایــران، درآمدی پیرامون برآیندهای سیاسی اقتصادی یورش مغول او داسې نورو څخه لاندې پایله ترلاسه کېږي.

چې د پروان په جنګ کې ماتې د مغولو لومړۍ ماتې وه، بـــل دا چې سلطان جلال الدین د خپل پلار محمد خوارزمشــاه پرمهال په مکرره توګه هڅوي ته د جنګ او مقابلې وړاندیز وکړ، په ځانګړې توګه د کال (٦١٦) هجري قمري نظامي شــورا تـــــه یې په خورا ځرګندو ټکو وویل: چې له مقابلې پرته د بلې لارې غوره کول ګټور نـــــه دي؛ خو پلار یې دا نظر قبول نه کړ، همدارنګه په دې لړ کې بله خورا مهمه نقطه، چې د څېړنې په پایله کې څرګندیږي، هغـــــه دا ده، چې د عباسي خلافت مرکز هم په دې برخه کې یوازې د محمد خوارزمشـــاه سره د اړیکو د خرابوالي له امله د پام وړ همکاري ونه کړه، چې دا ستونزه بیا جلال الدین خوارزمشـاه یو څه حل کړه او د باور د فضـا په رامنځته کیدو وتوانیده؛ خو یاد و ضعیت بیا دوام ونه کړ او بیا همدا د عباسي خلافت بې تفاوتي، د خراســان او محمد خوارزمشــاه تر سـیمو او واک تر زواله محدوه پاتې نه شـوه او د هلاکو پر مهال دا د خطر زنګ او د اسـلامی تمدن د ویجاړتیا طوفان د عباسي خلافت دروازه هم ټک ټک کــــړه او په کال (٦٥٦) هجري قمري کې یعنې (٣٦) کاله وروسته د وخت خلیفه مستعصـم باالله یې وواژه او بغداد هم سقوط وکړ، که چیرې دوی په شریکه د خوارزم او بیا د خراســان په اړونده سـیمو کې د یاد بُحران مخه نیولې وای؛ نو تر دې بریده به ستونزه نه رسیده.

**وړاندیزونه**

۱- د ټولې اسلامي نړۍ د هېوادونو او ملتونو ترمنځ یو بې مثاله اتحاد او اتفاق رامنځته کول
۲- د دښمن په وړاندې د جنګ پرمهال د کور دننه د ټولو مخالفتونو څخه په کلکه ډډه کول
۳- د جنګ تدبیر او تکتیک ته په کتو د ملت باور ترلاسه کول

## اخځلیکونه

### کتابونه

۱ـ اقبال اشتیانی، عباس (۱۳۸۴)، تاریخ مغول از حمله چنگیز تا تشکیل دولت تیموری، تهران: امیر کبیر.

۲ـ پناهي، سمناني (۱۳۷٦)، سلطان جلال الدین خوارزمشاه ، تهران، بی جا.

۳ـ جوینی، عطاءملک ابن محمد، (۱۳۸۵ )، تاریخ جهان گشایی ،مصحح، قزویني محمد، تهران: دنیای کتاب.

۴ـ دولت آبادی ، بصیراحمد (۱۳۷۱)، شناسنامة افغانستان ، قم، بیجا.

۵ـ راوندی، مرتضی،(۱۳۵۴)، تاریخ اجتماعي ایران،تهران: امیرکبیر

٦ـ سنگروال، شهسوار (۱۳۸۴)، د افغانستان د تاریخي جغرافیه څرنګوالی،کابل: الازهر خپرندویه مؤسسه.

۷ـ صفا، ذبیح الله (۱۳۸۴)،تاریخ ادبیات در ایران، تهران: مطبعه فردوسی.

۸ـ قزویني، یحی ابن عبدالطیف (۱۳۸٦)، لب التواریخ، مصحح: محدث، هاشم، تهران: انجمن اثار و مفاخر فرهنگي.

۹ـ منهاج سراج، عثمان ابن محمد (۱۳٦۳)، طبقات ناصري ،مصحح: عبدالحی حبیبی ،تهران: دنیای کتاب.

### مقالې

۱۰ـ اصفهانیان، داود (۱۳۷٦)،((تأثیر ایلغار مغول در مسیر تاریخ ایران)) . مجموعه مقالات اولین سمینار تاریخی هجوم مغول به ایران و پیامدهای آن ، تهران: دانشگاه شهید بهشتی.

۱۱ـ انصافی، بابک (۱۳۸٦)،((حمله مغول به ایران.)) مجله گزارش، شمارهٔ (۱۸۷).

۱۲ـ قراگزلو، محمد (۱۳۸۴)،((درآمدی پیرامون برآیندهای سیاسی-اقتصادی یورش مغول))،ماهنامه اطلاعات سیاسی- اقتصادی، س ۱۹، ش ۲۱۳ و ۲۱۴، ص. ص. ۲٦۰- ۲٦۹.

## د مطبوعاتي پالیسۍ ارزښت او اغېز

پوهنوال محمد خان نیازی، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، عامه اړیکو څانګه.
**برېښنا لیک:** belalahmad2020@gmail.com

**لنډیز**

په دې مقاله کې مطبوعات او پالیســـي دواړه پېژندل شوي دي. د پالیسۍ په جوړښت، اداره، ټولنې او ژورنالســت باندې یې د اغېز په اړه علمي مســلکي معلومات لیکل شــوي دي؛ که حکومت، رســنۍ او ژورنالستان یې په جوړښت او کارونه کې غور وکړي ټول اړخونه له مختلفو ستونزو خلاصېږي، د دوی درې واړو ترمنځ د ټکرونو مخنیوی کېږي، د دښــمنانو د بې ځایه نفوذ او تبلیغاتو مخه نیول کېږي او په مقابل کې یې همغږي، همدردي، او پرمختګ را منځ ته کېږي، درې واړه اړخه د یو ګټور ملي یون پر لور درومي، همدا علت دی چې رسنۍ د ملتونو او حکومتونو ترمنځ د پله حیثیت غوره کوي.

**کلیدي کلمې**: اداره، پالیسي، جوړښت، ستونزې، نفوذ، مطبوعات.

**سریزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین، قال الله تعالیٰ ج فی کتابه المجید ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ .. ﴾ ژبــاړه: تاسو بهتر د امتونو یاســت را ویســتل شــوي له نورو خلکو (امتونو) څخه څو په روا، امر او له ناروا څخه خلک منع کړئ (القران، ال عمران، ایه: ۱۱۰).

د اخري پیغمبر حضـــــرت محمد ص امت کې د ناروا پر وړاندې مبارزه او مقابله د ایمان غوښتنه ده، په همدې اســاس هر مســلمان ژورنالســت، چې څه لیکي دنده به یې د ټولنې لارښــوونه، ســالمه روزنه، صداقت ته هڅونه او له دروغو څخه مخنیوی وي، ځکه الله ج امر کوي چې: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا﴾ (القران، الاحزاب،ایه: ۷۰) ژباړه: اې مومنانو! له الله ج څخه و وېرېږئ سمه او صفا خبره کوئ؛ څرنګه چې اسلام د حقانیت دین دی دروغ، منافقت او سپکاوی پکې هیڅ ځای نه لري د ژوند په چارو کې د حق وینا کول، د حق نه پټول د یو مسلمان ژورنالست ایماني، مسلکي او ملي مسئولیت دی. د الله ج پیغمبر حضـــــرت محمد ص دې موضوع ته په یوه حدیث کې اشاره کړې او ویلي یې دي: ﴿د ظالم پاچا په مخکې حقه خبره او وینا کول غوره جهاد دی﴾ (شــیخ، ۲۰۱۰م،ص۶۵). دا چې مطبوعات د یوې ټولنې د ستونزو د حلولو د پټو رازونو د را برسېره کولو، خلکو ته د سمې او رېښتینې

لارې د ښودلو، د ظالمانو پــــه مقابل کې د مظلوم د حق د ترلاسه کولو دنده پر غاړه لري؛ نو لازم دی چې د رسنیو لپاره د پالیســـي په جوړولو کې له دیانت، دقت، غور او صداقت څخه کار واخیستل شي؛ ځکه حکومت، پالیســـــي او مطبوعات یو له بل سره تړلي دي. که چېرې درې واړه د خپلو موخو لپاره چې د ټولنې هر اړخیز پرمختګ دی سره همغږي شي، په اسـانۍ سره کولای شي خپلې موخې ترلاسـه کړي. د ذکر شــویو موخو د ترلاســه کولو په خاطر حکومت رسـنیو ته اړتیا لري څو یې په وسـیله خپل سیاسي، فرهنګي، اقتصادي قوانین، مقررات او اصول د ټولنې تر لرې پرتو سیمو ورسوي. د دې هدف لپاره حکومت، رسنـــۍ او ژورنالستان مجبور دي چې داسې بنسټیزه ملي پالیسي پلې کړي، چې د ټولو اړخونو (حکومت، رسـنۍ، ژورنالســت او ټولنې) ګټې پکې نغښــتې وي؛ ځکه حکومت چې هر ډول قوانین، اصــول او مقررات پلې کوي، موخه یې د ټولنې پرمختګ وي؛ غواړي چې د ټولنې قناعـت حاصـل او پر ټولنه د قوانینو او مقرراتو په چوکاټ کې حکومت وکــــړي. رسـنۍ چې کله ملي ټولنیزه پالیســـي ولري مینه‌وال (اورېدونکي، کتونکي او لوستونکي) یې زیاتېږي. هغه مسئولیت چې رسنۍ یې د ټولنې په مقابل کې لري اداکوي. د همــــدې موخې لپاره رسـنۍ هغه وخت ښې ځلېدلی شي چې د خپل ولس هر اړخیزه روزنه، لارښوونه، پالنه او ساتنه وکړي؛ د پېښو او خوځښتونو په اړه یې د غفلت له خوبه را ویښ کړي، د ګټې او زیان لورې ور په ګوته کړي؛ پـــــه پایله کې ملت د خپلو ملي نوامیســو ساتنې او پالنې ته را دانګي چې همدغه ټکی رسـنۍ، ملت او حکومت سره همغږي کوي چې ګټه یې ټولنې او عوامو ته رسېږي.

که چېرې د رسنیو خاونـــدان حکومتي چارواکي سره یو ځای همغږي او متفق شي په نتیجه کې لاندې ملي موخې لاس ته راوړلی شي.

- حکومت او د رسنیو مسؤولین به د اسلامیت او افغانیت په چوکاټ کې ځانګړي ملي مطبوعاتي پالیسي ولري.
- د رسنیزو ادارو مسؤولین به د پالیسي په جوړښت کې د ټولنې مذهبي، معنوي، تاریخي، جغرافیایي، فرهنګي او مادي کرښې جدي په نظر کې ونیسي، څو له ټولنې سره ټکر نه شي.
- د رسنیزې ملي پالیسي پر مټ به د ټولو هغو خپرونو، پروګرامونو او خبرونو مخه ونیول شي؛ چې زموږ دیني، مذهبي، سیاسي، فرهنګي او ملي ګټې زیانمنوي.
- د رسنیزې ملي پالیسۍ پر مټ به د دښمنانو د تبلیغاتي رسنیزو ادارو او مؤسسو مخه ډب کړل شي، چې د ملي وحدت خلاف عامه افکار د مختلفو غوړو شعارونو په خپرولو سره متضرروي.

- بالاخره به حکومت، ملت او رسنۍ په یوه اتحاد د ملي نوامیسو د ساتنې، پالنې او ټولنې د پوهونې او بیا رغونې مسئولیت په شریکه سره مخ پر وړاندې یوسي.

که چېرې موږ په هېواد کې ملي رسنیزه مطبوعاتي پالیســـي ولرو کولای شو چې زیاتو ناخوالو ته د پای ټکی او ستونزو ته د حــــل لار پیدا کړو، موږ به وکولای شـو چې د دښـمنانو د ټولو هغو پروګرامونو، پلانونو او دسیسو مخه ونیسو، چې زموږ د ناپوهه، بې‌تجربې او مظلومې ټولنې پـــه دردولو او وژلو کې خپلې ملي ګټې لټوي. که چېرې زموږ ملي دولتونه، رسنیزې اداري مسلکي او پـــه تجربو سمبال پخې علمي ستې د رسنیو د ملي پالیسۍ په جوړښت کې د زړه له اخلاصه کار وکړي، لرې نه ده چې موږ به یې په مټ لاندې لاس ته راوړنې ولرو:

- د رسنیو، ملت او دولت تر منځ به پر ملي ګټو ولاړه کامله همغږي را منځ ته شي
- د چارواکو، ژورنالستانو، رسنیزو ادارو او ټولنې تر منځ به د ټکر مخنیوی وشي
- د رسنیزو ادارو مسلکي فعالیت به د قانون په اډانه کې را څرخي او د ژورنالستانو ژوند به وژغورل شي
- د هېواد دښمنانو ته به هېڅکله دا موقع په لاس ور نه شي، چې د ملت او حکومت تر منځ د رسنیز ټکر له لارې فاصله ایجاد او عامه افکار متضرر کړي
- رسنۍ دولت او ملت به ټول یوځای د ملي ګټو د ساتنې پالنې او بډاینې لپاره لاس په کارشي
- ملت به د یو مثبت ملي هر اړخیز پرمختګ پر لار قدم کېږدي او د تل لپاره به د ارام سا واخلي

**د کار میتود:** رسنۍ او پالیسي یو بل سره لازم او ملـــزوم دي رسنۍ چـــې هـــر چېرې خپرونې کـــوي مجبورې دي، چې د خپل ځان د بقا، اقتصادي ملاتړ، د خدمت د پایښـت او د ټولنې قناعت په خاطر داســې خپرونې وکړي، چې د حکومت نافذه قوانینو او مقرراتو سره ســم فعالیت وکړي او هم د ملت د سرو کرښـو ساتنه او پالنه وکړي. په همدې اساس زموږ د مقالې د لیکنې میتود کتابتوني دی. د مختلفو پوهانو له علمي مقالو، اثارو او لیکنو څخه ګټه اخیســتل شــوې ده او د خپل شــل کلن مســلکي مزل، تجربو او سترګو لیدلي حالاتو په رڼاکې مو دا مقاله لیکلې ده؛ څو یې په رڼا کې د رسنیو مسؤلین رسنیز مسؤولیت ادا او د ټولنې مذهبي، ملي، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي امانت ساتنه وکړي، پالنې او بډاینې ته د یو مســلکي، ملي خادم په حیث ملا وتړي. همدارنګه د ټولو هغو ادارو چې د ټولنې عامه افکار بې ځایه ننګوي مخه ونیسـي، د مقالې ارزښت دا دی چې د حکومت، ملت او رسنیزو ادارو تر منځ د ټولو شکونو، بې ځایه تبلیغاتو، د فاصلې د ایجاد او تفرقې مخه په مطلق ډول نیول کېږي، څکه د رسنیو غږ د

هر کور تر دروازې او د هر کس تر دماغـــو رسېږي د رسنیو دا کړنه بل بدیل نه لري، بلکې همدا علت دی، چې رسنۍ د دې عصـــر د ټولو ادارو لپاره د پیغام رسونې په زړه پورې وسیله بلل کېږي، که له ذکر شویو لارښونو کار واخیستل شي اغېز بـــه یې فوق العاده زیات وي؛ ځکه ټولنه به له مختلفو (تعصباتو، سـمتي، مذهبي، ټکرونو او سـتونزو خلاصـه شي. د دریو واړو اړخونو تر منځ به قوي باور او یووالی لا مضبوط شي.

**د مطبوعاتي پالیسۍ ارزښت او اغېز**

ځینې وخت په نړۍ کې داسې بوږنوونکې پېښې را منځ ته کېږي، چې د حکومتونو او رسنیزو ادارو تر منځ داسې ټکرونه را منځ ته کیږي، چې بشـــریت ورته حیرانېږي. ژورنالستان وژل کېږي، وهل کېږي، بندي کېږي، رسـنیزې ادارې تړل کېږي، جریمه کېږي... . پوښـتنه دا ده چې ولې د حکومت او رسـنیزو ادارو تر منځ ټکرونه را منځ ته کېږي؟ څه شـــی دی، چې د رســـنیزو ادارو د بقا باعث ګرځي؟ څنګه د ژورنالستانو او مسلکي کسانو ژوند ژغـورل کېدای شي؟ څنګه کولی شو، چې د ټولو (دولتي، شخصي، خدماتي او تولیدي) ادارو او ټولنو تر منځ همغږي، بـــاور او یووالی را منځ ته کړو؟ د دې ټولو پوښـتنو لپاره د یوې داســې ملي رســنیزې پالیســۍ جوړښــت خورا مهم او لازم دی، چې په هېواد کې د ټولو ارزښـــتونو په ســـاتنې سره د ملت او ادارو تر منځ د اعتماد او اتحاد په غېږ کې را وټوکېږي، څو ټول اړخونه خپل مذهبي، ملي، عقیدوي، سیاسي او فرهنګي ارمانونو ته ورسېږي.

د نړۍ ټول هېوادونه دې ته ژمن دي، چې د خپلو ملي ګټو او نوامیسـو د سـاتنې په خاطر ټولو دولتي او غیر دولتي، خدماتي او تولیدي ادارو تـــه د ملي ګټو د ساتنې لپـــاره داسې پالیسي چمتو کـــړي؛ چې د ملت، دولت او غیر دولتي ادارو ټولو خیر پکې وي. د دې موخې لپاره د عامه اړیکو پر مسـلکي کسـانو بلا ډېر مصارف کوي، په خپلو ادارو کې ځانګړی ځای، صلاحیت او مسؤلیت ورته سپاري.

څرنګه چې رسنۍ د وخت د حکومتونو د پیغامـــونو د انتقال، د حکومت او ملت تر منځ د اتصال او پیغام رسـونې لپاره مهمې وسـیلې دي؛ نو حکومتونـــه مجبور دي، چې له رسـنیزو ادرو سره تفاهم ته ورسېږي، څو یې له لارې خپل ملت تـــه ټول پیغامونه، قوانین او مقررات ورسوي. ځکه په نن عصر کې بې رسنیو حکومت نه کېږي، همدا رسنۍ دي، چې د ملت او حکومت پیغام تر لرې پرتو سیمو او ټولنو رسـوي. د دې لپاره چې تر منځ یې سـتونزې او لانجې رامنځ ته نه شي؛ یوې داسـې کړنلارې ته اړتیا ده چې د حکومت، ملت او رسـنیو دریو واړو ګټې پکې خونـــدي وي. د همدې موخې لپاره مطبوعاتي

اداري مجبورې دي؛ چې داسې مطبوعاتي پالیسي چمتو او په یو منلي چوکاټ کې خپلې چارې پیل کړي، چې خپل لوړ مرام تر لاسه کړي (وردگ،۱۴۰۲ش،۴۲-۴۵).

پالیسي (کړنلاره) د ادارو او مدیریتونو په برخه کې مهم ټکي دي؛ ځکه په اوسنی نړۍ کې هره اداره، پالیسي او استراتیژي ته اړتیا لري، چې له دې پرته یې چارې له خنډ او ځنډ سره مخامخ کیږي، که منظمه پالیسي ونه لري تل به له داسې ستونزو سره مخامخ وي چې د خلاصون لار به نه لري.

پالیسي اصلاً انگلیسي کلمه ده، چې په قانون او فقه کې د تدبیر؛ په اروپوهنه کې د خط‌مشي او په نظامي چارو کې د روش معنی ورکوي؛ د مسلک، تخصص او اداري نوعیت په اساس یې د هر مسلک پوهانو؛ ځانگړي تعریفونه کړي دي، چې زه یې د هغو پوهانو له قوله در پېژنم چې د مطبوعاتو په ډگر کې یې تجربې ترلاسه کړي او د خپلې پوهې په اډانه کې یې موضوع ته ځانگړي تعریفونه کړي دي.

**کلارک کوجران**: پالیسي له هغو سیاسي برنامو څخه عبارت ده، چې د ټولنیزو موخو د لاس ته راوړلو لپاره په لاره اچول کیږي.

(**ایلویزمالون**): پالیسي-د حکومت له هغو فعالیتونو څخه عبارت ده، چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په عوامو اغیزې کوي.

**گای پیترز**: پالیسي-د کړنو له هغې معتبرې کړنلارې څخه عبارت ده، چې په اصولو ولاړه وي او تر کره ټاکلو موخو سړی رسوي(نیازی،۱۴۰۲ش،ص ص.۱۵۰-۱۵۳).

**توماس دای**: پالیسي له هغه څه څخه عبارت ده، چې حکومت یې سر ته رسوي او یا یې څنگ ته کوي(رضایان ۱۳۹۹ش،ص.۲۴۷).

**گای پیتر**: پالیسي د حکومت له هغو فعالیتونو څخه عبارت ده، چې په رعیت مستقیمې او یا غیر مستقیمې اغیزې ښاندي.

**ویلیام جنکینز**: په خپل اثر (د سیاستونو شننه) کې لیکي پالیسي د هغو فعالیتونو له مجموعې څخه عبارت ده، چې یو بل سره رابطې ولري. د سیاسي احزابو او لوبغاړو له لوري د ځانگړو موخو د لاس ته راوړلو لپاره جوړیږي او پلي کیږي (نیازی،۱۴۰۲ش، ص. ۱۵۴).

که پورته تعریفونو ته ځیر شو په ټولو کې (ټولنیزې موخې، پر ټولنه اغېز او سیاسي اهدافو ته د رسېدا) کلمې ذکر شوي دي، چې ذکر شوي کلمې او الفاظ درې واړه برخې سره یو ځای کوي. همغږي ته یې رابولي، که سره یوځای (همغږي) نه شي؛ په ټولنه کې نظام او وحدت نه را منځ ته کېږي، بلکې ګډوډي یې ځای نیسي. لـه دې کبله د چارو د تنظیم، تطبیق او پرمخ وړلو لپاره د یوې کړنلارې شتون لازمي دی.

پالیسي د ټولو ادارو او سازمانونو لپاره یو مهم اصل دی، چې د خپلو کړنو د ښه سرته رسولو لپاره او ټاکلو موخو ته د رسېدو لپاره ځانګړې پالیسي ولري، څو په اسانۍ سره وکولای شي، هغه څه چې غواړي تر لاسه کړي. په همدې اساس هره پالیسي (سیاسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي...) ځانګړتیاوې لري، څو د هغو په لرلو او خپلولو سره ټاکلي اهداف تر لاسه شي، چې رسنېزې پالیسۍ هم معلومې ځانګړنې لري چې ستاسو حضور ته یې وړاندې کوم.

**وضاحت او روښانتیا:** پالیسي ګانې باید په داسې ډول جوړې شي، چې د سازمان ټول غړي پرې په اسانۍ سره وپوهېږي، هغه پالیسي چې په مفاهیمو او کلماتو یې څوک پوی نه شي، په عملي کولو کې یې ستونزې را ولاړېږي.

**د اجرا وړ وي:** پالیسي جوړوونکي باید پالیسي په داسې ښه جوړه کړي، چې عملي کوونکې ځانګړتیاوې ولري، خیالي او غیر حقیقي پالیسي ګانې له ناکامۍ سره مخامخ کېږي. د کاروبار توان او اړتیاوو ته په کتو سره په ریښتینې ښه پالیسي جوړول په عمل کې کومه ستونزه نه پیداکوي، همدا لامل دی چې د پالیسیو د جوړولو پر مهال باید د اجراأتو په اړه ژور فکر وشي او داسې چمتو شي چې په عملي کولو کې یې اسانتیاوې موجودې وي.

**د بدلـون وړ وي:** پالیسي باید د ژوند په هر ډول چاپېریال او حالاتو کې د بدلون او عملي کولو وړ وي، عصري او تکنالوژیکي بدلونونه کله کله سړی اړباسي؛ چې له مختلفو چټکو حالاتو سره ژر او ژور بدلون ومومي؛ نو د پالیسي جوړوونکي باید دې مسایلو ته جدي متوجه وي، چې په هر ډول حالاتو کې یې پالیسي د بدلون او عملي کېدلو وړ وي؛ ځکه نننۍ عصري نړۍ کې د وخت د غوښتنو په اساس پالیسۍ ژر بدلېدونکې دي، که د رسنیو د ازادۍ او فعالیت لپاره ځانګړې عقیدوي او ملي پالیسي ولرو هیڅکله به اداره، رسنۍ او د دوی فعالیت سره ټکر نه شي.

**همغږي ولري:** دا چې یوه پالیســـي مختلف اړخونه لري؛ نو لازمه ده، چې د عملي کولو په وخت کې ټول اړخونه یو له بل سره، همغږي او هملاري وي؛ څـــو پرته له کوم کړاوه په یوه غږ او اقدام سره خپلو موخو ته ورسیږي، که موږ افغانان د اسلامیت او افغانیت په چوکاټ کې ټاکلې ملي پالیســـي ولرو څه تاوان به وکړو؟

**بشپړه وي:** په دې معنی چې پالیسي باید د یوې ټولنې اړتیاوو او نیمګړتیاوو ته په کتو داسې جوړه شي، چې له هره اړخه ستونزو ته لاره هواره کړي، په دې عصـــــر کې افغان ملت، رسنۍ او حکومت څنګه بشپړه او ټولو غوښتنو ته ځواب ویونکې پالیسي ترتیب او جوړه کړي (نیازی،۱۴۰۲ش،ص .۱۵۱).

**پر دلایلو ولاړه وي:** هره اداره چې پالیسي جوړوي، د مربوطه هېواد د ټولو قوانینو، اصولو او مقرراتو په نظر کې نیولو سره جوړېږي؛ ځکه نن ورځ د ساینس علم او تکنالوژي دومره حد ته رسېدلې ده، چې هیڅوک بې دلایلو له تاسره په یټو، سترګو ستاسو پالیســـــي نه مني هرڅه چې کېږي باید چې په کره، مستدللو دلایلو، معلوماتو او اطلاعاتو ولاړه وي.

**تحریري موجودیت (مسوده):** پالیســـــي باید لیکلې بڼه ولري، شفاهي او خیالي بڼه له ستونزو سره مخامخ کیږي، هر کله چې د یوکار کړنلاره جوړه شي په ټولو چارو کې د پیروۍ وړ وي او هر کس ور څخه ګټه اخیستلای شي.

**د راتلونکې ډاډمنتیا:** پالیسـي باید د کاروبار ( اداري فعالیت) د راتلونکو فعالیتونو ضمانت وکړي او د راتلونکي لپاره د اطمنان وړ او د بقا باعث وګرځي؛ ځکه چې د کار لار یې معلومه وي، له ستونزو سره نه مخ کېږي او که مشکل ایجادیږي بیا پړه پر هغوی (پالیسي جوړونکو) باندې وي، نه په رسنیزه اداره.

**له قوانینو سره توپیر:** د نړۍ هر هېواد ځانګړی قانون لري، چې مقننه ځواک یې جوړوي. کله چې قانون جوړ او تصویب شي، تطبیق یې حتمـــي دی. تګلاره قانون نه دی؛ بلکې د قانون تفسیر دی، د ضرورت په وخت کې دې قانون تفسـیر او تو ضیح شي د وخت او چاپیریال حالاتو ته په کتو ممکن بدلون ومومي.

موږ پالیسـي و پېژانده په ځانګړتیاوو یې پوه شو، څرنګه چې زموږ موضوع د مطبوعاتي پالیسۍ ارزښت او اغېز دی. دلته لازم دی چې پر هغو کسانو بحث وشي چې د مطبوعاتي پالیسۍ په جوړښت کې مهم

رول لري يا څوک دي؟ چې د مطبوعاتي پاليسی په جوړښت کې سالم اغېز لري؟ هغه کومې سرې کرښې دي، چې د پاليسی د جوړولو پر وخت په نظر کې ونيول شي؟

کله چې پاليسي جوړه شي ارزښت او اغېز به يې چا ته وي؟ دا هغه مواد دي، چې موږ به په دې علمي مقاله کې علمي او مسلکي بحث پرې وکړو.

**مطبوعاتي پاليسي:** وړاندې مو عموماً پاليسي وپېژانده او د هغې ځانګړتياوې مو ذکر کړې، څرنګه چې مطبوعاتي پاليسي هم د عمومي پاليسی ځينې ځانګړتياوې او ارزښتونه په ځان کې لري، ولې ممکن پېژندنه يې له نورو پاليسيوڅخه يو څه توپير ولري، دلته غواړم چې د ژورنالېزم پوهانو له خوا يې در وپېژنم.

هر هغه طرزالعمل چې مطبوعاتي اداره کې د کار له پيله مخکې، په کار کې د ښهوالي په خاطر چمتو کېږي، څو په کار کې اسانتيا را منځ ته کړي مطبوعاتي پاليسي بلل کېږي (افتخار،ص.۲۲۷).

رسنيزه پاليسي د رسنيزې ادارې له هغو قواعدو، اصولو او مقرراتو څخه عبارت ده، چې د ذکر شوې ادارې رسنيزې چارې د ذکر شوو مقرراتو په رڼا کې ترسره کوي.

څرنګه چې د ژوند هر اړخ مهم دی او يوه رسنۍ نه شي کولی، چې د ټولو برخو په اړه معلومات او خپرونې وکړي؛ نو له دې کبله د نړۍ مهمو رسنيزو اژانسونو او ادارو د خپل کار لپاره د پوښښ او مو ضوعاتو برخې په دې خاطر ځانګړې کړي دي؛ ترڅو په يوه ټاکلې برخه او ساحه کې د ټاکلو مو ضوعاتو په اړه خپرونې او معلومات ځانګړي کړي او هم ځانګړي مينه‌وال ولري، له دې کبله هره رسنيزه اداره د خپلو خپرونو لپاره ځانګړې لايحه ( د کار ساحه) ټاکي او د همغو ټاکلو اصولو په رڼا کې خپرونې کوي.

پاليسي‌ګانې د خپلو ځانګړتياوو او اړتياوو له پلوه بيلابېل ډولونه لري، چې له اقتصادي، سياسي، فرهنګي، نظامي، ملي، علمي، خبري، تحليلي، تفريحي او داسې نورو څخه عبارت دي. په دې اساس په رسنيزه اداره کې د چارو له پيل مخکې هغه کاري طرزالعمل چې په تحريري بڼه چمتو شوی وي؛ څو مو د عمل په ډګر کې له ستونزو وژغوري مطبوعاتي پاليسي بلل کېږي.

هره ټولنه ځانګړي عقیدوي، مذهبي، سیاسي قوانین او فرهنګ لري؛ نو د مطبوعاتي پالیسۍ په جوړښت کې لازم دی، چې ذکر شوي ټول (مذهبي، عنعنوي، سیاسي، فرهنګي، علمي او تاریخي) ارزښتونه په نظر کې ونیول شي؛ ځکه چې دا د یوې ټولنې هغه مادي او معنوي برخې دي، چې په جوړښت کې یې ځانګړی اغېز لري. حکومتونه، رسنۍ او ژورنالستان یې د غښتلتیا، بډاینې او پرمختګ په اړه مسؤل بلل کېږي. که چېرې په مطبوعاتي پالیسۍ کې ذکر شویو اړخونو تـه پام ونه شي؛ نو هره ورځ به اداره، حکومت او ژورنالستان په خپل منځ کې له مختلفو ستونزو او د عامه افکارو له غبرګون او منفي ټکرونو سره مخامخ وي. دغه ټکي دي، چې رسنۍ او عامه افکار په هېوادونو کې د حکومتونو په جوړښت، بدلون، بقا او رکود کې خورا غښتلی اغېز لري؛ که په نظر کې ونه نیول شي، حکومتونو ته بلاوې زېږوي؛ نمونې یې موږ او تاسو په مختلفو هغو هېوادونو کې؛ چې د پردیو د ظلم او وحشت لاندې دي، درک کولای شو. په ذکر شویو هېوادونو کې د رسنیو پالیسۍ او پروګرامونه د ځواکمنو هېوادونو له خوا په خورا دقت، ځیرکتیا جوړېږي او پلي کېږي، او په غیرمستقیم ډول یې د خپل ځان په ګټه څرخوي.

### پالیسي څوک جوړوي؟

د پورته پوښتنې لپاره ځوابونه مختلف دي؛ ځکه د ملتونو او دولتونو د قوانینو، مذهبي، سیاسي، اقتصادي او ایډیالوژیکو موخو په نظر کې نیولو ځانګړي رسنیزې پالیسۍ جوړېږي، خپلې ملي ګټې پکې پالي؛ همدارنګه هغه دولتونه چې غښتلي دي د هغوی، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونه او ملي امنیتي ادارې د خپلو موخو مطابق رسنیو ته د مطبوعاتي استازیو په ګډون ځانګړې ملي پالیسي جوړوي؛ له هره اړخه یې تمویلوي؛ ځکه همدا رسنیزه ملي پالیسي ده، چې د ملت او حکومت تر منځ فاصلې له منځه وړي، پیغامونه یې یو بل ته انتقالوي، تر منځ یې همغږي را منځ ته کوي.

ولې په هغو هېوادونو کې چې ملي حکومتونه یې ضعیف وي هلته د مختلفو هېوادونو، نړیوالو موسسو او سازمانونو له خوا له تمویل سره یو ځای ځانګړې رسنیزه پالیسي ورکول کېږي. د ورکړل شوې پالیسۍ په تطبیق سره مصارف هم ورکوي، د غوړو شعارونو ( ازادي، معلوماتو ته د لاس رسي...) په رڼا کې ځانګړې پالیسي جوړوي، چې ژوندی مثال یې زموږ د هېواد تېرو دوو لسیزو کې هغه رسنۍ وې، چې د نورو له خوا تمویلېدې. څه چې هغوی ورکول همغه یې د مطبوعاتي ازادۍ په نوم خپرول، حال دا چې ډېری خپرونې یې زموږ د ملي او مذهبي ګټو خلاف وې تل یې د هغو اطلاعاتو، معلوماتو او

پروګرامونو لاس نیوی کاوه، چې زموږ د ملي وحدت او ملي ګټو د پاشـــنې او بې بنـدوبارۍ لپاره جوړېدې او خپرېدې.

د رسنیو د پالیســـي په جوړښت کې مهمه خبره دا ده، چې هغه رسنۍ چې خپل ملت او اخلاقو ته ژمنې وي د مطبوعاتي پالیسي په جوړولو کې د هېواد دولتي ملي او امنیتي مسؤل چارواکي، د رسنیو د امتیاز خاوندان، مسئول مدیران، د خبري سروېسونو ځانګړي مسؤلین، د خبرونو، تحلیلونو او ملي برنامو نامتو باتجربه مسـلکي ژورنالسـتان او لیکوالان د خپل رسـنیز ډګر د موخو په رڼا کې سره کېني، داسـې ملي مطبوعاتي پالیســـي جوړه کړي، چې د کار او فعالیت په ساحه کې د را پېښېدونکو ستونزو مخه ونیسي. په دې ډول یې د ټولنې په مقابل کې خپل ملي او مســـلکي مســـؤلیت هم ادا او هم یې د ټولنې د ملي، فرهنګي، تاریخي او مذهبي اصـولو په نظر کې نیولي وي، دوی یو ځای سره کېني او د ملي مطبوعاتي پالیسي جوړولو کې لاندې اصول په نظر کې ونیسي.

**د دیني/ مذهبي پولو ساتنه او احترام**: الله ج د بشــري ټولنې لپاره د حضــرت ادم ع له پیدایښته تر ننه ۱۰۰ صحیفې او ۴ الهي کتابونه د لارښـوونې لپاره رالېږلي دي، تر ټولو اخیري کتاب قران دی، چې الله ج د حضرت محمد ص د امت لپاره یې رالېږلی او تر قیامته بـــه د انسانانو د هر اړخیزو ستونزو د حل لپاره ځواب وایي؛ څکه الله ج فرماي چې: ﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا﴾ ژباړه: نن مو خپل دین (نعمت) چې قران دی تاسو ته تمام او کامل کړ او تاسو مې راضي کړی، چې اسلام ستاسو دین دی (القران، المائده، ایه.۳).

دا چې د نړۍ هره ټولنه د یو ځانګړي مذهب پیروان دي او په هر حالت کې له خپلو ملي منافعو دفاع کول یې ســالم حق دی، ولې په اســلامي ټولنه کې د خپل مذهب دفاع کول یو ځانګړی مســؤلیت او قلمي جهاد بلل کېږي، د خوږې او نرمې ژبې اســتعمال یو کمال او هنر بلل کېږي، الله تعالی ج فرمایي چې: ﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ (القران، الاعراف،ایه.۱۹۹). ژبـــــاړه: اې پیغمبره ص د نرمۍ او ښښـنې لاره خپله کړه نیکي ته خلک راوبله له جاهلانو سره مه نښـله) دا دی د الله لارښـوونه! که موږ په خپلو رسـنیو کې دا ډول پالیسـې پلې کړو، څه فکر کوی چې پر خپلو ټولنو به څومره اغېز ولرو؟ د خدای تعالی ج د لار ښوونو په نظر کې نیولو سره، ټولو دولتي مسئولینو او د رسنیو مسولینو، خاوندانو، ژورنالستانو او کارکوونکو تـــه لازم دی چې خپله رسنیزه پالیسي د اسلام د مبارک دین په رڼا کې جوړه کړي چې دنیا او اخرت یې دواړه روښـانه شي څکه نن رسـنۍ له دښـمنانو سره د مبارزې بهترین سـنګر

دی. همدا رسنۍ دي، چې زموږ غږ تر لرې پرتو سیمو رسوي، **دکینت** په وینا ( موږ له رسنیو پرته هیڅ یو، که رسنۍ مو غږ تر چار واکو او ټولنو ونه رسوي زموږ هر څه بې ګټې دي) د رسنیو مسؤلین باید د ټولنې زړونه لاس ته راوړي، ځکه د هغوی په زړونو پاچاهي په ملتونو پاچاهي ده (شیخ، ۲۰۱۰م،ص. ۸۱).

**له تبلیغ پاک خبرونــه/ معلومات**: محمدي اُمت اللهج مامور کړی دی چې: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَــدِيدًا﴾ (القران،الاحزاب، ایه:۷۰). ژباړه: (اې مومنانو له خدای څخه ووېرېږی تل ربښتیا ووا یاســت)؛ نو مسـلمانې ټولنې لپاره د یوې ښـې مطبوعاتي ملي پالیسـی په جوړولو کې لومړی مهم کار د خبرونو او معلوماتو په اړه له تبلیغاتو (دروغو) ډډه کول دي، په دې معنی چې تل بایـد حقایق ووایي، د واقعیتونو ګټه ټولنې، دولت، ملت او مطبوعاتي اداري دریو واړو ته رسېږي. خلک د پېښو تل ته ښکته کېږي، حقایق را سـپړل کېږي بالاخره ټولنه او حکومت یوه سـالمه لاره غوره کوي، په عین حال کې د رسـنیو رسـنیز باور غښـتلی کېږي او خلکو کې یې محبوبیت زیاتېږي. له همدې لارې د دښـمنانو د بې ځایه تبلیغ مخه هم نیول کېږي، عامه افکار له مضـــــرو تبلیغاتو خلاصـېږي او د مثبت خوځښـت فکر ورسره پیدا کېږي، بې ځایه تبیلغات چې د عامه افکارو د تخریب او نا‌ارامۍ ســبب ګرځي د اســلام په سپېڅلي دین کې ناروا ګڼل شوي، مسلمان ژورنالستان یې په مخنیوي او دفعه کولو مسؤل ګڼل کېږي.

**د ملي ګټو ســاتنه**: هر ملک ځانګړې جغرافیه، ځانګړی ملت او ګټې لري، چې د ملي نوامیسـو په نامه یادېږي، څرنګه چې رسـنۍ په ټولنه کې ځانګړی ځای او ارزښـت لري، د خپل ارزښـت او مسؤلیت له مخې باید داسې ملي پالیســــي جوړه کړي، چې تل ملي ګټې وپالي؛ ځکه په رسـنیو کې ژورنالستان، مدیران، مسؤلین او مشـــــران ټول له ملت څخه دي، که چېرې کومه رسـنۍ د ملي ګټو خلاف خپرونې کوي یا ملي ګټې نڼګوي، هغه پردۍ دي، نه ملي. غیر ملي رسـنۍ د دښـمنانو له خوا را منځ ته کېږي، په مختلفو غوړو شـعارونو او نومونو ملي ګټې زیانمنوي، دا ډول رسـنیو ته ملي حکومتونه هېڅکله بایـــد ځای ورنه کړي؛ که اجازه ورکړل شي تل به عامه افکار د دولت په مقابـــل کې راپورته کوي. مضرې او غیر ملي خپرونې، چې د ملي ګټو خلاف وي نشـــروي؛ چې پایله به یې د ټولنې او حکومت تر منځ د فاصلې را منځ ته کول وي؛ که چېرې ملي ګټې وساتي ارزښـت به یې د ملي ګټو پالنه او د ملي مسایلو غښتلي کول وي، اغېز به یې دا وي؛ چې رسنۍ ملت او دولت به په ملي پرمختګ کې لا غښتلي ګامونه واخلي، ټولنه به خپلو ملي ګټو ته متوجه کړي، ملي کاروان به لاپیاوړی کړي (شیخ،۲۰۱۰م،ص.۷۹).

**اسلاميت او افغانيت ته بلنه**: د الله ج فضل او کرم دی، چې د نړۍ ټول مسلمانان يې د کلمې په سبب يو دبل ورونه ګرځولي دي، چې د همدغې اسلامي ورورولۍ په سبب سره د يوه مسلمان سر او مال په بل مسلمان دواړه حرام ګرځولي دي؛ دا د اللهج فضل او کرم دی چې د افغانانو په خټه کې اسلاميت، حيا، همکاري، له وطن، خاورې، اسلام او افغانيت سره مينه، په ناموس او وطن غيرت او سربښندنه نغښتې دي؛ ځکه په افغان ملت کې داسې ځانګړتياوې شته چې د اسلام له راتګ مخکې په ارياېانو کې موجودې وې، لکه: د ښځو احترام، حيا، د کمزوري او مظلوم لاس نيوی، يو له بل سره همکاري، په وطن او ناموس سربښندنه. تاريخ شاهد دی، چې هر هغه چا چې افغانيت او اسلاميت ته په سپکه سترګه کتلي دي اللهج زموږ په لاس زموږ په خاوره کې شرمولي دي؛ نو د همدې دلايلو په اساس هره رسنۍ چې مطبوعاتي پاليسي جوړوي بايد د افغانيت او اسلاميت سرو کرښو ته جدي متوجه وکړي. که يې ذکر شوې سرې کرښې عادي وګڼلې، پايله به يې زياته خطرناکه وي. په دې خاطر ټولو مطبوعاتي ادارو ته لازم دی، چې د خپلو رسنيو د بقا، محبوبيت او پايښت لپاره، خپله رسنيزه ملي پاليسي کې د اسلاميت او افغانيت خيال وساتي؛ ځو يې اداري فعاليت دوام ومومي، تل د پلانونو په جوړښت کې د ذکر شويو پولو حفاظت وکړي، ګټه به يې هم رسنيزې ادارې او حکومت دواړو ته وي، ځکه په خپل منځ کې به د ټکر او ستونزو په ځای همغږي او همکار پاتې شي. ملت ته به يې شعوري کار او ادارې به يې په ټولنه کې خپل باور غښتلی کړی وي.

**له تعصباتو ډډه**: د اسلام سپېڅلی دين مسلمان امت ته د اتحاد امر کړی دی، الحمدلله افغان ملت مسلمان او خدای ته تابع ملت دی؛ نو دولتي مسئولينو، د رسيزو ادارو مشرانو او تجربه لرونکو اشخاصو ته سپارښتنه کېږي، چې د رسنيو د ملي مسلکي پاليسۍ په جوړښت کې له تعصباتو جدي کرکه وکړي. د ګران هېواد مظلوم ملت وحدت ته راوبولي، ځکه ملتونه په وحدت او همغږي سره مخ په وړاندې ځي. څرنګه چې د رسنيو بنسټيز مسؤليت د ټولنې تر منځ د يووالي را منځ کول او اتحاد ته د ټولنې را بلل دي؛ نو د مطبوعاتي پاليسۍ په جوړښت کې لازمه ده، چې ملي يووالي ته کار وکړي، څو ټولنه (عامه افکار) مثبت ملي پرمختګ ته چمتو کړي. که چېرې په دې کار کې بې غوري وکړي؛ نو پوی شه چې خپل ملي رسالت يې نه دی ادا کړی. د تېرو څلورو لسيزو په جريان کې دښمنانو موږ په کومو کومو نومونو سره قتل نه کړو؟ مختلف مذهبي، ګوندي، سمتي او ژبني تعصباتو ته يې لمن ووهله، ځينو رسنيو يې بار تر منزله ورساوه؛ پايله يې زموږ د ملي بنسټونو او ګټو له منځه وړل وو؛ نه زموږ پرمختګ او وحدت. د دې لپاره، چې بيا داسې مسايل تکرار نه شي، چې زموږ ملي او مذهبي کرښې وننګوي نو

لازم دی، چې د مطبوعاتي پالیسیو په جوړښت کې هر هغه څه چې ملي وحدت له منځه وړي، جدي مخالفت او مبارزه وشي. دغه چـــاره به د حکومت او ملت تر منځ د یووالی او اتفاق سبب وگرځي او پایله به یې د یو ارام او له ستونزو خلاص هېواد درلودل وي.

**له هغو خبرونو او خپرونو ډډه کول چې ملي یووالی گواښــي:** الله جل جلاله مسـلمان اُمت ته امر کوي چې: (ټول د خدای په رسۍ یعنې قران کریم منگولې ولگوئ او بې اتفاقي مه کوئ) همدارنگه فرمایي چې: ( تاسو غوره اُمت یاست د دې لپاره را ویستل شوي یاست چې خلکو ته په نېکۍ امر او له بدو څخه یې منعه کړئ) (ازاد،۱۳۹۸ش،ص.٦۹).

د خدای تعالی د ذکر شویو امرونو په رڼا کې مسلمان ژورنالستان او رسنیزې ادرې مسؤلې دي، چې له ناروا خبرونو، معلوماتو او خپرونو ځنگ وکړي، پر ځای یې داسې ملي، معلوماتي او فرهنگي پالیســـي جوړه او پلي کړي، چې خپل مظلوم ملت او هېـــواد له بدبختیو وژغوري، یووالي او ورورولۍ ته یې را وبولي نه، دا چې د پیسو او شخصـي گټو په خاطر یې د بدبختۍ کندې ته ټېل وهي. الله تعالی مسلمان ملت یو بل سره په نیکي مامور کړی دی، نه پـــه ورور وژنه او بې اتفاقۍ. څرنگه چې په اتحاد باندې خدای تعالیج امر کړی دی؛ نو د وحـــدت اغېز بـــه یې پر ټولنه همدا وي ټول افغان ملت به د یو ملي حکومت تر سیوري لاندې سره راټول وي؛ ارام ژوند به ولري؛ له سمتي، ژبنیو، قومي، مذهبي او گوندي تعصباتو خلاص ملت به ولرو، اللهج دې زموږ او ستاسو دا ارمان پوره کړي.

**د ټولنې د حق پالنـــه:** ژورنالیستان د ټولنې یو جز یا برخه ده، که ځان د ټولنې ژبه او نماینده گڼي؛ نو لازمه ده هغه باور چې ټولنه یې پر دوی لري؛ حق یې ادا کړي. په دې معنی چې د مختلفو ملي، سیاسي، مذهبي، فرهنگي او نظامي مسایلو په اړه د عوامو نظر معلوم کړي چې دوی څه وایي؟ دوی څه غواړي؟ کومه سالمه لاره ده، چې دوی یې خپله کړي او خپل ملي ارمان ترلاسه کړي؟ ځکه ملت خو بې سواده، بې تجربې او د شپانه د رمې په شان دی، دومره سیاسي بصیرت نه لري، په مغلقو او پېچیده مسایلو یې سر نه خلاصېږي، چې سالمه لار غوره کړي. ژورنالستان د خپلې مسلکي ځیرکتیا او تجربې په مرســته کولای شي، د مختلفو پېښــو او مســایلو په اړه ټولنې ته دقیق معلومات وړاندې کړي؛ څو په مناسب وخت، حالاتو او امکاناتو سره کره او دقیق تصـمیم ونیســـــي. د ملت بېړۍ له هر ډول خطرونو څخه وژغوري؛ ځکه عوام په زیاتو مسـایلو کې کره معلومات او تجربه نه لري؛ د خبرونو، تبصـــــرو او

شننو لپاره رسنیو ته سترګې په لار وي، څو د پېچیده موضوعاتو په اړه ټولنې ته، ګټوره مشوره او اسانه لاره په ګوته کړي (افتخار،۲۰۱۵م،ص.۲۲۹).

د پالیسۍ ګټې: موږ د رسنیزې پالیسۍ د جوړولو په ارزښت او اغېز معلومات وړاندې کړل، که چېرې د رسنیو اداري د وخت حکومتونو د قوانینو او اصولو په رڼا کې مسلکي ملي پالیسي جوړه کړي، ګټې به یې څه وي؟ که چېرې رسنۍ او حکومتونه یو له بل سره همغږي شي، دواړه اړخونه لاندې ګټې تر لاسه کولای شي:

- ✓ د حکومت او رسنیزو ادارو ترمنځ همغږي را منځ ته کېږي
- ✓ دواړه اړخه ملي ګټو ته متوجه کېږي او عامه افکار ګټور خوځښت ته هڅوي
- ✓ د حکومت او رسنیو ترمنځ د ټکر مخنیوی کېږي، ټول د مذهبي او ملي رسالت پیاوړتیا ته متوجه کېږي
- ✓ ملت، حکومت او رسنۍ د ملي نوامیسو د ساتنې او دفاع په خاطر یو مثبت لوری تعقیبوي
- ✓ مسلکي ژورنالستان ملي ګټو ته ژمن او ملي فرهنګ به لا غښتلی او پیاوړی کړي
- ✓ رسنۍ د نورو هېوادونو مضرې ګټې نه پالي بلکې د خپلې ټولنې د هوساینې، څیرکتیا او بیداري لپاره کار کوي او د دښمن د مضرو تبلیغاتو مخه نیول کېږي
- ✓ حکومت، ملت او رسنۍ درې واړه یو پر بل باوري کېږي، ځکه موخه، ګټې او رسالت یې مشترک دی
- ✓ د ټولنې عامه افکار د دښمنو ادارو له بې ځایه خوځښتونو، شکونو، تبلیغاتو او پروګرامونو څخه ژغورل کېږي
- ✓ بالاخره درې واړه اړخونه یو ځانګړی ملي حرکت پیلوي چې پایله کې یې ټولنه یوه منلي ملي مرام ته رسېږي
- ✓ که چېرې حکومتونه او رسنۍ له یو بل سره پورتني ګامونه اوږه پر اوږه وانخلي؛ درې واړه اړخه یو نامعلوم مسیر طی کوي، چې په پایله کې یې ګټه دښمنانو ته رسېږي. ملي ټولنه پاشل کېږي د هر ډول بدبختیو او ناخوالو ښکار کېږي، د هیڅ ستونزو کمی به نه وي، همدا علت دی چې هوښیار، څیرک او ملي حکومتي چارواکي په هېواد کې رسنۍ خپلوي چې په وسیله یې د ټولنې عامه افکار له ځان سره همغږي کړي او یو مثبت ګټور ملي خوځښت پرمخ یوسي.

**وړاندیزونه:**

د دې لپاره چې رسنیزه پالیسي مو د اسلام د سپېڅلي دین د ټولو ارزښتونو پالونکي، ساتونکې، د ملي ګټو ساتونکې منلې، غښتلې او له ټکرونو پاکه وي؛ په جوړښت کې یې دولتي مسؤلین او د رسنیو خاوندان لاندې ټکي جدي په نظر کې ونیسي:

- د رسنیو پالیسي باید د اسلام د سپېڅلي دین په رڼا کې جوړه شي
- د رسنیو پالیسي باید د افغان ملت تاریخي او فرهنګي ارزښتونو په رڼا کې جوړه شي
- د رسنیو پالیسي باید زموږ ملي، سیاسي، فرهنګي، مذهبي، تاریخي او نظامي ګټې ونه ننګوي
- د رسنیو پالیسي باید د افغان ملت ټول تاریخي کارنامي، ویاړونه او افتخارات وپالي
- د رسنیو پالیسي باید د اسلامیت او افغانیت سپېڅلي او سنګین ارزښتونه وساتي او ویې پالي

**پایله**

دا چې رسنۍ د مختلفو هېوادونو د ټولنو د عامه افکارو په جوړښت، پایښت، بدا ینې او ورانونې کې پیاوړی اغېز لري؛ نو لازمه ده چې هره رسنۍ خپله پالیسي، داسې ترتیب کړي چې د ملتونو د افکارو په جوړښت کې رغنده رول ولوبوي. د ژورنالېزم ټول ملي او نړیوال معیارونه او منشور په نظر کې ونیسي. د ټولنې ټولو ارزښتونو ته په درنه سترګه وګوري، هېڅکله د دښمنانو په لاس د شخصي ګټو په خاطر خپله مسلکي او ملي پالیسي ونه ننګوي تل د ملتونو په زړونو پاچاهي وکړي، ځکه رسنۍ هغه وخت په ټولنه کې پیاوړی باور او د غښتلي اغېز څښتنې کېږي؛ چې د عامه افکارو ټولو ضرورتونو او غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي. ولس د دوی دبقا، پایښت او تکیې سبب ګرځي، په امریکا کې د نیویارک ټایمز ورځپانه امریکایانو ته له بایبل (انجیل) وروسته دویمه باوري مرجع ده. دوی وايي (موږ لومړی په بایبل او بیا په نیویارک ټایمز باور لرو) ولې دا خبره کوي؟ ځکه چې نیویارک ټایمز د امریکایي ملت ګټو ته ژمن دی، تل یې د ملت ګټې پاللي دي، هر هغه څوک چې د امریکا ګټې وننګوي نیویارک ټایمز یې له خپل دفتر څخه په مختلفو لارو رټي، بدناموي یې، سپکوي یې، چې غږ یې د نړۍ د زیاتو ملتونو تر غوږونو رسېږي. له دې کبله ټولې هغه رسنۍ چې په ګران هېواد افغانستان کې رسنیز فعالیت ترسره کوي باید د خپلې رسنیزې پالیسۍ په جوړښت او تطبیق کې زموږ عقیدوي، ملي، سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او نظامي نوامیسو پولې وساتي. د ملت زړه لاس ته راوړي، څو دوی زموږ د ملت په زړونو کې ځانګړی کور او ځای پیدا کړي؛ بیا به ملت د نورو په ځای د دوی اواز او غږ ته سترګې په لار وي، نه د پردیو هېوادونو رسنیزو برنامو، خپرونو او فعالیتو نو ته.

**مأخذونه**

۱: ازاد، ابوالکلام.(۱۳۹۸ش). اسلام او ولسواکي. (ژباړن،فرید احمد هلال).جلال اباد.:مومند خپرندویه ټولنه.

۲: افتخار، محمدحسین.(۲۰۱۵م).(کمونیکیشن سټډیزپارټ۱. لاهور: لیت پبلکشن.

۲: بدر، محمد.سعید.(۲۰۱۳م). ابلاغیات پارټ ۲. لاهور: مکتبه دانیال.

۳:ملکزی، عبدالرشید.(۱۳۹۸ش). ټولنیزه اړواپوهنه. جلااباد:ختیځ خپرندویه ټولنه.

۴: نیازی، محمد خان.(۱۴۰۲ش).د عامه اړیکو بنسټونه. کابل: حسین احمد چاپ خانه.

۵: نیازی، محمدخان.(۱۳۹۹ش). په افکارو د شخصیت اغېز. شیخ زاید پوهنتون پوهنیزه مجله ۲۵گڼه ۲۰/۹ مخ.

٦: وردگ، محمد شفیق.(۱۴۰۲).د افغانستان رسنیز حقوقی نظام.کابل: مطبعه، انتشارات سید حسیب الله.

7: Doyle, G. (2002). *Media ownership: Concentration, convergence, and public policy.* Thousand Oaks, CA: Sage

8: Hyndman, M. (2007). A mile wide and an inch deep: Measuring media diversity online and offline. In P.M. Napoli (Ed.), *Media diversity and localism: Meaning and*

9: van Cuilenburg, J., & McQuail, D. (2003). Media policy paradigm shifts: Towards a new Communications policy paradigm. *European Journal of Communication, 18*(2), 181-207

10: Youm, K.H., (2002). Freedom of expression and the law: Rights and responsibilities in 24 South Korea. *Stanford Journal of International Law, 38*, 123-151

# آمره قواعد

پوهنوال محمدالله مندوزی او پوهنمل فضل الرحمن ایوبي د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو دیپارتمنت.

ایمیل ادرس: prof.mandozay@gmail.com

ایمیل ادرس: fazal.ayobi@yahoo.com

**لنډیز**

آمره قواعد هغه قواعد دي، چې د انساني ژوند سره نېغ په نېغه تړاو لري، چې نه د مقننه ځواک له خوا رامنځته شوي وي او نه يې له منځه وړی شي. د ژمنې د ساتلو اصل، په ژمنو باندې وفا، د ښه نیت له مخې د نړیوالو ژمنو عملي کول، د زور بندیز او د جګړې د مخنیوي اصل، د مشروع دفاع اصل، د ډله‌ییزو وژنو د منع کولو اصل، دغلامۍ د منع اصل، د استعمار محوه کول، د غیر نژادي تبعیض اصل، د ولسونو حق چې خپل برخلیک پخپله وټاکي، د هېوادونو حاکمیت، خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی ... کله چې د دوو او یا څو دولتونو ترمنځ، چې کوم نړیوال تړون لاسلیک شي او د دغو آمره قواعدو سره په ټکر کې وي، تړون باطل او پای مومي.

**کلیدي کلمې**: آمره قواعد، باطل، جینوسایډ، استعمار، غلامي، مشروع دفاع، ډله‌ییزه وژنه، نژادي تبغیض.

**سریزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.

دا چې انساني ټولنې د یوه ټولنیز قرارداد (Social Contract) پر بنسټ رامنځته شوي او تل د خپل وقار، عزت، ملي او نړیوالو ګټو څخه د دفاع په موخه یې د دا ډول آمره قواعدو څخه کار اخیستی، د ګاونډیو او د نړۍ هېوادونو سره یې داسې نړیوال تړونونه لاسلیک کړي، چې د آمره قواعدو سره په ټکر کې نه وو. که کوم هېواد داسې نړیوال تړونونه لاسلیک کړي، چې د آمره قواعدو سره په ټکر کې وي، هېڅکله به حقوقي اعتبار ونه لري او د اجرا وړ به هم نه وي.

دا قواعد طبیعي بڼه لري، نه کوم قانونګذار رامنځته کړي دي او نه یې له منځه وړی شي؛ نو لازمه ده، چې دولتونه یې په خپل منځي اړیکو کې په جدي توګه مراعات کړي.

## د څېړنې موخه

دا چې افغانســـتان د نړۍ یوه برخه ده؛ نو لازمه ده چې د حقوقو او ســـیاسي علومو پوهنځي د برخې کارکوونکي او نور مینه‌وال د آمره قاعدې مو ضوع، چې یوه نوې حقوقي مســـئله ده، بشـــپړ معلومات حاصلول او په هغوی باندې پوهېدل د دې علمي مقالې اساسي موخه ده.

## د څېړنې کړنلاره او د کار توکي

د ټولنیزو علومو په برخه کې څېړنه یوازې او یوازې د کتابتوني، ســـاحوي او د اوســـنۍ تکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل دي؛ نو د دې مقالې په لیکنه کې د ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو څخه کاراخیستل شـوی دی. په دې هیله، چې د قدرمنو لوستونکو تنده به تر یوه بریده ورباندې ماته شي.

## په معاصرو نړیوالو عمومي حقوقو کې آمره قاعده څه معنې لري؟

څو کاله کیږي، چې په نړیوالوعمومي حقوقو کې یوه نوي مو ضوع چې د آمره قاعدې په نوم سره یادیږي تر بحث لاندې نیول کیږي.

له حقوقي پلوه، په نړیوالو عمومي حقوقو کې د بحث وړ پلان (آمره قاعده) د نړۍ د اکثرو هېوادونو لپاره د امید یو فرصت دی، یا په دقیق ډول د درېیمې نړۍ هېوادونو لپاره په هغه پیاوړې مرچـــل کې د اروپایي مسـیحي دولتونو له خوا د تیرې پیړۍ په څلـــورو لسـیزو کې د نړیوالو حقوقو په نوم عیسـوي اروپایي حکومتونو جوړ کړی دی درز رامنځته کړې دی(۱.ص.۷۵٦).

## د دې مطلب د روښانه کولو لپاره لازمه ده ووایو چې آمره قاعده څه شی ده؟

وردروس لیکي: " یوتعداد نړیوال نورمونه او قواعد د آمره قواعدو په نوم سره محاسبه کولای شو، چې د سرغړونې او نقض کولو وړ نه دي، لکه: د بشر حقـــوق، د تیرې کوونکو جګـــړو مخنیوی، د نړیوالو شخړو سوله ییز هواری د آمره قواعدو په نوم پېژندلی شو".

یو فرانسوي حقوقپوه میشل ویرالي هم آمره قواعد دا ډول بیانوي: " آمره قواعد د نړیوالې ټولنې د ګډو ګټو په نوم سره پېژني او زیاتوي، چې آمره قواعد نشې کیدای رامنځته شي، مګـــر دا چې نړیواله ټولنه یې په ټولیزه توګه لازمه وبولې".

بل دا چې "آمره قواعـــد" هغه قواعد دي چې د هغې نقضول مطلقاً منع ګڼل کیږي یا په بله ژبه د آمره قوعدو د وضع کولو څخه موخه په نړیواله ټولنه کې د دغو قواعدو نقض کول د نړیوالو عمومي حقوقو د اســاسي مقرراتو د نقضــولو په معنی دي. د آمره قواعدو منل د دولتونو په اراده پورې تړاو نه لري، بلکې په ټولو (Erga Omnees) دولتونو باندې که غړې يې دي او یا يې غړيتوب نه لري، یو شـان د اجرآ وړ دي، په داسې حال کې چې الزامي قواعد یوازې د تړونونو په اړخونو (Omernes) پورې تړاو لري او د اجراء وړ دي (۱۱: ۱۹۴، ۱۹۶).

د نوي مفهوم له مخې آمري قاعده هغه قاعده ده، چې د نړیوالې ټولنې له خوا د يوې اساسي قاعدې په عنوان چې د هغې نقضول جواز نه لري منل شوي او پېژندل شوي دي. یوازې په هغه صورت کې چې په نړیوالوعمومي حقوقو کې یوه نوې قاعده رامنځته شي او د اهميت وړ وي او ورته ځانګړتیاوې ولري بدلون موندلی شي.

هر هغه وخت چې يو نړیوال تړون د لاســلیک پرمهال د آمره قاعدې سره په ټکر کې وي له لومړۍ ورځې څخه (Ad Initio) باطــل بلل کیږي. هره آمره قاعده له هغې نیتې څخه چې راپیدا کیږي، جه چېرې د موجوده تړونونو سره په ټکر کې وي باطـل او تړونونه پای مومي. د آمري قاعدې دا تعریف په بشـــپړه توګه د نړیوالو تړونونو د حقوقو په باره کې د ویانا د (۱۹۶۹م) کال د می د میاشـــتې د(۲۳) نېټې کنوانســـیون په (۵۳او ٦۴) مادو څخه الهام اخلي او دا مفهوم په نړیوالو عمومي حقوقو کې یوه نوي او تازه خبره ده (۱۰،ص. ۲۲۰).

د دې تعریف پر بنسټ ویلی شو، چې آمره قاعده لاندې ځانګړتیاوې لري.

۱- آمره قاعده یوه نړیوال نظم ته منسوبه ده او د نړیوالې ټولنې د ټولو غړو لپاره د منلو وړده. دا قاعده د نړۍ د پراختیا له امله او د یوې ټاکلي جغرافیې د دولتونو د محدودیت په پام کې نیولو پرته په ټولو حقوقي سیستمونو پورې اړه لري.

۲- آمـــره قاعده یوه اساسي قاعـــده ده چې د نقضولو وړنه ده او دولتونه په خپل منځي اړیکو کې نشي کولای چې د هغې څخه سرغړونه وکړي.

۳- آمره قاعده د حقوقپوهانود فرضیو زیږنده نـــه ده، بلکې هغه قاعده ده، چې د نړیوالې ټولنې له خوا منل شــوي او پیژندل شــوي ده. دلته د نړیوالې ټولنې څخه موخه د دولتونو هغه ټولنه ده، چې په ټولیزه توګه ټول دولتونه په برکې نیسي.

۴- که چېرې د مکان له نظره آمري قاعـده بدلون نه منونکی ده (ځکه چې د نړۍ د پراختیا له امله ) ولې د وخت په لحاظ امکان لري بدلـــون وومومي. یعنې د وخت په تیریدو سره امکان لري فسخ او پر ځای یې نوي آمره قاعده ځای ناسـتي شي. دا تحرک، بدلون او ځانګړنه د طبیعي قواعدو، چې وړاندې ورته اشاره شوي، د هغوی د ځانګړتیاوود بدلون اوثبات له امله په ټکرکې وي.

۵- د ویانا کنوانسـیون د پریکړو پربنسـټ آمره قاعـــــده د اجرائیوي  ضمانت لرونکي ده. ځکه چې د قاعدې څخه سرغړونه د نړیوال تړون د باطلیدو سـبب کیږي، چې ورسره په ټکر کې ده. د دې باطلیدو علت د نوي قاعدې پیدایښت دی. یعنې د نوي قاعدې پیدایښت سره پخوا لاسلیک شوی نړیوال تړون چې ورسره په ټکر کې دی باطلیږي.

٦- په حقوقي نظامونو کې آمري قاعده د تړونونو په نسـبت ډېره برتري لري. په همدې بنســـټ د یوه دولت لوړه اراده ده، چې خپل شتون په ټولو باندې تحمیلوي.

هغه تعریف چې آمره قاعدې ته ورکړل شـو او هغه ځانګړتیاوي چې روښـانه شـوي په نړیوالو عمومي حقوقو کې د نوي مفهوم پـه معنی ده. پـه خوا بـه پـه نړیوالو عمومي حقوقوکې آمره قاعـده د بېلا بېلو حقوقپوهانو له خوا پداسي بڼه تفسیر کېده چې اجرائیوي ضمانت به یې نه درلود.

ولې د نړیوالو تړونونو د حقوقو په باره کې د ویانا په کنوانسـیون کې د آمــــره قاعدې شـتون د بحث وړ مو ضوع یو نوی فهم دی، چې طرحه یې د نړیوالو عمومي حقوقو د کمیســیون له لورې چې د نړیوالو عمومي حقوقو د تدریجي پراختیا او تدوین دنده په غاړه لري پیل شوه (۲،ص.١٦٦).
دغه کمیسـیون د ملګرو ملتونو سـازمان د فرعي ارګان په توګه په (۱۹۴۷م) کال کې تأسـیس شـو، (۱۵) منتخب غړی لري، چې د عمومي اسامبلي له خوا ټاکل کیږي. په (۱۹۵٦م) کال د ملګرو ملتونو سازمان د غړو دولتونو د زیاتوالي له امله د کمیسـیون په غړو کې هم زیاتوالی راغی، له ۱۵غړو څخه ۱۸ غړو ته پورته شو، په( ۱۹٦۱م) کال کې د کمیسیون د غړو په ترکیب کې له ۱۸ نه ۲۵ ته او په (۱۹۸۱م) کال کې ۳۴ غړو ته پورته شـو. د کمیسـیون غړی یوه برجسته مرجع ده، چې خپلې چوکۍ یې په خپل اختیار کې ساتلې دي او نه د خپلو حکومتونو د نماینده ګانو په عنوان.

د کمیسـیون موخې د ملګرو ملتونو سـازمان منشـور په ۱۳ ماده کې درج شـوی دي، چې په هغې کې په تـدریجي ډول د نړیوالوعمومي حقوقو پرمختګ او تـدوین کول دي. د تـدوین (Codification)

ځخه منظور د تړونونواو د موجوده عـــرفي رویو له لارې د اوسني نړیوال نظام په صراحت سره بیانول دي.

کمیسیون په سنتي ډول د کارپوهانود هغې کمېټې په شان عمل کوي، چې د ملتونو ټولنې له خوا په (۱۹۳۰م) کال کې په تدریجي ډول د نړیوالو عمومي حقوقو د تدوین په موخه جوړه شوی وه.

د نړیوالو حقوقو کمیسیون (International Law Commision) ورته وایې، چې د ملګروملتونوسازمان دعمومي اسامبلې له خوا ورته ماموریت سپارل شوی چې د تړونونو د حقوقو په باره کې تدوین وکړي. په (۱۹٦٦م) کال کې په داسې حال کې چې دا طرحـــه یې تدوین کړه، چې په کمیسیون کې شتو حقوقپوهانو په خپلو تآلیفاتو او په پوهنتونونو کې په آمري قاعده باندې بحثونه او د نظرونو تبادله پیل شوه او په (۱۹٦۹م) کال د ویانــــا د کنفرانس په بهیر کې د دولتونو استازو له خوا په آمري قاعده باندې اوږده بحثونه ترسره شول. د دې مطالعاتواو ځېړنو پـــه پایله کې په کنوانسیون کې درې مادې ورزیاتې شوې(۱۰،ص . ۱۴۴).
په دې کنوانسیون کې د "آمره قاعدې" اصطلاح دوه ځلې، یو وار په (۵۳) او دویم وار په (٦۴) ماده کې کارول شوې ده او همداشـان د (٦٦) مادې په یوه فقره کې هم د پورته ذکر شوېو مادو ته اشـاره شوې ده، چې د بحث وړ موضوع یې بللې شو.

د پام وړخبره خو دا ده، چې دا یوه لاتیني(Jus Cogens) اصطلاح ده چې د آمره قاعـــدې په معنی تلقي کیږي.

د پورته مادو په متن کې دا نــــده ذکرشوي، چې ولې یوازې د (۵۳او ٦۴) مادو په عنوانونو کې ورځخه یادونه شوې ده. په دې مادو کې ذکر شوې اصطلاح په عامونړیوالو حقوقو کې چې په فرانسوي ژبه کې ورته ( Norme Imperative Du Drait International Genral) او پـه انګلیسي ژبه کې ورته ( Peremptory Norme of General International Law) وایي(۳،ص.۹۴).
د ۵۳ مادې عنوان "نړیوال تړونونه د نړیرالو عمومي حقوقو (Jus Cogens) د یوې آمري قاعدې سره په ټکر کې وي باطل بلل کیږي" (۷،ص. ۱۸۸).
د مادې متن: "هر هغه وخت چې د یوه نړیوال تړون د لاسلیک پرمهال د نړیوالوعمومي حقوقو د آمره قاعدې سره په ټکر کې وي باطل ګڼل کیږي. په حاضر کنوانسیون کې د آمره قاعدې ځخه زموږ منظور

هغه قاعده ده چې د هغې نقض کول په هیڅ وجه جواز نـــــه لري، منل شـوي او پېژندل شـوې ده او د نړېوالوعمومي حقوقود يوې قاعدې په عنوان چې همغه ځانګړتياوي ولري د بدلون وړ ده."

۶۴ ماده: عنوان "په نړيوالو عمومي حقوقو کې (Jus Cogens) د آمره قاعدې پيدايښت ".

د مادې متن "هرهغه وخت چې په نړېوالوعمومي حقوقو کې يوه آمري قاعده رامنځته شي موجوده نړيوال تړون چې د هغې سره په ټکر کې وي باطل او خاتمه مومي " (٦،ص.٧٨).

د پام وړخبره خو داده چې د نړيوالو عمومي حقوقو د کميســيون د ارزونې وړاندې آمره قواعدو او غير آمري قواعدو کوم ارزښت نـــه درلود، ځکه چې بحثونود پوهانود تآليفاتو او د پوهنتونونو د چاپيريال څخه يې د باندې تجاوز نه و کـــړی. د نړيوالو تړونونو د حقوقو په کنوانسيون کې د دې قاعدې ځای پرځای کول يوه بله بنه ځانته غوره کړه او دا تفکيک په مو ضوعه حقوقو کې ومنل شو. د کميسيون او کنوانســيون د بحثونو په بهيرکې اســتازو هم په دې ټکي ټينګار کاوه، چې (۵۳) ماده په نړيوالوعمومي حقوقو کې کومه نوي خبـــره نه ده او په نړيوال نظم کې آمره قواعدو شـتون درلود، ولې د کنوانسـيون اهميت پدې کې دی چې په کنوانسيون  کې د دې مادې ځای پرځای کول د پخواني حالت په پرتله په نوي او تازه بڼه بيان کړل او د هغې لپاره يې اجرائيوي ضمانت و ټاکلو (۹، ۵۳، ۶۴مادې).

**د آمره  قاعدې اهميت په څه کې دی؟**

د (۱۹٦۹م ) کال کنوانسيون اهميت په دې کې دی، چې د لومړي ځل لپاره د ويانا د کنوانسيون په (۵۳) ماده کې آمري قواعد روښـانــــه او په رسـمي ډول د دولتونو په اسـتازو باندې منل اود نړيوالو عمومي حقوقو له نظره يوه لويه بريا بلل کيږي. د طبيعي او ارادي مکتبونو د زيات جروبحث، مطالعې او کشف وروسته د قاعدې د اهميت د پيدا کولو بهترينه لاره د دغو قاعدو معلومول دي، څو د هغې د اهميت په اړه خپل نظرڅرګند شي. د (ILC) او د ويانا کنوانســيون د غونډو په بحثونو کې دا معلومه شــوه، چې داسې قواعد، نشته چې په ټاکلي نظم پورې هغه منسوبه کړو او د ماهيت په سترګه ورته قايل شو. داسې قواعد لکه: د غلامانو پيراو پلور، ډله ييزه وژنه، چې انساني او اخلاقي بڼه لري او د ملګرو ملتونوسازمان په منشور کې درج شوي اصول چې د نړيوال تړون پر بنسټ رامنځته شوي او د نړيوال تړون د لاسليک په وخت کې د زور نه اسـتعمال، چې يوه حقوقي مسـئله ده، په سـوله کې ګډ ژوند، د اسـتعمار له منځه وړل، ښـه نيت د ژمنو ترسره کول او په خپلو ژمنو باندې وفا کول چې د حقوقو يوه فلسـفه تشـکيلوي، د

دولتونو د اســتازو له خوا د آمره قاعدو په عنوان پېژندل شــوي او منل شــوې دي. همداعلت دی، چې آمره قواعد په ټاکلي قلمرو پورې محدود نه دي، بلکې په ټوله نړۍ پورې تړلي مسئله ده. دا قواعد چې انســاني، اخلاقي او ســياسي بنه لري، کفايت کوي، چې د حقوقي باوراواعتقاد څخه برخمن وي. هغه تړونونــه چې د آمري قاعدې سره په ټکر کې وي، لکه: د بشري حقونو نقض کول، د دولتونو د برابرۍ حق، د سرنوشت د ټاکلو حق، د ملتونو د برابرۍ او داسې نور يادولی شو (۵، ص. ۹۹).

### آمره قاعده څنګه رامنځته کيږي؟

نړيواله ټولنه په ټوله کې د قانـون د حاکميت د اعلان واک لري. نن ورځ ملګري ملتونه د نړيوالې ټولنې ښـکاره بېلګه ده. د دې ســازمان عمومي اســامبلې او د هغــــې قضـايي څانګه، يعني د عدالت نړيواله محکمه، د اجباري مقرراتو د اعلانولو واکونه لري. عمومي اسـامبلې د خپلو پريکړه ليکونو او د عدالت نړيواله محکمه د خپلو رايو له لارې د پابندو قوانينو په اعلانولو کې مهم رول لوبوي (۴،ص.۷۶۲).

### د آمريه قواعدو څو بېلګې

په اوسني وخت کې د نړيوالو قوانينو بېلګې هغه اصول دي چې د نړيوالې ټولنې د قوانينو په توګه منل شوې او پېژندل شوې دي او موږ يې د څو خورا مهمو يادونه کوو:

۱- په خپلو ژمنو باندې د وفا کولو اصل.

۲- د ښه نيت اصل.

۳ - د زور، بنديز او د جګړې د مخنيوي اصل.

۴ - د مشروع دفاع اصل.

۵ - د ډله ييزو وژنو د منع کولو اصل.

٦ - د غلامۍ د منع اصل.

۷ - د نژادي تبعيض د مخنيوي اصل.

۸ - د ولسونود خپل برخليک او سرنوشت د ټاکلو د حق اصل چې پخپله وټاکي.

۹- د هېوادونو حاکميت، خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتيا ته د درناوي اصل
https://ar.wikipedia.org/wiki/.

**پایله**

د دې مقالې په تحریر سره دې پایلې تـــه رسیږو، چې په نړیواله کچه دولتونه مکلف دي، چې خپلې نړیوالې ژمنې چې د نړیوالو تړونونوڅخه د دولتونو پــــه اوږه لویږي، د ښه نیت له مخې باید ورته غاړه کیږدي او د ښه نیت، د متقابلو ګټو او د ملګرو ملتونو سازمان په منشورکې د درج شویو اصولو په پام کې نیولو سره هغه عملي کړي څو د تړون لاسلیک کوونکی خواوې د دې تړون له ګټو څخه برخمنې شي او که دا کار د پورته ذکر شویو اصولو سره سم ترسره نه شو، د دولتونو مسؤولیت رامنځته کوي او سرغړوونکی به د سخت غبرګون سره مخ شي.

**مأخذونه**

۱- پرویز ذوالعین.(۱۳۸۸هـ). مباني حقوق بین الملل عمومي، تهران: دفتر مطالعات سیاسي و بین المللي ازانتشارات وزارت امور خارجه.

۲- شریفي، حسین. (۱۳۸۸)هـ حقوق بین الدول و سازمان ملل، تهران: نشر میزان .

۳- شیرزاده، حمیرا.(۱۳۸۱) هـ فرهنګ روابط بین المللی، تهران: نشرات وزارت امورخارجه.

۴- صدر جواد.(۱۳۵۰)هـ ش تاسیسات و سازمانهای بین المللي، تهران: موسسه علوم سیاسي وحزبي.

۵- طراز کوهي، حسن شریفي.(۱۳۸۸) هـ حقوق بین الملل عمومي، تهران: نشرمیزان.

٦- قایم مقام فرهاني، سید عبدالمجید.( ۱۳۷۹)هـ حقوق بین المللي و سازمانهای بین المللي، تهران: دانشگاه تهران.

۷- مقتد، هوشنګ.(۱۳۷۷) هـ. حقوق بین المللي عمومي، تهران: دفتر مطالعات سیاسي و بین المللي ازانشارات وزارت امور خارجه.

۸- نارون، سلطان حمید.(۱۳۹۰) هـ. دولت و حقوق بین الدول، کابل: چاپخانه سباوون،.

۹- د نړیوالو تړونونو د حقوقو په باره کې د ویانا د (۱۹٦۹م) کال کنوانسیون، ۵۳، ٦۴ ماده.

۱۰- بیګدالی، محمد رضا.( ۲۰۰۳م) کال د نړیوالو تړونونو کنوانسیون، تهران: ګنج دانش کتابتون.

۱۱- موسی زاده، رضا.(۱۳۷۷م). د نړیوالو تړونونو د حقوقو کنوانسیون، تهران: میزان خپرندویه.

# د قرآن کريم په تفسير کې اجماع  او د هغې بېلګې

پوهندوی عاشق الله احمدزی، شيخ زايد پوهنتون، شرعياتو پوهنځی، اسلامي تعليماتو څانګې علمي کادر غړی.
برېښناليک: ashoqullah.ahmadzai2019@gmail.com

**لنډيز**

دا چې اجماع د اسلامي شريعت له اصولو څخه درېيم اصل او له دلائلو څخه يې درېيم دليل دی او د اسلامي شريعت مختلفو علومو کې شتون لري، لکه: فقه، اصول فقه او داسې نور؛ له همدې امله خورا اهميت لري، دارنګه د قرآن کريم په تفسير کې هم اجماع شتون لري. د دې مسئلې د ښه وضاحت په موخه دا علمي مقاله ليکل شوې ده؛ ترڅو د اجماع مختلف ډولونه وپېژندل شي، لکه: د ټولو مفسرينو تفسيري عبارتونه يوه لفظ باندې متفق وي، چې مفسرين دا په اجماع کې را نقلوي، چې دې ته په لفظ باندې اجماع وايي. کله په معنا باندې اجماع وي، کله به په يوه معنا باندې اجماع وي او کله په ډېرو معناګانو باندې او کله به مفسرين داسې اجماع ګانې رانقلوي، چې د آيت په تاويل او تفسير کې به داخل نه وي، لکه: د علوم القرآن په مسائلو باندې اجماع، لکه: مکي او مدني سورتونه، د آياتونو شمېر او داسې نور. د ابن جرير طبري او ځينو نورو مفسرينو په آند: اجماع د زياتو مفسرينو له اتفاق څخه عبارت ده؛ نو بايد اجماع کې د اجماع را نقلوونکي مذهب ته وکتل شي. دارنګه د يو شمېر اجماع ګانو لپاره مثالونه را نقل شوي دي؛ تر څو د مثال په راوړلو سره دا مسئله ښه روښانه شي او دا به هم واضحه شي، چې د نورو علومو په څېر تفسير کې د مفسرينو په يو تفسير باندې اجماع هم شتون لري.

**کليدي ټکي:** اجماع، تفسير، قرآنکريم، اجماعي تنبيهات، مفسرين.

**سريزه**

الحمد لله الذي هدانا لهذا، وما كنا لنهتديَ لولا أن هدانا الله، وصلى الله على خيرته المصطفى لوحيه، المنتخَب لرسالته، المفضل على جميع خلقه، بفتح رحمته، وختم نبوته اما بعد فاعوذ باالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم ﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ﴾ [النحل: ۴۴]. ژباړه: او مونږ تا ته ذکر (وحي) نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلکو ته هغه څه ښه واضحه کړې چې دوی ته نازل کړی دی. دارنګه رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي ﴿خِيَارُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ﴾ ژباړه: تاسو کې تر ټولو غوره هغه څوک دی، چې قرآن کريم زده کوي او نورو ته ورښيي.

دا چې د اسلام مبارک دین په مصادرو کې د ټولو مجتهدینو په اتفاق اجماع هم یو مصدر دی؛ له همدې امله اړینه ده، چې د اجماع بېلا بېلو ډولونو ته په کتو، لکه: فقه اصول فقه او داسې نور په تفسیر کې اجماع هم وپېژندل شي، چې له مخې يې الهي کلام په سمه او صحیح توګه تفسیر شي او څوک و نه توانېږي، چې په خپل سر د اصل نصوصو په تفسیر کې له تحریف څخه کار واخلي.
د دې سربېره په تفسیر کې د اجماع اهمیت په دې کې دی، چې د اجماع په دې ډول کې یواځې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو د الفاظو او د هغې اړوند د معناګانو په رابطه د مفسرینو نظرونه او تفسیرونه څېړل کېږي. همدارنګه په دې څېړنیزه علمي مقاله کې به هغه اړتیاوې هم په ګوته شي، چې د تفسیر اجماع يې ځواب وايي او د مفسرینو سره مرسته کوي، چې په دې برخه کې يې د تفسیرونو اړوند ستونزې حل او یو روڼ واقعي تفسیر وړاندې کړي او راتلونکې څېړنه کې به تفسیر کې د اجماع فائدې او اهمیت روښانه شي.

**تګلاره**: دا یوه کتابتوني علمي څېړنه ده، چې د بېلابېلو مفسرینو د آندونو د پرتله کولو پرمټ ترتیب شوې ده او د مثالونو په برخه کې د بېلابېلو مفسرینو په حوالې سره د قرآن کریم یو شمېر مبارکو آیاتونو اړوند د هغوی نظرونه او تفسیر ذکر شوی دی.

**موخې**

۱ـ د اجماع ډولونه او اهمیت پېژندل

۲ـ د تفسیر د اجماع اړوند ځانګړي معلومات وړاندې کول

۳ـ د تفسیر د اجماع په رابطه د مفسرینو د نظرونو او تفسیرونو سره د تفسیر د علم د مینهوالو معلومات اضافه کول

۴ـ د معنا له لحاظه د تفسیر اجماع او د نظر له اړخه د تفسیر د اجماع پرتلنه پېژندل

۵ـ د هغه مشهورو تفسیرونو پېژندل، چې په دې برخه کې يې کار کړی دی

**د قرآن کریم په تفسیر کې اجماع او د هغې بېلګې**

په فقه کې اجماع د علماوو د ځانګړې پاملرنې له مخې یو مقام او منزلت لري؛ له دې امله علماوو مستقل کتابونه پکې ولیکل یا يې د خپلو کتابونو څخه یوه برخه وګرځوله؛ خو تفسیر کې اجماع لپاره دا پاملرنه نه وه شوې (۸: ۹۸).

دې خبرې څخه دا مقصد نه دی، چې مفسرینو په دې اړه کومه پاملرنه نه ده کړې؛ بلکې دا څرګنده ده، چې یو شمېر مفسرین د ځینو آیتونو د معنا اړوند اجماع نقل کړې ده، لیکن دا د دوی تفسیرونو کې خواره واره وه، چې لا تر اوسه نه وه را وېستل شوې.

د اصولینو په عرف کې اجماع د نبي صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په یو شرعي حکم د دې اُمت د مجتهدینو اتفاق ته ویل کېږي(۱۰:ص۷۳).

دلته د اجماع څخه مراد: د مفسرینو اجماع ده ـ هغه مفسرین، چې وینا یې په تفسیر کې معتبره وي ـ د الله تعالی د کتاب د یو آیت په تفسیر کې په یوه معنا باندې له معناګانو څخه.

اجماع دلیل دی او د اسلامي شریعت د أصولو څخه درېیم اصل ګڼل کېږي.

راتلونکې څېړنه کې به د مفسرینو د اجماع فایدې او اهمیت روښانه شي.

۱ ـ د تفسیر له ډولونو څخه د الله تعالی د کلام حملول په صحیح او قوي تفسیر باندې.

۲ ـ کله چې د مفسرینو اجماع ګانې و پېژندل شي؛ نو بیا به څوک د هغې د ورانولو جرئت نه کوي (۸: ۹۸).

**څرنګه به مونږ د مفسرینو اجماع ګانو ته ورسېږو؟**

د مفسرینو د اجماع ګانو د پېژندلو لپاره دوه لارې دي، چې په پلټنې باندې باور کوي!

لومړۍ لاره: چې د څېړونکو څخه یو شخص د اجماع په نقلولو باندې څرګندونه وکړي، لکه ابن جریر، ابن عطیة او داسې نور، په تفسیر کې د محققینو له خوا د یوې مسئلې اړوند په اجماع باندې حکم کول د دې څرګندونه کوي، چې دوی د مخکېنیو علماوو د ویناوو پلټنه کړې ده، بیا له دوی څخه د وروستني څېړونکي رول دا دی، چې هغه ډاډ ترلاسه کړي، چې هېڅ مخالف شتون نلري او دا یوازې د څېړنې له لارې تر سره کېدای شي.

دویمه لاره: چې لوستونکي د مفسرینو د وېناوو پلټنه وکړي او د هغوی له وېناوو څخه د اجماع استنباط وکړي کله چې د آیت اړوند د هغوی تر منځ اختلاف نه وي موجود.

**تفسیر کې اجماع په دوه ډوله ده**

۱ـ اجماع په لفظ باندې، چې د ټولو مفسرینو عبارتونه به لفظ باندې متفق وي او مفسرین دا په اجماع کې را نقلوي، لکه د الله تعالی دې وینا کې: ﴿ لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ﴾.( یونس/ ۶۴). ژباړه: د همدوی لپاره په دنیایي ژوند کې زېری دی او په اخرت کې (هم).

ابن عطیه وایي: « آخرت کې بشری جنت دی، همدا یو قول نقل شوی » (۳: ۱۷۶).

او د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ﴾.(فصلت/۴۱). ژباړه: هغه کسان (زمونږ څخه پټ نه دي)، چې کله د نصـیحت کلام ورته راغی؛ نو د هغه له منلو څخه یې انکار وکړ.ابن عطیه وایي:« له ذکر څخه مراد په اجماع سره قرآنکریم دی» (۴: ۱۲۱).

۲ـــ اجماع په معنا باندې، کله به یوه معنا وي او کله به زیاتې معناګانې وي! که معنا یوه وه؛ نو بېشکه (د مفسرینو عبارتونه د معنا په بیان کې مختلفېږي) او دا د شیخ الاسلام له تقسیماتو څخه په أوله، دریمه او څلورمه نوعه کې تطبیقږي، هغه چې د اصول تفسیر کتابونو کې یې یادونه شوې ده(۲: ۵۷، ۵۹، ۶۱).

دې قسم کې په معنا کې اتفاق وي، اګر که د مفســـرینو عبارتونه مختلف وي، لکه «صراط المستقیم»، چې د ټولو مفسرینو ویناوو کې یوه معنـا مـراده ده، چې هغه (د دین اتباع) ده، لیکن د دې معنا په بیان کې عبارتونه مختلف دي؛ ځکه چې هـــر مفسر صراط کې هغه شي ته کتلي دي، چې بل مفسر ورته نه دي کتلي؛ نو هر یوه د خپل نظر څخه په جلا لفظ سره تعبیر کړی دی.

له یو شـمېر هغه مثالونو څخه، چې دا پورته خبره روښـانه وي د الله تعالی نومونه دي، که ته ووایې: الله عزیز دی، الله حکیم دی، الله غفور دی؛ نو ته به ومومې چې العزیز او الحکیم او الغفور ټول یوه ذات ته په راجع کېدو کې متفق دي، لیکن د دې ذات څخه په دې مختلفو نومونو تعبیر شــوی دی؛ ځکه چې د عزیز معنا جلا ده د حکیم له معنا څخه او د حکیم معنا جلا ده د غفور له معنا څخه.

دا چې دا نومونه ټول د الله په ذات دلالت کــوي په دې کې یې اتفاق دی؛ خو اختلاف یې په دې کې دی، چې هر نوم په خپلې ځانګړې معنا سره دلالت کوي.

په تفســیر بالمثال کې په عامې معنا باندې اتفاق دی؛ خو د دې عامې معنا لپاره د مثالونو د ذکر کولو په سبب عبارتونه مختلفېږي. یو شـمېر هغه موارد، چې دا خبره روښـانوي، هغه د محروم تفسیر دی د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ﴾ (الذاریات/ ۱۹). ژباړه: او د دوی په مالونو کې د سوالګر او صابر لپاره حق ؤ.

ابن عطیه وایي: « خلکو په (محروم) کې داسـې اختلاف کــــړی، چې زما په آند دا د متأخرینو له خوا ګډوډېـــدل دي؛ ځکه چې معنا یې یوه ده؛ خو د مثال په توګه سلفو علماوو تعبیر کړی په دې عبارتونو باندې؛ نو متأخرینو دغه تعبیرونه اقوال وګرځول » بیایې د هغـــوی ټول اقوال ذکر کړل، بیایې ویل: « د دې اقوالو جامع معنا دا ده، چې محروم هغه څوک دی چې مــــال و نه لري؛ له وجې د محروم کېدو د ملګرو دده »(۵:۱۵ ، ۱۶).

د معنا په تفسیر کې نېږدې الفاظو سره، معنا اتفاقي وي، لیکن تعبیر ورڅخه مختلف وي، لکه تفسیر د إبسال د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ﴾.(الأنعام/ ۷۰).

ژباړه: چې کوم نفس د خپلو کړو عملونو په سبب هلاک (نه) کړی شي.
د تبسل تفسیر کې ویل شوي دي: بند به کړل شي، ویل شوي: چې ګرو به کړل شي او ویل شوي: بچ به کړل شي.
په درېیمه نوعه کې: هغه دا چې د یو أمر څخه د زیاتو احتمال پکې موجود وي، سره له دې چې آیت کې هم د زیاتو معناګانو د صحت احتمال وي؛ نو کله دوی د آیت ټول احتمالات ذکر کوي او کله له هغه احتمالاتو څخه یو ذکر کوي؛ نو هر حالت کې د دوی اجماع په دې ذکر شوي احتمال باندې وي.
هغه مفسرین چې د اجماع رانقلوونکي دي، په اجماع کې داسې اختلافات نه رانقلوي؛ بلکې یوازې د قرآن کریم په لفظ کې څرګنده اجماع رانقلوي، لکه چې وروسته به د اجماع مثالونو کې راشي.
مسئله: کله چې آیت د زیاتو معناګانو احتمال لري او سلف له دغه احتمال لرونکو معناګانو څخه په ځینې معناګانو باندې اجماع وکړي؛ نو آیا تفسیر د آیت په هغه صحیح احتمال جائز دی، چې سلفو نه دی ذکر کړی؟
د صحابي او تابعي د تفسیر په پاملرنو (تنبیهاتو) کې ځواب ذکر شوی دی، هغه دا چې کله معناګانې صحیح وي او آیت یې هم احتمال لري؛ نو په دې ټولو معناګانو باندې تفسیر روا دی؛ ځکه چې دا معناګانې د سلفو د اجماع ماتونکې نه دي او د سلفو د نه ذکر کولو څخه دا نه لازمېږي چې هغوی به یې نه قبلوي (۸: ص۳٦).

**تفسیر کې د اجماع اړوند پاملرنې(تنبیهات)**

۱ ـ ځینې مفسرین دآیت لفظ کې داسې اجماع را نقلوي، چې د خلاف توقع پکې نه شي کېدای؛ ځکه چې معنا یې زیاته ښکاره وي، لکه د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ﴾ (الأنعام/ ۱۵۴).
ژباړه: بیا مونږ موسی علیه السلام ته کتاب ور کړی ؤ. شنقطي وایي: « په اجماع سره د کتاب څخه مراد تورات دی »(۷: ۱۴۸).
او د الله تعالی په دې وینا کې: ﴿وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ﴾ (البقرة/۱۲۷).
ژباړه: او هغه وخت (یاد کړه) چې کله ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام د دې کور دیوالونه پورته کول.
ابن عطية وایي: « په اجماع سره د بیت څخه مراد کعبه دی » (۱: ۴۸۷).
۲ ــ مفســرین یو شمېر اجماع ګانې ذکر کوي، چې د آیت پــه تأویل او تفسیر کې داخل نه وي، لکه فقهي اجماع ګانې یا اجماع د علوم القرآن په مسـائلو بانــــدې، لکه: مکي او مدني سـورتونه، د آیتونو شـمېر او داسې نور، دا د تفسیر د اجماع په موضوع کې داخل نه دي؛ ځکه چې په تفسیر کې د اجماع څخه مراد: د آیت په الفاظو او معناګانو باندې په تفسیر اجماع کول مراد دي.

۳ــد يادولو وړ ده، چې د ابن جرير الطبري او ځينو مفســـرينو په آند: اجماع د زياتـــو له اتفاق څخه عبارت ده؛ نو بايد په اجماع کې د اجماع د رانقلوونکي مذهب ته وکتل شي.(۸:ص۹۸)

**د يو شمېر اجماع ګانو ليکلړ**

۱ ـ د الله تعالی په دې وينا کې: ﴿لاَ رَيْبَ فِيهِ﴾ (البقرة/ ۲)

ژباړه: په دې کې هېڅ شک نه شته.ابن أبي حاتم وايي: « ريب: شک دی، دې لفظ کې د مفسرينو تر منځ اختلاف نه شته » (٦: ٣١).

۲ ـ د الله تعالی په دې وينا کې: ﴿الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَامُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ﴾ (البقرة/ ٢٦٨).

ژباړه: شيطان تاسې له بېوزلۍ څخه وېروي او شرمناک چلن غوره کولو ته مو هڅوي. ابن القيم وايي: « په اجماع سره دې آيت کې د فحشاء څخه مراد بخل دی »(١٠: ١٦٨).

۳ ـ د الله تعالی په دې وينا کې: ﴿لاَ تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَلِكَ أَمْرًا﴾ (الطلاق/ ١).

ژباړه: ته نه پوهېږې، ښايي د طلاق وروسته الله د يو والي(د توافق) څه لاره پيدا کړي.

ماوردي وايي: « يعنې رجوع کول دې مطلقې ته، دا د ټولو مفسرينو وينا ده »( ١١: ٣٠).

۴ ـ د الله تعالی په دې وينا کې: ﴿أَزِفَتِ الآزِفَةُ﴾ (النجم/ ۵۷). ژباړه: راتلونکی ساعت (قيامت) رانږدې شوی دی. ابن عطيه وايي:« ازفة د ټولو مفسرينو په اجماع سره د قيامت له ورځې څخه عبارت دی »(۵: ۱۴۲).

۵ ـ د الله تعالی په دې وينا کې: ﴿وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا﴾ (البقرة/ ۱۴۳).

ژباړه: او هغه قبله، چې ته په هغې باندې وې؛ مونږ نه ده مقرره کړې. شنقيطي وايي: « د ټولو مفسرينو په اجماع سره دې آيت کې خطاب نبي صلی الله عليه وسلم ته دی »(۷: ۱۵۰).

**پايله**

د تفسير د اجماع په پايله د بېلابېلو مفسرينو په حوالې سره ويلای شو، چې د مفسرينو اجماع د قرآن کريم په تفسير کې خورا مهمه او اړينه ده، په دې رابطه زياتو مفسرينو لکه: تفسير ابن جرير الطبري، المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز، تفسير ابن أبي حاتم، أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن او داسې نور د پام وړ دي، د دې مهمې پروسې پېژندلو لپاره دا دوه لارې ډېرې اړينې دي:

۱ـ د اجماع نقلول

۲- د مفسرينو د تفسير پلټنه

همدارنګه په یاد بحث کې دا هم روښانه کېږي، چې یو شمېر مفسرین د آیت په لفظ کې داسې اجماع ځخه یادونه کوي، چې د ټولو مفسرینو ترمنځ اتفاقي بڼه لري او هر مفسر عین تعبیر اخیستی دی.

یو شمېر نورو بیا داسې اجماع څخه یادونه کړې ده، چې د آیت په تاویل او تفسیر کې شتون نه لري او یو شمېر نور لکه ابن جریر الطبري په دې آند دي، چې په تفسیر کې اجماع د زیاتو مفسرینو له اتفاق څخه عبارت دی.

**وړاندیزونه**

۱ـ اسلامي امارت ته مې دا وړاندیز دی، چې د قرآن کریم تفسیر ته په ځانګړې توګه هغه تفسیري مهمو مسائلو ته پاملرنه وکړي، چې تفسیر یې خورا اړین دی او د نشراتو له لارې په دې اړینو مسائلو باندې عام مسلمانان او په ځانګړې توګه د دیني مدرسو طالبان پوه کړي.
۲ـ علماء کرامو ته مې وړاندیز دی، چې په دیني مدارسو، د جمعې خطبو کې د تفسیر اړینو مسائلو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۳ـ د دیني مدرسو د مهتممینو او مسئولینو څخه مې دا غوښتنه ده، چې د مدارسو په نصاب او مهال وېش کې د تفسیر اړوند اړینو مسائلو ته لکه د قرآن کریم په تفسیر کې اجماع ته ځای ور کړي؛ تر څو طالبان ور باندې پوه شي.

۴ـ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه مو دا غوښتنه ده، چې د نشراتو له لارې دې مسئلې ته ځانګړې توجه وکړي او د نشراتو له لارې عام مسلمانان ور باندې پوه کړي.

**اخځلیکونه**

١ـ القرآن الكريم

٢ـ الأندلسي، أبو محمد عبد الحق بن عطية. (ب، ت). المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز. ج١. (ط١).څېړنه: عبد الله بن إبراهيم الأنصاري، السيد عبد العال إبراهيم. خپرونکی: مؤسسة دار العلوم.

٣ـ الأندلسي، أبو محمد عبد الحق بن عطية. (ب، ت). المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز. ج٧. (ط١).څېړنه: عبد الله بن إبراهيم الأنصاري، السيد عبد العال إبراهيم. خپرونکی: مؤسسة دار العلوم.

٤ـ الأندلسي، أبو محمد عبد الحق بن عطية. (ب، ت). المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز. ج١٣.(ط١). څېړنه: عبد الله بن إبراهيم الأنصاري، السيد عبد العال إبراهيم. خپرونکی: مؤسسة دار العلوم.

٥ـ الأندلسي، أبو محمد عبد الحق بن عطية.(ب، ت). المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز. ج١٤.(ط١). څېړنه: عبد الله بن إبراهيم الأنصاري، السيد عبد العال إبراهيم. خپرونکی: مؤسسة دار العلوم.

٦ـ الرازي، أبو محمد عبد الرحمن ابن أبي حاتم.(ب،ت). تفسير ابن أبي حاتم. ج١. څېړنه: د.أحمد عبد الله العماري الزهراين. خپرونکی:الدار المدنية.

٧ـ الشنقيطي، محمد الأمين بن محمد المختار الجكني(١٤٠٣هـ. ق) أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن. خپرونکی:الرئاسة العامة لإدارة البحوث العلمية...الرياض.

٨ـ الطيار، د/ مساعدبن سليمان.(١٤٢٠هـ). فصول في اصول التفسير. (ط٦). خپرونکی: دار ابن الجوزي.

٩ـ العثيمين، محمد بن صالح بن عثيمين.( ١٤٠٦هـ ق). الأصول من علم الأصول. (ط٣). خپرونکی:مؤسسة الرسالة، مكتبة الرشد.

١٠ـ الندوي، محمد أويس. (ب، ت). التفسير القيم للإمام ابن القيم. څېړنه: محمد حامد الفقي. خپرونکی. مكتبة السنة المحمدية.

١١ـ الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي.( ١٤٠٢هـ. ق.) . النكت والعيون ـ تفسير الماوردي. (ج٦.) (ط١). څېړنه: خضر بن محمد خضر. خپرونکی: مطابع مقهوي، الكويت.

# د محمد صدیق پسرلي د شاعرۍ کوډونه

پوهندوی ظاهرشاه زهیر، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه
برېښنالیک: zahirzaheer123@gmail.com

**لنډیز**

پهٔ ټولیزه توګه د ادبیاتو پهٔ میدان کې، چې څومره شاعري پهٔ شرقي ژبو کې شوې، څومره سبکونه او مکتبونه منځ ته راغلي، پهٔ هغو ټولو کې د هندي سبک شاعري د شعري ځانګړنو لهٔ امله تر نورو ممتازه ده. یو امتیاز یې دا دی، چې د خیال او شعریت لهٔ اړخه لوړه او د مضمون او فکر لهٔ اړخه ډېره ژوره ده. همدا وجه ده، چې د هندي سبک پرشاعرۍ پوهېدل لږه خواري غواړي، خو کله چې د ادب لوستونکی تر یو حده پرې پوه شي، نو لهٔ اغېز او خوند سره سره ډېرې نوې خبرې او پوښتنې ذهن ته لېږدوي.
پهٔ هندي سبک کې د کلاسیک پېر شاعران پهٔ اردو، فارسي او پښتو درو واړو ژبو کې شته، چې د هغو کټګوري د ادبیاتو پهٔ تاریخونو کې شوې، که موږ د معاصر شعر پهٔ هکله خبره کوو، شاید دلته هم د هندي سبک شاعران ډېر پیدا شي، خو هغه شاعران چې معاصر ادبپوهان یې د هندي سبک پیرو شاعران بولي، د ګوتو پهٔ شمېر دي او پهٔ پښتو معاصر ادب کې داسې یو شاعر محمد صدیق پسرلی دی، چې د هندي سبک پیرو شاعر بلل کېږي. دا هغه شاعر دی، چې د ادب مینه‌وال او لوستونکي یې د شاعرۍ پر ډېرو خواوو نهٔ پوهېږي. وجه یې دا ده، چې د هغهٔ شعري ترکیبونه د لفظ او معنا دواړو لهٔ مخې لهٔ نورو شاعرانو سره توپیر لري، معنوي ښکلاوې، نادر تشبیهات، استعارې، ځانګړي لهجوي نومونه او اصطلاحات هغهٔ څهٔ دي، چې د نوموړي شاعري یې نسبتاً پېچلې کړې. د معاصر شعرپېژندنې سرلاري پهٔ دې فکر دي، چې د پسرلي صیب شاعري ځانګړې کوډونه لري، که لوستونکي هغه کوډونه زده نه کړي، پرشعر پوهېدل ورته ګرانېږي. پهٔ دې لنډه مقاله کې ما د مرحوم پسرلي صیب د شعر پرهغو خواوو بحث کړی، پر کومو چې زهٔ تر یوحده پوهېږم. هیله مې دا ده، چې د نوموړي شاعر پر شعر نور کار وشي او هغه پټې خواوې، چې د ډېرو لوستو ورپام نهٔ دی؛ را وسپړل شي.

**کلیدي ټکي:** پسرلی، هندي سبک، شاعري، کوډونه او سپړنه.

**سریزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين و على اله و اصحابه اجمعين. الشعراء تلاميذالرحمن

دا خبره شاید ډېرو ته نوې او کمو ته تکراري ښکاره شي، چې شعر هم کوډونه لري، خو دا پوښتنه به هرو مرو زموږ په ذهن کې ګرځي، چې د شعر کوډونه کوم دي؟ په شعر پوهېدل او د شعر باریکیو ته ځان رسول ګران کار دی، ځکه چې شعر د فکر پرځای له خیاله سرچینه اخلي. دا خبره که په ساده ژبه وکړو، نو ویلی شو، چې شعر د شاعر د لاشعور نه را وتلې خبرې دي. که موږ د شاعر خبرې په شعوري توګه لولو او بیا غواړو د هر شاعر پر شعر ځان پوه کړو، شاید و نه توانېږو. که پر شعر د پوهې لپاره موږ له شعور سره د لاشعور او پټ ذوق قوه هم ملګري کړو، نو په دې صورت کې بیا هم شاید بشپړ پرشعر پوه نه شو؛ یوازې به له شعره یو څه خوند واخلو، ځکه د هر شاعر شعر به زموږ له ذوق او پوهې سره سمون نه خوري. په عموم کې پر شعر دپوهېدنې لپاره د شاعر پر شعري ژبې، د شعر پر تخنیکونو، سیمه‌ییزو اصطلاحاتو او د شاعر د ژوند او ژواک پر ځینو اړخونو عبور لرل اړین دي، چې دا کار له پراخې مطالعې پرته ناممکن دی. که په پورته خواوو بشپړه پوهه و نه لرو، شاید د ځینو شاعرانو شعر ته یوازې د ژبې له اړخه وګورو او له هغو اړخونو یې خوند واخلو، چې د یوې ښې نړه ژبې پر اساس یې زموږ په ذهن کې یو څه پرېښې او بس.

د استاد محمد صدیق پسرلي د شاعرۍ په هکله به تاسې دا خبره تر ما ډېره اورېدلې وي، چې شاعري یې خپل کوډونه لري، که پر هغو پوه شو، نو د پسرلي صیب شاعري به یو بې‌پایانه سمندر وبولو. ډاکتر احسان الله درمل د مرحوم پسرلي پر شاعرۍ نسبتاً نورو ته ډېر لیکل کړي او د «کوډونو» کلمه هم د پسرلي صیب شاعرۍ سره په تړاو، ما له نوموړي اورېدلې ده. ډاکتر درمل د شعر او ادب په برخه کې هغه نوم دی، چې دغسې کلمې په خپلو بحثونو او لیکنو کې ډېرې کاروي. دا په دې معنا نه ده، چې یوازې د پسرلي صیب شاعري مخصوص کوډونه لري؛ په کلاسیکه او معاصره شاعرۍ کې موږ داسې ډېر کسان پیدا کولی شو، چې شعر یې تر نورو ډېر ژور او پېچلی دی. زه یوازې په دې مقاله کې پر هغو برخو بحث کوم، پر کومو برخو چې عام لوستونکي نه پوهېږي. خاص لوستونکي یا هغه لوستونکي چې ادبیات په مسلکي توګه زده‌کوي، په معاصر شعر کې د دغسې فورمولونو له تطبیق نه ناخبره وي.

## د څېړنې موخې

لهٔ دې لنډې څېړنې یوه څرګنده موخه دا ده، چې پهٔ ټولیزه توګه پښتو ادب‌لوستونکي او پهٔ ځانګړې توګه هغه ځوانان، چې پښتو ادب پهٔ مسلکي توګه زده کوي، هغوی به پهٔ معاصر شعر کې د هندي سبک پر باریکیو پوه شي، ځکه چې دوی د ادبیاتو پهٔ ډېرو مضامینو کې لهٔ داسې شعري بېلګو سره مخامخ کېږي، چې د پېلچلتیا لهٔ وجې لهٔ موضوعاتو سره سطحي چلند کوي.

بله دا چې محمد صدیق پسرلی هغه شاعر دی، چې پر شاعرۍ یې تر ډېره څوک نهٔ پوهېږي، نو که موږ ورو ورو د داسې شاعرانو د شعر باریکۍ را وسپړو، نو د دوی لهٔ شعر نه به لوستونکي مثبته ګټه پورته کړي، ځکه د دوی پهٔ هکله د ښهٔ شاعر او ښې شاعرۍ اوازې د هر چا ترغوږونو رسېدلې دي، خو هغه خواوې، چې د دوی د ښې شاعرۍ لپاره مهمې دي، تر اوسه پټې پاتې دي.

## کړنلاره او کارتوکي

پهٔ دې لیکنه کې لهٔ تشریحي مېتود (Descriptive method) څخه استفاده شوې. تشریحي مېتود د څېړنې هغه مېتود دی، چې موضوعات پهٔ تشریحي توګه وړاندې کوي او د موضوع ناڅرګندې خواوې راسپړي. د څېړنې ډول کتابتوني دی او پهٔ دې لیکنه کې لهٔ ادبي او فلسفي اثارو استفاده شوې او ډېر تمرکز د شعر پر تخنیکي اړخونو شوی.

## ۱. د شاعرۍ کوډونه څهٔ شی دي؟

د شعر کوډونه د کمپیوټري سیستم غوندې نهٔ دي، چې سړی یې د ساینسي پوهې پرمټ وپېژني، بلکې دا هغه کوډونه دي، چې د ادبي پوهې پر مټ یې پېژندلی شو. دلته موږ شاید لهٔ دې پوښتنې مخامخ شو: هغهٔ څهٔ شی دي، چې شعر پرې پېژندل کېږي؟ زما پهٔ فکر کهٔ څوک غواړي، چې پهٔ ټولیز ډول د پښتو پر منظوم ادب پهٔ نسبي توګه ښهٔ پوه شي، نو پکار ده، چې د ادبپوهنې پر درو څانګو (ادبي کره کتنه، ادبي تیوري او ادب تاریخ) ځان پوه کړي. یادې درې څانګې، چې د ادبیاتو اړوند درسي نصاب مهمه او پراخه برخه ده، خو د شعر پېژندنې لپاره د ادبي تیوري برخه او پهٔ ادبي تیوري کې بیا د ادبي فنونو برخه ډېره مهمه ده. د دې ترڅنګ پر سیمه‌ییز فوکلور، ژبني بدلون، لهجو، لهٔ عربي ژبې سره بلدتیا او پر داسې نورو اړخونو عبور لرل هم اړین دي. استاد اسدالله غضنفر پهٔ خپل کتاب (څراغ) کې یو ځای لیکي: «لهٔ هنر څخه استفاده همېشه بې‌زحمته نهٔ وي، بلکې د معلوماتو یوه سویه او تربیت شوی ذوق

غواړي. که غواړو د ادب لهٔ یو شهکاره خوند واخلو، اول به سواد زده کوو، بیا به پهٔ یو څهٔ لغتونو او اصطلاحاتو ځان پوهوو او بیا به پهٔ ساعتونو ساعتونو مطالعې ته وخت ورکوو.« (٦: ۲۴۷)

د پورتنی عمومي لنډې توضیح وروسته غواړو پوه شو، چې د استاد محمد صدیق پسرلي د شاعری ځانګړې کوډونه کوم دي؟ دلته زه هغه برخې تاسې ته وړاندې کوم، پر کومو چې تر یو حده پوهېږم. پهٔ سر کې د ادبي فنونو بدیع برخې ځیني صنعتونه (ښکلاوې) را اخلو او بېرته یې د پسرلي صیب پهٔ شعر کې پر ځینو بېلګو تطبیقوو، پهٔ دې معنا چې لومړی صنعت تشریح کوو او بیا پرې لنډه تبصره کوو.

### ۱. ۱. لومړی کوډ: مدعا مثل صنعت یا تمثیلي تشبیه

مدعا مثل یو ترکیبي نوم دی، چې دواړه (مدعا) او (مثل) د عربي ژبې کلمې دي، چې لومړی کلمه مفعولي نوم دی او د میم پهٔ پېښ سره د هغهٔ څهٔ پهٔ معنا دی، چې د هغهٔ لپاره ادعا کېږي یا غوښتل کېږي. دو یمه کلمه د میم پهٔ زور سره د مثل یا نظیر وړاندې کولو پهٔ معنا ده. (۵: ۵۴۵)

تمثیلي تشبیه هغه ده، چې د کلماتو ترمنځ اړیکې یوازې پر دوو توکو (مشبه او مشبه به) نهٔ وي اړوند، بلکې د یو نیم‌بیتي مفهوم د بل نیم‌بیتي لهٔ مفهوم سره تشبیه شوی وي. پوهاند فضل‌ولي ناګار پهٔ خپل کتاب (د بیان علم) کې د تمثیلي تشبیه پهٔ هکله وایي: »هغه تشبیه ده، چې وجه (لامل) یې لهٔ ګڼو شیانو څخه راوتلی وي.« (۹: ٦۳)

د بدیع علم پهٔ اصطلاح کې مدعا مثل هغه صنعت (ښکلا) ده، چې لومړی یوه ادعا وشي او وروسته ورپسې د ثبوت لپاره عیني بېلګه وړاندې شي. »که شاعر پهٔ یو نیم‌بیتي کې یو مطلب راوړي او پهٔ بل نیم‌بیتي کې د هغه د اثبات لپاره یو مثل راوړي مدعا مثل صنعت بلل کېږي.« (۱۰: ۱۴۵)

په قران عظیم الشان کې الله ج فرمایي: »الحمدلله الذي خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور ثم الذین کفرو بربهم یعدلون*« (د الانعام سورة لومړی ایت)

ژباړه: ثنا او ستاینه الله ج لره ده، هغه الله چې اسمانونه او ځمکې یې هست کړل، رڼا او تیارې یې پیدا کړې. بیا هم هغهٔ کسان چې د حقې بلنې لهٔ منلو څخه یې انکار کړی دی، نور شیان د خپل رب سیالان ګڼي. پهٔ دې ایت شریف کې لومړی فقره مدعا ده او پهٔ ورپسې فقرو کې الله ج د خپلې ادعا ثبوت پهٔ

ډېرو قوي مثالونو سره کړی دی. باید ووایو چې قران عظیم الشان کې الله ج د هرې مدعا لپاره بې شمېره عیني مثالونه وړاندې کړي، نو ویلی شو، چې د دې لوی کتاب عظمت د انسان له فکره پورته دی.

یاد صنعت د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې هم موندل کېږي، خو په معاصر پښتو شعر کې د پسرلي صیب په شاعرۍ کې ډېر مخې ته راځي؛ دلته یې لومړی داسې بیت لولو، چې د نورو په پرتله څرګند دی.

کوږ فکـر تنها نهٔ وي پهٔ ټيټو کې
ډېرې کږې لارې خو غر هم لري

تاسو ګورئ، شاعر پهٔ لومړي نیم‌بیتي کې ادعا کړې، چې کوږ (خام، پوچ، کمزوری) فکر یوازې پهٔ بې علمه او کمزورو خلکو کې نهٔ وي، لوی (باعلمه، بافکره او باهنره) خلک هم کله کله تېروتنې کوي. د دې لپاره، چې شاعر خپله لومړی خبره مضبوطه کړي؛ مثال وړاندې کوي، چې غرونه هم کږې لارې لري. پهٔ دې بیت کې کوږ فکر لهٔ کږو لارو او لوی خلک لهٔ غر سره تشبیه شوي، چې تمثیلي تشبیه یې بللی شو. پورتنی بیت نسبتاً ساده دی، اوس داسې دوهٔ بیتونه راوړو، چې لهٔ پورتني نه یو څهٔ پیچلي برېښي.

نیاز پهٔ ناز ګورئ بدلېږي چې دوام ومومي زوږ شي
د ځګـــــونو قفسونه د ابشـــار لهٔ چیغو جوړ شي
تجربـــه یې د عشق نهٔ وه پـــهٔ اټکل تېروته ځکه
اور لهٔ لرې ښایسته وي، اوچت غر لهٔ لرې ووړ شي
(۳: ۴۲۷)

پهٔ لومړي نیم‌بیتي کې شاعر ادعا کوي، چې د نیاز (محتاجۍ) دوام پهٔ ناز بدلېدای شي. د دې ادعا د ثبوت لپاره شاعر یو خیالي، خو عیني مثال وړاندې کوي او پهٔ دویم نیم‌بیتي کې وایي چې، د ابشار شور ته وګورئ، چې پهٔ دوامداره چیغو (شور) سره یې د ځګ قفس جوړ کړی او خپل نیاز یې پر ناز(ادا) بدل کړی، ځکه چې د ابشار شور لومړی توجه جلبوي، خو نظر پر اوبو لګېږي او لیدونکی پهٔ اوبو کې د هغهٔ ځګ چې لهٔ پوکانیو یې قفس جوړ شوی، پهٔ خوند ننداره کوي. باید ووایو، چې شاعر د چیغو پهٔ اواز نوم سره د شخصیت ورکونه (Personification) صنعت هم کارولی، ځکه چې دی د ابشار شور ته چیغې وایي او د چیغو نسبت انسان ته کېږي نهٔ اوبو ته. د دویم بیت پهٔ لومړي نیم‌بیتي کې د خپل مخاطب پهٔ هکله وایي، چې د معشوق پهٔ اړه یې قضاوت لهٔ لرې کړی او پهٔ تش اټکل تېروتلی، ځکه

چې د حقیقي عشق تجربه نهٔ لري. پهٔ دویم نیم‌بیتي کې د دې ادعا لپاره دوهٔ مثالونه راوړي. یو دا چې اور لهٔ لرې ښکلی ښکاري، خو پهٔ نېږدې‌والي سره نهٔ یوازې ښکلی نهٔ ښکاري، بلکې پهٔ لمس او یوځای والي سره سړی سوزوي. دویم دا چې غر لهٔ لرې ووړ ښکاري، خو چې څومره ورنېږدې کېږې؛ لویېږي او پر غر ختل هم پهٔ اسانی نهٔ کېږي. د بیت لنډ مطلب دا دی، چې د شاعر مخاطب (بې تجربې عاشق) خپل معشوق پهٔ بشپړ ډول نهٔ دی پېژندلی او لهٔ ځانه لوی معشوق یې غوره کړی، پهٔ داسې حال کې چې دی د عشق تجربه نهٔ لري.

ډېـر حقایق نهٔ دي کـــه یې وسپړي څوک
دود هم ورکېږي، چې ورو ورو لهٔ پېچ و تابه وځي
چې د شیدا پهٔ پلهٔ دې پـــــل ایښی پسرلیه ځکــــه
اوس دې غزل پهٔ پښتونخـــوا کې لهٔ ځوابه وځي
(۳: ۴۸۵)

پهٔ لومړي بیت کې حقایق مرکزي کلمه ده، چې د بیت ټول مفهوم پرې را ټول دی. شاعر ادعا کوي، چې د انسان پهٔ ژوند کې ډېر حقایق لهٔ سپړنې وروسته حقایق نهٔ پاتې کېږي او د دې لپاره پهٔ دویم نیم بیتي کې دود (لوګی) پهٔ مثال کې راوړي. کله چې لوګی د نل یا نغري لهٔ پېچ و تابه ووځي، نو پهٔ هوا کې ورک شي، نو شاعر هغه تش پهٔ نامه حقایق یا هغهٔ حقایق، چې یوازې اورېدل شوي وي، خو فکر پرې نهٔ وي شوی او چا سپړلي نهٔ وي، لهٔ دود سره تشبیه کړي. پهٔ دویم بیت کې شاعر د شاعرانه تعالي پهٔ ډول وایي، چې پهٔ شاعری کې د شیدا پر پلهٔ روان یې، همدا وجه ده، چې شاعري دې بې‌مثاله ده. باید ووایو چې مدعا مثل صنعت لکه څرنګه چې تمثیلي تشبیه ده، همدا رنګه مرکبه تشبیه هم ورته ویلی شو، خو توپیر یوازې دومره دی، چې تمثیل یې د معنا او مفهوم تړون دی او مرکبوالی یې لهٔ ګرامري اړخ سره تړاو لري. زهٔ غواړم دویم اړخ د ځانګړي ګوډ لهٔ مخې تشریح کړم.

### ۱. ۲. دویم کوډ ( مرکبه تشبیه)

د بیان علم لهٔ مخې مرکبه تشبیه هغه ده، چې تشبیه به یوه بسیطه کلمه نهٔ وي، بلکې ترکیبي بڼه به لري. کله شاعر یو بشپړ مطلب لهٔ یو بل مطلب سره تشبیه کړي، که څه هم کله کله داسې هم کېږي، چې د تشبیه لومړی خوا (مشبه) بسیطه او دویمه خوا (مشبه به) مرکبه وي او کله کله بیا باالعکس مشبه مرکبه او مشبه به بسیطه کلمه وي. کله بیا دواړه خواووې مرکبې وي. پهٔ دې تشبیهاتو کې شاعر یوه عیني موضوع

لهٔ بلې عيني يا يوه خيالي موضوع لهٔ بلې خيالي موضوع سره تشبيه کوي، يعني د يو بيت لومړۍ فقره (نيم‌بيتی) لهٔ دويمې فقرې (نيم‌بيتي) سره تشبيه شوی وي. دلته به لوستونکي د تشبيه لپاره يوه کلمه پهٔ نظر کې نهٔ نيسي، بلکې د نيم‌بيتيو پر بشپړ مفهوم به فکر کوي.

فرمانبردار فرمان‌روا ته غاړه نهٔ ږدي مدام
شي کله کله سَوارکار تـــه رکابونه لومې
(۳: ٦١٠)

دلته شاعر يو څرګند مطلب، چې هر وخت فرمان منونکی د خپل فرمان‌روا (حکم کوونکي) امر ته غاړه نهٔ دي. دا مطلب زموږ پهٔ ژوند کې يو عيني واقعيت دی او پهٔ اصطلاح لېدلې کتلې خبره ده، څکه ډېر کله داسې پېښې زموږ پهٔ ژوند کې تجربه شوې. ياد مطلب شاعر پهٔ دويـم نيم‌بيتي کې لهٔ يوې بلې عيني پېښې سره تشبيه کړی، چې د سورلۍ استاد ته هم کله د خپل آس رکابونه لومه وګرځي او ځان لهٔ غورځېدو نهٔ شي بچ کولی او لهٔ آس سره سپور هم يو ځای غورځي. دلته د بيت لومړۍ فقره بشپړه لهٔ دويمې فقرې سره تشبيه شوې. يا داسې هم ويلی شو، چې يوبشپړ مفهوم لهٔ بل سره تشبيه شوی، چې دې ډول تشبيه ته مرکبه تشبيه  ويلی شو. د دې بيت پهٔ تشريح کې به يوهٔ بله موضوع هم ضمناً اضافه کړو، چې د پسرلي صيب شاعرۍ کې فارسي لغتونه ډېر کارول شوي، نو که يو لوستونکی د فارسي ژبې لغتونو سره بلدتيا و نهٔ لري، د ټولو بيتونو پر مفهوم پهٔ اسانه نهٔ پوهېږي.

عارضي سرګردانيو د ژونـــد ولې ورخطا کــــړو
د موجونو هم سرورنه ګورو ګرځي پهٔ ګرداب کې
(۳: ٨٦٢)

پهٔ روان عمر کې ستونزې لا پايښت وربخښي ژوند ته
چې بې‌لاس او پښو ماهي ته لا د امن ځای ګــــرداب ؤ
ژوند مـــې تېـــر شو ايله پـــوه شوم پهٔ معنا يې پسرليه
د سيماب غونـــدې تر مـــرګه بې تسکينه اضطراب ؤ
(۳: ٨٦٣)

پهٔ لومړي بيت کې شاعر يوه لويه موضوع، چې د دنياوي ژوند د سرګردانيو لهٔ وجې د انسان وارخطايي ده،  پهٔ ترکيبي بڼه لهٔ يو بل عيني واقعيت سره تشبيه کړې. ګرداب هغهٔ تاوېدونکي اوبه، چې پهٔ خپل

حرکت سره یې د اوبو موجونه (څپې) د ځان تابع کړې وي او د هرې څپې سر د ګرداب په سوري کې وي او په ټول سیند د سرګردانۍ راج چلوي. ورپسې دوه بیتونه چې د عمومي مفهوم له مخې (چې د ژوند کړاوونه دي) پاسني بیت ته نېږدې دي. په لومړي بیت کې شاعر د ژوند کلمه په عمر اړولې او د انسان په ژوند کې ټولو ستونزو ته په اشارې وايي، چې ستونزې ژوند ته پایښت بخښي. عمر او ژوند هغه کلمې دي، چې موږ ته لومړۍ کلمه د انسان پایښت له زمان سره تړي، څکه زمان روان وي او په دې زمان کې دننه چې انسان کوم کردار لوبوي، هغه ته ژوند وايي. د پاسني نیم‌بیتي عمر، ستونزې، پایښت او ژوند کلمې د یو ترکیب له مخې په دویم نیم‌بیتي کې له ماهي، ګرداب + اوبو سره تشبیه شوې، چې ګرداب د مرسل مجاز له مخې د ډېرو اوبو د جز په توګه راغلی؛ دې ډول تشبیه ته د شکل او جوړښت له مخې مرکبه تشبیه ویلی شو.

د پسرلي صیب په شاعرۍ کې دا ډول تشبیهات بیخي ډېر راغلي، چې په ضمن کې مدعامثل صنعت هم دی، که لوستونکي د مدعا مثل صنعت ترڅنګ د مرکبې تشبیه له انداز سره هم اشنايي ولري، نو لرې نه ده، چې د نوموړي شاعر له شعري مفاهیمو به هرو مرو خوند واخلي.

**۱. ۳. درېیم کوډ: نادرتشبیهات، استعارې او (شخصیت ورکونه یا Personification صنعت)**

د بیان علم له مخې نادر تشبیهات او نادرې استعارې هغو تشبیهاتو او استعارو ته وايي، چې په شاعرانو کې یې کارېدنه ډېره کمه وي او یا یوازې یو شاعر کارولې وي. د دې ترڅنګ د دغو دواړو د ندرت په هکله یو بل نظر دا دی، چې کله شاعر یوه مبتذله یا سولېدلې تشبیه یا استعاره په نوې انداز سره وکاروي، بیا هم نادره او نوې تشبیه یا استعاره ورته ویلی شو. شخصیت ورکونه د بدیع علم له مخې هغه صنعت دی، چې شاعر حیواناتو یا غیر ذیروح شیانو ته د یو ژوندي انسان په توګه وګوري او هغه ته د انساني ځانګړنو له مخې شخصیت ورکړي. لاندې بیتونه لولو

د پټــې خولې ژړا خـــو زموږ هم خوښه ده شمې
د زړهٔ پر ســـر اغـــــــزي شي نا وتلي فـــــریادونه
نهٔ زور لرم د تالیندې چې هسک په غوړو کوڼ کړم

نهٔ اوري څوک د سویو زړونـو غلي فریادونه
نهٔ شمېـر د فریادونو، نهٔ حساب شته د غمونو
د سترې سین پهٔ خوله کې چا ګنلې فریادونه

پهٔ هسک کې هم د ښکلیو ۇ تمرین د سترګکونو
کـــړۍ شپه چې د شوخـــو ستارو پهٔ ننداره وم

پهٔ لومړي بیت کې شاعر شمې ته د یو ژوندي انسان پهٔ څېر خطاب کوي او لهٔ شمې سره ګړېږي، چې دې ډول صنعت ته شخصیت ورکونه وایي. پهٔ ضمن کې شاعر شمع د محبوب یا هغه کس لپاره چې مړې او پټې اوښکې تویوي، د استعارې پهٔ ډول راوړې. (ژړا) او (خولهٔ) قرینې دي، چې د هغو لهٔ مخې لوستونکی مستعار منه پېژني. پهٔ دویم بیت کې مفهوم یوازې د (هسک) کلمې پېچلی کړی او بله دا چې د یادې کلمې وړاندې ترکیب د وزن لپاره لنډ شوی او داسې ترکیبونه شاید د پسرلي صیب پهٔ شاعرۍ کې نور هم پیدا شي. د هسک معنا (اسمان) دی، خو شاعر که د تالیندې یا برېښنا غوندې زور ولري، نو غواړي چې پهٔ خپلو فریادونو یې پر غوږو کوڼ کړي. اسمان ته غوږونه ورکول او پر هغهٔ خپل فریادونه اورېدل (چې د شخصیت ورکونې صنعت یوه بېلګه ده) داسې دي، لکه د یو ژوندي انسان پهٔ هکله چې څوک خبره کوي. هسک کلمه د مغرور معشوق یا د کوم بل مغرور غایب کس لپاره استعاره هم ده. د استعارې ندرت پهٔ دې کې دی، چې شاعر د اسمان پر ځای هسک یاد کړی. که موږ د (تالیندې) کلمه قرینه کړو، نو اسمان مرادېږي، که بیا (پهٔ غوږو کوڼ کړم) فقره قرینه کړو، نو د شاعر مطلب لهٔ هسک نه مغرور معشوق دی، چې لهٔ دې مطلب سره د بیت دویـم نیم‌بیتی هم پهٔ مفهوم برابر خېږي. همدا رنګه دویم بیت کې پهٔ (سترې سین) ترکیب کې پورتنی صنعت هم راغلی، د سترې صفت د ژوندي موجود صفت دی، خو شاعر غیر ذیروح (سین) ته ورکړی. همدا رنګه یاد ترکیب پهٔ خپله د شاعر لپاره یوه نادره استعاره هم ده، چې دا ډول استعاره لومړی چا کارولې ده او که کارولې یې وي، نو ډېره کمه به وي. (خوله) او (فریادونه) کلمې د یادې استعارې لپاره څرګندې قرینې (نښې) دي. پهٔ وروستي بیت کې شاعر د ښکلیو د سترګکونو ننداره د اسمان لهٔ شوخو ستارو سره تشبیه کړې، چې پهٔ ځانګړي ترکیب سره یې یاده تشبیه پېچلې کړې، خو ډېره یې ښکلې کړې ده. ستورو ته د شوخۍ صفت ورکول د شخصیت ورکونې صنعت یوه بېلګه ده، شوخي د انسان صفت کېدی شي، نهٔ د غیر ذیروحو شیانو.

### ۱. ۴. څلورم کوډ: د ژوند په هکله د شاعر ناهیلي

د محمد صدیق پسرلي په شاعرۍ کې د عدم، ژوند او مرګ په هکله پوښتنې، ژوند ته په تحیير کتل او په عموم کې د ژوند له کړاوونو نه شکايت بيخي ډېر پيدا کولی شو. د دين او اروا‌پوهنې له نظره په ژوند کې ناهيلي او نااوميدي ښه کار نه دی، خو د انسان فطرت داسې دی، چې ځيني وخت ناهيلی کېږي. ډېرى انسانان داسې دي، چې خپله ناهيلي نه ښکاره کوي. شاعر هغه څوک دی، چې د ژوند ناهيلی الفاظو ته راوړي او وايي يې. د مرحوم پسرلي صيب په شاعرۍ کې د ژوند په هکله بيخي ډېرې پوښتنې دي، داسې پوښتنې چې مبتدي لوستونکي يې شايد په ځواب پوه نه شي. ځينو ځايونو کې بيا د ژوند په هکله داسې خبرې دي، چې په هغه کې تصوفي او فلسفي رنګ له ورايه ښکاري، نو که يو څوک په شعر کې يادې خواوې نه پېژني، نه شي کولی له داسې شعرونو پوره خوند واخلي.

د ژوند په هکله خبرې د هر شاعر د شاعرۍ برخه وي، خو ځينو ژوند له عرضي غوښتنو سره غوټه کړی وي او د ژوند په ډېرو برخو کې له خپلې بېوسۍ، مجبورۍ او کړاوونو سر ټکوي. ځيني شاعران بيا د خپل ژور فکر له مخې د ژوند په هکله داسې خبرې کوي، چې له لوستونکي سره په ذهن کې نورې پوښتنې پيدا کېږي او د انساني ژوند پټو حقيقتونو ته يې فکر نېږدې کېږي. د ژوند په هکله د شاعرانو د فکر زاويې يو تر بله توپير لري او دغه توپير په لنډه توګه لاندې بيتونو کې ښيو.

«خبر نـــه يم چـــې يې راوستم له کومـــه
اوس مې کومـې خوا ته استوي چې درومه
لکه ړونـــد چې لاس د بل په اوږه کېږدې
هېڅ ژوره لـــوړه نــــــه وي ورمعلـــومه»
(۲: ۶۳)

په لومړي بيت کې شاعر د خپل ژوند په هکله شک ښکاره کوي او پر دې نه پوهېږي، چې له کومه را غلی يم او بيا به چېرته ځم، خو د (راوستم) په کلمه کې شاعر غايب ته اشاره کوي او وايي چې زه خپله نه يم را غلی، بلکې يو څوک شته چې زه يې راوستلی يم. يا زه خپله نه يم پيدا شوی، بلکې زما د پيدا کولو يو خالق شته، چې هغه الله تعالی ج دی. د دې بيت شاعر که هر څوک وپېژني او ويې لولي، څرګنده ده، چې برداشت به يې دا وي، چې په دې بيت کې شاعر د يو پټ حقيقت په هکله خبره کوي او د عارفانه تجاهل له لارې شاعر ښه پوهېږي چې دې نړۍ ته چا را وستلی يم، بېر ته به مې بيا ځان ته

غواړي. په دویم بیت کې بیا هم پر خپله کمزورۍ اعتراف کوي او وايي چې تا ته په ژوند کې د رسېدو لارې ډېرې لوړې ژورې لري او پر زړونو ړانده نشي کولی چې ځان در ورسوي.

د وچــو وچــو چنارونو وچــه پانــه ده ژونــد
د غـــرهٔ بلبل وړې مښــوکه کــې ممانه ده ژونــد
د باز تصویر ورتــه پــهٔ لاره کې پهٔ برید وي ولاړ
لهٔ خپل کتار نـــه راوتلې ورکـــه زانــه ده ژوند
اخر يې واګي د مرګي د سپور پهٔ لاس کې ورځي
که هرڅو هرڅو پهٔ درنجکــو لکه بيانــه ده ژوند

(۷: ۲۵۹)

د کارون صيب پهٔ شاعرۍ کې پهٔ ټولیزه توګه تغزلي اړخ بیاوړی دی او بله دا چې نوموړي د طبیعت انځورګري پهٔ ډېره ښکلې پیمانه پهٔ خپلو شعرونو کې راوړې، یو ځای وايي:

کوکوکو قمـــري کوي کوترې بغبغور کـــوي
ژوند لکه پهٔ لېچو کې د شنو بنګړيو شور کوي

پهٔ لومړیو بیتونو کې شاعر د انسان ژوند ته د اصلي مقصد پهٔ پرتله پهٔ ډېره کمه پیمانه قایل دی او ژوند يې پهٔ بهرني طبیعت کې لهٔ کمزورو شیانو سره تشبیه کړی او زما پهٔ فکر د ژوند لهٔ خوندونو مرورو دی او د ابدیت پهٔ مقابل کې دنیوي ژوند ته پهٔ ټیټه قایل دی. پهٔ لومړي نیم‌بیتي کې يې ژوند د چنارونو وچه پانه بللی او دویم نیم‌بیتي کې يې لهٔ هغې ممانې سره تشبیه کړی، چې د غره بلبل يې پهٔ مښوکه کې پهٔ اسانۍ وړي. د دویم بیت پهٔ دویم‌بیتي کې يې لهٔ هغې زانې سره تشبیه کړی، چې لهٔ کتاره بېله شوې وي او سرګردانه ګرځي. پهٔ درېیم بیت کې شاعر ژوند د مستۍ پهٔ وجه لهٔ مستې بیانې سره تشبیه کړی، خو دا يې هغه مستي بللې، چې د مرګي سپور يې واګو ته پهٔ انتظار ولاړ دی. اخري بیت چې د یو غزل مطلع ده، پهٔ دې بیت کې شاعر د بهرني طبیعت شور او د انسان دننني طبیعت مستي سره غاړه غړۍ کړې او ژوند ته يې د خوښۍ جامې وراغوستې.

پورتنیو بېلګو ته پهٔ کتو که د ژوند پهٔ هکله د پسرلي صيب شعر لولو، چې نورو هغو ته ژور ږتوپير لري، شاید د کوم فارسي ژبي یا کوم بل شاعر پهٔ شعر کې دې دې ته ورته بېلګې پیدا کړو. که موږ د پسرلي

صیب په شعر کې پر دې خبره کوو، چې نوموړی د انسان ژوند ته په کوم نظر ګوري، نو له ډېرو داسې بېلګو سره به مخ شو، چې په هغو کې به نا هیلي ډېره وي.

یو ځانګړی ټاپو نشته لا بـــه چېرته ځـــــم له ژونده
ژونـــــدون زېږي له عــدمه، شي پیــدا عدم له ژونده
لکه اوښکه له فریاده پېـــه خـــوله فریـــاد له اوښکو
ژونـــد له وهمـــه ټوکېدلی او وهمــــونه هم له ژونده
د ځپــو غوندې له بحره د کـــــوم ورک ساحل په تمه
پـــه ژوندون کې پـه ژوندوني ځـو قدم قدم له ژونده
لکه تاو چې د اور ســـا ده تــاو له اوره مــرسته اخلي
ژوند او غم هم جسم و روح دي څنګه بېل کړم غم له ژونده
طول د عمــــر پسرلیه د لینـــــدو غـــــوندې کاږه کړو
څومـره ژر چې وي وتلی هومره درومــــي سم له ژونده

د پسرلي صیب په پورته بیتونو کې ژوند داسې انځور شوی، چې په لوستو یې زموږ سره ډېرې پوښتنې پیدا کېږي، ځکه چې شاعر د خپلې فکري ژورتیا له مخې ژوند ته حیرت وړی او ژوند ته یې له فلسفي لیدلوري کتلي. د بیتونو د کلي مفهوم له مخې پر درو برخو (ژوند، عمر او غم) تمرکز شوی. کله چې یو څوک د ژوند کړاوونه ډېر سترې کړي او ناهیلي یې اوج ته ورسېږي، نو وایي چې له دې ژونده خو مرګ غوره دی، خو دلته شاعر دومره په وېره کې دی، چې له مرګ نه پس هم د ځان لپاره ارامګاه نه مومي. په لومړي بیت کې د شاعر انګېرنه داسې ده، چې ګواکې داسې هېڅ ټاپو نشته، چې سړی له ژونده پنا وروړي، ځکه د همدې بیت په دویم نیم‌بیتي کې وایي چې، ژوند له عدمه زېږېدلی او بېرته به بیا عدم له ژونده پیدا کېږي. په دویم بیت کې شاعر د مرکبې تشبیه پرمټ د اوښکو او فریادونو تړاو د مشبه په توګه راوړي او د ژوند وهمونو له تړاو سره یې تشبیه کړی، چې ژوند او د ژوند وهمونه یې د مشبه به په توګه راوړي. اصلي خبره د تشبیه په وجه کې ده، که دلته لوستونکی د تشبیه وجه وپېژني د بیت پرمفهوم په اسانۍ پوهېدلی شي. دلته د تشبیه وجه د دوو شیانو یا حالتونو ډېر نږدېوالی دی، داسې نږدې ولې، چې بېلېدل یې ناممکن وي. د بیت لنډ مطلب دا دی؛ لکه څنګه چې اوښکه له فریاده نه شو بېلولی، ځکه د دواړو محرک یا سرچینه یوه ده، چې غم او خفګان دی، همداسې ژوند له وهمونو نه شو بېلولی او د

ژوندي او عقل لرونکي انسان سره به هرومرو پهٔ ژوند کې وېرې او وهمونه ملګري وي. پهٔ درېیم بیت کې شاعر د یوې بلې مرکبې تشبیه لهٔ مخې ژوندي خلک د دریاب لهٔ هغو څپو سره تشبیه کړي، چې بېواکه د ورک ساحل پهٔ لور روانې وي. دی وایي چې موږ ژوندي یو او څومره زیار چې د خپل ژوند لپاره باسو، خو دا واک نهٔ لرو چې خپل ژوند د ځان لپاره ودروو، بلکې پهٔ ژوندوني لهٔ ژونده قدمونه اخلو او روان یو. قدمونه اخېستل لهٔ عمر خوړلو یا عمر تېرېدو نه کنایه ده. دا داسې قدمونه دي، چې شور یې نهٔ اورېدل کېږي او همدا مطلب رحمان بابا یو ځای داسې راوړی

د خپل عمر شپې ورځې چې پهٔ زړهٔ کړم
هسې درومـــي چې ګویا د سیند اوبه دي

پهٔ دې بیت کې شاعر پهٔ څرګند ډول د خپل عمر تېرېدن د سیند لهٔ اوبو سره تشبیه کړی، چې د سیند اوبه هم شور نه کوي او روانې وي، همداسې عمر هم روان وي، خو پر شور یې سړی نهٔ پوهېږي.

د شپې چوپتیا د دیوالي ګړۍ ټک ټک ماتوي
او که زرګر غمی د عمـــــر پهٔ څټک ماتوي

پهٔ پور ته بیت کې کاروان صیب دومره کړي، چې د عمر تېرېدلو شور یې د دیوالي ګړۍ پهٔ ټک ټک پورې تړلی او د عمر تېرېدلو لپاره یې څرګنده بېلګه وړاندې کړې، چې د ګړۍ ټک ټک لهٔ اواز نه د عمر تېرېدل سړی معلومولی شي. ګړۍ یې لهٔ زرګر او عمر یې لهٔ هغهٔ غمي سره تشبیه کړی، چې زرګر یې پر څټک رژوي. که فکر وکړو د رحمان بابا تشبیه خوندوره ده، ځکه چې تشبیه وجه یې منطقي ده او سړي ته قناعت ورکولی شي، خو پهٔ تشبیه کې مرکزي مفهوم دا دی، چې شاعر موږ د وخت ارزښت ته متوجه کړي او بس. کاروان صیب بیا دغه ارزښت نوره هم لوړ کړی، ځکه چې عمر یې لهٔ قیمتي غمي سره تشبیه کړی، خو غمی پهٔ ګوتمه کې نهٔ دی، بلکې د زرګر تر څټک لاندې دی او هغه هم داسې زرګر چې د بل چا فرمایش نهٔ مني او خپل کار باسي.

د دغو دوو بیتونو مفاهېمو ته پهٔ کتو د پسرلي صیب بیت یو څهٔ توپیر لري، ځکه چې دهٔ د خپلې بېوسۍ اظهار ورسره ملګری کړی او وایي چې موږ سره د دې، چې ژوندي یو، عقل لرو، علم لرو، قوت او قدرت لرو، خو د ژوند جبر ته تسلیم یو او پر دې مو وس نهٔ دی بر چې ژوند پهٔ خپله خوښه وکړو. پهٔ وروستي بیت کې یې خپل زړښت لهٔ کرېږ لیندې سره تشبیه کړی او د ژوند لهٔ کړاوونو نه د سم وتلو لاره یې یوازې

د مرګ ژر راتلل بللي، چې دا ټول پرتله نورو مفاهیمو ته فلسفي اړخ لري. دا پوښتنه چې په ژوند کې انسان مجبور څومره دی او اختیار څومره لري؟ دا په فلسفه کې لویه موضوع ده. کله چې د شاعر احساسات له خپلې پوهې او فکره بهر شي، نو په شعر کې یې داسې ګیلې او شکوې رامخې ته کېږي، چې په لوستو یې سړي ته د ژوند په هکله ډېرې پوښتنې پیدا کېږي. طبعاً له هر عقلمند انسان سره شاید دا پوښتنې پټې په زړه کې وي، خو شاعر هغه څوک دی، چې د شعر پر ژبه ډېرې ناویلې خبرې وايي. د فلسفې او ارواپوهنې مسلکي کسان د انسان د پوهې په هکله پر دې فکر دي، چې انسان د بهرني طبیعت په پرتله پر ځان ډېره کمه پوهه لري. «دا یو نفسي حقیقت دی، چې هرڅومره یو شی یا یوه موضوع انسان ته نېږدې وي، په همغه اندازه د دې شي او د دې موضوع پېژندل ګرانېږي. کوم شی چې زموږ په شخصیت پورې تړلی دی او له کوم شي سره چې موږ عادي یو، د داسې شیانو پوهه هم زموږ سره کمه ده.» (۸: ۴۶)

### ۱. ۵. پېنځم کوډ: ځانګړې سمیه‌ییز لهجوي اصطلاحات او لغتونه

د مرحوم پسرلي صیب په شعر کې ځیني داسې اصطلاحات شته، چې په ځانګړو سیمو کې دود دي، خو عام پښتانه پرې نه پوهېږي. په دې اصطلاحاتو او لغتونو کې ځیني یو څه پخواني دي، نو شاید په عموم کې اوسني نوي ځوانان پر هغو پوه نه شي. د بېلګې په توګه (ډډی) د خوست او پکتیا په ځینو لهجو کې له بوسو جوړ خوسکي ته وايي. کله چې غوا بوره شي (خوسکی یې مړ شي) نو د شیدو لوشلو لپاره د مړ خوسکي څرمن له بوسو یا وښو ډکه شي او د غوا په وړاندې یې د لوشولو په وخت کې ږدي.

په زړه کې ږدمه هیلې که دوکه شي باندې عمر
د بورې غـوا خوسی و اوس ډډی ترې جوړوم

خولې خـو به پسرلیه بد یا ښهٔ وايي
څهٔ اچـوې پاستي د عالم پـهٔ خوله

«پهٔ خولهٔ پاستي اچول» یوه اصطلاح ده، چې د خبرو نهٔ کولو پهٔ معنا ده. دا شاید یوه سیمه‌ییزه اصطلاح وي، چې پهٔ ډېرو پښتنو سیمو کې دود نهٔ وي. داسې نور ډېر سیمه‌ییز لغتونه د پسرلي صیب پهٔ شاعرۍ کې پیدا کېږي. نوموړي پهٔ ځینو ځایونو کې د (پکو) کلمه کارولې. دا یوه داسې کلمه ده، چې پهٔ معنا او مفهوم یې ډېری لوستوکي نهٔ پوهېږي. (پکو) د پښتو ژبې هغه کلمه ده، چې پخواني او مشران خلک

یې د ناهیلۍ، بېوسۍ او د یو کار څخه د بېزارۍ په معنا کاروي. دا هغه کلمه ده، چې د خوست په ځينو لهجو کې دود ده، خو بیا هم اوسني نوي ځوانان پرې ځکه نه پوهېږي، چې د دوی ترمنځ یې کارونه کمه ده. همدا رنګه (ټګلای) کلمه چې د دوکې ورکولو یا ټګۍ کولو په معنا ده، شاید یو محدود لهجوي لغت یې وبولو. بله بېلګه یې د (پېخول) کلمه ده، چې د خوست په ځینو لهجو کې د مزرو له پاڼو څخه جوړ شوي پوزي ته ویل کېږي، چې په غولي کې د ناستې لپاره هوارېږي.

زمـــا د زړهٔ تنکۍ هیلې په وړو کې شیـــــره دي لا
حسنـــــه ستا پــهٔ خوبنه یې اوس وربېم که نهٔ ربېم
دومـــره پکـــــو کړی یم د خپلو اندېښنو سیـــوري
لاس مې که پرې بر شو د اسمان پر مخ به ورهٔ ربېم
(۹۰۳)

« لهٔ ســــــاړهٔ ژونده پکو شــــوی زړهٔ ټګلای نهٔ شم
ستـــا لهٔ محـــــرابه لهٔ ساقي ســـــره مستۍ ته ورځم
د تانـــــدو نظارو لا پېخـــــولونه نـــــهٔ وو تـــــول
د مینـــــې د ســــــرو اوښکو قافلې وخوځېـــدې»
(۱۲٦:۲)

په ځینو بیتونو کې یو نیم ترکیب داسې وي، چې د پښتنو فرهنګ یوې پېښې یا یو ځانګړي دود ته اشاره وي، چې په اوس ماډرن ژوند کې هغه دود لهٔ منځه تللی وي. دغسې دودونه او رواجونه زیاتره په طبقاتي ټولنو کې وي او د ټولنیز ژوند کارونه د واک او ځواک د درجو پر اساس وېشل شوي وي او د یوې پېشې او کسب په توګه یې سرته رسوي. د دغسې دودونو لهٔ منځه تللو بېلابېلې وجې وي، خو یوه وجه یې دا وي، چې هغهٔ کارونه اوس د افرادو پر ځای په وسایلو ترسره کېږي. په پښتني ټولنه کې نایيتوب پخوا د ښارونو پرځای په کلیو او بانډو کې ؤ، د هر کلي به یو نایي ؤ او د نورو کارونو تر څنګ یې یوه دنده دا وه، چې د غم او خوښۍ خبرونه به یې لهٔ یو ځایه بل ته رسول. د بل پهٔ غم او ښادۍ کې به یې د ځانګړي مسؤلیت لهٔ مخې برخه اخېسته، خو پهٔ خپله به نسبتاً ځکه بېغمه ؤ، چې د خېټې مړول یې د زمکوالو او خانانو پر غاړه وو. مرحوم پسرلي صیب دغسې ځیني پخواني دودیز کړهٔ وړهٔ پهٔ شعر کې ځای

کړي او د دهٔ پهٔ شعر کې ځای ځای مخې ته راځي. د اوسني وخت ځوانان به زما پهٔ فکر د داسې دود پهٔ هکله لومړی ځان پوهوي او بیا د شعر اصلي مفهوم ته رسېږي.

چا چې غــم ته شا کړه غم هم شا وراړولې ده
ګوره د هر چا خوښي لومړۍ ورځې د ډم کړه

دلته شاعر لهٔ غم څخه د خلاصون لاره ښيي او وايي چې غم ته شا اړول د دې سبب کېږي، چې لهٔ تا نه هم غمونه مخ پهٔ شا وګرځي. د دې لپاره، چې خپله خبره لا قوي کړي، شاعر د یو ژوندي مثال پهٔ وړاندې کولو تکیه کوي او پهٔ ټولنه کې داسې یو چا ته اشاره کوي، چې پهٔ رښتیا سره یې تر نورو غمونه کم دي او د نورو خوښۍ زیري هم لومړۍ پر دهٔ کېږي. دلته د شاعر پهٔ نظر یوازینی بېغمه انسان د پښتني ټولنې ډم (نایي) دی، ځکه چې پهٔ ټولنیز ژوند کې لهٔ هرې سیالۍ لرې دی. دوستان یې ډېر دي او دوښمن هېڅ نهٔ لري، هر څوک ورته پهٔ یو مقام قایل دي او پر هر چا یې خپله برخه احسان دی، ځکه چې د هر چا پهٔ خوښیو کې شریک دی، داسې شریک چې د خوښۍ زیری بل ته د خبر رسولو پهٔ موخه لومړۍ د دهٔ غوږونو ته رسېږي.

د پسرلي صیب پهٔ شاعرۍ کې چې کوم اصطلاحات (ګړنې) راغلي، پهٔ هغو کې یوه برخه داسې دي، چې ډېرې عامې نهٔ دي او پهٔ ژبه کې پهٔ ځینو لهجو پورې تړلي دي. پرګړنو د کابل پوهنتون استاد پوهندوی محب الله ترابي پهٔ خپل کتاب (د غزلبڼ عظمت) کې تفصیلي بحث کړی او ډېرې بېلګې یې وړاندې کړي. دلته غواړو لهٔ هغو اصطلاحاتو څو داسې بېلګې را واخلو، چې کارېدنه یې لږه ده او پهٔ ژبه کې ډېرې دود نهٔ دي.

۱. سوی پله کېدل: د سپېره کېدو او بدبخت پهٔ معنا ده.
۲. رېنګه کول: ژړا کول، د ماشومانو هغه ژړا چې پهٔ مسلسله توګه یې کوي.
۳. درویل: د نیمه‌خوا کېدلو پهٔ معنا ده.
۴. سخې یا زخې پخېدل: د یو چا پهٔ بد حالت خوشاله کېدل.

ستا نه سپــــــوا هر څهٔ چـــې مــې غوښتني دي
هـــــره یـــوه غوښتنه مـــــــــې ســـوی پله شــوه

رنګ چې دې د شونډو ور پهٔ یاد شي کوي رېنګه
ژاړې پــــهٔ خـــوږو پسې کمکۍ شوې زمـا سترګې

اوس مــــې نازولــي هیلــې مــــــهٔ درویه
دا خـــــــو داسې ستا لهٔ لطفه ستـــــــره شوه

خیـــــر دی دا چې دې پــــهٔ ما سخې پېخې دي
نــــهٔ یادېږي ماتـــــــه پاته شوې خاطرې دي
(۲: ۱۲۰)

## ۶.۱. شپږم کوډ: بېلابېل موضوعات پهٔ پېچلو او نويو ترکیبونو کې

د هر مشهور شاعر د شاعرۍ خپله لاره او سبک وي او دا لاره د ژبني جوړښت سره تړاو لري. د مرحوم پسرلي صیب پهٔ شاعرۍ کې هغه کلمات چې د دهٔ پر شاعرۍ یې پراخ سیورى کړى او لهٔ هغو نه لوستونکي د شعر ژبه معلوموي، هغه کلمات نوموړي لهٔ بهرني طبیعت نه را اخېستي، لکه: عدم، ژوند، غر، سیند، څپې، ځګ، اوبه، اور، تنور، زړهٔ، فریاد، هیلې، شمه، لمر، سپوږمۍ، ستوري، اسمان، هسک، آس، رکاب، سپور، ننداره، شور، سیورى، دیوال او نور .... دغه کلمات نورو شاعرانو هم کارولي، خو توپیر دا دی، چې دلته شاعر دغه کلماتو ته د نويو تشبیهاتو، استعارو او پېچلو ترکیبونو يو نوى انداز ښښلى او همدا وجه ده، چې د نوموړي شاعري یې پهٔ ځانګړې سبک پورې تړلې ده.

د غـــــــرهٔ غوندې مې نهٔ ځي حرارت لهٔ سوي زړهٔ نه
که هـــــر څومـــــره لهٔ واورو نـه سړې خبرې واورو

ما د زلفو بخت غوښت چې یې ښکلیو پښتـو ته ولوېږم
نهٔ دا چې د سیوري غونـــدې خپلو پښو تــــه ولوېږم
پام به مــــې د ژوند د بې هــــدفه مزلو څـــهٔ ؤ نور
بـس لکه پولــۍ د ستړيو تلو پښـــو تـــه ولوېـــږم

په لومړي بیت کې شاعر سوی زړهٔ د تاو او حرارت په وجه لهٔ غرهٔ سره تشبیه کړی، پهٔ دویم نیم‌بیتي کې (واوره) د بېغمه کس لپاره استعاره شوې کلمه ده. کهٔ پام وکړو د تشبیه مشبه به (غر) او د استعارې مستعارله (واوره) دواړو د کارونې انداز نوی دی او دغه انداز د ترکیبونو پهٔ زور نوی شوی. زړهٔ د زړورتیا، استحکام او لوی‌والي لهٔ مخې نورو شاعرانو لهٔ غرهٔ سر تشبیه کړی، خو دلته یې د تشبیه وجه نوې ده، ځکه دلته زړهٔ د ډېر غم زغملو او ځایولو لهٔ کبله لهٔ غرهٔ سر تشبیه شوی. پهٔ غرونو واوره دپاسه پرته وي، خو حرارت یې پهٔ سینه کې دننه وي، همدارنګه د یو انسان پهٔ زړهٔ کې د غم تاؤ دننه وي، نو لکه څرنګه چې واوره د غره حرارت لهٔ منځه نهٔ شي وړی، همدارنګه د نورو بېغمي نهٔ شي کولی، چې لهٔ زړهٔ دغه تاو لرې کړي.

پهٔ ورپسې دوو بیتونو کې هم داسې ښکاري، چې شاعر نوي ترکیبونه او نوې تشبیهات او استعارې کارولي. پهٔ لومړي بیت کې (د زلفو بخت) ترکیب نوی او پېچلی دی، ځکه چې دلته خبره ژوره ده. دلته موږ مجبورېږو، چې ترکیب لهٔ عامې محاورې سره غوټه کړو، مثلاً موږ پهٔ عامه محاوره کې د (بخت سیوری) یا (د هما سیوری) ترکیبونه اورېدلي دي. د بل سیوری موږ پهٔ عامه محاوره کې د ښهٔ بخت علامت ګڼو، نو دلته شاعر د ځان لپاره ښهٔ بخت د یار زلفو ته رسېدل او پر هغه لوېې کول نهٔ بولي، بلکې د هغه سیوري لاندې کېدل غواړي، هغه هم داسې چې لومړی یې مخ ته کتل نهٔ غواړي، بلکې د معشوق ښکلیو پښتو ته لوېدل غواړي. داسې ښکاري چې شاعر د خپل محبوب ښکلا ته پهٔ ډېر لوړ انداز قایل دی، ځکه پهٔ لومړي ځل یې د زلفو لمس او د مخ لېدلو تاب نهٔ لري. بله دا چې پښو ته لوېدل پهٔ عامه محاوره کې د پوره تسلیمۍ لپاره کنایه ده او دی غواړي، چې خپل محبوب ته پوره تسلیم شي. پهٔ ورپسې نیم‌بیتي کې شاعر نه غواړي، چې خپل هدف خطا کړي او محبوب د ښکلیو پښو پر ځای خپل سیوري ته سر کښته کړي، ځکه خپل سیوري ته لوېدل د بې‌هدفه کار څخه کنایه ده، چې هېڅ حاصل نهٔ لري.

د دویم بیت مفهوم د لومړي بیت د دویم‌بیتي سره تړاو لري، ځکه شاعر لهٔ بې‌هدفه خوارۍ لپاره د خپل پام یا فکر خبره کوي، هغه داسې چې پهٔ بې‌هدفه مزل کې د سترې پام یوازې پر خپلو پولیو (تڼاکو) وي او کومه بله لاسته راوړنه نهٔ لري، ځکه شاعر خپل ځان د بې‌هدفه سترېیا لهٔ کبله لهٔ د پښو تڼاکو غوندې د پښو تل ته لوېدلی او د خپلې بې هدفه خوارۍ درد پهٔ کړاو کې اچولی او بس.

**پایله**

د دې مقالې پهٔ لوستو به عام ادب لوستونکي او د ادبیاتو ځانګې محصلان د هندي سبک مهمې ځانګړنې وپېژني، نهٔ یوازې ځانګړنې، بلکې تر ټولو مهمه یې دا ده، چې پښتو معاصر شعر به د کلاسیک شعر سره پهٔ تړاو د هندي سبک پهٔ چوکاټ کې تر مطالعې لاندې ونیسي. د پښتو پهٔ کلاسیکه دوره کې

تر ټولو پېچلی شعر د کاظم خان شیدا دی. دا هغه شاعر دی، چې تر اوسه یې پر شعر د پوهې لپاره د برلاسی هڅې روانې دي. په لره پښتونخوا کې یوازینی ادبپوه، چې د دغه پیچلي شعر تشریح ته یې ملا تړلې، پروفیسر حنیف خلیل دی او نوموړي د یاد شاعر پر شعر تر یو حده کار کړی. د معاصر شعر په میدان کې بل پېچلی شاعر په اوس وخت کې محمد صدیق پسرلی دی، چې ډېرو پوهو کسانو پرې لیکل کړي، خو یوازې یې د هندي سبک شاعر بللی او د نوموړي شعر پر ځای یې د هندي سبک پر ځانګړنو او له هغهٔ سره د دهٔ په تړاو بحثونه کړي. زما په فکر لکه څنګه چې په کلاسیکه دوره کې د شیدا پر شعر د پوهېدنې لپاره ډېرو سپړنو او تشریح ته اړتیا ده، همدا ډول په معاصره دوره کې د پسرلي صیب شعر سپړنې او شننې ته اړتیا لري. بله مهمه خبره دا ده، چې په پوهنتونونو کې د شعر اړوند موضوعات زیاتره د خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمید مومند، ګل پاچا الفت او نورو د شعر له بېلګو استفاده کېږي او همغه بېلګې په ټولو لیکچرونو او کتابونو کې تکرارېږي، نو د دې لپاره چې موږ د پښتو شعر په هکله خپل مواد نوي کړو، پکار ده چې د داسې پټو او پنا شاعرانو شعرونه وسپړو او په خپلو لیکچرونو کې ورته ځای ورکړو.

د دې مقالې په لوستو به د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصلان او عام لوستونکي د پېچلي شعر تخنیکي خواوې وپېژني او د معاصر شعر له معاصرو او نویو پیغامونو به په فکري او ذوقي لحاظ ګټه پورته کړي. د پسرلي صیب د شاعرۍ پېچلتیا اوازې د هر لوستي تر غوږو رسېدلي، حتی تر دې چې د نوموړي شاعري ځانګړي کوډونه لري او پر هغو پوهېدل اړین دي، خو تر اوسه ما داسې لیکنه نهٔ ده لوستلې، چې د هغو کوډونو د خلاصون لپاره کیلي پکې په ګوته شوې وي. زما په فکر د دې مقالې په لوستو به ځیرک لوستونکي دې ته تشویق شي، چې د نوموړي شاعر د شعر نورې خواوې پیدا کړي او د هغو د سپړنې لپاره نور کوډونه پیدا کړي.

**وړاندیزونه**

۱. په معاصره شاعرۍ کې محمد صدیق پسرلی هغهٔ شاعر دی، چې شعر یې نسبتاً پېچلی دی، خو په شعر کې یې فکري اړخ ډېر بیاوړی دی، نو له همدې کبله د نوموړي شاعري سپړلو ته اړتیا لري، هیله ده چې ادبپوهان او لیکوال یې سپړلو ته توجه وکړي او په دې هکله نور لیکل وکړي.

۲. د استاد پسرلي په شاعرۍ کې مهم او خوندور صنعتونه، په ځانګړي ډول هغه صنعتونه چې په فکري او موضوعي لحاظ ورته ښهٔ صنعتونه ویلی شو؛ بیخي ډېر موندلی کېږي، خو په تأسف سره ویلی شو،

چې د نوموړي په هکله لیکل او مطالعه خو پر ځای پرېږده، حتی چې ډېری لوستي او د ابیاتو محصلان یې د اثارو نومونه هم نه پېژني. له دې کبله په کار ده، چې د ادبي فنونو او ادب تاریخ استادان ورته په خپلو تدریسي لیکچرونو کې ځای ورکړي.

۳. نن سبا هر شی د بدلون او پرمختګ په حال کې دی، همدا وجه ده، چې د نننی عصر تخلیقي ادب هم نوی شوی او لا د نوښت په حال کې دی. زما په فکر د نوي نسل ذهنیت هم په ادبیاتو کې د نویو مفکورو او پیغامونو په لټه کې دی. پسرلی صیب چې د معاصر پېر وتلی شاعر دی او د شعر په ژبه یې د ټولنیز ذهنیت سمون لپاره ډېرې ښې نسخې وړاندې کړې، نو د دې لپاره چې نوي ځوانان د ده پر شاعرۍ پوه شي، پکار ده چې ازاد لیکوال د ده شاعري مطالعه کړي، پرې بحثونه وکړي او دغه بحثونه بیا د رسنیو له لارې خپاره شي.

۴. د پسرلي صیب د ژوند او شاعرۍ په هکله چې کومې غونډې کېږي، پکار ده چې د دغو غونډو مواد را ټول شي او په کتابي بڼه چاپ شي، ځکه ځیني خبرې داسې وي، چې هغه ویل شوې وي، خو د عامو لوستوونکو تر غوږونو نه وي رسېدلې.

**مأخذونه**


۱. قران العظم الشان. سورة انعام. لومړی ایت شریف
۲. بېنوا، عبدالروف. (۱۳۸۲ل.ل). د رحمان بابا دیوان. پېښور: یونیورسیټي بک ایجنسي
۳. پسرلی، محمد صدیق. (۱۳۹۰ل.ل). غزلبڼ. میدان وردګ: افغان مسلکي مطبعه
۴. ترابي، محب الله. (۱۳۹٦٦ل.ل). د غزلبڼ عظمت. کندهار: غرفان خپرندویه ټولنه
۵. دهخدا، علي اکبر. ۱۳۷۷ه ش. دویم چاپ. لغت نامه دهخدا. تهران: انشارات دانشگاه تهران۲۰۵۴۵ – ۲۰۲٦۳
٦. غضنفر، اسدالله. (۱۳۹٦ل.ل). ځراغ. ننګرهار: د مومند خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه
۷. کاروان، پیرمحمد. (۱۳۸۱ل.ل). چنار خبرې کوي. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۸. مجروح، سید بهاوالدین. (۱۳۹۴ل.ل). د جبر او اختیار ډیالیکټیک. کابل: انسان مجله
۹. ناګار، فضل ولي. (۱۴۰۱ل.ل). د بیان علم. ننګرهار: میهن خپرندویه ټولنه
۱۰. همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۵ل.ل). بدیع فن او پښتو شاعري. ننګرهار: د مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه

# په ژبه کې د مورفو فونيميکي اوښتونو ژبپوهنيزه څېړنه

څېړندوی خالد تکل، د افغانستان علومو اکاډمۍ د ژبپوهنې څانګې غړی.
**برېښناليک:** Khalidtakal145@gmail.com

**لنډيز**

ژبه ټولنيزه او کسبي پديده، چې د ټولنې د اوسېدونکو ترمنځ په قراردادي ډول را منځته شوې ده، چې په خپل ټولنيز ژوند کې د يو او بل په مطلب سره وپوهېږي او له همدې لارې خپلې ستونزې حل کړي. په ژبه کې مورفيمونه د خپل چاپېريال يا هم يو شـمېر نورو لاملونه له امله تغيير مومي، چې ژبپوهان يې د مورفو فونيميکي بدلونونو په نوم سره يـــادوي او بېلابېل ډولونه لـــري، ژبنی تحول د ژبپوهنې په علم کې په زړه پورې بحث دی. دغه اوښتنې پــه څېيزو، مورفيميزو او لغوي چاپېريالونو کې د هغو فونيمونو تر منځ پېښېږي چې په عين وخت کې ناخپلـــواک مورفيمونه هم دي، له همدې کبله ورته مورفو فونو لوژيکي اوښتنې وايي. دغه اوښتنې زياتره وختونه د معنا د تعيير سبب نه ګرځي، بلکې په دغو اوښتونونو کې فونيمونه د فونيټيکي خاصيتونو يا ځانګـــړنو له مخې يا سره همرنګه کېږي يا سره اوړي او يا هم په خپل منځ کې ناهمرنګي ښيي يا همرنګي غـــږونه يو په بل کې مدغميږي او يا هم يو فونيم غورځېږي. په دې علمي- څېړنيـــزه مقاله کې پـــه ژبه کې د مورفو فونيميکي تغييراتو، اوښتونو او د دغو تغييراتو په ژبپوهنيز ارزښت څېړنه شوې ده او بدلونونه يې په بېلګو کې ښودل شوي دي.

**کليدي ټکي:** اوښتون، ژبه، ژبپوهنه، فونولوژي، مورفولوژي.

**سريزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.

ژبه که د فزيکي جوړښـت له مخې د غوښـې يوه ټوټه ده، خو له معنوي اړخه بيا انسـانانو ته د الله تعالی له لوري د ورکړل شويو نعمتونو له ډلې لوی او سـتر نعمت دی، ځکه ژبه ده چې انسـان ته يې د نطق په وسـيله برتري ورکړې ده. د قومونو او ژبو پـــــه تنوع کې هم الله تعالی جلالله يو راز نغښـتی دی او دا بېلوالی بې هدفه نه دی پيدا شوی. کېدای‌شي چې الله پاک يو شمېر بندګانو ته له همدې لارې د خپلې خدايي سـتروالی ور په ګوته کوي او انسـانانو ته دا پيغام لري، چې تاسـو د قومونو په بېلوالي او د ژبو په رنګارنګۍ کې فکر وکړئ، چې د مخلوقاتو ستر رب درتـــه ياد شي او هغه ته د عاجزۍ سر ټيټ کړئ. که څه هم الله پاک پـه نړۍ کې بېلابېل قومونه پيدا کړي دي او هغه يې بيا په نورو ډېرو مختلفو ښاخونو

وېشلي دي، خو ورسره سم يې دا خبره هم کړې ده چې دغه قومونه يو پر بل بهتري او برتري نه لري او تاسو مه مغروره کېږئ، هغه څوک د انسانانو په منځ کې بهتر دی چې هغه د کائيناتو ستر رب ته د عاجزۍ سر ټيټوي او هغه ته په سجده پرېوځي.

څرنګه چې په نړۍ کې بېلابېل ملتونه ژوند کوي او د مختلفو کلتورونو لرونکي دي، نو د همدې ژبې په وسيله له نورو انسانانو سره پېژند ګلوي تر لاسه کوي او د ژبې په وسيله يو له بل سره پېژني، يو د بل له کلتوري او فرهنګي مسايلو يا د ژوند له طرز او تفکر څخه خبرېږي. د ژبې د ارزښت او اهميت په اړه د بېلابېلو مسلکونو پوهانو او څېړونکو څېړنې کړې دي او ژبه يې د انسانانو په ژوند کې يو تر ټولو ارزښتمن فکتور ښودلی دی.« د ټولنپوهنې له نظره، ژبه يوه ټولنيزه پديده ده چې د ګډ کار او توليد په ترڅ کې د ټولنيزو اړتياوو د پوره کولو په منظور منځته را غلې ده. د ټولنپوه په عقيده، ژبه د ټولنې محصول دی او د ژبې موجوديت له ټولنې څخه د باندې نه شي تصور کېدای.»( ۵: ۸)

دا چې ژبه يوه ټولنيزه پديده ده او د ټولنيزو مناسباتو په ترڅ کې زده کېږي او د همدې ټولنيزو مناسباتو له امله يوه ژبه له بلې ژبې څخه اغېزمنېږي او د وخت په تېرېدو سره په کې بدلونونه را منځته کېږي يا دا چې د همدې ټولنيزو اړيکو او مناسباتو له امله په يوه ژبه کې بېلابېلې لهجې او لهجوي توپيرونه را منځته کېږي.

څرنګه چې د وخت په تېرېدو سره د انسانانو په ټولنيز ژوند کې بېلابېل ټولنيز، اقتصادي، جغرافيوي او داسې نور بدلونونه رامنځته کېږي، د همدې بدلونونو له امله په يوه ژبه کې هم بدلونونه را منځته کېږي. د همدې بدلونونو له ډلې څخه موږ دلته په ژبه کې د مورفو فونيميکي بدلونونو پر ډولونو او لاملونو بحث او څېړنه کوو.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

د انسانانو په ژوند کې د ژبې له ارزښت او اهميت څخه سترګې نه شي پټېدلی، د ژبو ارزښت او اهميت ته په کتلو سره په نننۍ نړۍ کې د ژبو د کورنيو او د ژبې په تاريخي تحول باندې بحثونه کېږي او ورځ تر بلې په دې برخه کې نوي موضوعات را منځته کېږي. دا چې د انسانانو د ټولنيز ژوند له بدلون سره په ژبو کې هم بدلونونه را منځته کېږي، نو په همدې خاطر دا ليکنه هم مورفو فونيمکي بدلونونو ته

ځانګړې شوې ده، مورفو فونیمیکي بدلونونه او د هغه ډولونه د مثالونو په راوړلو سره وا ضح شوي دي او په ژبه کې د دغسې بدلونونو لاملونه ښودل شوي دي.

**د څېړنې موخې**

ژبه د انسانانو په ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کې له بدلون سره سمه بدلون مومي او بېلابېل تغییرات په کې واقع کېږي، دغه بدلونونه کله کله د یوې ژبې څخه د نورو ژبو یا یوې بلې ژبې د را زېږېدو سبب کېږي، په ژبه کې دغسې او دې ته ورته بدلونونه باید ساده ونه ګڼل شي وخت پر وخت یې باید په اړه وضاحتونه ورکړل شي، تر څو په راتلونکي کې د ځینو اختلافي مسایلو د حل په برخه کې د نظر یووالی را منځته شي.

**د څېړنې پوښتنې**

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه شوې ده:

- ✓ مورفو فونیمیکي بدلون څه ډول بدلون دی؟
- ✓ ولې په یوه ژبه کې مورفو فونیمیکي بدلونونه را منځته کېږي ؟
- ✓ د مورفو فونیمیکي بدلونونو د را منځته کېدلو لاملونه کوم دي؟
- ✓ مورفو فونیمکي بدولونونه په څو ډولونو باندې وېشل شوي دي؟

**د څېړنې میتود**

په دې مقاله کې له تشریحي او تحلیلي مېتود استفاده شوې ده.

**د مقالې متن**

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه چې د ټولنې د بېلابېلو، ټولنیزو،سیاسي، اقتصادي، کلتوري او جغرافیوي برخو له تغییر سره په ژبه کې هم تغییرات را منځته کېږي او هغه د لهجې یا لهجو په ترڅ کې را څرګندېږي او مورفو فونیمیکي تغییرات د همدې ژبې د لهجو په منځ ته راتګ پورې اړه لري. د ژبې څخه د لهجو د منځته راتګ عوامل په دوو برخو باندې وېشل کېږي.

**۱. د ژبې خارجي عوامل**: دا هغه عوامل دي، چې د یوې ژبې پورې مربوط خارجي چاپېریال او محیط جوړوي او دغه عوامل عبارت دي له تاریخي، جغرافیوي، سیاسي، کلتوري، اقتصادي او نور...

**۲. د ژبې داخلي عوامل:** دا هغه عوامل دي چې د ژبې په داخل کې پېښېږي او د ژبې په داخلي چاپیریال کې لاندې تغییرات او بدلونونه منځته راځي:

**الف – مورفو فونيميکي تغييرات ب: فونيميکي تغييرات ج: لغوي تغييرات (۷: ۱۲)**

**الف) مورفوفونيميکي تغيرات:** مورفيم کله کله د خپل چاپېريال يـــا نورو عواملو د تاثير له امله بدلون مومي او بېلابېلو شــکلونه ځانته غوره کوي. د مورفيم دغو بېلابېلو بدلونونو ته چې د محيط او چاپېريال په وجه ور پېښېږي او دغه رنګه د فونيمونو داسې نور بدولونونو نه چې په مورفيم کې د مختلفو عواملو په وجه واقع کېږي هغه ته مورفو فونيميکي بدلون وايي.(۸: ۳٦)

دغه اوښتنې په ځېيزو، مورفيميزو او لغوي چاپېريالونو کې د هغو فونيممونو تر منځ پېښېږي چې په عين وخت کې ناخپلواک مورفيمونـــه هم دي، له همدې کبله ورته مورفو فونو لوژيکي اوښتنې وايي. «دغه اوښـــتنې زياتره وختونه د معنا د تعيير ســبب نه ګرځي، بلکې په دغو اوښـــتنو کې فونيمونه د فونيټيکي خاصـــيتونو له مخې يا سره همرنګي کېږي يا سره اوړي يـا په خپلو منځو کې نـا همرنګي ښـــيي، يا همرنګي غـــړونه يو په بل کې مدغميږي او يا هم يو فونيم غورځي، خو ځينې وختونه د ګرامري معنا د بدلون سبب هم ګرځي، لکه: د (خور) او (خوړ) په وينو کې چې (خور) د حال زمانې ولې (ريښـه) ده کله چې تېرې زمانې ته اوړي په (خوړ) بدلېږي، يعنې (ر) په (ړ) اوړي. دغسې (اغوند) او (اغوست) له دې جملې څخه دي.» (۳: ٦۲)

مورفو فونيميکي بدولون په ځينو ژبو کې ســـاده او په ځينو نورو ژبو کې ډېر پېچلی وي، خو په عمومي ډول په دوه ډوله پېښېږي: يو دا چې کله مورفيم د کوم فونيم په وجه اغېزمن شي او تغيير وخوري، لکه: په انګريزي ژبه کې چې(s) د جمعې مورفيم دی، کله چې تر غږن اواز وروســـته را شي په غږن(z) سره تلفظ کېږي، لکه: (Eggs, Roads, Rooms) کې، د پورته درېيو کلمو په مفرد شـــکل کې د پای اوازونه په ترتيب سره(G,D,M) دي او دغه درې واړه غږونه د غږن اواز څخه وروســـته را غلي، نو د غږنتيا د اغېزې له مخې(S) په (Z) يعنې غږن ډول ادا کېږي او که چېرته همدغه د جمعي مورفيم (S) تر بې غږه اواز وروســـته واقع شي، نو يې غږ (S) پـه (س) تلفظ او اداء کېږي، لکـه: د ( Roots, Books, Lips) په کلمو کې چې (P, K, T) اوازونـه دي، نو ځکـه د جمعي فورفيم(S) اصـــلي شـکل(س) تلفظ کېږي او د خپل مخني فونيم په واسـطه بدلون نه مومي. دغه رنګه په پښـتو ژبه کې د (زما - ZMA) او ســـتا( ســـتا – Sta) په کلمو کې (ز) او (س) د مالکيت مورفيمونه دي، که نوموړی مورفيم تر (م) غږن فونيم څخه د مخه راشي په (س) يعنې بې غږه اواز سره ادا کېږي، يعنې نوموړی مورفيم د خپل وروستني فونيم په واسطه اغېزمن کېږي او په همدغه سبب بدلون مومي.

**مورفو فونيميکي بدلونونه لاندې پنځه مشهور ډولونه لري:**

**۱ - همرنگي (اسېمېلېشن Assimilation)**: د مورفو فونيميکي بدلون تر ټولو مشهور ډول دی او هغه دا چې کوم اواز د گاونډي اواز د تاثير له امله د نومورړي گاونډي اواز سره يو شي يا ورته والي پيدا کړي(اسېمېلېشن Assimilation)ورته وايي. يا هم ويلای شو چې په يوه چاپېريال کې يو فونيم بل فونيم د فونيټيکي ځانگړنو له مخې د ځان په رنگ کړي يا فونيم له بل فونيم څخه فونيټيکي خواص واخلي (اسېمېلېشن Assimilation) ورته ويل کېږي.(۳: ٦١)

لکه په سنبله کې چې(ن) په (م) سره بدلون مومي يا په دري ژبه کې (يک گربه) عبارت کې چې د (يک (ک) په خبرو کې په (گ) سره تلفظ کېږي. په لومړي مثال کې (ن) په (م) سره ځکه بدلون مومي، چې د (ن) له څنگه يو شونډيز اواز (ب) را غلی دی او د دغه اواز د تاثير له امله (ن) هم شونډيز اواز(م) سره اوښتی دی.

په دويم مثال کې (ک) يو بې غږه انسدادي اواز دی چې د خپل گاونډي اواز(گ) د تاثير له امله غږن شوی دی.

او يا هم لکه د ارغنداب په کلمه کې چې (ب) د لومړي توري تر تاثير له امله په (و) تلفظ کېږي، لکه: (ارغنداب = ارغنداو)، (مير آب = ميراو)، (سيلاب = سيلاو) يعنې يو توری د بل توري تر اغيزې لاندې خپل تلفظ بدل کړي.

**همرنگي (اسېمېلېشن Assimilation) لاندې ډولونه لري**

په عمومي ډول (اسېمېلېشن Assimilation) په دوه ډوله واقع کېږي:

يو دا چې د داسې اواز په واسطه واقع کېږي چې د تغيير شوي آواز ترڅنگ واقع وي او فاصله ونه لري، دې ډول ته متصل (اسېمېلېشن contiguous Assimilation) وايي لکه په (ستا) او (زما) کې، يعنې دلته دا کلمې په اصل کې (دتا او دما) دي دلته تغييرات په داسې کلمو کې واقع شوي دي چې هغه د تغيير شوي آواز ترڅنگ واقع دي او ترمنځ يې نور توري يا غږونه نشته.

دویم دا چې د داسې آوازو په واسطه واقع شي چې د تغییر شوي اواز ترڅنګ نه وي راغلي او یو له بله سره فاصله ولري، یعنې په منځ کې یې یو یا څو اوزونـــــه راغلي وي چې دې ډول ته یې منفصل اسېمېلېشن (Assimilation Noncontiguous) ویل کېږي ( غوربندی، ۱۲).

د منفصل اسېمېلېشن ښه بېلګه دا لاندې کلمې کېدای شي، لکه: د (شمسي) چې په (شمشي) سره تلفظ کېږي او یا لکه د دري ژبې (سرش) په (شرش) سره تلفظ کېږي. په پورته مثالونو کې د لومړی کلمې وروستی (ش) د لومړي (ش) تر اغېزې لاندې را غلی دی او په دویم مثال کې بیا لومړی (س) د وروستني(ش) د تاثیر له امله په (ش) سره تبدیل شوی او د (س) او (ش) تر منځ نور فونیمونه هم را غلي دي.

د پورته وېش تر څنګ په یو بل ځای کې (اسېمېلېشن Assimilation) په لاندې ډولونو باندې وېشل شوي دي:

**الف) پرمختګي همرنګي ( Progressive Assimilation )**: پــــه دې ډول اسېمېلېشــن کې یو آواز په خپل چاپېریال کې له مخني آواز سره همرنګی شي، لکه د (منه maṇa) او (رڼا= raṇā) په وینو کې د (زور= a) او (الف = ā) غږونه چې د (ڼ) آواز له ځان سره پزیز کړي دي یا هم لکه په ترکي ژبې د ( Gitdi / Git ti) ( دی ولاړ) دلته وینو چې په Gitdi سره ویل کېږي (۳: ۶۰م).

**ب) پر شاتګي همرنګي ( Regressive Assimilation )**: په دې ډول اسېمېلېشن کې یو آواز د وروســـې آواز د اغېزې لانـدې را شي او د هغه پـه رنـګ شي، لکه: (پومبه = Pumba) او (تمبه = tamba) پـه وینو کې چې پـه اصـــل کې ( پونبـــــــه = Punba) او (تنبه = tanba) او یـا لکـه تمباکو(tambāko) چې په اصل کې تنباکو(tanbāko) دي، د (ب = B) غـــږ د اغېزې له کبله چې غبرګشونډېز غږ دی، د (ن = n) فونیم چې یو غاښـیز فونیم دی، د غبرګشـونډېز کېدل، یعنې د تلفظ په وخت کې( م = m) ته نږدې تلفظ کېږي یا بېخي په ( م = m) چې دا هم یو غبرګشونډېز فونیم دی ...)

**ج) ګاونــډه همرنګي (Neighbor Assimilation)**: په دې ډول همرنګي کې یو آواز په خپل چاپېریال کې له خپل(مخکني یا وروســتني) آواز سره همرنګي پیدا کړي. له مخني سره، لکه د (ماما = māmā) په ویي کې د (م = m) د اغیزې له کبله چې یو پزیز غږ دی د ( الف = ā) واول پزیز کېدل او

له ورستني فونیم سره، لکه د (تنبل = tanbal) په ویي کې د (ب = b) فونیم چې یو غبرگشونډیز فونیم دی د (ن = n) فونیم چې یو غاښیز غږ دي شونډیز کېدل.

او یا لکه د (شـــب پرک) کلمه چې په (شـــوپرک) سره تلفظ کېږي. یعنې په دې کلمه کې هم (ب) د خپل مخکینی گاونډي توري (ش) تر اغېزې لاندې په (و) سره تغییر شوی دی، همدارنگه د (ارغنداب) په کلمه کې چې (ب =B) د مخکنيالف تر اغېزې لانـــدې په (و) سره ، یعنې( ارغنداب) په (ارغنداو) سره تلفظ کېږي.

**د) نا گاونډه همرنگي ( Disneighbor Assimilation ):** دا هغه ډول همرنگي ده چې په یوې څپې، گړ(وییکي) کې اواز د یو داسې مخکني یا وروستني اواز سره همرنگی شي چې په گاونډ کې یې نه وي. په دې کې هم پرمختگي او پر شـاتگي نا گاونــــډه همرنگي شـته، لکه: د پرمختگي نا گاونډې همرنگي بېلگه، لکه: نونس(nunas) په ویي کې چې په اصــل کې نولس( nulas) دی، د لومړي (ن = N) د اغېزې له کبله چې یو غاښیز غږ دی. د (ل = l) فونیم چې یو (اوریز، اوبلن، غږن) غږ دی، غاښیز او پزیز کېدل یعنې بیخي په(ن = N) اوښتل پر شاتگي ناگاونډې په اصل کې (ډېر = deri) دی، څکه چې دغه ســتاینوم له (ډېر = der) کړول څخه د لنډې(ي= i) د لومړی څپې اوږده(ې= e) له څان سره همرنگي کړې ده، یعنې د منځوال واول څخه یې د خپل ځان په رنگ په لوړ واول اړولې ده.

**۲- ناهمرنگي(Dissimilation)**

چې په یوه ژبني چاپیریال (څپې، گړ، ویي) کې همرنگه آوازونه سره ناهمرنگه شي، لکه د (زما =zmā) په ویي کې په اصــل کې (دما = damā) دی، د (د =d) غږ چې یو غاښــیز تم غږ دی په (ز=z) چې یو اوریز موښــلی فونیم دی اوړي په دې توگه د خولې بیزو تمو غږونو یعنې د (د) او (م) پرلپســېوالی ختمېږي او د (ز=z) او (م) ترمنځ ناهمرنگي رامنځته کېږي، یعنې موښلې (ز) له پزیز(م) سره د کلمې د سر کلســتر جوړوي او یـا هم د (لمونځ) په ویي کې چې لـه آره(نمونځ) دی، د نومــــــوړې کلمې لومړنی(ن=n) په (ل=l) اوړي، په دې توگه د پزیزو کانسوننټونو تسلسل ماتېږي او ناهمرنگي رامنځ ته کېږي، یا لکه: (ناړې= لاړې)، دلته هم د ناړې کلمه په لاړې په باندې تلفظ کېږي.

باید ووایو چې ناهمرنگي هم پرمختگي او شاتگي، گاونډه او ناگاونډه کېدای شي (۳: ۶۲).

**۲- ناهمرنګي (ډيسيمېلېشن Dissimilation):** د مورفوفونيميکي بدلونونو څخه يو مشهور ډول دی او هغه دا چې کله کله په يوه ترکيب يا کلمه کې يو اواز دوه ځايه مکرر واقع کېږي. که چېرې نوموړی اواز له نوموړو دوو ځايونو څخه په يوه ځای کې په يو بل اواز سر بدلون ومومي، دغې عمليې ته ډيسيمېلېشن وايي. لکه نمونځ او لمونځ په کلمو کې د (ن) بدلون په (ل) سره.يا لکه، د (ږيره = ګېره) په کلمو کې، يا هم د (يواځې= يوازې)، (ځلمی = زلمی)، (ختيځ = ختيز)، (لوېديځ = لوېديز)،( افسوس، افسوز) او داسې نور...

**۳- قلب(Metathesis):** د مورفو فونيميکي بدلونونو څخه يو بل قسم بدلون ته قلب وايي او هغه دا دی چې د کلمـــو د فونيمونو په ترتيب کې بدلون مينځ ته راځي. لکه ځمکه او مځکه، ورځ او روځ، لوېشت او ولېشت، (ږغ= غږ)، ښکته = کښته)، (پسرلی = سپرلی)، (زمری = مزری)، ( ښکلی= ګښلی)،( کښل، ښکل)

**۴- زياتېدنه(Addition):** د فونيمونو زياتوالی هم په مورفو فونيميکي بدلـــون کې شمېرل کېږي او هغه بدلون ته وايي، چې پـــه يو ژبني چاپيريال (مورفيم، کلمه) کې يو اواز هسې د يوه خواږه اهنګ په توګـــه زيات شي بې له دې چې کوم مورفو فونيميکي بدلون په کې پېښ کړي. لکه په (موږ او مونږ)، (چمن او چمند)، (سين او سيند)، (ارمان او ارماند)، (درون او دروند)، (صحتمن = صحتمند)، (مګر= منګر)، (لار، ليار) او داسې نور..

**۵- کمېدنه (Omission):** غورځېدنه يا کمېدنه هم يو ډول مورفو فونيميکي بدلون بلل کېږي، هغه دا چې له يوې کلمې يا مورفيم څخه يو اواز وغورځي او کم شي. لکه څلوېښـــت او څلوېښ، (دېرش او دېش)، (ارزښتمند او ارزښمن)، (بخښل او ښښل)، ( نخښه او نښه) او داسې نور.

**ب: فونيميکي تغيرات:** د ژبې په داخلي چاپيريال کې د تغييراتو له جملې څخه يو هم فونيميکي تغييرات بلل کېږي، چې لاندې ډولونه لري:

۱- د واولونو تغيير يو تر بله په خپل مينځ کې، لکه: د مور(Mor) او مير(Mer)، کال، کول) غو(Go) او غوا (Gwa) په کلمو کې د (ا- و- ی) تغيير، يو پر بل باندې.

۲- د کانسـونتونو تغير يو پر بل باندې، لکه د سرش (Sarash) چې ځينې يې شرش (Sharash) تلفظ کوي، چې دلته د (س) غږ په (ش) غږ باندې بدلېږي.

۳- د کانسـونتونو بدلون په واولونو باندې. لکه په ويده (Wida) او بيده (Bida) کلمو کې. همدارنګه بايد ووايو چې د ژبې په داخلي چاپيريال کې يو شـمېر فونيميکي تغييرات په مختلفو لهجو کې د مختلفو عواملو له کبله مينځ ته راځي، چې په لاندې لښـتليک کې دغه تغييرات يا بدلونونه له ورايه ښکاري.

**ج: لغوي تغيرات ( Lexical Changes):** د ژبې په داخلي چاپيريال کې يو شمېر لغوي تغييرات د ژبو په مختلفو لهجو کې د مختلفو عواملو له کبله مينځته راځي. لکه مړی، ډوډی، ټيکله (۷: ۱۵).

کله وخت چې د پښتنو بېلابېلې لهجې، چې په دا وروستيو کې د افغانستان د علومو اکاډمي د څېړونکو په مرسته را ټولې شوې او په شپږ ټوکه کې چاپ شوې هم دي، تر نظر تېرې شي، دغه تغييرات په ښه شـکل ورته څرګندېږي، دلته موږ ورباندې ډېر بحث ځکه نه کوو، چې د دې ليکنې له اصلي مو ضوع سره که څه هم اړيکه لري، خو دا بيا يو بېل بحث کېدای شي، امکان دې ولري، چې په يوه ژبه کې د لهجو يا لهجې منځته راتګ ورتـــه وويل شي او دا مو ضوع بايد په ځانګړي او بېل شـکل تر بحث او څېړنې لاندې ونيول شي.

**پايله**

د ژبې د بېلابېلو مسـائلو څېړل د ژبپوهنې کار دی، ځکه: ژبپوهنه Linguistics هغه علم دی، چې د ژبې ماهيت او څرنګوالی د علمي او معاصرو ميتودونو پر بنسټ مطالعه کوي او د بېلابېلو ژبو کورنی، د هغوی يـــــو تر بلـه اړيکې او تـاريخي تحولات ډلبنـدي او تشرــيح کوي. څېړونکي تـه يې ژبپوه (languist) ويل کيږي. ژبه د انسانانو د اړيکو نظام او د پوهونې وسيله ده چې مطالعه يې له څو پېړيو راهيسـې پيل شـوې او تقريباً په دې وروسـتيو کې د يو مسـتقل علم په توګه (ژبپوهنه) منل شـوې او په بېلابېلو څېړنيزو زمينو او ليدلورو کې يې لمن پراخه شوې ده.

په دې مقاله کې دې پايلې ته ورسېدو چې په ژبـــه کې داخلي او خارجي بدلونونه د ژبې ځانګړتياوې دي او د دغـــو ځانګړتياو شـننه د ځيرکو څېړونکو او ژبپوهانو کار دی، نو ويلی شو چې هر څومره په

دغه اړوند څېړنې کېږي، دا د یوې ژبې له غنامندۍ سره ډېره مرسته کوي. د ژبپوهانو د څېړنو له مخې د وخت په تېرېدو سره، د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او کلتوري بدلونو له امله په ژبو کې بېلابېلې لهجې منځته راځي او په ژبه کې تغییرات رامنځته کېږي. په ژبــــه کې دغه تغییرات داخلي او خارجي لاملونو لري، خارجي لامل یې تر ډېره د ژبې په خارجي چاپېریال او محیط پورې اړه لري او داخلي عوامل هغه عوامل دي، چې د ژبې په داخلي چاپېریال کې را منځته کېږي، چې تر ډېره په مورفو فونیمیکي، فونیمکي او لغوي تغییراتو پورې اړه لري او په مختلفو ډولونو باندې وېشل شوي دي.

**مأخذونه**


۱. چمتو، محمد قسیم. (۱۳۹۶هـ ش). تشریحي ژبپوهنه (دویم چاپ). کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۲. خویشکی، محمد صابر. (۱۳۹۴ هـ ش) پښتو غږپوهنه او وییپوهنه. (دویم چاپ). کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۳. خویشکی، محمد صابر. (۱۳۹۷ هـ ش). پښتو معاصر ګرامر. (دویم چاپ). کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۴. رښتین، صدیق الله. (۱۳۸۳ هـ ش). پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه (دویم چاپ). پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

۵. روهي، محمد صدیق. (۱۳۶۱ هـ ش). د ژبښوونې مسألې. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو علمي مرکز، پښتو ټولنه.

۶. شاکر، نور احمد. (۱۳۵۰ هـ ش). ژبنۍ څېړنې. کابل: د پوهنې مطبعه.

۷. غوربندی، میراجان. (۱۳۹۵ هـ ش). ګړدود (لهجه) پوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۸. نیازی، رفیع الله. (۱۳۹۸ هـ ش). د اندو – اروپايي ژبو نسبي څېړنه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

۹. هلالي، عبدالحکیم. (۱۳۵۵ هـ ش). د پښتو ژبي د فونیمیکي الفبا لارښود. کابل: پښتو ټولنه.

# د عامه افکارو د روزنې، پنځونې او لارښوونې سرچینې

پوهنوال محمدخان نیازی او پوهندوی اسد الله تنی، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، د عامه اړیکو د څانګې استادان

**برېښنا لیک:** belalahmad2020@gmail.com

## لنډیز

په دې مقاله کې د رسنیو، علماوو، مبصرینو، استادانو ادارو تبلیغات، زده کړو، ولس او د رهبرانو په سیاسي موقف او په ټولنه کې د نفوذ په کارولو او لارښوونو معلومات لیکل شوي، څکه ذکر شوې ادارې دي، چې عامه افکار مبارزې ته راپورته کوي، د حق غوښتنه او مبارزه کوي، یادو شویو ادارو او وګړو ته سپارښتنه شوې چې له خپل هر اړخیز نفوذ څخه د ټولنې په مادي او معنوي ابادۍ کې کار واخلي. د پرمختګ په خاطر یې پیوستون ته وبولي، د پېښو او خوځښتونو په اړه یې د غفلت له خوبه رابیدار کړي، له هر اړخه یې وپنځوي. ځیرک او ویښ یې وساتي څو د دښمنانو د پلان برخه ونه ګرځي.

**کلیدي ټکي**: استادان، بیداري، ځیرک، عامه افکار، غفلت، نفوذ.

## سریزه

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.قال الله تعالی فی کتابه الحکیم: (لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ) (القران،اتین، ایه۴). ژباړه: په تحقیق سره موږ انسان بهتر پیدا کړی دی، څرنګه چې بهتر پیدا کړل شوی دی نو یې مسؤولیت هم د الله ج په نزد لوړ دی، همدا علت دی چې هر هغه څوک چې الله څومره استعداد، پوهه او علمیت ورکړی دی په همغه اندازه اللهج ته مسؤول دی، همدا شخص مجبور دی چې له خپلې پوهې علمیت او وړتیا څخه د ټولنې په لارښوونه او پوهونه کې هڅې وکړي؛ څکه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم امت مامور شوی دی چې( تاسو بهتر د امتونو یاست، راویستل شوي یاست، له خلکو څخه څو په روا، امر او له ناروا څخه خلک منعه کړئ) دا چې موږ هم د سرور کاینات حضرت محمدصلی الله علیه وسلم امتیان یو؛ نو خلک روا ته رابلل او له ناروا څخه منع کول زموږ مسؤولیت دی، دا چې په ټولنه کې آمر، مامور، عالم، استاد ... ټول شامل دي؛ نو ټول د الله جل جلاله په نزد مسؤول دي چې خلک له تیارو څخه د رڼا لوري ته راوبولي، څرنګه چې حکومتونه او ملتونه یو له بل سره لازم او ملزوم او حکومتونه د ملتونو په روزنه او لارښوونه کې مسؤول دي، همدا علت دی چې حکومتونه د ملتونو د عقیدوي، فرهنګي، سیاسي، ملي

او نظامي ګټو د ساتنې، بډاینې، ښوونې او روزنې مسؤولیت پـــه غاړه لري، د ملتونو لپاره د الهي قوانینو په رڼا کې قوانین او ملي پالیســـي جوړوي. په عدالت او اخلاص یې د ټولنې پر ټولو وګړو پلي کوي او د ټولنې د عامه افکارو باور له همدې لارې ځان سره ســاتي، ځکه عامه افکار د نړۍ د ټولو هېوادونو د چارواکو او مسـؤولینو لپاره سرې کرښـې دي، تجربو ثابته کـــړې ده، چې د عامه افکارو له همکارۍ، همغږۍ او پالنې پرته حکومتونه نه شي پایېدلی. هغـــه وخت د حکومتونو د بقـــا باعث ګرځي چې د ښوونې روزنې کچه یې خورا غښتلې او د وخت او عصـــر له ټولو تکنالوژیکي او انټرنېټي وسایلو سره بلدتیا ولري او له پوهې سره یو ځای سیاسي روزنه هم حاصله کړي، ستونزه دا ده چې موږ حکومتونه، سـیاسـیون، اسـتادان، پوهان، عالمان... لرو، خو خلک مو بیا هم مختلفې مذهبي، سـیاسي، مسـلکي او فرهنګي ستونزې لري.

څوک زموږ ستونزې حلولی شي؟ له کومو لارو، په کومو امکاناتو او څوک به سالمه او کامله لار راښيي؟ د ذکر شویو پوښتنو ځواب ته یوازې د ټولنې علمي، مسلکي او تجربوي برخه ځواب ویلی او د حل مناسبه لار پیداکولی شي؛ ځکه چې دوی په دې ډګر کې پخې تجربې لري، د خلکوپه منځ کې منلي شوي دي او هغه وخت ښه ځلېدلی شي چې د ټولنې سیاسي چارواکي، مشران، عالمان، پوهان، استادان، مفکرین، مبصرین، سیاسي، مدني ټولنې او ادارې د خپل ولس هر اړخیزه روزنه، لارښوونه، پالنه او ساتنه وکړي، خپل ولس ته ټولې عقیدوي، ملي ګټې او نوامیس وروپېژني، د مسایلو او خوځښتونو په اړه یې وینښ، هوښیار او بیدار وساتي، بیا به عامه افکار د خپل ملي حکومت او ملي ګټو ساتونکي او پالونکي وي.

**موخې**

د مقالې له لیکلو څخه مې اصلي موخې عبارت دي له:

- حکومتونه باید د ملتونو په غېږ کې را وغوړېږي
- حکومتونه باید ملتونه د خپل مرحمت، عدالت او احسان په پلو کې وساتي
- حکومتونه باید عامه افکار په مذهبي، سیاسي، فرهنګي او سیاسي برخه کې وروزي
- ملي حکومتونه دې د ټولنې علمای کرام، شیوخ، پوهان، سیاسیون، استادان، مبصرین، مفکرین او متجرب خلک وساتي؛ له نظریاتو، افکارو، مشورو او لارښوونو یې پوره ګټه واخیستل شي
- حکومتونه او چارواکي دې د ټولنې د عامه افکارو لارښوونکو، پنځوونکو او روزونکو وګړو له رسوخ، اغېز، تجربو او پوهې څخه د ټولنې د ستونزو د حل لپاره کار واخلي، ځکه چې تجربه له پوهې بهتره ده.

د عامه افکارو موضوع خورا لرغونی تاريخ لري، چې د ژوند په مختلفو برخو کې ترې په بېلابېلو وختونو کې کار اخيستل شوی، ولې د وخت شرايطو، وسايلو او چاپيريال ته په کتو توپير کوي، ځيرک او ټولنپاله مشران د خپلې خاورې له ټولو علمي، مسلکي، متجربو، عالمانو، پوهانو، مفکرينو او مبصرينو مشورې اخلي، څو د دوی د مشورو، لارښوونو او پنځونو په وسيله عامه افکار د مختلفو خوځښتونو او مسايلو په اړه وينښ او بيدار وساتي.

**دکار مېتود:** چاپيريال او ژوند انسان له تجربو او نوښتونو سره بلدوي، له همدې کبله د دې مقالې ليکل او موضوع ته يې متوجه کېدل زما د ژوند، د تجربو، مطالعو او مشاهدو ثمره ده، چې درک کړي مې دي، په همدې اساس د مقالې د ليکنې مېتود کتابتوني او مشاهدوي دی؛ ځکه ما د مختلفو پوهانو علمي اثار چې زموږ د ټولنې د علمي او مسلکي وګړو په اړه يې ليکلي مطالعه کړي او دا راته ثابته شوې ده، چې د ټولنې د عامه افکارو په پنځونه، روزنه، لارښوونه او رهبري کې څوک د کومو ځانګړتياوو او وړتياوو په درلودلو سره اغېز لرلی شي؟ ولې مو ګوندي خلک د عالمانو، پوهانو او مسلکي خلکو مشورو ته غوږ نه نيسي؟ څه علت دی چې علمي ملي وګړي په مختلفو نومونو نومول کېږي، بدنامېږي او وژل کېږي؟ ما د ذکر شويو پوښتنو د ځواب لپاره د خپلو تجربو، مشاهدو او معلوماتو په رڼا کې (د عامه افکارو د پنځونې، روزنې او لارښوونې سرچينې) تر عنوان لاندې د علمي مقالې ليکلو ته ملا وتړله څو زموږ حکومتي مسئولين موضوع ته متوجه کړم، چې که د ګران هېواد افغانستان د مظلومې، فقيرې او بې سواده ټولنې د عامه افکارو د روښانولو لپاره د علماوو، پوهانو، مفکرينو، مبصرينو او تجربه کارو وګړو له علميت، مسلک، تجربو او پوهې څخه ګټه پورته کړل شي او مشورو ته يې غوږ ونيول شي، پايله به يې د حکومت او ملت تر منځ همغږي، اتحاد او په يو منظم عقيدوي او ملي صف کې سره راغونډېدل او د الله ج د امر مطابعت وي چې (د خدای په رسۍ منګولې ولګوئ، يو له بل سره بې اتفاقي مه کوئ او فرمايي چې مسلمان د مسلمان ورور دی.) (شيخ، ۲۰۱۰م،ص.۸۹).

**د څېړنې ارزښت:** څرنګه چې حکومتونه په ملتونو کېږي، نو د دواړو خواوو تر منځ همکاري، همغږي او يووالی مهم ګام دی، هغه حکومتونه چې په ملت کې ريښې نه لري زياته بقا نه لري، همدا ملتونه دي چې حکومتونه په پښو دروي، که چېرې حکومت يوه ونه وبولئ، چې مختلفې څانګې او ښاخونه لري، خو د همدغې لوېې ونې ريښې په ځمکه کې وي؛ ملت او حکومت همداسې يو بل ته اړتيا لري، د دې مقالې ارزښت په همدې کې دی چې زموږ په هېواد کې زياتې علمي، مسلکي، متجربې هستۍ شته چې ښې پخې تجربې لري، مثبت او رغنده نظر ورکولی شي، ولې ځينې وخت هغوی ته هېڅ ارزښت نه ورکول کېږي؟ حال دا چې په اقتصادي، تعليمي، فرهنګي، علمي او روغتيايي برخو کې کره او پوره

مهارت لري،که حکومتونه د ملتونو د هوساینې لپاره د علمي، مسلکي او تجربه لرونکو کسانو له مشورو، لارښوونو او تجربو څخه کار واخلي ډېر ژر به ټولنه کې یو مثبت، عقیدوي، ملي او مسلکي بدلون ولیدل شي، څکه دوی د ژوند د بدلون په هر اړخ کې تجربه لري چې سترګې پټول ورڅخه لویه بې غوري او ملت سره ظلم ګڼل کېږي؛ که حکومتونه مسلکي، علمي او په کار پوهو خلکو ته وخت ورکړي، له مشورو، علمیت او تجربو څخه یې کار واخلي، لرې نه ده چې موږ به د دوی د تجربو او نېکو لارښوونو له کبله د هېواد د دښمنانو د ټولو دسیسو په مقابل کې یو غښتلی دفاعي ځواک واوسو؛ څکه دوی عامه افکار د مختلفو پېښو، موضوعاتو او خوځښتونو په اړه د غفلت له خوبه را ویښوي. همدارنګه دولتي، حکومتي مشرانو او مسئولینو ته سپارښتنه کوي، چې که د خپل ملت عامه افکار له ځان سره همغږي نه کړي، د ناپوهۍ او بې تجربګۍ له امله د ملي حکومت په ضد راپارېږي، مختلفې ستونزې را پیدا کوي. امریکایي تیوریسن وایي، چې: (قوي حکومتونه / ګوندونه او ادارې هغه دي چې له عامه افکارو څخه مثبته استفاده وکړي.) خبره څکه سمه ده چې مغرض او مضر دښمنان د هېوادونو له عامه افکارو څخه د مطبوع هېواد پر ضد ګټه اخلي، حکومتونو ته ستونزې جوړوي، نو د دې په خاطر چې دښمنان خپل ملت د حکومت په مقابل کې سپر نه کړي، دولتونه مجبور دي چې د ژوند په په ټولو (سیاسي، فرهنګي، اقتصادي، ملي او نظامي) برخو کې روزنه ورکړي، د وخت له حالاتو یې دقیق خبر کړي، څو د پردیو تبلیغاتو مخه ونیول شي او له خطرناکو خوځښتونو څخه مصئون پاتې شي.

**د عامه افکارو د روزنې، پنځونې او لارښوونې سرچینې**

ټولنه د ژوند د هر پرمختګ غېږ او زانګو بلل کېږي، څکه څه چې را منځ ته کېږي، زرغونېږي او بیا پای مومـي، لامل یې د ټولنې مجبوریتونه او ضرورتونه دي، انګریزي متل دی چې: اړتیا د اختراع مور ده. د نوښتونو را منځ ته کول، قوي عزم او ارادې ته اړتیا لري، چې له حضرت ادم[ع] څخه نیولې تر ننه، د وخت د ضرورتونو په نظر کې نیولو سره دوام لري، ولې دغه عزم په ټولو انسانانو کې یو شان نه دی بلکې ځینې نوښتګر وګړي، نورو ته د دې باعث ګرځي چې د یو کار کولو او نه کولو ته یې هڅوي، لارښوونې ورته کوي، مثبتې مبارزې ته یې چمتو کوي، نوښتګر فکر تل په ټولنه کې خوځښت راولي؛ څکه عامه افکار لارښوونو، نوښتونو او خوځښت ته ضرورت لري، که لارښود یې سالمه لارښوونه ورته وکړي نو اغېز یې یوازې په لارښود نه، بلکې خلکو او نړۍ باندې پرېوځي، که چېرې د عامه افکارو پنځوونکې ادارې، چارواکي او وګړي بې تفاوته پاتې شي، داسې ستونزې را پیدا کېږي چې بیا به د خلاصون او سمون لار نه لري.

د موضوع د ښه وضاحت لپاره لومړی باید عامه افکار وپېژنو، بیا به هغه سرچینې (ډلې) واضح کړو چې ځنګه او څه ډول په کومو ځانګړتیاوو او تکتیکونوسره د ټولنې عامه افکار تر خپل اغېز او منتر لاندې راوستلې شي؟

عامه افکار له دوو ځانګړیو کلمو (عامه او افکار ) څخه ترکیب شوي چې عامه د عام، ټول او عوام، په معنی او افکار د افعال په وزن عربي کلمه ده، افکار یې جمع او فکر یې مفرد دی. په فارسي ژبه کې هم، فکر مفرد او افکار جمع راغلي، چې د اندیشه ها او فکرها معنی ورکوي (فکر او نظر) (فرهنګ عمید)۲۴۲.

د اصطلاحي تعریف په اړه یې د هر مسلک پوهان په ځانکړې بڼه او موخه پېژني، موږ یې د ژورنالیزم او عامه اړیکو د مسلک له اړخه پېژنو؛ ځکه ارتباطات ژورنالیزم او عامه اړیکې له عامه افکارو سره ټینګ تړاو لري، ذکرشوي مسلکونه له عامه افکارو پرته بې ارزښته بلل کېږي.

عامه افکار د خلکو د افکارو او نظریاتو هغه مجموعه ده،چې د مختلفو ملي ستونزو د حل په تړاو ترسره کېږي. په پایله او غبرګون کې یې د ټولنې ستونزې له منځه وړل کېږي(نیازی،۱۳۹۴ش،ص.۲۵-۲۷).

عامه افکار ستاسو د فکر تبادل دی، چې د مختلفو سیاسي، نظامي، مذهبي، ټولنیزو او فرهنګي ملي مهمو پېښو په هکله یې څرګندوئ. عامه افکار په ځیرکتیا او پوهه را منځ ته کېږي او له پراخ پوښښ څخه برخمن وي (سعیده،۱۴۰۱ش،ص.۱۳).

**د ټولنیزو علومو فرهنګ**: (په ټاکلي وخت کې دیوې موضوع په تړاو د ټولنې د خلکو میلان، عقایدو او نظریاتو ته عامه افکار ویل کېږي، ځکه په ځانګړې برخه کې د ټولنېپه اړه د خلکو قضاوت دی) (وقار،۱۳۹۹ش،ص.۷).

**لارډ برایس**: عامه افکار د ټولنې د هغو افکارو مجموعه ده، چې په ملي مسایلو کې یې د ولس په ګټه کاروي.

د عامه افکارو نړی وال انجمن: (عامه افکار د هغو عقایدو او نظریاتو مجموعه ده چې عام ولس پکې خپلې ګټې لټوي) (وقار،۱۳۹۹ش،ص.۷).

**ویکي پیډیا**: عامه افکار په ټولنه کې د ډېرو خلکو میلان، غوښتنې او اندېښنې دي چې د موضوعاتو او ستونزو په تړاو یې څرګندوي.

څرنګه چې عامه افکار د ټولنو او خلکو مسایل دي، له همدې کبله یې مسؤولیت او دنده د خلکو لارښوونه، سوکالي، نېکمرغي او د ژوند په ټولو برخو کې پرمختګ دی، همدا علت دی چې د نړی په کچه د ادارو، سازمانونو او حکومتي خدمتي بنسټونو په زړه کې ځانګړی ځای لري، ځکه د هر ډول

ستونزو دپیدا کولو، له منځه وړلو او هواري په خاطر ځانګړې څېړنې کوي، چاپیریال د ټولنې فرهنګ، دستور او اقتصادي حالت ته په کتو د حل مناسبه لار ګوري او ستونزې له منځه وړي (سعیده، ۱۴۰۰ش. ۵۶).

د عامه افکارو ارزښت خورا روښانه دی، ځکه چې د یوې ټولنې ژور، ځیرک او ویښ افکار، په سیاسي، ټولنیزه، نظامي او نړیواله کچه لوی ځواک او اغېز لري، کولی شي چې هېوادونه له سیاسي، نظامي، فرهنګي او اقتصادي بحرانونو څخه وژغوري، د غاصبانو، ظالمانو، مفسدانو او بېکاره چارواکو له ظلم او مختلفو بحرانونو څخه وژغوري.

عامه افکار دحکومتونوپه جوړښت،تشکیل، تعمیر او تخریب کې نه هېرېدونکی رول ادا کوي، چارواکي له چوکۍ او قدرت څخه لرې کولی شي، واک او ځواک ته یې رسولی شي، دا چارې هغه وخت امکان لري، چې د ټولنې عامه افکار پوره علمي، سیاسي، پوهه، مسلکي کاري تجربه د فکر او بیان ازادي او حکومت له خوا پوره تکیه، غښتلی ملي اقتصاد، یو او بل ته متقابل احترام، همغږي، اخلاص او د عدل پیاوړی مسلکي ملي دولت لرل، ټول هغه څه دي چې عامه افکار منسجموي او تر موخو یې رسوي؛ څرنګه چې ذکرشوي کارونه په چاپیریال کې تر سره کېږي او ټولنه د چاپیریال تابع ګڼل کېږي، نو لازمه ده چې هغه عوامل هم ذکر شي چې د عامه افکارو په جوړښت کې غښتلی او کره رول لري؛ چې له (داخلي او بهرنیو) عواملو څخه عبارت دي.

داخلی عومل: دا د انسان داخلي طبیعي ځانګړتیاوې دي چې له(ذهني، فکري او ټولنیز تمایلاتو، رواني خویونو، رسمونو، رواجونو مذهبي مسایلو، ظلم، زور زیاتی، په ژوندکې ګټه او زیان، ذوقي، علمي غوښتنې، وړتیاوې، اقتصادي اړتیاوې او نور هغه عوامل چې د ټولنې په ژوند پورې تړاو لري) څخه عبارت دي.

بهرني عوامل: موږ په ملي ژبه پښتو کې متل لرو چې چېرې اوسې په خوی به د هغو سې. د همدې متل په پلي کېدو سره انســان د ټولنې او چاپیریال تابع دی؛ چې ځینې وخت د چاپیریال له خوا کړېږي. بهرني عوامل؛ هغه دي چې د انســان له ذهني ارادې او غوښــتنو پرته په ده باندې له خارج څخه تپل کیږي؛ په بل عبارت: هر هغه فشار چې د سیاسي ګوندونو، رهبرانو، رسنیو، ملي او نړیوالو سیاسي څېرو، لوبغاړو، هنرمندانو، مخترعینو، تخنیکرانو، عالمانو، پوهانو، روشنفکرانو او نفوذي وګړو له خوا په انساني ذهن د همدردي، زیان او ګټو په نوم را منځ ته کېږي بهرنی (خارجي) فشار بلل کېږي، ځکه ذکرشوي خلک او ډلې په همدې ټولنه کې را لوی شــوي، د ټولنې له ټولو رازونو خبر دي، کولی شي له مختلفو لارو عامه افکار له خپل اغېز لاندې راولي، په دې ډګر کې رســنۍ د ټولو بهرنیو عواملو په سر کې

راځي، ځکه د پوښښ ساحه، د وخت سپما، د ضرورت او غوښتنو مطابق خپرونې، کم مصرف، هر اړخیز معلومات او اطلاعات، تفریحي خپرونې هغه څه دي چې ځانګړې ارزښت یې وربښلی دی(ناظم،۱۳۹۱ش،ص.۶۳).

موږ عامه افکار د پوهانو د نظریاتو په رڼا کې وپېژندل، په ارزښت یې پوی شو اوس یې د پنځونې، روزنې او لارښوونې ادارې او خلک پېژنو، چې کومې ادارې، ډلې او خلک عامه فکار تغذیه او پنځوي، لارې ورته ښیي او مخ پر هدف یې د یو غشي په څېر یې ورتوغوي؟ د ژورنالیزم، ټولنپوهنې او عامه اړیکو پوهان په دې اړه ډېرې موافق نظر لري، ولې ځینې توپیرونه او بدلونونه چې دوی یې سره لري، هغه دټولنو، اقتصاد، سیاست، تعلیم او چاپیریال ته په کتو دومره لوی نه دي. د مخالفت او توپیر سلنه یې کمه ده، موږ دلته پر هغو مهمو، موثرو او په زړه پورې برخو بحث کوو چې په عامه افکارو کې د بدلون اغېز، نوښت، خوځښت او پاڅون باعث ګرځي چې له(رسنیو، علماوو، مفکرینو، مبصرینو، ولسونو، استادانو، ادارو، زده کړو، تبلیغاتو، رهبري، ستېج (تریبیون) عدلیه او مقننه قواوو، ټولنو، مشاهدو، تجربو، چاپیریال، عصري غوښتنو، اقتصاد، فشار، د جبر او زور (پردي استخباراتو) څخه عبارت دي معلومات وړاندې کوو؛ موږ به د ذکر شویو ډلو، ادارو او وګړو هغه علتونه وړتیاوې او اسباب ذکرکړو چې ولې او څنګه ذکرشوې ادارې او اشخاص د عامه افکارو په پنځونه او لارښوونه کې د بدلون او تحول باعث ګرځي؟ څو ګران لوستونکي او مسئولین ذکرشویو ټکو ته متوجه شي چې په نړۍ کې د ټولنو دعامه افکارو په لارښوونه، پنځونه او خوځښت کې ځینې بانفوذه خلک، ادارې او مشاهدې، څنګه بدلون او پایښت راوستلی شي؟ څنګه د خپل دین، فرهنګ، تاریخ، معنویاتو، د ساتنې او پالنې په خاطر سربښندنې او مبازې ته چمتو کېدلی شي؟ دا ټول هغه څه دي چې ملتونه د ځینو ځانګړو ادارو، وګړو او حالاتو په درک کولو سره یوې لویې، پتې او ښکاره ګټورې او خطرناکې مبارزې ته را دانګي اوس مو د همدغه بحث مطالعې او معلوماتو ته رابولم.

**رسنۍ:** که په دې عصر کې د هر بدلون او پرمختګ خبره کېږي نو رسنۍ به یې په سرکې وي ځکه چې، په اقتصادي، سیاسي، نفوذي او د وخت د سپما په لحاظ؛ چې رسنۍ کوم کارونه کوي بل هېڅ شی یې نه شي کولی. ویرون فرانسوي وایي: (د رسنیو له ملاتړ پرته پېښې شتون نه لري.) (وقار،۱۳۹۹ش،ص.۸۳). که موږ د نړۍ له مختلفو پېښو څخه د رسنیو له لارې خبر نه شو معلومات به له کومه تر لاسه کړو او څنګه به خبر شو؟

رسنۍ هغه ځواکمنې وسیلې دي چې د نړۍ په کچه لوی لوی بدلونونه راولي، هر ژانر یې د عامه افکار په بدلون کې ځانګړې اغېز لري، څلورم ځواک ګڼل کېږي، هېڅ بدیل نه لري؛ شرط یې دا دی چې د

یوې منظمې مسلکي، فکري، علمي او پالیسي جوړوونکې اداري اومسئولینو له خوا وکارول شي، رسنۍ د اوسنیو انسانانو د کور، کوڅې، مسافرې، ساعت تېرې او کار ملګرې دي، هر هغه څوک یې چې په ځای وکاروي پر مټ یې خپلې موخې تر لاسه کولی شي د(ملک) په وینا اغېز یې له اتوم څخه هم زیات دی، ځکه اتوم په یوه ټاکلي ځای استعمالیږي، چې همغه سیمه له منځه وړي؛ ولې رسنۍ تر لرې پرتو ملتونو، سیمو او ټولنو رسېدلی شي.

د رسنیو هره بڼه(چاپي، غږیزې، انځوریزې او ټولنیزې) یې د عامه افکارو، په بېلابېلو بڼو مختلف اغېز کوي. له علمي، فکري او اقتصادي اړخه غښتلي هېوادونه له همدې لارې خپل نظامونه ساتي، خپلې پالیسۍ په نورو ټولنو مني، په خپله ګټه مختلف تبلیغات کوي څو خپلې موخې تر لاسه کړي، (ناظم، ۱۳۹۱ش،ص .۱۷۴).

لنډه دا چې رسنۍ کولی شي چې عامه افکارو ته د حکومت او چارواکو غلطۍ او د دښمنانو تبلیغات په ښنه کړي، د پېښو او موضوعاتو په اړه دقیق معلومات خپاره کړي، حقوق مو وساتي، فرهنګ مو له هر اړخه بډایه کړي، اسلامي او ملي وحدت ته مو را وبولي، ښوونې او روزنې ته مو وهڅوي، دکلتور په لېږد کې مو کره ونډه لرلی شي، د ملي احساس په اړه مو هڅولی شي، د مذهبي امورو په انتقال او بډاینه کې مو کره رول ادا کولی شي، ټولنیزه روزنه مو غښتلې کولی شي، د ګران هېواد په ابادۍ کې ملي او نړیوال تجاران راجذبولی شي، سیاسي بیداري او فکري لارښوونې مو ځواکمنولی شي، د عامه افکارو او حکومت تر منځ سو تفاهم له منځه وړلی شي، همدا علت دی چې رسنۍ د عصر په ټولو ادارو او عامه افکارو ځواکمنې او غښتلې دي ځکه غربي او کفري نظامونه ( امریکا، اروپا، اسرایل، روسیه، چین ...) هڅه کوي چې د نړۍ په کچه داسې رسنۍ ولري چې ټول اطلاعات، معلومات او نظریات د دوی د پالیسي مطابق خپاره شي، ژوندۍ بېلګې یې پر غزه د اسرایلو وحشیانه بریدونه دي چې ټولې غربي رسنۍ د بشر او نړۍ والو رسنیزو حقوقو خلاف د اسراییلو د ملاتړ خبرونه او معلومات خپروي، د مظلومو فلسطینیانو غږ څوک نه اوري، هغه ژورنالستان چې د ژورنالیزم نړۍ والو اصول یې مراعات کړي وو، نړیوالې مسلکي جایزې یې ګټلې وې، دقیق راپورونه یې خپاره کړي وو مجازات شول غربي رسنۍ یې ملاتړ هم نه شي کولی؟ علت یې دا دی که د غفلت په خوب ویده عرب د اسرایلو خلاف را پورته نه شي، که اسلامي نړۍ او مسلمان ملتونه غواړي چې په هر ډګر کې پیاوړي او غښتلي شي د خپلو ګټو د لاس ته راوړلو په خاطر د ملي رسنیو شتون مهم ګام دی چې باید پورته یې کړي.

**علمای کرام:** علم د عقل ډېوه او د فضیلت په زړه پورې سرچینه ده؛ ځکه درلودونکي یې د بشریت معنوي او مذهبي روزنه په غاړه لري له همدې کبله د پیغمبرانو وارثان ګڼل کېږي، له خدایه زیات

وېرېدونکي انسانان دي، د انسان د ژوند په مختلفو پړاوونوکې ځانګړی ځای او اغېز لري، د ماشوم له پیدایښت سره یې په غوږونوکې اذان کوي، ماشومتوب کې مذهبي زده کړه او روزنه په غاړه لري، د نکاح مراسم یې په شرعي حکم تر سره کوي او له مرګ وروسته یې پر قبر د ابدي ژوند (اخیرت) په تړاو ناستو حضارو ته وعظ کوي، کله چې ذکر شوي وجایب په دقت، صداقت او دیانت سره تر سره کړي نو بیا کولی شي چې د عامه افکارو په جوړښت، پنځونه، لارښوونه او رهبري کې اغیزمن رول ادا کړي؛ ځکه دا د ممبر څښتنان دي؛ د دوی غږ د هر کور تر انګړه، او د هر غږي تر غوږونو رسیږي. ممبر هغه لرغونې طبيعي رسنۍ ده چې د بشریت له راتګ سره یو ځای را منځ ته شوې، تر ننه یې خپل معنوي او عقیدوي پیغام لېږونکی حیثیت ساتلی دی، په ځانګړي ډول د اسلام د مقدس دین له راتګ سره ممبر تر قیامته د بشریت د روزنې، لارښوونې او پالنې مسئولیت پرغاړه لري، ځکه د ممبر اصلي وارثانو(پیغمبرانو)خپل مسئولیت تر موږه په پوره امانت رارسولی دی (ناظم،۱۴۰۱ش،ص۸۳).

ممبر اصلا د مذهبي(دیني) مسئولینو(علما کرامو) غږ تر ټولنې رسوي، له همدې کبله مذهب تر ټولو لرغونې اداره ده چې د بشریت فکري او معنوي روزنه پر غاړه لري، د مذهب بنسټ پر هغو کتابونو ولاړ دی چې د الله ج له لوري د بشر د لارښوونې لپاره پر یو لک څلېرویشت زره پیغمبرانو را نازل شوي دي، نور ټول منسوخ او قران اعظم الشان، اخري اسماني کتاب دی چې د ټول بشریت لپاره رحمت را لیږل شوی، تر قیامته به دوام مومي او د بشریت د ژوند د ټولو ستونزو د حل لار پکې روښانه شوې ده.

مذهب انسان ژغوري، مذهب انسان په معنویاتو باوري کوي، مذهب خلکو ته د عدالت اطمنان ښني، مذهب ټولنې ته قوت وربښي، نظم او لارښوونې ته یې رابولي او بالاخره انسان د خدای ج په خدایي، وحدانیت او ځواک باندې یې باوري کوي څو د بشریت دنیا او اخرت ښکلي او روښانه شي.

د پورته ذکر شویو معلوماتو، اغېز، ارزښت، مسئولیت، معنویاتو، مذهبي نفوذ او باور په اساس علمای کرام د عامه افکارو په جوړښت او زرغونېدو کې نه هېریدونکی اغېز لري، په دې شرط چې له علم سره عمل او د چاپیریال د شرایطو، اسبابو او بشري غوښتنو په نظر کې نیولو سره خپل علمي معنوي امکاناتو څخه لازم کار واخیستلی شي، مسجد او مدرسه یې د زده کړې ځایونه دي، کاش د نړۍ ټول مسلمان علمای کرام د وخت ضرورتونو او ارزښتونو ته په کتو خپل دغه مسئولیت داسې اداکړي؛ لکه څنګه چې مامور شوي دي، هغه خواري چې د الله پیغمبرانو، اصحاب کراماو تابعینو (امام پخاري، امام مسلم او...) د اسلام د خپرېدا، ځلېدا او پایښت لپاره کړې، هغه زحمت چې امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي رح، ملګرو او لارویانو یې د اسلامي احکامو د تطبیق او روښانولو په خاطر کړی او تر موږ یې را رسولی دی، له دوی وروسته کمو دیني او مذهبي علماوو تعقیب کړ، که ټولو علماوو د هغوی پلونه تعقیب کړي

وی، نن به مسلمان ملت د نړۍ په کچه محکوم، مظلوم او د قرباني د پسونو په شان نه قتلېدل! د نړۍ ټولې ستونزې به په اسلامي نړۍ کې نه وې، د غربي سیاسیونو شعار به دا نه وو چې: (زه په منځني ختیځ کې بدلون راولم.) ولې؟ اسباب یې څه دي؟ چا بې غوري او غفلت کړی؟ ولې د ژوند په چارو کې نیمګړي یو؟ موږ ملامت یو که اسلام؟ دا ټولې پوښتنې ځواب غواړي او موږ دې ته متوجه کوي چې ستونزه په چا کې ده؟ څومره ژوره او څومره پراخه ده؟ د حل لارې یې کومې او څومره دي؟ د غرب پوهانو د خپلو موخو د لاس ته راوړو لپاره په اسلامي ټولنو کې مسلمان مشران، حاکمان او پوهان اخیستي او ځینې یې د دې په خاطر چې مسلمانه ټولنه پرې را ټوله نه شي او د غرب په مقابل کې د یو ځواک په شان ونه درېږي، مخه یې نیسي د بدنامولو، سپکولو، وژلو او له مختلفو لارو څخه یې د باور د کمولو هڅې کوي، غواړي له مختلفو لارو، وسایلو، پروګرامونو او پیغامونو یې بد نام کړي هڅه کوي چې مسلمان امت پرې راټول نه شي، په عامه افکارو کې یې د خاین، مفسد، غاصب او .. نورو مختلفونومونو، نوموي څو یې ټولنه له همکارۍ او لاس نیوي څخه لاس واخلي، د اسلام د بدنامۍ لپاره په مسلمانو ملتونو کې مذهبي اختلافات راپیدا کوي، د عربي ملکونو او ایران تر منځ همدارنګه د عراق، سوریې او لیبیا جګړې، زموږ او ګاوندي تر منځ نښتې جګړې یې ژوندۍ بیلګې دي.

**مفکرین:** له علماوو، وروسته پــه ټولنه کې دویم موثــر قشر مفکرین دي، دوی د ټولنې هغه متجرب، شــعوري، ســیاسي او فکري خلک دي چې د ټولنې د ســتونزو او پېښــو په اړه دقیق، کلیدي معلومات لري،کولی شي د مختلفو ستونزو په تړاو د حل اسانه، ارزانه او موثقې لارې پیدا کړي، دا قشرـ د ټولنې مغز بلل کېږي، د خپلو علمي، فکري،کاري تجربو او باور پـه لرلو سره پـه ټولنـه کې پوره نفوذ لري، د ذکر شویو ځانګړتیاوو په اساس کولی شي د خلکو عامه افکار را ویښ او په خوځښت یې راولي، همدا علـت دی چې د ټولنې د عـامـه افکـارو پـه جوړښـــت، روزنـه او پنځونـه کې کره رول ادا کولی شي(بدر،۲۰۱۳م، ص.۹۲۲) .

د دې لپاره چې په اسلامي ټولنه کې ذکر شوي کسان نفوذ ونه کړي، د غفلت په خوب ویده دوه بیلیونه مسلمانان را ویښ نه کړي نو په غربي هېوادونو کې د ژوند مخلف سهولتونه ورته برابروي، هلته یې په مختلفو چارو مصروفوي، د مهاجرت زمینه ورته مساعدوي، موږ خواران یې اوس هم په مختلفو نومونو نوموو، وژنو یې، سپکې او سپورې ورته وایو. اوس تاسو ووایاست چې موږ خپل علمي مسلکي قشر او پوهان څومره پاللي او څومره مو بدنام کړي دي؟ د غربیانو د ذکرشویو کړنو مخه څنګه نیولی شو؟ څنګه خپلې ملي کوپړۍ را خپلولی شو؟ څنګه یې له بدنامي خلاصولی شو؟ دا ټولې پوښتنې وحدت،

سرښندنې، همغږۍ، يو دبل زغمل او اتفاق ته اړتيا لري، نه سپکو سپورو او بې ځايه غورو ته، زموږ خپل منځي اختلاف د پرديو برى دى.

**مبصرين:** مبصرين د هرې ټولنې ويښ، ملي،سياسي، فرهنگي او په تاريخ پوى هغه مسلکي خلک دي چې د خپلې تجربې، پوهې، مسلکي، ژبنۍ وړتيا فصاحت او بلاغت په وسيله د ټولنې مختلفې ستونزې درک کوي، د خپلو تجربو، ذکاوت، ځيرکتيا او تېرو ورته پېښو ته په کتو يې تحليلوي، ټولنې ته يې د حل مناسبه لار وړاندې کوي، دوى په سيمه کې مختلف، سياسي، فرهنگي، اقتصادي، نظامي حالات څاري، تبصرې او بحث پرې کوي، پر مثبتو، گټورو، منفي او مضرو اړخونو يې نظر ورکوي، د ادارو مشرانو او چارواکو د قوت او ضعف ټکي ورپه گوته کوي، ستونزو ته د حل لار ښيي، ټولنې ته دگټې او زيان ټول اړخونه روښانوي، د دوى د پوهې، ځيرکتيا او تجربو له برکته د مهمو، مبرمو مسايلو تحليل، سپړنه او حل لارې، د دې باعث گرځي چې دوى د عامه افکارو په تعمير، تخريب، روزنه او پنځونه کې کره، پوره او نه هېرېدونکى کردار اداکړي، دا قشر د ټولنې د سياسي ويښتابه رهبران او لارښوونکي گڼل کېږي، دوى د رسنيو د مختلفو، اطلاعاتي، معلوماتي او شنونکو پروگرامونو له لارې ټول هغه مسايل چې ټولنې ته خورا مهم وي بحث او ځيرنه کوي، پټ اړخونه يې روښانوي، ويده فکرونه او ضميرونه د غفلت له خوبه راويښوي، د عصر د غوښتنو مطابق يې خوځښت او پرمختگ ته هڅوي، ځکه دوى دعامه افکارو په لارښوونه او پنځونه کې خورا، اغېزمن گڼل کېږي، همدا علت دى چې په اسلامي نړۍ کې د سر سړي د نامعلومو ادارو او کړيو له خوا په مرموز ډول وژل کېږي، تاسو يې په سيمه او هېواد کې ژوندي مثالونه لرئ؟ له ځان سره يې وڅېړئ چې ولې پوهه خلک مري؟ بې کاره، ناکاره غافل خلک ولې ساتل کېږي؟ د چا له خوا د څه لپاره تمويلېږي؟ د همدې موخې لپاره دښمنانو زموږ د هېواد ډېرى بې سواده ځوانان په نشو او الکولي موادو، روږدي کړل بيا يې د خلکو د ترور، قتل درس او ټريننگ ورکړ چې له همدې لارې يې زموږ زيات علمي او سياسي خلک شهيدان کړل.

**استادان:** استادان له مور ـ پلار، مسجد او امام وروسته هغه څوک دي چې د ځوانې طبقې په روزنه، پالنه او لارښوونه کې بارز رول لري، دوى ځوانانو ته په داسې عمر او وخت کې لارښوونه کوي چې فکر يې د مختلفو مذهبي، سياسي، اخلاقي، ملي او مسلکي زده کړې لپاره چمتو او له نور خرافاتو پاک وي، استادان چې په صداقت، امانت، ديانت او اخلاص سره خپل شاگرد ته درس ورکړي هېڅکله به بيا هغه ځوان په ناروا لار لاړ نه شي، ځکه دا هغه سپېڅلې طبقه ده چې پيغمبري امانت تر منزله رسوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي( زه معلم را لېږل شوى يم، څو خلکو ته نېک اخلاق ورزده کړم) دوى (استادان) بايد د حضرت محمد ص له اخلاقو جدي پيروي وکړي، د خپلو اخلاقو او مسؤوليت په

چوکاټ کې خپلو شاګردانو ته هغه څه ورزده کړي چې دخدای او رسول رضایت، متابعت او د ټولنې هر اړخیزې ستونزې پرې هوارې شي. دوی باید خپل عقیدوي، اخلاقي، مسلکي او ملي ټولنیز مسؤولیت ادا کړي، د هر هغې ټولنې چې معلم یې اصلاح وي هغه هېڅکله هم نه خرابېږي، غربیان وګورئ د نړۍ په کچه یې ټول علوم تر لاسه کړي له ښېرته پاتې اسلامي هېوادونو خام مواد وړي په پخو یې بدلوي او بیا یې په لوړ قیمت په موږ پلوري، اصلا د هغوی معلم خپلې ټولنې ته مسؤولیت پذیر او وفادار دی، نو په همدې اساس معلم د ټولنې د عامه افکار په خوځښت، رغونه او ځیرکتیا کې نه هېرېدونکی اغېز لري چې سترګې ورڅخه نه شي پټېدلی، ځکه د خپلو تجربو مسلک، اخلاقو، کمال، ارزښت، وړتیا او علمیت په رڼا کې شاګردان چې ذهن یې د سپین کاغذ حیثیت لري، را خپلوي، هغوی ته د صداقت، وړتیا او دیانت په رڼا کې خپل اخلاقي، علمي او مسلکي مسؤولیت ور سپاري، چې له کبله یې متعلم تر یو داسې اغېز لاندې راځي چې بیا یې تر منځ هیڅوک نه شي خنډ کېدلی، بالاخره د نن شاګرد د سبا مسؤول، مشر، رهبر او سالار دی، کولی شي چې، د خپل لارښود، د لارښوونې په رڼا کې په ټولنه د عامه افکارو د بدلون او خوځښت باعث وګرځي، که خدای مه کړه حکومت معلم ته توجه ونه کړي او معلم شاګردانو ته بېمسؤولیته او بې احساسه زده کړه ورکړي بیا به موږ د خدای د پیغمبر د احکامو او اصولو ناروا کار کړی وي، دنیا او اخرت به مو خوار او ذلیل وي، خدای به ناراضه او ملت به مو جاهل تربیه کړی وي، د یادولو وړ ده چې د معلم د معاش، ژوند، اداري چاپیریال او درسي موادو مسؤولیت د وخت حکومت په غاړه لري، د عصر له لازمي عصري وسایلو پرته معلم څه نه شي کولی.

**اداري**: اداره اصـلا عربي کلمه ده چې په لغت کې د چلولو، پرمخ بیولو مانا ورکوي؛ **ال ډي وایټ**: (( اداره د اهـدافو لاس تـه راوړلو پـه موخـه د بېلابېلو وګــــړو ســوق، همغږي کول او څـارل دي ) (مصلح،۱۳۹۶ش، ص.۱۹).

اداره یو ټولنیز نظام دی چې یو شمیر وګړي دټاکلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره پکې ځای په ځای شوي وي، ترڅو دخـاصــو مقـاصـــدو پربنـا دیو او بـل پـه مرســتـه ځـان تـاکلي هـدف تـه ورســوي (رضایان،۱۳۹۹ش،ص. ۵۲۶).

د نړۍ په کچه اداري مختلفې دندې په غاړه لري ځینې یې داسې دي چې د خپلو کړنو، پالیسي، اغېز او ارزښت په نظر کې نیولو سره د ځانګړو موخو لپاره جوړې شوې وي، اداره له کوره نیولې، تر یوې وړې موسسې، انجو، امریت، ریاست، وزارت او حکومت پورې ټولې اداري بللی شو، ولې د کار د وېش، اغېز ، بڼې او موخو له اړخه یې ساحې او دندې مختلفې دي چې د همدې کاري وېش، او بڼو له کبله یې پرټولنه د اغېز پوښښ هم مختلف دی، ځکه خو د عامه افکارو په ویښتابه، بیداري، خوځښت او

هوښیاري کې په زړه پورې کردار اداکوي. مقننه، عدلیه ادارې بیا د ادارو هغه څواکمنې، باوري او موثقې ادارې دي چې، پر دولتونو، حکومتونو او نورو دولتي ادارو د عامه افکارو باور زیاتوي، ملتونه له دولت سره همغږي کوي، په پای کې ملت او حکومت دیو مشترک هدف پرلور درومي، همدا علت دی چې غربي نظامونه د اسلامي نړۍ د هېوادونو د مشرانو حکومتونو او ملتونو ترمنځ په دې برخه کې درزونه، توپیرونه او بې باوري را منځ ته کوي، څو له دې لارې ملت پر حکومت بې باوره شي او هغه نه شلېدونکې اعتمادي کړۍ چې د ملتونو او دولتونو ترمنځ د تل لپاره ټینګېږي وشلوي، دښمنان له عوامو څخه د دولت په ضد له داسې نیرنګ، ترتیب او تکتیک څخه کار اخلي چې د خپل کار په زیان او ګټه نه پوهېږي چې، موږ څه کوو ګټه یې چېرې او چا ته رسېږي؟ زموږ موخه له دې کار څخه څه ده؟ د څه لپاره لګیا یو؟

ښې بیلګې یې د عراق او ایران پخوانۍ لس کلنه جګړه، د سعودي او یمن، د مصر او سعودي، د قطر او سعودي او نورې اسلامي او عربي نړۍ ترمنځ اختلافات دي.

دا چې ځینې ادارې د ټولنو د عامه افکارو د بیداري، بدلون، پرمختګ او ویښولو په خاطر ځانګړي پروګرامونه او اصول کاروي چې له کبله یې د نړۍ په کچه د عامه افکارو په بدلون کې لوی تغیر راوستی دی، دوی هېڅ دښمن نه لري، تل انسانیت پالي، غواړي د نړۍ د مختلفو هېوادونوکې خپلو برناموته دوام ورکړي، ذکرشوې ادارې هېڅ مذهبي، ملي، قومي، سمتي او ملکي تعصب نه پالي، کولی شي د ټولنو عامه افکار په مثبت او نیک لوري وهڅوي لکه سره صلیب، بې سرحده ژورنالستان، بې سرحده ډاکټران، د عامه اړیکو نړیوالې مسلکي ادارې او نورې هغه ټولنې چې د نړۍ په مختلفو سیمو کې په مختلفو نومونو خیریه، بشري، روغتیایي او ښوونیز کارونه ترسره کوي، د دوی مسئولیت فقط د بشریت د عامه افکارو پالنه، روزنه، غښتلي کول او په یو خوځښت راوستل دي بس په همدې اساس دوی د ټولنې په عامه افکارو کې دومره ځای او باور پیدا کړی چې ناروا او بې لارې حکومتونه، ادارې او څواکونه یې مخه نه شي نیولی. وقار بیا د عامه افکار جوړونکې ډلې فقط درې بللې دي: ولسمشران، تبلیغاتي ډلې او ولس. (وقار،۱۳۹۹،ص.۲۷).

په دې اړه د نوموړي نظر کمزوری دی، موږ له دې درېیو ډلو پرته نور زیات څه لرو چې د مقالې په مختلفو برخو کې به یې ولولئ چې د عامه افکارو په جوړښت، روزنه پنځونه او لارښوونه کې په زړه پورې کردار ادا کوي او سترګې ورڅخه نه شي پټېدلی.

**زده کړې:** زده کړې د بشري ټولنې بنسټیزه اړتیا ګڼل کېږي، څکه خدای تعالی ج چې لومړی پیغمبر حضرت ادم علیه السلام رالیږلی، له هغه سره یې یو ځای لس صحیفې هم د بشریت د لارښوونې لپاره

رالیږلې وې او دې لړۍ تر وروستي پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پورې دوام درلود. هغه لارښوونې(قران اعظم الشان) چې د الله وروستی کتاب دی، د بشریت د لارښوونې په خاطر تر قیامته کامل او ځواب ویونکی دی، د الله لومړی پیغام اخري حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته هم د زده کړې وو چې(اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ...) (اقران،العلق، ایه.۱). د خدای له دې قول څخه داسې معلومیږي چې زده کړې د بشر لپاره خورا مهې دي او بې زده کړو ژوند نیمګړی دی، ځکه د بشریت ضرورت ورځ تربلې زیاتیږي، مخلوق ډیریږي، د ځمکې پرسر ژوند تنګیږي، د انسانانو حرص، بعض، او غوښتنې زیاتیږي، بالاخره د بشریت تر منځ ټکرونه را منځ ته کیږي چې د مرګ، بدبختیو، وژنو، ناخوالو او لویو ستونزو باعث ګرځي، نو د دې لپاره چې د بشریت ضرورت پوره، ژوند یې هوسا او له ستونزو خلاص شي، نو یې له حضرت ادم علیه سلام څخه تر حضرت محمد صلی الله علیه پورې د بشر د ټولو ضرورتونو د پوره کولو ښودنه وکړه چې( وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلاَئِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَؤُلاء إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ) (القران، البقر،ایه.۳۱).د پورته ایت په برکت سره الله ج د ادم علیه اسلام اولاد ته تر قیامته ټول هغه څه ورزده کړل چې دوی یې د وخت او عصر مطابق غوښتنه او طلب کوي. په همدې اساس د وخت او حالاتو مطابق هر هغه څه چې ضرورت وي او په کار وي خدای ج انسان ته سپارښتنه کوي چې دا زده کړه چې ژوند دې ارام شي، ساینسي، طبي، نظامي، اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، ټولنیزې ټولې اړتیاوې چې انسان یې په وسیله د پرمختګ او نوښتونو ډګر ته داخلیږي، زدکړه یې فرض او لاس ته راوړل یې د مسلمان مسئولیت ګڼل کیږي، حضرت ابوبکر صدیق رض پوهه د پیغمبرانو میراث ګڼې او حضرات سلیمان ع یې غوره صدقه بولي، ځکه خو هوښیار خلک تل په علم پسې لالهانده وي، د همدې علم برکت دی چې ذروي، هستوي او لایزري، بیولوژیکي سلاوې، لرې واټن ویشتونکي توغندي، انټرنیټي تکنالوجي هغه څه دي چې نن یې بشریت د مختلفو اقتصادي، نظامي او سیاسي موخو د لاس ته راوړلو په خاطر کاروي، څوک یې چې وړتیا لري په ډګر ترې کار اخلي، څوک یې چې وړتیا نه لري د نورو ټولنو د سیاسي، مذهبي، اقتصادي او نظامي موخو لپاره قرباني کیږي، وژل کیږي، شړل کیږي څوک یې غږ هم نه اوري، لنډه دا چې ښوونه روزنه، د عامه افکارو په لارښوونه، پنځونه، ارزونه او هوساینه کې دومره اغېز لري چې حد نه لري، وګورئ هغه هېوادونه چې لوړ تعلیم لري، نن له هر اړخه پیاوړي، غښتلي، ځواکمن او د نړۍ په کچه پر برېتونو ګوتې وهي، هر څه چې کوي د دوی لپاره روا او د بېرته پاتې ملتونو لپاره ناروا دي، د فلسطین او اسرایلو جګړه یې غوره او غوره نمونه ده، د عراق او غربي نړۍ تر منځ جګړه یې بله نمونه، زموږ او غربیانو تر منځ جګړه یې بل مثال دی، سره له دې چې له عصري

پوهې بېرته پاتې ملتونه قرباني ورکوي خو، د مستو کوچ او غوړي ټول د عمر تر پایه نه ورته رسېږي، د علمي ضعف او کمې تجربې په اساس بار بار له مختلفو اړخونو له لویو کړاوونو سره مخامخ کېږي.

**تبلیغات:** دا چې تبلیغ ځانګړی او مهم بحث دی چې دوه مهمې برخې (اړخونه) لري چې یو یې مذهبي یا دیني تبلیغات دي، چې سرته رسول یې د الله ج امر د مسلمانانو رسالت او مسئولیت دی او بل یې ناروا یا مضر تبلیغات دي چې د سیاسي، اقتصادي او نورو موخو د تر لاسه کولو لپاره په لار اچول کېږي، چې ناروا او غیر اسلامي کار دی، ولې د عصر حکومتي چارواکي او منصوبین یې کاروي چې عموما په بې سواده ټولنوکې انکار نه کېدونکی اغیز ښندي، د نړۍ د تبلیغاتو مبلغینو د خپلې پوهې او تجربوپه رڼا کې د خپلو نظامونو د بقا او سیاسي ګټو د ساتنې لپاره مختلفې خطرناکې لوبې رواني کړې دي، په مختلفو نظامي، سیاسي، علمي او اقتصادي ډګرونوکې ورځخه کار اخلي، دوی په بېرته پاتې او کمزورو هېوادونو کې جنګونه، دسیسې او ستونزې جوړوي، بیا یې د حل لپاره داسې لارې او پالیسي پیلوي چې؛ د هغو په غېږ کې خپلې ګټې وپالي، په پایله کې د ټولنې په عامه افکاروکې د ځان په ګټه بدلون راولي،ځکه چې:(د تبلیغ تخم ځیرکه اداره، ځمکې او پټي یې، بې سواده خلک دي) چې په اذهانو کې یې د مسلکي، حکومتي مسلکي تبلیغاتي ادارو له خوا کرل کېږي، د مظلومو انسانانو وینې، معدنیات او ثروت تر خپلې ولکې لاندې راولي، د همدې موخو په خاطر په میلیونونو بې ګناه انسانان وژني، پر افغان ملت او خاوره د انګریزانو، روسانو او امریکایانو تېري او په مقابل کې یې زموږ قرباني ښې نمونې دي، اوس پر افغان مهاجرینود ګاونډیو هېوادونو ظلم او بربریت تازه یو بل د سترګو لیدلی حال او بېلګې دي؛ د ذکرشویو ظلمونو په ځواب کې د ژوندیو ملتونو د عامه افکارو مقابلې، مظاهرې او غندنې هغه څه دي چې په دې ډګر کې د ظالمو حکومتونو د ظلم د مخنیوي چغې وهي او د (غزې تړانګې) د ماشومانو ملاتړ کوي، هیله ده چې رنګ راوړي، ولې د عربي نړۍ مشران او د صلاح الدین ایوبي د خاورې څښتنان، په داسې حالت کې د ګډا او نڅا کنسرتونه جوړوي چې د غزې تړانګه په سرو اورونو کې سوځېږي.

لنډه دا چې تبلیغات د ملتونو د عامه افکارو په بدلون، لارښوونه او روزنه کې خورا غښتلی اغېز لري، که موږ تبلیغاتي مسلکي پوهه ولرو، کولی شو د عامه افکارو د سلامتیا لپاره د دښمنانو د ناروا تبلیغاتو مخه ونیسو، د خپلې مسلمانې، پتمنې، عقیدوي ټولنې عامه افکار ثابت او سالم وساتو، پردي تبلیغات په خپله ګټه وڅرخوو، په دې ډګر کې ویښ او ځیرک پاتې شو که ویده شو، بیا د پردیو سیاسي تبلیغاتو ښکار کېږو،که ووایو چې تبلیغات د تېرې تورې حیثیت لري که دښمن پرې ټپي نکړو، ممکن ځان ته د مرګ کنده وکیندو، مبالغه به نه وي.

**رهبري:** ټولنه کې مشرتابه(رهبري) یو مهم عنصر دی ځکه بې مشره او بې لارښوده ټولنه د ژوند په مختلفو اړخونو کې له ټکرونو سره مخامخ کېږي، په ادارو کې رهبري بیا په دوو معنا وو استعمالیږي (یو د سیاست او بل د مدیریت په ډګر کې) هر هغه څوک چې په عامه افکارو د اغېز ښیندلو صلاحیت او ځواک لري د(عامه افکارو شخصیت) یا فکري لارښود بلل کېږي (نیازی،۱۳۹۹ش،ص ص.۳۷- ۳۸).

عموما هغه خلک چې عامه افکار اغېزمنولی شي، په سیمه کې ځانګړی مقام او لوړ ارزښت لري، دوی د ټولو مسایلو په هکله مستند معلومات او دلایل لري او په ټولنه کې د عدالت، ریښتینولي، همکاري، همغږي او کره باور د لرلو له کبله خلک ورته د یو ریښتیني فکري مشر ( Real public Opinion Leader) په حیث ګوري (نیازی،۱۳۹۹ش،ص.۲۰).

هره اداره( سیاسي، تولیدي، خدماتي او ایډیالوژیکې) ځانګړتیاوې او موخې لري چې د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره ځانګړي پلانونه جوړوي، پلي کوي يي، څاري يې او بیا يې ارزوي (عظیمي،۱۳۹۹ش،ص. ۴۸).

رهبران هغه څوک دي چې د کار په ساحه کې د تجربې، صداقت، اخلاص، وړتیا، دیانت، ژبني فصاحت، د وینا کولو د وړتیا او مسلکي استعداد له کبله په خپلو لاس لاندې کسانو پوره او کره اغېز لري، همدارنګه د خپلو ستونزو اونیمګړتیاوو د لرې کولو له کبله کولی شي د ټولنې عامه افکار داسې راخپل او رهبري کړي په خوځښت یې راولي او خپلې موخې تر لاسه کړي، ځکه د عامه افکارو تکړه مدیران، پوهان او متجرب خلک د خپلو څېړنو او دقیقو معلوماتو په پایله کې د عامه افکارو د لاس ته راوړنې، لارښوونې، پنځونې او پرمخ بېونې چارې رهبرانو ته په ګوته کوي، هغوی(رهبران) بیا د عامه اړیکو د مدیرانو لارښونې او څېړنې په نظر کې نیسي، پلي کوي يې، بالاخره په دې توانیږي چې عامه افکار د خپلو غوښتنو او موخو د لاس ته راوړلو لپاره یو مثبت او ګټور اړخ ته په حرکت راولي (نیازی،۱۴۰۱،ص.۱۳۷).

**تریبیون** (Plate Form) له تریبیون څخه موخه دلته سیاسي ستېج دی، سیاسیون له دې ځایه له خپلو لاس او اغېز لاندې کسانو سره مخامخ خبرې کوي، د مسایلو، موضوعاتو، پېښو او خوځښتونو په تړاو خپل نظریات، لارښووني او پلانونه سره شریکوي، ولس مخامخ له خپل مشر سره نظرونه څرګندوي او سیاسي مشران د دوی د نظریاتو په رڼا کې خپل سیاسي فعالیت ته دوام ورکوي، د عامه افکارو ملاتړ له ځان سره همغږی کوي، د څېړنو پایلو ښودلې چې په نړۍ کې د ځینو مسایلو په برخه کې د رسنیو له ځواک څخه د سیاسي مشرانو مخامخ لیدنې د ټولنې په عامه افکارو زیات اغېز لري، همدا علت دی چې سیاسي ستېج او واک د ټولنې د عامه افکارو په جوړښت، پنځونه او لارښوونه کې زیات مثمر تمامېږي.

پورته مسئلې په نظر کې نیولو علمی ستې، سیاسي، مذهبي رهبران چې ملي روحیه او د ټولنې ملاتړ ورسره وي د ولس په عامه افکارو بارز اغېز لري د مختلفو مسایلو په اړه د عامه افکارو لارښوونه او پنځونه کولی شي، دې برخه کې هغه ډلې(مذهبي مشران، سیاسی څېرې) بریالی دي چې د ټولنې مادي او معنوي غوښتنې، ضرورتونه، اړتیاوې او وړتیاې په نظر کې نیسي او پر زخمونو د مهلم پټی کېږدي، نه هغه رهبران، مشران او څېرې چې پالیسي او پلانونه یې د ټولنې د اوږو بار وګرځي.

**ولس:** د پښتو ژبې متل دی (چې د ولس زور د خدای زور دی) کله چې ولس را پورته شي نو بیا یې غلي کول او ماتول ستونزمن کار دی، همدا علت دی چې د نړۍ ډیری حکومتونه خپل حکومت مشروعیت له ولس څخه غواړي، د همدې کار لپاره زیاتې پیسې مصرفوي، غواړي د ولس په خوښه د ولس په رایه د ولس لپاره ځان چوکۍ ته ورسوي، ځکه سیاسیون پوهېږي چې بې ولسه حکومت امکان نه لري او نه هم د خپل حکومت او پالیسي د تطبیق لپاره بله لار شته، دوی د خپلې پالیسي د تطبیق په خاطر ولس له ځان سره همکار او همغږی کوي څو د ملت او ولس په اوږو ځان واک ته ورسوي، د ولس همغږي او همکاري هغه وخت غښتلې او خوندوره وي کله چې د حکومت له خوا په ښوونیز، سیاسي او ملي فکر روزل شوی وي، ځکه حکومت د ولس د روزنې مسؤولیت په غاړه لري، د سالمې ښوونې روزنې او سیاسي شعور د پالنې له برکته ولس دعامه افکارو په جوړښت او پنځونه کې نه هېرېدوکی اغېز لري، که ولس بې سواده وي بیا په پټو سترګو د مشرانو او لارښوونکو(سیاسیونو) خبرې مني پرته له دې چې د روا او ناروا پوښتنه وکړي راپورته کېږي، شور او زوږ جوړوي سیاسیون د دوی له دې حالت څخه پوره، خوږه او لویه ګټه اخلي، ځیرکې او متجربې تبلیغاتي ادارې د خپلو کره، پخو، موثقو او فني پلانونو او پالیسیو له لارې د خپلو موخو لپاره عوامو څخه له دې لارې کار اخلي ځکه چې (د تبلیغاتي ځیرکو ادارو لپاره حاصل خېزه ځمکه بې سواده ټولنه ده) (نیازی،۱۳۹۵،ص.۴۵-۶۱).

همدا علت دی چې د نړۍ نامتو عالم ارسطو وایي چې (په ټولنه کې د فرد روزنه د حکومت مسئولیت دی) زیاتوي چې د علم له برکته په ټولنه کې فرد خپل ځای ټاکي او د همدې علم له برکته انسان پر نورو مخلوقاتو لوړ دی) (ملک، انجم، ۱۳۹۴ش،ص.۱۶۷).

د ارسطو له نظره دپوهې ستره موخه د پټو رازونو پیداکول او راسپړل دي، د جان دیوي له انده، د پوهې له برکته ځان له ټولنې سره عیارول دي که پوهه نه وي له نورو سره مزل نه شو کولی. د همدې ارزښت او اړتیا له کبله د نړۍ دولتونه او حکومتونه هڅه کوي چې خپلې ټولنې د تعلیم پر اعلی معیار وروزي څو یې ملت د پردیو د تبلیغاتو د اغېز لاندې را نه شي، د همدې موخې په خاطر د سیاسي ښوونې او روزنې له لوړو معیاري درسي مېتودونو څخه ګټه اخلي چې له هر اړخه علمي او غښتلې وي، موږ په همدې دلیل

ادعا کوو چې ولس د عامه افکارو په لاربنوونه او پنځونه کې لوی ځواک او غښتلی لاس لري، که چېرې ټولنه د تعلیم یافته قشر له خوا  په لوړ معیار وروزل شي او د دښمنانو مغرضانه اهداف او حرکات افشا کوي، په علمي، تخنیکي، مدیریتي او تجربوي لارو کې یې مخه نیسي، بالاخره دښمنان نه شي کولی ټولنه تېر باسي، ځکه هغوی سیاسي پوهه او ځیرکتیا لري، پر روا، ناروا، ښو او بدو ښه پوهېږي، کله چې عوام پر مسایلو پوی شول بیا یې پردي استخبارت نه شي تیر ایستلی چې د خپل دولت. ملي ګټو او ملي منافعو پر ضد دریځ ونیسي بلکې دښمن ته غابښ ماتوونکی ځواب ورکوي، د مضرو پلانونو مخه یې نیسي، ښه بیلګه یې په ترکیه کې د ځینو نظامي خرڅ شوو پوځي جنرالانو ناکامه نظامي کودتا وه چې د طیب اردوغان په مقابل کې یې پیل کړې وه او په مقابل کې یې د ملت راپورته کېدل وو چې د کودتاچیانو د ټانکونو مخې ته ولوېدل شعار یې دا و چې: لومړی موږ مړه کړئ بیا ټانک جګړې ته وباسئ، ځینو یې د ټانګونو د توپونو په خوله لاسونه ننباسل چې دز به نه کوئ او نه به جنګ ته وځئ که اردوغان مو نه وي خوښ رایه مه ورکوئ.

**پایله:**

داچې عامه افکار د ټولنو په زړه کې د ټولو معنوي او مادي ګټو ساتونکی ځواک او په دولتي برخه کې د حکومتونو جوړوونکې ، ورانېدونکې، تخریبوونکې او په پښو درېدونکې تکیه ګڼل کېږي، نو د دولتي مشرانو، علمای کرامو، پوهانو، مفکرینو مبصرینو، سیاسي کړیو او استادانو له خوا یې د ژوند په مختلفو ( سیاسي، عقیدوي، نظامیو مذهبي، فرهنګي او اقتصادي ) برخو کې روزنه، پالنه، بیدارونه او د غفلت له خوبه راویښونه درووند مسئولیت دی، همدارنګه په ښوونیزه برخه کې د وخت حکومتي او دولتي چارواکي مسئول دي چې د عصري ژوند د ضرورت په اساس ټول هغه ښوونیز او مسلکي، تخنیکي، تکنالوژیکي وسایلو د زده کړې زمینه ټولنې او عامه افکارو ته برابره کړي چې په زده کړې سره یې خلک خپل ضرورتونه پوره او له نړیوالې ټولنې سره موازي علمي مزل وکړي، که چېرې د عامه افکارو، ذکرشویو برخو ته پاملرنه ونه شي د مغرضوکړیو او دښمنانو له خوا به له زیاتو ستونزو او کړاونو سره مخامخ کېږي او بالاخره به د موجوده دولت له مختلفو لارو دتخریب زمینه برابره شي، ځکه  دښمنان تل هغه لارې چارې په کار اچوي چې د شته حکومت د له منځه تلو باعث ګرځي؛ نو له همدې کبله د حکومتونو، مسئولینو او منصوبینو غفلت هېڅ وخت د زعملو نه دی، باید ټولنه له هر اړخه وروزي څو  دنورو د مداخلې مخه ډب شي. د اسلامي ټولنې ټولو مشرانو ته په کار ده چې ټولنه را خپله کړي، د عدالت او مسلک په اډانه کې دکار زمینه ورته مساعده کړي، کار اهل کار ته وسپاري، څو له دې لارې د خدای د امر متابعت، د پیغمبر ص د رسالت مسئولیت پر ځای او د ژوند د ښېرازیو څښتنان شي.

**وړانديزونه:**

په ټولو اداري (حکومتي) نظامونو کې ملت او دولت يو له بل سره لازم او ملزوم دي، په ځانګړي ډول د اسلامي نظام حاکم د ملت خادم او ورکړل شوی قدرت د الله ج له خوا دوی ته يو امانت دی، نو په کار دی چې دغه الهي امانت په صداقت، اخلاص، ديانت او پـه خورا غښتلي مرام سره تر سره کړي، څو يې الله ج دنيا او اخرت دواړه روښانه کړي. د همدې لپاره لاندې وړانديزونه مسلمانو مسئولينو ته د الله ج د رضا د حاصلولو او د ټولنې د عامه افکارو د لارښوونې، روزنې او پنځونې لپاره وړاندې کوم، که عملي شي ګټه به يې د ګران هېواد مظلومې ټولنې ته زياته او چارواکو به خپل مسؤوليت ادا کړی وي.

- ټول ديني علماکرام بايد په مسجدونو کې د ټولنې عامه افکار له مذهبي معلوماتو پوره اګاه کړي، دا يې اسلامي، بشري، علمي او عقيدوي مسئوليت دی؛ ځکه زموږ ډيری کليوالي خلک د اسلام د ځينو مسايلو په اړه دقيق معلومات نه لري.
- مسؤولين بايد کار اهل کار ته وسپاري څو د الله ج د امر اطاعت وشي او ټولنه له ستونزو خلاصه شي.
- مسؤولين بايد د ټولنې د علمای کرامو، پوهانو، استادانو، مبصرينو، پوهانو، باتجربه مسلکي وګړو، رهبرانو ... له تجربو، مشورو، علميت او مسلک څخه ګټه واخلي، څو چارې منظمې او له ستونزو پرته تر سره شي.
- مسؤولين بايد هغه متجرب مسلکي وګړي چې په ځانګړې برخه کې وړتيا لري په کار وګوماري څو چارې د مسلک او تجربې په چوکاټ کې پرمخ يوړل شي او د الله ج د امر متابعت پر ځای شي.
- مسؤولين بايد ټولنه په مختلفو (سياسي، علمي، فرهنګي، مذهبي او ملي مسايلو) په برخو کې وروزي څو يې سياسي، فرهنګي او مذهبي نبوغ لوړ او د دښمنانو د تبليغاتوتر تاثير لاندې رانه شي.

## مأخذونه

۱: ازاد، ابوالکلام. (۱۳۹۸ش). اسلام او ولسواکي. (ژباړن، فرید احمد هلال).جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۲: افتخار، محمدحسین.(۲۰۱۵م). کمونیکشن سټډیز. لاهور: لیت پبلکشن.
۳: الفت،ګل پاچا.(۱۳۸۴ش). دټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش.پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۴: بدر، محمدسعید.(۲۰۱۳).ابلاغیات. پارټ ۲.لاهور: مکتبه دانیال.
۵: رضایان، علی.(۱۳۹۹ش). د سازمان او مدیریت بنسټونه. (ژباړن، خوښ، محمد نواب).کابل: سمون خپرندویه ټولنه
٦: مصلح، نصیراحمد.(۱۳۹٦ش). مدیریت او رهبري. کابل:اکسوس کتابپلورنځی وایګل چاپ.
۷: ناظم، محمد داود. ( ۱۴۰۱ش). د جرمونو په زیات والي او کموالي کې د رسنیو رول. کابل: علوم اکادومی.
۸: ناظم، محمد داود .(۱۳۹۱ش). د عامه ذهنیتونو د روښانوالی سرچینې.کابل:خیبر کتاب پلورنځی.
۹: نژاد،محمدکاظم.(۱۳۹۵ش). سیاسي تبلیغات.(ژباړن ذبیح الله رحیمزی) جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۱۰: نیازی، محمدخان.(۱۳۹۹ش).په عامه افکارو د شخیت اغېز، شیخ زاید پوهنتون پوهنیزه مجله، ۲۵ ګڼه
۱۱: نیازی، محمد خان.(۱۴۰۲ش).د عامه اړیکو اساسات. خوست: حسین احمدچاپ خانه.
۱۲: نیازی، محمد خان.(۱۳۹۵ش). رسنۍ او ټولنه. خوست: ژوندون مطبعه.

# د پښتو ژبې د ژوبلېدو علتونه

پوهنمل گل احمد محبت، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه.
برېښنالیک: gul.mohabat@gmail.com

**لنډیز**

دغه څېړنه موږ ته ښیي، چې پښتو ژبه اوس مهال ژوبله ده او د ژوبلېدا علتونه یې موږ ته بیانوي. په دغه څېړنه کې معلومېږي، چې پښتو ژبه له کومو لارو او ولې ژوبله ده او د دغه چار د مخنیوي لپاره څه کولی شو. د یادې څېړنې له مخې موږ پوهېږو، چې په پښتو ژبه کې ډېر ناوړه او ناسم ترکیبونه کارېږي، چې د پښتو ژبې آر او اصیل مال نه دی او له غیر قانوني لارو چارو پښتو ژبې ته راننوتي دي. دغه ډول ترکیبونه یا د ژورنالیستیکو ژباړو، د ویونکو له بې اعتنایۍ، پــــه ژبه کې په خپل سر نومونو او یو شمېر نورو لارو چارو له لارې د پښتو قلمرو ته راننوتي دي. دغه څېړنه موږ ته یو شمېر حل لارې هم په گوته کوي، چې څنگه کولی شو، د هغو لارو مخه ډپ کړو، چې زموږ ژبه یې ژوبله کړې ده. دا یوه ساحوي او کیفي څېړنه ده، چې د مرکې له میتوده پکې کار اخیستل شوی دی.

**کلیدي ټکي**: ژبه، ناوړه ترکیبونه، ژورنالیستکې ژباړې، خپل‌سرې نومونې، د ژبې ژوبلېدل.

**سریزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِیمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین و علم ادم الاسماء کلها ثم عرضهم علی الملائکة فقال انبئوني باسماء هولاء ان کنتم صدقین. صدق الله العظیم.

**د څېړنې موخې**

۱: له دغې څېړنې موخه دا ده، چې یو شمېر هغه زیانونه په گوته کړي، چې پښتو ژبې ته اوړي. دغه زیانونه پـه جاري ډول هره لحظه پښتو ژبې ته متوجه دي او پښتو ژبه ورسره په تدریجي ډول له خطر سره مخامخېږي.

۲: د دې څېړنې بله موخه دا ده، چې په دغه څېړنه کې یو شمېر هغه حل‌لارې په گوته کېږي، چې پر مټ یې پښتو ژبې ته د اوښتونکو زیانونو مخه یو څه ډپ کېدای شي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

ژبه د يو لړ اختياري وييزو او اوريزو سمبولونو ټولګه ده، چې هر يو سمبول او نښه يې زموږ د يو ذهني انځور استازولي کوي. دې خبرې ته مو بايد پام وي، چې که ژبه د غږيزو او اوريزو نښو او سيمبولونو سيستم دی، خو دا سيستم اختياري او اتفاقي دی، چې د ژبې ويونکي يې په خپلو کې د يو بل پوهولو لپاره کاروي. د ژبې له سيستم څخه موخه دا ده، چې هره ژبه ځانته خپل ځانګړي اصول او قواعد لري، چې د يوې ژبې اصــول او قواعد پر بلې هغې د تطبيق وړ نه دي. په هر ترتيب ژبه د انســانانو تر منځ د پوهولو راپوهولو تر ټولو غوره وسيله ده (۴: ۲).

پښتو د ژبې په توګه د تاريخي لاسوندونو پر بنياد له اريک ژبې رازېږېدلې ده، چې زرګونه کلونه پخوا د اوسني افغانستان په بلخ کې اوسېدل. دوی اريايان وو او اريايي ژبــــه يې ويله. د همدغو تاريخي لاسوندونو پر بنياد پښتو يوه هندو اروپايي ژبه ده، چې د هندو اريايي ژبو په ختيځه ډله کې شامله ده. اوس مهال چې موږ په کومې پښتو ژبې خبرې کوو، هيڅ داسې کوم دقيق دليل نه شته، چې ووايو په کوم مهال او څه وخت دغه اوسنۍ پښتو په همدغه ډول له اريايي ژبو رازېږېدلې ده. ارواښاد پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ د خپلو څېړنو په لړ کې د مارګنستيرن د نظرياتو پر بنياد وايي، چې پښتو په اصــل کې د ســاکو يوه لهجه ده، چې د اريايي ژبې په شــمال ختيځې ژبنۍ ډلګۍ پورې تړلې ده. د ارواښاد کاکړ په اند کله چې په پنځمه مخزېږديزه پېړۍ کې بلخ يا بخدي د هخامنشيانو تر ولکې لاندې و، پښتو د ژبې په توګه له دې وړاندې راټوکېدلې وه، چې ښې بېلګې يې د هغه مهال (( زرينه او تنی)) دي. زرينه او تنی هغه نومونــه دي، چې کابو دوه نيم زره کاله پخوا د ساکانو ترمنځ په همدې نننۍ مانا کارېدل. ويل کېږي، چې زرينه د ســاکو د يوې ډلې غوره او منلې ملکه وه او تنی د منځنۍ اســيا د اوسني سردريا نوم و، چې اوس مهال دغــــه نوم په پښتو کې د يو ځانګړي قام لپاره کارول کېږي(۹: ۴۹ـ۵۰).

پر دې ټولو دلايلو او لاسوندونو سربېره، اوسنۍ پښتو د خپلې پخوانۍ پښتو له سينې رازېږېدلې ده، چې د وخت او مهال په تېرېدو سره يکې مثبت او منفي بدلونونه راغلي او دا لړۍ لا دوام لري. د دغو تغيراتو او بدلونونو په لړۍ کې چې د ژبې لپاره زيان پېښوونکي دي، هغه د پښتو ژبې په اډانې او چوکاټ کې د يو شمېر عبارتونو او داسې ترکيبونو کارونه ده، چې د پښتو ژبې خپل آر او اصيل مال نه دی. د بېلګې په ډول کله چې سړی د ګرامر او ژبپوهنې په اثر کې يو شمېر داسې پردي ترکيبونه ګوري؛ نو دا اندېښنه

ورسره پیدا شي، چې دغســې ترکیبونو زموږ ژبه ژوبله کړې ده. د بېلګې په ډول تاســو دا جمله ولولئ! ((...په دې مانا چې دغه توکی د پښــتو په ګډون په ګـــــردو هندو اروپايي، ســامي او نورو اوړېدونيو (متصرفه) ژبو کې شتون لري))(۷: ۷۶).

په ورته ډول دغسې ترکیبونه که د څېړنې په ژبه کې ډېر تر سترګو کېږي، خو د خیال او هنر ژبې ته یې هم لار کړې ده. ښه بېلګه یې موږ په لاندې بیت کې لولو.

باران چې هلته وشي دلته کې هوا یخه شي
دواړه یــوه ده د کابل او پېښور خبـــــره
(۱: ۸)

په پورتني بیت کې د (( دلته کې)) ترکیب زموږ د ژبې خپل او آر مال نــه دی، چې له اردو ژبې ورته يا خوداګاه او یا پــــه ناخوداګاه ډول ژباړل شوی دی. همدارنګه دغې ربړې ته پر ((۲۰۰۶)) زېږدیز کال زیار هم نغوته کړې ده. هغه د پارسي ځیلې پښــتو یو شــمېر بېلګې وړانـــــدې کړې، لکه د ((چې)) پر ځای چې یو شــمېر په پښــتو کې د فارسي د (( څو او تر څو)) دا ناســم ترکیبونه کاروي او په ورته ډول یې د اردو او انګرېزي ځېلې پښــتو دغـــــه (( چېرې چې، څوک چې او کوم چې)) ناوړه ترکیبونه هغه پردې ښکېلاکګر وګنل چې د پښتو ژبې قلمرو یې لاندې کړی دی (۶: ۵).

همدارنګه رفیع په (۱۳۹۴) کال کې وویل چې لــــه بده مرغه په هېواد کې یو شــمېر لیکوال د ختیځ او لوېدیځ په نامه د خپلې لهجې د برترۍ او اصالت هڅې کوي او یو پر بل خپلو لهجو ته فوقیت ورکوي، نو له همدې کبله پښتو ژبې ته یو څه زیان اوښتی دی(۵: ۷).

په ورته ډول شـعشـعي په (۲۰۰۷) کال کې دا وېره وښـوده، چې یو شـمېر خلک له پښـتو ژبې سره خپله مینه ښیي، خو په واقعیت کې یې د ژبې لپاره تاوان رسولی وي او په ژبه کې د یو شمېر کلماتو په کارولو یې ژبه ژوبله کړې وي(۳:۳۳). اجمل ښــکلي هم په (۱۳۹۳) کال د پښــتو ژبې د ژوبلېدو په اړه وویل چې په دغه ډګر کې د مسلکي ژباړونکو د کمښت ستونزه ده، چې پښتو ژبې تــه یې زیان اوښتی دی(۸: ۱۱۴).

په همدې ډول پالوال په (۱۳۸۴) کال وویل چې هیڅ یوه ژبه په مجرد ډول په یوې مشــخصــې جغرافیې کې نه ویل کېږي. د نوموړي پــــه اند چې حتمي به ورسره نورې همجوارې ژبې وي او پر دغې ژبې به

خپل اغېز پرېباسي. پښتو ژبــه هم له ختیځ لوري له اردو او انګلیسي او له لوېدیځ لوري د فارسي ژبې له اغېز او تاثیر څخه خلاصه نه ده، چې دې کار پښتو ژبه یو څه ژوبله کړې ده(۲: ۲۹۱).

### د څېړنې کړنلار او مواد

دا کیفي څېړنه ده، چې له (Purposive) یا قضاوتي او نمونې اخیستلو میتوده پکې کار اخیستل شوی دی. د معلوماتو د راټولولو پــــه پار د مرکې له تخنیک څخه ګټنه شـوې ده. د څېړنې موخو ته په کتو دوه‌یم لاس معلومات په سیستماتیک ډول تېرو اثارو ته د کتنې له لارې تر لاسه شوي دي او د لومړي لاس معلوماتو تر لاسلو په پار د ژبې له شلو تنو مسلکیانو سره مخامخ، په موبایل او سکایپ مرکې شوې دي. د څېړنې دغه شـل تنه ګډونوال هغه کسـان غوره شـوي وو، چې د هېواد په کچه په پوهنتونو کې د پښــتو ژبې اســتادان دي. د مرکې پر مټ دغه راټول شــوي او ثبت شــوي معلومات ( Qualitative Contents analysis) تحلیل او تجزیه شول چې د اندازه کولو واحد یې خبره وه. د څېړنې ګډنوالو د معلوماتو پـه تحلیل کې د هر ګډونوال لپاره د (ګ) توری د کوډ په ډول کارول شوی دی.

### پایله

د دغې څېړنې له شلو تنو ګډونوالو یې اولسو تنو دا خبره وکړه، چې د پښتو ژبې لپاره تر ټولو لوی زیان رسـنیو اړولی دی. د دوی په اند که څه هم په دغه ډګر کې به رسـنیو د ژبې لپاره خدمت هم کړی وي، خو د یو شــمېر هغو ژورنالســتانو له لاســه ژبه ژوبله ده، چې دوی د ژبې مســلکیان نه دي او له خپلې ناپوهۍ یې د پښــتو ژبې په رنګین باغ کې شــډل ګلان کرلي دي. د بېلګې په ډول (( د پښــتو ژبې د ژوبلیدو یو لوی علت د ژبې پر وړاندې د رسنوالو بې اعتنایي ده، چې په خبرونو کې له ژبې سره سطحي چلند کوي)). (ګ۳) په ورته ډول (( د رســنوالو لـه لوري د ژبې پر وړاندې بې تفاوته چلند دی، چې خلک ترې پیروي کوي)). (ګ ٦).

همدارنګه د دغې څېړنې له شلو تنو ګډونوالو یې بیا نولسو تنو وویل چې د پښتو ژبې د ژوبلېدو یو لوی علت په دې ډګر کې رسنیزې ناسمې او غیر مسلکي ژباړې دي، چې په ناپوهۍ سره ژورنالستانو د نورو ژبو ترکیبونه کټ مټ پښتو ژبې ته راژباړلي دي. دغو ناسمو ژباړو د دې پر ځای چې پښتو ژبې ته ګټه وکړي، په اپوټه ډول یې پښــتو ژبه ژوبله کړې ده. د بېلګې په ډول (( رســنۍ په لوی لاس په ژبه کې ناوړې ژورنالسیتیکې ژبـــاړې ځای پر ځای کوي، چې له نورو ژبو یې ناوړه ترکیبونه کټ مټ راژباړلي دي)). (ګ ۱) دې ته په ورته ډول (( د رسـنیو ناسـمې ژورنالیسـتیکې ژباړې، چې د نورو ژبو ترکیبونه او اصـطلاحات یې کټ مټ پښـتو ژبې ته راوژباړل او په ولس کې خواره شـول.)) ( ګ ۲) همدغسـې ((په رسنیز ډګر کې غیر مسلکي ژباړې دي، لکه د سریالونو په دوبله او یو شمېر نورو ژباړو کې)) (ګ۷). یا

دې تــــه په ورته ډول ((غیر معیاري او ژورنالیسـتیکې ژباړې دي، چې پښـتو ژبې ته یې د نورو ژبو په ځانګړي ډول د فارسي ژبې ناوړه ترکیبونه او اصطلاحات کټ مټ راننوېستل)). (ګ ۱۰).

په دغه لړۍ کې زموږ د څېړنو له شـلو تنو ګډونوالو یې د پښـتو ژبې د ژوبلېدو بل لوی علت دا ښـوولی چې زموږ یو شـمېر لیکوال او ژورنالسـتان په پښـتو ژبه کې د نورو ژبو له ویونو سره عنادي او تعصـبي چلند کوي. دوی فکر کوي، چې په پښـتو ژبه کې باید د نورو ژبو ویونه په هیڅ صـورت نه وي او پښـتو ژبه دې سـل سـلنه سـوچه او نږه وي. د دوی په اند چې دا یو افراطي چلند دی او د دې پر ځای چې پښتو ژبې ته ګټه واړوي، تاوان ورته اړوي. د دوی په باور چې ژبه هیڅکله سل سلنه نه سوچه کېږي او باید چې د نورو ژبو ویونو ته یکې په مناسـب ډول د اړتیا پر بنیاد ځای ورکړو. د بېلګې په ډول ((د نږه پښتو افراطي ذوق او د نورو ژبو له ویونو سره عنادي چلند زموږ ژبه ژوبله کړې ده.)) (ګ ۱). همدارنګه ((د نورو ژبو پر وړاندې تعصبي چلند دی، چې د سل سلنه سوچه کولو فکر یې ژبې ته زیان اړوي.)) (ګ۵). ((د نږه پښتو کولو افراطي ذوق دی، چې د غیرمسلکیانو له خوا په رسنیز ډګر کې پالل کېږي.)) (ګ ۷). ((په دغه برخه کې تعصـبي چلند کول، د پښـتو ژبې لپاره زهر قاتل دی، ځکه کله چې له نورو ژبو سره ضد کېږي او یو مخ هر څه پښـتو ته راژباړل کېږي، دا ژبې ته د ګټې پر ځای زیان رسـوي.)) (ګ ۱۰). ((کله کله رسـنوال د نږه پښتو دودونې په برخه کې افراطي چلند کوي، په خپله ژبه کې یې د بلې ژبې هیڅ ویی نه خوښېږي او له ځانه نوې نومونې کوي، چې دا تاواني کار دی)). (ګ ۱۴).

په همدې ډول د څېړنو له ګډونوالو یې شـپاړس تنه په دې اند دي، چې د پښـتو ژبې لپاره یو لوی زیان اړوونکی ګام د غیر مسلکي کسانو له لوري په خپل سر نومَونې دي، چې په غیر معیاري ډول یې د پښتو لپاره کوي. د دوی په فکر دا ډول خلک که څه هم له پښتو ژبې سره مینه لري او غواړي چې د دې ژبې ناوې ته پر پېکي نوي ګلان وروټومبي، خو دا بدرنګه ګلان د دغې نـاوې پر پېکي زېب نه کا او د هغې طبیعي ښـایسـت ترې پټوي. د دوی له انده خپلسرې او ذوقي نومونې پښـتو ژبې ته زیان اړوي او ژبه سـخته ژوبلوي. د بېلګې په ډول ((په خپل سر نومونې دي، چې پښـتو ژبې ته یې زیان اړولی)). (ګ ۲) همدارنګه ((یو شمېر لیکوال پـه ژبـه کې د خپل ذوق مطابق خپلسرې نومونې کوي چې ژبې ته د ګټې پر ځای زیان اړوي)). (ګ ۲۰) په همدې ډول ((پـه ژبه کې خپلسرې نومونې او احساساتي هڅې دي، چې د ګټې پر ځای یې ژبـــه ژوبله کړې او لا هم ورته زیان اړوي)). (ګ ۱۹) یا ((د ژبې پر وړاندې احسـاسـاتي چلند دی چې هر څوک غواړي نوې نومونې وکړي او د پښـتو په نامه یې خپروي.)) (ګ ۴)

په ورته ډول د یادې څېړنې له شـلو تنو ګډونوالو یې دوولسـو تنو دا خبره کړې ده، چې زموږ یو شـمېر مبصرین او د چارو شنونکي چې لږ تر لږه د ژبې پـه اړه سطحي مطالعه هم نه لري، خو چې له نورو یې څه سـم او ناسـم اورېدلي وي، بیا چې په بحثونو کې کېني، د دې لپاره چې نورو تــــه ځان پوه او لوړ وښيي، په ژبه کې داسې لغت پراني کوي، چې ګویا د دوی په اند ژبې ته خیر او ګټه رسوي، خو د دې پر ځای دوی ژبـــه سـخته ژوبلوي. زموږ د ټولنې عوام خلک چې بیا د دوی خبرې اوري، فکر کوي،

چې دوی ګویا سم وایي، نو ځکه په ولس کې ناسم ویونه خپرېږي او ژبه ژوبلوي. د بېلګې په ډول ((د یو شمېر خلکو له لوري د ناسمو او ذوقي نویو جوړو شویو ویونو کارول، چې غواړي له دې لارې ځان نورو ته پوه او له ژبې سره بلد وښيي؛ خو خلک چې دا بحث اوري، فکر کوي، چې دا نومونې سمې دي، پیروي یې کوي او له دې سره ژبه خرابېږي.)) (ګ ۴) په ورته ډول ((علمي خلک مو په رسنیز ډګر کې په بحثونو کې په شعوري ډول د پردیو ژبو ویونه کاروي، چې ځان خلکو ته په نورو ژبو پوه وښيي او خلک ترې پیروي کوي.)) (ګ ٦).

په عین حال کې د مرکې له ګډونوالو یې لسو تنو دا خبره هم کړې ده، چې په ناپوهی کې له ژبې سره خواخوږي ژبې ته د ګټې پر ځای تاوان لري او ژبه ژوبلوي. د دوی په اند چې یو شمېر خلک شته، چې د ژبې مسلکیان نه دي او نه په ژبه کې مطالعه لري، خو له ژبې سره ړنده او کڼه مینه لري او غواړي، چې ژبې ته د خدمت په ډول هر څه راپښتو کړي. دوی چې د ژبې په اصولو او قواعدو نه دي خبر، هر څه غلط راپښتو کوي، چې ژبې ته زیان اړوي. د بېلګې په ډول ((په ناپوهی کې له ژبې سره خواخوږي، په دې مانا چې یو څوک د ژبې پر اصولو او قواعدو نه پوهېږي، خو له ژبې سره مینه لري او غواړي هر څه پکې پښتو کړي، دا کار د ګټې پر ځای زیان اړوي)). (ګ ۵)) یا ((د نوي نسل له پښتو ژبې سره بې کچې مینه او د ژبې په تخنیکي او علمي اړخونو نه پوهېدل، چې په خپل سر نومونې کوي او د ژبې په اړه ذوقي چلند کوي)). (ګ ۱۱).

همدارنګه زموږ د څېړنې له ګډونوالو یې یوولس تنه په دې اند دي، چې د پښتو ژبې کرونده اوس داسې ده لکه څښتن چې یې نه وي. هر څوک په خپل سر پکې هر څه کوي. کومه کمېټه او څارونکې اداره نه شته ده، چې په پښتو ژبه کې دا بې سروبوله نومونې، ذوقي ژباړې او په غیر مسلکي ډول د نویو ویونو جوړولو لړۍ مهار کړي، له همدې امله هر څوک هڅه کوي، چې له ځانه د یو شي لپاره نوم جوړ کړي او بیا کریډیټ پرې واخلي او نورو ته وښيي، چې ګنی ده په ژبه کې دا خدمت کړی دی. په داسې حال کې چې دا کار ژبې ته خدمت نه بلکې ژبې ته لوی زیان دی. د بېلګې په ډول ((په پښتو ژبه کې د خدمت په نوم خپلسري دومره ده، چې هر څوک د یو ویي لپاره بېلابېل نومونه کاروي او دا کار د ژبې لپاره زیان اړوي.)) (ګ ۸). همدارنګه ((بل د لیکوالو او ژورنالستانو تر منځ ناسالم رقابت دی، چې هر څوک هڅه کوي، د خپل ځان ښودنې لپاره ویی جوړ او خپور یې کړي، چې دا کار پښتو ژبې ته زیان اړوي.)) (ګ ۸).

**وړاندیزونه**

۱: رسنوال یا ژورنالیستان دې د پښتو ژبې پر وړاندې بې اعتنایي نه کوي او په خپلو خپرونو کې دې له ژبې سره په دقت چلند وکړي.

۲: په عام ډول لیکونکي او په ځانګړي ډول دې ژورنالیستان په پښتو ژبه کې د نورو ژبو د ویونو پر وړاندې عنادي چلند نه کوي.

۳: په پښتو ژبه کې دې په خپل سر نومونې نه کېږي او دا چار دې د ژبې مسلکیانو او ژبپوهانو ته ورپرېښودل شي.

۴: د علومو اکاډمي دې په ژبه کې د نویو لغتونو د جوړولو لپاره یوه ځانګړې مسلکي کمېټه جوړه کړي، چې دا تشه ډکه کړي.

۵: د پښتو ژبې مسلکیان او ژبپوهان دې د پښتو ژبې د نیولوجیزم په ډګر کې سترې وګالي، چې دغه ژبه ورسره غني شي او ورسره د خپلسریو نومونو مخه ډپ شي.

**مأخذونه**

۱: اتل، محمد اسرار. (۲۰۲۰). یار هغه سړی په پېښور کې دی. په خپله شاعر: پېښور
۲: پالوال، عبدالرازق. (۱۳۸۴). معیاري پښتو. یونایټید پرېس: شال.
۳: خپل شعشعي، محمد هارون. (۲۰۰۷). د پښتو ژبې نننۍ مسالې. په خپله لیکوال: لندن.
۴: خوېشکی، محمد صابر. (۱۳۸۸). پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه. مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد.
۵: رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۴). ژبساتنه. مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد.
٦: زیار، مجاور احمد. (۱۳۸٦). لیکلارښود ((یوه پښتو ــ کره پښتو)). دانش خپرندویه ټولنه: پېښور.
۷: زیار، مجاور احمد. (۱۳۹۳). پښتو وییپوهنه او وییرغاونه. مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد.
۸: ښکلی، اجمل. (۱۳۹۳). د ژباړې اصول. مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد.
۹: وزیري، محمد اقبال. (۱۳۹۴). پښتو د تاریخ په بهیر کې. کاکړ تاریخي علمي بنسټ: اسد دانش مطبعه کابل.

# د عربون قرارداد پېژندنه

پوهنمل پاڅون میاخېل، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضا او څارنوالي څانګه
**برېښنالیک**: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**لنډیز**

د عربون قرارداد په لنډه توګه د مشتري له خوا د یو شي تر اخیستلو وړاندې د بیعانې له ورکړې څخه عبارت دی. په دې ډول قرارداد کې د عقد دواړو خواوو ته باید دا معلومه شي، چې د عربون (بیعانه) قرارداد پر اساس زه په شوې پرېکړه کې د الزامیت غوښتنه کولای شم. همدارنګه د عربون (بیعانې) قرارداد پر اساس که منازعه راولاړه شي، د هغې د رسیدګۍ په منظور به کوم شکلیات په نظر کی نیول کېږي. همدا هغه عقد یا قرارداد دی، چې د اشخاصو د ارادو ترمنځ توافق راولاړوي، التزام منځته راوړي او د دعوې د راولاړېدا پر مهال د عقد یا قرارداد سند، شواهد او یا نور اړوند د اثبات وسایل د عدلي او قضایي مراجعو پر وړاندې مدار د اعتبار او سمع دي؛ خو ډېری وخت داسې کېدای شي، چې په یوې موضوع کې عربون (بیعانه) اخیستل شوې وي او دا کار بایع په دې خاطر کوي، چې مشتري له خپلې وعدې ونه ګرځي او د وجیبې اجرا ته پابند وي، نو په همدې خاطر عربون (بیعانه) ترې اخلي، ترڅو د خپل عرضه شوي جنس له خرڅلاو څخه بایع مطمئین شوی اوسي؛ بلمقابل مشتري په دې خاطر بایع ته عربون (بیعانه) ورکوي، چې د وجیبې اجرا ته بایع هم پابند اوسي او همدارنګه د جنس له اخیستل کېدو څخه مطمئین اوسي، چې د عربون (بیعانې) ورکړې سره له کړې وعدې ونه ګرځي، خو که چېرې داسې واقعه رامنځته شي، بیا د قرارداد دواړه خواوې کولای شي، د خپل حق غوښتنه وکړي او عدلي او قضایي

ارګان ته د خپل حق عریضه وړاندې کړي، چې په دغه څېړنیزه مقاله کې پورته ذکر شوي موضوعات څېړل شوي.

**کلیدي کلمې:** بایع او مشتري پیژندنه، د التزام رامنځته کول، د جنس خرڅلاو، عربون(بیعانه)، قرار داد.

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم الحمدالله رب العالمين والصلاة و سلام على سيد المرسلين اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم . قال الله تبارک وتعالى فى القرآن المجيد (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ) (سورت البقره:آيت:۲۸۲).

ژباړه: اې د ايمان خاوندانو! کله چې تاسې تر يوې معلومې نېټې پورې له چا سره قرض کوئ، نو هغه وليکئ او ستاسې ترمنځ دې يو څوک په عدل سره ليکنه وکړي (۱۰:ص:۲۳۷).

که چېرې مونږ د قرانکريم پورتني مبارک آيت ته متوجه شو، نو په روښانه ډول معلوميږي، چې الله تعالى مؤمنان د وعدو او معاملاتو په ترسره کولو او په هغو وفا کولو باندې مکلف کړي دي، ترڅو خپلو کړو ژمنو ته د عمل جامه ورواغوندي؛ ولې په عمل کې ځيني وخت ياده موضوع له يو لړ ستونزو سره مخامخ کيږي او ځيني وخت د عقد يا تړون دخيلې خواوې داسې ادعا کوي، چې ما عقد کړی او د عقد د حتمي والي لپاره مې عربون (بيعانه) ورکړې، د عربون (بيعانې) مقصد هم همدا وي، چې بايع په پوره ډول د خپلې وجيبې اجرا ته ملزم شي. په همدې موخه دغه ليکنه يادې موضوع ته ځانګړې شوې، ترڅو معلومه شي، چې عربون (بيعانه) په قرارداد کې څه معنا او مفهوم لري. همدارنګه د اسلامي شريعت او قوانينو له نظره ګورو، چې د عربون (بيعانې) حکم څه دی؟ د همدې ليکنې په اوږدو کې به په تفصيلي ډول په دې اړه بحث وکړو. دا چې د دغې موضوع ليکنه څه او کوم اهميت لري؟ دا هغه پوښتنه ده، چې ځواب يې په لاندې څو کرښو کې تر مطالعې لاندې نيسو.

## د ليکنې موخې

د دې ليکنې موخه دا ده، چې لوستونکی د عربون (بيعانې) په قرارداد پوه شي. بله موخه پکې دا ده، چې موږ په ټولنه کې ژوند کوو او د ټولنيز عرف مطابق په ډېرو معاملاتو کې عربون (بيعانه) ورکول کيږي، له همدې امله د دغه قرارداد په شرعي او قانوني اړخ هم پوهيدل لازم دي. بله موخه يې دا ده، چې د عربون (بيعانې) قرارداد طرفين عدلي او قضايي مراجعو ته د خپلو منازعاتو د وړاندې کولو په لاره چاره پوه شي.

### د ليکنې اهميت

د دې ليکنې اهميت په دې کې دی، چې په بيع کې د بيعانې يا عربون د ورکړې موضوع پکې څېړل شوې ده او دا هغه موضوع ده، چې د ټولنيز عرف له مخې په اکثريت ټولنو کې رواج ده. په دې اړه د پوهاوي ترلاسه کول په تېره د حقوقو لوستې طبقې لپاره ډېره مهمه ده. په دې څېړنه کې د عربون (بيعانې) قرارداد هر اړخيزه څېړنه او په اړه يې د شريعت او قانون له نظره معلومات وړاندې کول خورا زيات د اهميت وړ دي.

### د ليکنې کړنلاره

د دغې موضوع د څېړنې او وضاحت لپاره هڅه شوې ده، چې له کتابتوني ډول څخه ګټه واخيستل شي، که څه هم د موضوع د شرحې لپاره د بېلابېلو علمي کتابونو، علمي ليکنو، په واقيعتونو او حقايقو باندي د ولاړو منابعو، نوو علمي رسالو او څه ناڅه انترنيتي ويبپاڼو له مطالبو څخه استفاده شوې ده، چې د څېړنې له تشريحي ميتوده ګټه اخيستنه راښيي. د دې ترڅنګ د ليکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي.

## د عربون (بيعانې) قرارداد پېژندنه

دا چې زمونږ د بحث اصلي او محوري موضوع عربون (بيعانه) قرارداد دی؛ ولې د دې لپاره چې موضوع مو په ښه او پوره ډول روښانه کړې وي، غوره وګڼل شوه، چې په لومړۍ برخه کې د قرارداد په اړه او په دويمه برخه کې د عربون (بيعانې) قرارداد په اړه عمومي معلومات وړاندې کړم، ترڅو مو د يادو موضوعاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي وي او په اسانۍ سره وکولای شو، چې د دواړو موضوعاتو په اړه پرتليزه څېړنه وکړو.

### لومړی مبحث: د قرارداد د عقد په اړه عمومي معلومات

د دې لپاره چې د قرارداد معنا او مفهوم په پوره ډول درک او وپېژنو، غواړو چې همدا موضوع د جلا جلا عنوانونو په ترڅ کې تر بحث لاندې ونيسو او هغه په دې ډول چې لومړی د قرارداد لغوي ممعنا او مفهوم او دويم د قرارداد اصطلاحي معنا او مفهوم تشريح کړو.

**لومړی مطلب: د عقد لغوي معنا او مفهوم**

عقد یوه عربي کلمه ده، چې په پښتو ژبه کې د تړون او په فارسي ژبه کې د قرارداد په نومونو یادول کېږي، دا چې پورته کلمو کې د عقد کلمه ډېره مروجه ده، نو ځکه مونږ هم د عقد لفظ په خپله لیکنه کې استعمالوو.

عقد په لغت کې د تړلو، د دوو شیانو د یو ځای کولو او د هغو ترمنځ د تړاو ورکولو په معنا دی، همدارنګه د یو شي د استحکام او پیاوړي کولو په معنا هم کارول شوی دی(۳: ۳۵۰).

**دویم مطلب: د عقد اصطلاحي معنا او مفهوم**

د عقد د اصطلاحي تعریف په هکله د اسلامي فقهاؤو له خوا او هم د حقوقي متخصصینو له لوري نظرونه څرګند شوي دي، چې دلته مونږ لومړی د عقد اصطلاحي معنا د اسلامي فقهاوو له نظره او د هغې اصطلاحي معنا د قانون پوهانو له نظره بیانوو.

۱ـ د اسلامی علماوو له نظره: عقد د اسلامي فقهاوو په اصطلاح کې د دوو کلامونو یا د هغو د قایم مقام له تړاو ورکولو څخه عبارت دی، په دې توګه چې اثر یې په هغو باندې مرتب شي. د دوو کلامونو یا د هغو له قایم مقام څخه موخه ایجاب او قبول ده، نو له دې کبله اسلامي فقهاوو عقد داسې تعریف کړی: عقد له متعاقدینو څخه د یوه د ایجاب له ارتباط نه او د بل متعاقد د قبول له مشروع طریقې څخه عبارت دی، په دې توګه چې اثر یې په معقود علیه کې ثابت شي. دا تعریف دا معنا ورکوي، چې عقد د تړون کوونکو ترمنځ داسې رامنځته کېږي، چې د هغوی موخه د یوه قانوني اثر منځته راوړل وي.

د مرشد الحیران په اول باب او ۸۶۱ ماده کې عقد داسي تعریف شوی دی:

العقد هو عبارة عن ارتباط الایجاب الصادر من احد العاقدین بقبول الاخر علي وجه یثبت آثره في المعقود علیه یترتب على العقد التزام کل واحد من العاقدین بما وجب بهِ الاخر.

ژباړه: (عقد یو ارتباط دی، چې له یو لوري څخه ایجاب صادرېږي او بل لوری یې قبلوي او اثر یې په معقود علیه کې ښکاري او طرفینو ته التزام رامنځته کوي.) (۳: ۳۵۰).

۲ــ د قانون پوهانو له نظره: د قانون پوهانو په اصطلاح عقد د یوه قانوني اثر په منځ ته راتگ کې د دوو ارادو له توافق څخه عبارت دی(۲: ۱۳۸).

د فرانسې مدني قانون په (۱۱۰۱) ماده کې عقد په دې ډول تعریف کړی: (عقد عبارت له هغه اتفاق څخه دی، چې پر اساس يې یو یا یوه ډله د اشخاصو خپل ځان د یو بل شخص یا د زیاتو اشخاصو پر وړاندې د یو شي په انتقال، د یو کار په کولو او یا نه کولو ملزموي ) (۱۳: ۱۱۰۱ ماده).

**درېیم مطلب: د عقد ارکان**

ارکان د رکن جمع ده، د اصول فقهې د علماؤو له نظره د یو شي رکن د هغه شي د وجود له داخلي اجزاوو څخه عبارت دی، چې په هغه اجزاوو متوقف وي، د بېلگې په ډول په لمانځه کې رکوع، سجده، د قرانکریم قرائت او په معاملاتو کې ایجاب او قبول یا د هغو قایم مقام ارکان شمېرل کېږي.

د احنافو له انده د عقد رکن له صیغې یعنې ایجاب او قبول نه او یا له هغه څه عبارت دی، چې د هغو قایم مقام کېږي، لکه کتابت، یا اشاره یا عمل؛ خو عاقدین او معقودعلیه د عقد په ارکانو کې نه دي؛ بلکې د ایجاب او قبول د لوازمو له ډلې څخه دي، خو جمهور فقهاء وایي، چې عقد د درې رکنونو، صیغه ایجاب او قبول، عاقدین او معقودعلیه درلودونکی دی (۵: ۵).

د حنفي فقهې له نظره لومړی ارادې ته ایجاب او د ارادې اظهار وایي او دویمې ته د مقابل لوري قبول وایي. که چېرې بایع ټاکلي جنس په ټاکلي قیمت مشتري ته وړاندې کړي او ووایي، چې دا جنس مې پر تا د دومره پیسو په وړاندې وپلورلو او مشتري ووایي، وامې خیست، په دې صورت کې بایع ایجاب کوونکی او مشتري قبلوونکی دی. که چېرې قضیه برعکس وي، په دې صورت کې مشتري ایجاب کوونکی او بایع قبلوونکی دی، خو د حنبلي او شافعي فقهاؤو له انده ایجاب کوونکی تل هغه کس دی، چې جنسي ملکیت له خپله ځانه مقابل لوري ته لېږدوي، نو د دوی له لیده په پورتنیو مثالونو کې بایع ایجابوونکی او مشتري قبلوونکی نومول کېږي (۲: ۲).

د فقهاؤو له انده د بیعې د عقد ارکان درې دي، چې عبارت دي له:
لومړی رکن: د عقد صیغه (ایجاب او قبول)
دویم رکن: متعاقدین ( بایع او مشتري)
درېیم رکن: معقود علیه (د عقد ځای) (۹: ۱۶ـ۱۷).

## دويم مبحث: د عربون ( بيعانې) قرارداد

په دې عنوان کې موږ په دې بحث کوو، چې د عربون (بيعانې) قرارداد په اړه اسلامي شريعت څه ډول دريځ لري او همدارنګه د عربون (بيعانې) قرارداد په اړه احاديث او د افغانستان مدني قانون څه وايي، چې په لاندې ډول يې يادونه کوو.

### لومړی مطلب: د عربون (بيعانې) قرارداد پېژندنه

بيعه چې په فارسي ژبه کې ورته پيش‌بها وايي، د عرف په لحاظ په ټولنه کې واکمن عرف دی، نو همدا عربون (بيعانه) بايد د عرف له لحاظه وپېژنو. دا چې عربون (بيعانه) په قرارداد کې هغه پيسې دي، چې د مشتري له‌خوا بايع ته ورکول کېږي او د تصميم په قالب کې د بايع بندول دي، چې له قرارداد څخه انصراف ونه کړي او بالمقابل بايع د دې احساس ونه کړي، چې ګويا مبيعه به بېرته په بايع تاوان او له خرڅلاو څخه به پاتې شي، يا هغه اندازه پيسې دي، چې مستأجر يا خريدار يې د توافق د انجام لپاره تاديه کوي(۱۴: ۱۰).

عربون (بيعانه) قرارداد د بيعې کلمې مشتق دی، په کار ده چې په بيعه هم لږه رڼا واچوو.

### دويم مطلب: بيعه

شيخ عبدالرحمان الجزايري د حنفي فقهې له نظره د بيعې لپاره داسې تعريف وړاندې کړی دی: هو مبادلة السلعة باالنقد علی وجه مخصَوص. ژباړه: بيعه د يوې ځانګړې طريقې له مخې په نغدو د جنس تبادلې ته وايي. يعنې کله چې جنس رانيسي، بايد د جنس د رانيولو لپاره نغدې پيسې ورکړل شي، چې د شيخ عبدالرحمان الجزايري په قول همدې ډول تبادلې ته بيعه وايي(٦: ۳۵).

د ايران د مدني قانون په ۳۸۸ ماده کې بيعه داسې تعريف شوې ده:
بيعه د عين ملکيت دی، په معلوم عوض کې د عين ملکيت دی(۱۲: ۳۸۸).
همدارنګه په البحر الرائق شرح کنز الدقائق کې چې د کتاب مؤلف زين الدين بن ابراهيم بن محمد الشهير بابن نجيم دی او دغه کتاب په ۹۷۰ هـ. ق کې ليکل شوی، دغه راز د حنفي فقهې د مذهب لاروی دی، د بيعې لپاره داسې تعريف وړاندې شوی دی: مبادلة المال با المال. ژباړه: يعنې د مال تبادله ده په مال سره، په خوښه او رضا.

د بیعې لپاره په اسلامي شریعت کې بېلابیل تعریفونه شوي دي، چې په ټولو تعریفونو کې د تبادلې په حیث قبوله شوې ده، لکه د مالکي علماؤو په اند د عوض په مقابل کې تبادله ده؛ خو له امتیاز سره مل. د شافعي علماؤو په قول بیا د پیسو په مقابل کې د معلوم ملکیت انتقالول دي، همدارنگه د حنابلهوو په اند بیا په دایمي توگه د گټې انتقالول دي، بدون له سود او ربا څخه په دایمي توگه د گټې انتقالول.

پورته تعریفاتو ته په کتو موږ ته دا په ډاگه شوه، چې د پیسو په بدل کې یا د عوض په بدل کې د عوض او ملکیت تبادله ده.

دا چې دا تبادله په اسلامي شریعت کې څنگه حکم لري؟ حرمت او مشروعیت یې شته که نه؟ په دې اړه لازمه بولم، چې په یو جلا او بېل عنوان کې یې په مشروعیت خبره وکړو او دا کار خپل هدف ته د رسیدو لپاره له موږ سره کومک کوي، چې له مشروعیت نه یې وروسته، د روا او ناروا بیعې شکل پیدا کړو او بیا په ناروا بیع کې د عربون (بیعانې) په اړه بحث وکړو(٦: ٢٧٧).

**درېیم مطلب: د بیعې مشروعیت**

دا چې بیعه په اسلامي شریعت کې مشروعیت لري، نو لومړی یې په قرانکریم کې گورو.

**په قران الکریم کي د بیعې مشروعیت:**

د اسلام دین یو کامل او هراړخیز دین او له ځان سره د بشري ژوند ټولو خواوو ته شامل احکام لري او دا احکام د انساني ژوند ټولې نیمگړې خواوې ترتیب او تنظیموي. دا چې بیعه د معاملاتو اساس او بنیاد تشکیلوي او په انساني ژوند کې هیڅ داسې انسان نشته او یا داسې ټولنه نشته، چې د خپل ژوند ټول ضرورتونه په خپله پوره کاندي، نو په همدې خاطر باید له نورو انسانانو او یا هم له نورو ټولنو سره تعامل وکړي، ترڅو د ژوند ناتکمیله ضرورتونه پوره او بشپړ کړي. په همدې خاطر باید د ضرورت وړ توکي تبادله کړي، چې د ژوند د ضرورتونو د رفعې په خاطر اخیستل او خرڅول مطرح کېږي. دغه اخیستل او خرڅول په اسلام کې څه حکم لري؟

الله (ج) په قران عظیم الشان کې فرمایي:

(وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا) (سورت البقرة:٢٧٥).

ژباړه: او الله ج حلاله گرځولې ده بیعه؛ مگر حرام شوی دی سود(١٠:ص:٢٢٩).

دلته هغه کسانو چې سود یې کاوه او له سود څخه ورته ډېره ګټه راتله، نو تل یې سود کاوه؛ خو د سود حرمت په اسلامي شریعت کې یو ځانګړی حکمت لري او هغه دا چې اسلام د عدل دین دی او په دې دین کې هېڅوک باید له چا نه متضرر نه شي، حال دا چې په سود کې د عوض ترڅنګ ډېره او مفته ګټه د سودکوونکي جیب ته ځي او دې سره یو طرف ته ضرر رسیږي او بل طرف ته پرته له زیان څخه ګټه مطرح کیږي. له همدې امله د اسلام دین د عدل دین دی، د همدې چارې د مخنیوي په خاطر الله (ج) سود حرام وګرځاوه او بل دا چې د اسلام دین د کومک او تعاون دین دی، نو د سود پر ځای دې انساني همدردي او کومک وشي، چې دغه چاره اسلامي شریعت ستایلې ده.

همدارنګه په بل ځای کې الله ج فرمايي:

(وأشهدوا إذا تبايعتم..) (سورت البقرة:۲۸۲).

ژباړه: اخیستل او خرڅول په حضور کې وکړئ (۱۰:ص:۲۳۷).

دلته یې د مشروعیت ترڅنګ د بیعې لپاره حضور هم شرط بللی دی. په بل ځای کې الله ج فرمايي:

(ليس عليكم جناح أن تبتغوا فضلا من ربكم...) (سورت البقرة:۱۹۸).

ژباړه: نشته ده ګناه پر تاسو که تجارت مو وکړو د حج د ادا کولو پر مهال(۱۰:ص:۲۵۳).

دا چې په اسلامي شریعت کې د حج موقف لوړ او ځانګړی ځای لري، د حج د ادا پر مهال هم بیعې ته اجازه ورکړل شوې، نو په نورو عادي حالاتو کې پرې هېڅ نوع پابندي نشته.

**څلورم مطلب: د بیعې ډولونه**

بیعه ډېر اقسام لري او بېلابېل ډولونه یې شته، همدارنګه په ټولنیز ژوند کې روا او ناروا بیعې هم شته، نو په همدې خاطر باید ټول خلک روا او ناروا بیعې وپېژني، ترڅو د ناروا بیعې په سبب د ګناه مرتکب نه شو. دلته د روا بیعو په هکله د معلوماتو له وړاندې کولو څخه ډډه کوو؛ یوازې د ناروا بیعې په اړه لنډ بحث کوو.

**د باطلې بیعې ډولونه:**

باطل والی هغه وخت مطرح کیږي، چې په اصل کې نقص موجود وي. د باطلې بیعې په ډولونو په لنډ ډول بحث کوو.

۱ــ د معدوم شي خرڅلاو: د ټولو فقهاوو په دې اتفاق دی، چې د معدومو اشیاوو خرڅول او پلورل منع دي، لکه د غوا په غولانځه کې د شیدو خرڅول (۹: ۵۳).

۲ــ د نه تسلیمیدونکو اشیاوو خرڅول: هغه اشیاء چې کس يې په تسلیم قادر نه وي، دا بیعه نه صحیح کېږي، لکه په هوا کې مرغان یا د هوا خرڅول (۸: ۴۸).

۳ــ د غرر یا دوکې بیعه: غرر په لغت کې خطر، دوکې او یا هم ضایع کېـدو ته وایي، یا په ښکاره او ظاهري ډول ښه او ښکلي؛ مگر په باطن کې خراب او ناکاره وي؛ ځکه دنیا ته متاع الغرر وایي.

امام سرخسي وایي: غرر هغه عمل ته وایي، چې د عمل پای معلوم نه وي.

امام القرافي مالکي وايي: هغه عمل دی، چې د عملي کېدو او نه عملي کېدو په اړه يې هیچا ته معلومات نه وي.

امام ابن تیمیه وایي: هغه عمل ته ویل کېږي، چې پای او انجام يې مجهول وي.

نو په لنډ ډول وایو، چې غرر عبارت له هغې بیعې څخه دی، چې له عاقدینو څخه یې ضرر یو طرف ته رسېږي او اسلامي شریعت د داسې بیعې منعه راوړې ده(۱۱: ۵۳).

۴ــ د چټل او مردار شي خرڅول: د چټلو او مردارو شیانو خرڅول او اخیستل روا نه دي او له دې بیعې څخه منع راوړل شوې ده، د چټلو او مردارو شیانو په برخه کې د شرابو او خنزیر او داسې نورور شیانو یادونه کولای شو، چې د داسې شیانو خرڅول منعه دي، د حیواناتو د موادو خرڅولو هم منعه راوړل شوې ده؛ مگر احناف دې ټکي ته مشروعیت ورکوي او هغه په دې خاطر چې د حیواناتو د فاضله موادو څخه د سرې په ډول استفاده کېدلای شي او د همدې استفادې په خاطر حلاله گرځیدلې ده، د احنافو په نزد د څیرونکو حیواناتو، لکه سپي خرڅول هم مشروع بلل شوي؛ مگر په دې برخه کې بیا د نورو مذهبونو پیروان مخالفت کوي او دا حدیث دلیل نیسي: ( نهي النبي صلي الله علیه وسلم عن ثمن اکلب)(۱: ۲۲۲).

د دوی په نزد د سپي او حشراتو او نورو مضره شیانو له اخیستلو څخه منعه راوړل شوې او دا هغه شیان دي، چې هیڅ گټه نه لري او په اسلامي شریعت کې هغه شیان چې گټه نه لري، ارزښت او قیمت نه لري، نو په همدې خاطر چې دغه شیان ارزښت نه لري او د عوض په مقابل کې نه معاوضه کېږي. خلاصه خبره دا شوه، چي په داسې شیانو بیعه نه صحیح کېږي، چي ارزښت ونه لري او د مال په تعریف کې هم د ارزښت کلمه مطرح ده، که چېرته یو شی په اسلامي شریعت کې ارزښت ونه لري، مال يې نه بولو.

۵ــ بیع العربون (بیعانه): دا بیعه هم د هغو بیعو په لیکه کې ده، چې په اسلامي شریعت کې باطله ده؛ ولې یوه ډله فقهاؤو ورته جواز ورکړی دی، چې په همدې موضوع پراخ بحث کوو.

د عربون کلمې تلفظ د عین په زور سره دی او په همدې ډول د عین په پیښن سره او د را په سکون سره هم لوستل کېږي، چې مانا او مفهوم یې په لغوي لحاظ تقدیمول، وړاندې کول، پیشکي او تسلیف دی.

په اصطلاح کې د عربون (بیعانه) تعریف داسې شوی دی: له هغې بیعې څخه عبارت ده، چې بایع له مشتري څخه وړاندې تر دې چې مبیعه تسلیم کړي، د قیمت یوه برخه ترلاسه کړي. دغه پیسې چې د اصل د قیمت جز دی او د مشتري له خوا بایع ته ورکول کېږي، نو همدغه پیسې بایع او مشتري دواړه د عقد د انعقاد د اجرا لپاره ملزموي او همدغه ډول بیعې ته عربون وایي (۹: ۵۷).

که د یو شي د خرید لپاره مشتري بایع ته یو څه د رقم د تصفیې لپاره ورکړي او دوکاندار دا شرط کېږدي، که دا شی دې وانه خیست، نو رقم به بېرته نه درکول کېږي، دې قسم بیعې ته بیع العربون (بیعانه) وایي (۷: ٦۳۰).

مثلاً د عربون (بیعانې) د بیعې مثال په دې ډول ورکولای شو، چې یو کس د احمد په نوم موټر واخیست، دغه مشتري دا موټر له محموده واخیسته، د موټر معلوم قیمت (۲۵۰۰۰۰) افغانی دی، پـه داسې حال کې چې مشتري له (۲۵۰۰۰۰) افغانیو څخه (۲۵۰۰۰) افغانی د موټر له تسلیمۍ وړاندې ورکوي، چې همدغه (۲۵۰۰۰) افغانۍ چې مخکې له مخکې ورکول کېږي، عربون (بیعانه) یا پیشکي ده، چې د دغه عربون (بیعانې) رول په عقد کې همدا موضوع وه.

په دې ډول بیعه کې د مشتري او بایع دواړو لپاره خیار شته او کولای شي، چې له طرفینو څخه هر لوری ورڅخه وګرځي، خو په دې شرط چې که مشتري ګرځي، نو ورکړل شوی عربون (بیعانه) نه شي اخیستلای او که بایع ورڅخه انصراف وکړي، نو اصل عربون (بیعانه) او د اصلي عربون (بیعانې) معادل به هم ورکوي.

اوس راځو دې ته، چې دغه ډول بیعه په اسلامي شریعت کې د باطلې او که د صحیح بیعې په ډول واضح شوې ده، په راتلونکي بحث کې د بیعانې په حکم څېړنه کوو (۷: ٦۳۱).

**د عربون (بیعانې) حکم:**

په دې کې د مشتري لپاره خیار شته او هغه دا چې د موافقې په صورت کې عربون (بیعانه) د پیسو د قیمت او نرخ جز گرځول کېږي او که مبیعه یې رد کړه؛ نو عربون (بیعانه) یې له لاسه ورکړه، دا ډول بیعه د جمهورو علماؤو په نزد ممنوع او غیرصحیح بیعه ده.

خو بیا د احنافو په نزد فاسده او د نورو له نظره باطله بیعه ده.

رسول الله (ص) په دې هکله فرمایلي دي: (نهى عن بيع العربان) ژباړه: رسول اکرم ص (د عربون (بیعانې) له بیعې څخه منعه کړې.

په دې بیعه کې د چل او دوکې او په ناروا ډول د نورو د مالونو خوړلو خطر شته او د دې برسېره دوه نور فاسد شرطونه لري او هغه په شریعت کې ارزښت نه لري.

دا هغه شرطونه دي، چې بایع له عوض او معاوضې پرته منلي او په شریعت کې جواز نه لري. د دې سربېره د مبیعې د ردولو خیار ورته تر یوې نامعلومې مودې پورې ورکړل شوی، چې دا یو مجهول اختیار دی او د امام احمد بن حنبل په نزد د عربون (بیعانې) بیعه روا ده او د خپل مذهب د تقویې لپاره د حضرت زید بن اسلم په حدیث استدلال کوي، چې فرمایي: سئل رسول الله العربان فيه البيع فاحله. ژباړه: د رسول الله( ص) نه په بیعه کې د عربان په اړه وپوښتل شول، هغه یې په ځواب کې وویل: حلال دی. له نافع بن صفوان څخه روایت دی، چې هغه د حضرت عمر لپاره له صفوان بن امیه څخه په ( ۴۰۰۰) درهمو د محبس لپاره کور واخیسته، د دې خبرې سپیناوی شوی و، که چېرې د حضرت عمر خوښ شو، نو بیعه صحیح او که چېرته یې خوښ نه شو، نو حضرت صفوان ته به (۴۰۰ ) درهم ورکوي(۹: ۵۹).

زموږ په ټولنه کې د عربون (بیعانې) بیعه مروجه ده او ډېرې تجارتي معاملې د همدې ډول بیعې په شکل سرته رسېږي، نو معمول دی، چې د دا ډول منازعاتو گواهان هم باید واوسیږو.

کله چې د قانون د تصویب وخت وي، نو مقنن د هېواد حالاتو او شرایطو ته په کتو قانون وضعه کوي، دا چې په افغانستان کې د دا ډول بیعې اجرا ډېره وه، نو د همدې لپاره د عربون (بیعانې) لپاره هم په قانون کې ځای لرو(۹: ۵۸).

**پنځم مطلب: عربون (بیعانه)**

دا چې کله عربون (بیعانه) په بیعه کې واخیستل شي او بیعانه په بیعه کي مطرح شي، نو دا ډول بیعه د عربون (بیعانې) بیعه ده، چې په دې برخه کې مو کافي بحث وکړ، اوس لازمه ده، چې خپله د عربون (بیعانې) په حکم خبره وکړو.

د تېر په څېر چې مخکې مو بحث پرې وکړ، عربون (بیعانه) د جمهورو فقهاؤو په نزد صحیح بیعه نه ده او دوی د ابن ماجه حدیث د دلیل په ډول نیسي، چې وایي، نهی عن البیع العربون. ژباړه: نبي کریم ص د عربون له بیعې څخه منعه راوړې ده.

**شپږم مطلب: عربون (بیعانه) په قوانینو کې**

عربون (بیعانه) په اسلامي شریعت کې مشروع ده او که نه؟ په دې برخه کې مو مفصل بحث وکړ. اوس د هېوادونو قوانینو ته یوه لنډه کتنه کوو، چې په سر کې یې هم د افغانستان قانون ګورو.

**د عربون (بیعانې) په اړه د افغانستان د مدني قانون موقف:**

د افغانستان مدني قانون په (۴۳۲) ماده کې داسې حکم لري: د عقد د تړون په وخت کې د بیعانې ورکول د عقد پر قطعیت دلیل ګڼل کېږي؛ مګر دا چې طرفین پرې توافق یا عرف بل ډول تصریح کړې وي.

۲ بند: که بیعانه ورکوونکی لــه عقــد څخه منصرف شي، نو د بېرته اخیستلو حــق یې نــه لري او که اخیستونکی یې منصرف شي، نو اصلي بیعانه او د هغه معادل به هم ورکوي(۷: ۵۳۱).

د مدني قانون د یادې مادې محتوا ته په کتو دا معلومېږي، چې د بیعانې نه پیداکیدونکو منازعاتو ته د حل په موخه لاره لرو.

د همدې قانون په (۵۲۳) ماده کې داسې حکم راغلی دی: که هغه التزام چې د هغې په اثر بیعانه ورکول شوې، نافذ شي، نو بیعانه د اصل قیمت جز وضعه کېږي(۷: ۵۳۲).

**۵۳۳** ماده: که د عقد تنفیذ د هغو علتونو په بنا چې د عقد د دواړو خواوو څخه د یوه د قصور څخه هم نه وي، پیدا شوې، ناممکن شي، یا عقد د دواړو خواوو د خطا یا موافقې په اثر فسخه شي، بیعانه بېرته ورکول کېږي(۷: ۵۳۳).

**نتيجه گيري:**

د نتيجه گيرئ په برخه کې ويلی شو، چې عربون (بيعانه) په ټولنيز عرف کې يو مروج شی دی، خو د دې ترڅنگ په اسلامي فقه کې ياده موضوع گورو، نو لومړی اختلاف او اتفاق ته گورو، هغو دلايلو ته په کتو يو قول د منعې دی، چې د ابن ماجه حديث مو رانقل کړ، چې نهى عن البيع العربون. ژباړه: نبي کريم ص د عربون له بيعې څخه منعه راوړې ده.

دا حديث مبارک د هغه چا دليل دی، چې د عربون (بيعانې) قرارداد مخالف دی، په دويم قدم کې بيا د موافقينو دليل د حضرت عمـــر رض د وخت خبره ده، چې د محبس لپاره يې د صفوان بن اميه کور رانيوه او د هغه عربون (بيعانه) يې ورکړې وه.

تر دې وروسته ياده موضوع د افغانستان په مدني قانون کې تصريح شوې ده او د افغانستان مدني قانون په خپل بطن کې يادې موضوع ته ځای ورکړی دی، چې د عقد د تړون په وخت کې د بيعانې ورکول د عقد پر قطعيت دليل گڼل کېږي؛ مگر دا چې طرفين پرې توافق وکړي، که بيعانه ورکوونکی له عقد څخه منصرف شي، نو د بېرته اخيستلو حق يې نه لري او که اخيستونکی يې منصرف شي، نو اصلي بيعانه او د هغه معادل به هم ورکوي، خو که د عقد د دواړو خواوو د خطا يا موافقې په اثر فسخه شي، بيعانه بېرته ورکول کېږي.

**وړانديزونه:**

د عربون (بيعانې) رول په قرارداد کې څېړل، د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو له مخې د دې څېړنې پر مهال بنده يو څه اړتياوې درک کړې، هيله ده، چې اړوند اشخاصو ته ورسېږي او غور پرې وکړي.

۱: په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت او بيا په خاص ډول د لوړو زده کړو وزارت ته وړانديز کوم، چې د هېواد د ټولو پوهنتونونو د عقد اړوند تدريسي کتابتونه په اسلامي اثارو غني کړي او د عربون (بيعانې) قرارداد موضوع دې پکې ځای پر ځای کړي.

۲: د حقوقو او شرعياتو پوهنځيو محصلان دې د علمي سويې د لوړاوي په خاطر د قوانينو او اسلامي شريعت په رڼا کې د دغه قرارداد په پرتله او مقارنه کار وکړي.

۳: دا چې عربي ژبه د حقوقو او شرعیاتو محصلانو ته ډېره اړینه او ضروري ده، نو محصلین باید په عربون (بیعانې) قرارداد باندې د ښه پوهېدو په خاطر په ښه توګه له عربي آثارو استفاده وکړي.

۴: د فقهي ډېر کتابونه لیکل شوي او اکثره یې په عربي ژبه دي، د مجربو او په عربي ژبې له حاکمو استادانو څخه تقاضا کوم، چې د پښتو ژبې د غني کېدو لپاره دې د عربي ژبې کتابونه پښتو ته راوژباړي.

**مأخذونه**

القران

۱- بخاری، محمد بن اسماعیل. (۱۹۴هـ ق). صحیح البخاری. نشر: محمد ابوالفضل ابراهیم. بیروت.

۲- الدردیر، احمد. (۱۲۳۰هـ ق). الشرح الکبیر بحاشیه الدسوقي. الجزء: الثالث. نشر: مطبعه البابي الحلبي. مصر.

۳- الرازی، محمد بن بکر بن عبدالقادر. (۱۹۸۲م). مختار الصحاح. النشر: منشورات الحلبي الحقوقیة. بیروت.

۴- السنهورې، عبدالرزاق. (۲۰۰۰م). الوسیط، الجزء السابع، الطبعه الثالثة. نشر: منشورات الحلبي الحقوقیة. بیروت.

۵- ابن عابدین، محمد آمین. (۱۴۲۳هـ ق). حاشیه رد المختار علی الدر المختار، الجزء الرابع. النشر: عالم الکتب. مملکه العربیه السعودیه.

۶- ابن نجم، زین الدین. (۱۹۸۹م). البحر الرائق شرح کنز الدقائق. النشر: دارالمعروف. بیروت.

۷- ندوی، نجیب الله. (۱۳۹۵هـ ش). اسلامي فقه. نشر: تاج کمپنی لمتید. لاهور. پاکستان.

۸- نیازی، محمد مصطفی. (۱۳۹۵هـ ش). د قراردادونو مقایسوي حقوق. نشر: سلیم خپرندویه ټولنه. ننګرهار. افغانستان.

۹- وقار، دل آقا. (۱۳۹۴هـ ش). په څلورګونو مذهبونو کې د بیعې پرتلیزه پیژندنه. نشر: مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار. افغانستان.

۱۰ـ د افغانستان د سترو علماو یوه ډله.(۱۴۱۴هـ ق).کابلی تفسیر.جلد:۱.د حرمینو شریفینو د خادم پادشاه فهد د قران کریم د طباعت لپاره.

۱۱- د افغانستان مدني قانون. (۱۳۵۵هـ ش). د عدلیې وزارت رسمي جریده. پرلپسې ګڼه (۳۵۳).

۱۲- د ایران مدني قانون. (۱۳۰۷هـ ش). مصوبه و جریده (۲۸).

۱۳- د فرانسې مدني قانون. (۱۳۷۷هـ ش). پرلپسې ګڼه (۵۷۹).

۱۴- ویب سایت حوزه. فصلنامه فقه اهل بیت فارسی. شماره:۱۰.

# په خوست ولايت کې د ماشومانو په راتلونکي او ټولنيز ژوند باندې د شاقه کارونو اغېزو څېړل

پوهنمل قدرت الله صديقي او پوهنيار امير محمد صابر، شيخ زايد پوهنتون، ټولنيزو علومو پوهنځی، ټولنپوهنې او فلسفې څانګه
برېښناليک: qudratullahsadiqi@gmail.com، amirmsabir@gmail.com

**لنډيز**

د تاريخ په اوږدو کې له ماشوم څخه د مزدور په توګه کار اخېستل په بېلا بېلو کچو تر سره شوي دي. د ماشومانو شاقه کارونه يوه نړيواله ستونزه ده، چې په ټوله نړۍ کې يې ماشومان اغېزمن کړي، ډېری ماشومان د دې ستونزې څخه ځوريږي او د تاوتريخوالي بېلابېلو ډولونه تجربه کوي. ډېری ماشومان چې عمرونه يې د ۱۸ کلونو څخه کم دي، په بېلابېلو سکتورونو کې کار کوي. په درېيمې نړۍ هېوادونو کې د ماشومانو د کار عمده لاملونه بې وزلي، بې کاري، بې سوادي او د زده کړو نه شتون دی، چې ماشومان له خپل ماشومتوب څخه بې برخې کوي، په منظم ډول ښوونځي ته د ماشوم په تګ کې خنډ واقع کيږي او همدا کار له رواني، بدني، ټولنيز او اخلاقي اړخونو ماشوم ته زيان رسوونکی وي. په ټوله نړۍ کې له ماشوم څخه داسې ناوړه ګټه اخيستل، د قانون له مخې منع دي او دا ټول لاملونه د ماشوم په راتلونکي او ټولنيز ژوند ژورې منفي اغېزې لري. ماشوم د ټولنې راتلونکی دی او د ښه ژوند ټولې هيلې ور پورې تړلې دي، د هرې ټولنې کاري ځواک، چې د پوهې او مسلک په ګاڼه سنبال وي؛ نو د هغې ټولنې پرمختګونه په هره برخه کې چټک او محکم وي. ماشوم د سبا ورځې هغه ځوان دی، چې زموږ د ټولنې راتلونکی ورته سترګې لري: نو د دې کاري ځواک سالمه ساتنه لازمه ده، که چېرې د ماشومانو راتلونکي او ټولنيز ژوند ته پاملرنه ونه شي؛ نو د بېلا بېلو لاملونو له مخې ټولنې دا ځواک له لاسه ورکوي. د څېړنې د موندنو څخه دا څرګنده شوه، چې په ماشومانو درانده کارونه زموږ د ټولنې په راتلونکي نه جبرانېدونکي او د دوی د ژوند په هر اړخ منفي اغېزې لري. ددې څېړنې هدف دا و، چې د ټولنې راتلونکی نسل د خپل حق غوښتلو د بيان توان نه لري؛ نو بايد د دوی حقوق تأمين او د ژوند د ټولو حقوقو څخه برخمن شي. په ماشومانو باندې د درانده کارونو د مخنيوي په لارو چارو کې والدين، دولت، د ټولنې ديني او خيريه بنسټونه، رسنۍ او د ټولنې نخبه وګړي مهم رول ادا کولای شي. په دې څېړنه کې د ډاټا راټولولو لپاره د کيفي (مرکه، موردي مطالعه) او کمي (پوښتنپاڼه) دواړو څېړنيزو ميتودونو څخه استفاده شوې ده.

**کليدي کلمې**: بې وزلي، ټولنيز ژوند، د شاقه کارونو لاملونه، شاقه کارونه، ماشومان

**سریزه**

حَامِدًا وَّمُصَلِّيًا وَّمُسَلِّمًا، اَلْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِ المَوْجُوْدَاتِ الَّذِي قَالَ أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلا فَخْرَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَأَتْبَاعِهِ إِلَى يَوْمِ الْحَشْرِ، أَمَّا بَعْدُ:

اولاد یو ستر الهي نعمت دی: { وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ۝ وَبَنِينَ شُهُودًا ۝ } (المدثر ۱۳-۱۲)

ژباړه: او (بیا مې ) ده ته ډېر زیات مال ورکړ او زامن حاضر.

اولاد د دنیا زینت دی: { الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا } ( الکهف ٤٦ ).

ژباړه: مال او زامن د دنیایي ژوند زینت دی.

په عین حال کې د اولاد اصلاح او تربیت یو مسئولیت دی، الله سبحانه وتعالی فرمایي: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ } ( التحريم : ٦ )

ژباړه: اې مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل اهل عیال له هغه اور څخه وساتئ، چې خس یې خلک او تیږې دي.

وَ قَالَ عَلَيْهِ اَلسَّلَامُ :كُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَ اَلْأَمِيرُ اَلَّذِي عَلَى اَلنَّاسِ رَاعٍ وَ هُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَ اَلرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَ هُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَ اَلمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى أَهْلِ بَيْتِ بَعْلِهَا وَ وُلْدِهِ وَ هِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ وَ اَلْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَ هُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ أَلاَ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ.

ژباړه: هر یو د تاسې راعي (شپون) دی او هر یو د تاسې د خپل رعیت ( لاس لاندې کسانو) په برخه کې مسؤول دي ( د رعیت په اړه به له ده څخه پوښتنه کېږي). د ټولنې رهبر د خپل رعیت شپون او د خپل رعیت مسؤول دی، سړی د خپل کور د اهل مسؤول دی، ښځه د میړه په کور کې د خپل اولاد شپنه او مسؤوله ده. (البخاري: ۸۵۳)

له عمرو بن سعید رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي: (مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ ) (رواه الترمذي). ترجمه: یو پلار چې خپل زوی ته ښه اداب ور زده کړي، تر دې بله ښه ورکړه نشته.

د ماشوم درانده کارونه یا مزدوري کولو اصطلاح، له ماشوم څخه د هر ډول کار په بڼه، هغې ناوړه ګټې اخېستنې ته ویل کېږي، چې ماشومان له خپل ماشومتوب څخه بې برخې کوي، په منظم ډول ښوونځي ته د ماشوم په تګ او د هغې د وړتیا په غوړېدو کې خنډ رامنځته کېږي او همدا کار له رواني، بدني، ټولنیز او اخلاقي اړخه زیان رسوونکی وي. په ټوله نړۍ کې له ماشوم څخه داسې ناوړه ګټه اخیستل، د قانون له مخې منع دي، یو لړ استثنائات لري، لکه: د ماشوم تخنیکي یا مسلکي کار زده کول، د کورنۍ لپاره دندې تر سره کول او نور داسې روزنیزې برنامې تعقیبول.

د ماشوم څخه د تاریخ په اوږدو کې د مزدور په حیث کار اخېستل په بېلا بېلو کچو ترسره شوي دي، د نولسمې پیړۍ په اوږدو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې، د بې وزلو کورنیو څخه د پنځو تر څوارلسو کلونو عمر لرونکو ماشومان په لوېدیځو هېوادونو او هم د هغوی په مستعمرو کې کار اخېستل کېده. په

عمومي ډول د ماشومانو څخه په کروندو، په کورنیو کارونو، کان کېندنو، فابریکو، د خبرونو رسولو او په ځینو ځایونو کې به د شپې پرمهال هم کار کاوه، چې تر دوولسو ساعتونو اوږېدل له کورنیو څخه د عاید ترلاسه کولو په پیلېدو، د ښوونځیو زیاتېدو او د ماشوم د مزدورۍ د قوانینو تصویب، له ماشومانو څخه د مزدور په توګه د کار اخېستلو پېښې کمې شوي دي.

https://en.wikipedia.org/wiki/Child_labour

په ټوله نړۍ کې د کرنې په برخه کې تر ټولو زیات ماشومان په مزدورۍ ګمارل شوي دي. ماشوم مزدوران په کلیوالو سیمو او رسمي اقتصادي سیمو کې موندل کېږي او د کارخانو پر ځای تر ډېره بریده ماشومان د هغوی مور او پلار په کار ګماري. بې وزلي او د ښوونځیو کمښت د ماشومانو د مزدورۍ لومړی لامل دی.

د ماشومانو مزد ډېری وختونه لږ وي، د دوی مزد د یو بالغ د مزد په پرتله له لسو څخه تر شلو سلنه کم وي. کارل مارکس د ماشومانو د مزدورۍ یا درندو کارونو کولو کلک مخالف و، هغه به ویل: برتانوي صنعت د ماشومانو وینې په رودلو سره دوام پیدا کړ او همدا راز د متحده ایالاتو د پانګې مالي مرسته د ماشومانو د وینو په پانګونې سره شوې ده (۱۲:۶۶۹).

په ماشومانو شاقه کارونه کول په ټوله نړۍ کې یوه ستره ستونزه ده، (هنډ من، ۲۰۰۹ م). ډېری ماشومان د دې ټولنیزې ستونزې څخه رنځ وړي او دوی په خپل ژوند کې تاوتریخوالی تجربه کوي. د ماشومانو د شاقه کارونو کولو اصل لامل د زده کړې نشتوالی او بې وزلي ده. (۱۱: ص: ۲).

ماشومتوب د انسان د ژوند تر ټولو حساس پړاو دی، دا د ژوند هغه پړاو دی، چې ماشوم په کې د هر ډول فشار څخه ازاد وي. دا د مینې، لوبو کولو، د نویو شیانو زده کولو او په کورنۍ کې د ټولو وګړو لپاره د خوښۍ یوه ذریعه وي. په دې پړاو کې ماشوم په کورنۍ باندې ډېر ګران وي او د ماشوم لپاره مینې، لوبې کولو او د نویو شیانو زده کولو مهمه مرحله ده؛ خو دا د دې قضیې یو اړخ دی، بل اړخ یې د فشار او د دروند مسؤولیت څخه ډک دی. ماشوم د کورنۍ لپاره د عاید ماشین په توګه کار کوي. د کورنۍ د اړتیاوو او غوښتنو د پوره کولو لپاره ټوله ورځ بوخت وي او کار کوي، دې ته شاقه (درانده) کارونه وايي. (انیاګروال ۲۰۰۹) ( ۷، ص: ۵۷).

د ماشومانو کار د بې وزلۍ یو اړخ دی، دا موضوع په تجربوي ادب کې شتون لري، یعنې د دې په اړه ډېری ساحوي څېړنې شتون لري. ستونزه دا ده، چې ایا د ماشوم درانده کارونه د اقتصاد له پلوه مؤثر دي او ایا دا د ماشوم د ښوونځي په لاسته راوړنو او شخصي پرمختګ کې خنډ واقع کېږي. انابیل (۲۰۰۸) د ماشومانو کار کول یوه جدي ستونزه ګڼې؛ ځکه چې دا د ماشومانو فکري، معنوي او فزیکي وده د تباهی سره مخ کوي. دا ستونزه د هغه ماشومانو لپاره نوره هم خطرناکه ده، کوم ماشومان چې په خطرناکو صنعتونو کې کار کوي. دا نظریه د ماشومانو د کار کولو لپاره یوه لومه ده. که چیرې یو ماشوم ټوله ورځ په کار وګمارل شي، ماشوم بې‌سواده پاتې کېږي او وروسته د بالغ په توګه ټیټ تولید لري؛ نو دا کړنه د

لویانو د بې‌کارۍ لامل کېږي. یو لوی خبرداری دا دی، چې د ماشومانو د کار د دا ډول اوږد مهاله متحرکو پایلو خورا لږه درملنه شتون لري (انابیل ۲۰۰۸) (٦: ص ۸).

د (۲۰۱۰ م) بینټ، هوډني او شیر په وینا: د کار نړیوال سازمان (ILO) اټکل کړي، چې (۲۴٦) ملیونه ماشومان، چې عمرونه یې د ۵-۱۷ کلونو ترمنځ دی، اوسمهال په داسې شرایطو کې ژوند کوي، چې غیر قانوني، خطرناک یا قوي استثمار (استحصال) ګڼل کېږي. کم عمره ماشومان په ټوله نړۍ کې په هر ډول کارونو کې کار کوي، لامل یې دا دی، چې د دوی کورنۍ خورا بې وزله دي. لوی شمېر ماشومان په سوداګریزه کرنه، مزدورۍ، کب نیولو، تولید، کان کېندنې او په کورنیو خدمتي چارو کې کار کوي. ځینې ماشومان په ناقانونه فعالیتونو کې کار کوي، لکه: د مخدره توکو، سوداګرۍ، فاحشه یا نورو دردناکو فعالیتونو، د سرتېرو خدمت کول او داسې نور... . د ماشومانو په کار کې ښکېلتیا د هېواد د لږ عمر قانون څخه سرغړونه ده او ښوونځي ته تګ کې خنډ واقع کیږي، چې په دې سره د کار معیارونه کمزوري کېږي او د ماشومانو فزیکي، رواني او احساساتي هوساینه تهدیدوي. د دې کار ناوړه ګټه اخیستنه لکه: غلامي، د ماشومانو قاچاق، د پور غلامي، جبري کار او غیر قانوني فعالیتونه پکې شامل دي (٦: ص ۹).

**د څېړنې موخې**

- په ماشومانو د شاقه کارونو سره اشنا کېدل.
- د ماشومانو په راتلونکي او ټولنیز ژوند باندې د شاقه کارونو اغېزو پیژندل
- د هغه لارو چارو سره اشنا کېدل، چې د شاقه کارونو مخنیوی کوي
- د اسلام او عصري علومو له نظره د شاقه کارونو مخنیوي قانون/ لارو چارو سره اشنا کېدل

**د څېړنې کړنلاره او مواد**

د څېړنې ساحه

یاده څېړنه په خوست ولایت کې ترسره شوه.

**د معلوماتو منابع**

د ډاټا د را ټولولو په موخه له کتابتوني او ساحوي (کیفي او کمي) دواړو تګلارو څخه استفاده شوې ده، تېرو آثارو ته په کتنه کې مونږ په ماشومانو د شاقه کارونو اغېزو څېړلو په برخه کې یو شمېر چاپ شوي کتابونه او نشر شوې مقالې لوستلې دي او د څېړنې د فرصتونو او ننګونو کلیدي کلمو سره سم مو معلومات ترې په علمي طریقې سره راټول کړي دي او د ساحوي معلوماتو د را ټولولو په موخه له پوښتنپاڼې څخه ګټه اخېستل شوې ده، پوښتنپاڼه د اړونده برخې د مسلکي کسانو تر نظر لاندې جوړه شوې ده. په پوښتنپاڼه کې د نفوس اړونده ټولې فرعي او د موضوع اړونده اصلي پوښتنې ځای پر ځای شوې او همدارنګه د ماشومانو د شاقه کارونو اړونده فرعي ټول مقولات او شاخصونه پکې په پام کې نیول شوي دي. د څېړنې ساحې ته په کتو سره لازمه وه، چې (کیفي میتودونه) مخامخ مرکې او موردي مطالعې څېړنیز میتود نه هم د ډاټا د راټولولو په موخه کار اخېستل شوی دی.

په دې څېړنه کې د کمي او کيفي څېړنیزو میتودونو یعنې (Mixed Method) څخه ګټه اخېستل شوې ده، په کیفي برخه کې د موردي مطالعي(Case Study) څېړنېز میتود څخه استفاده شوې؛ ترڅو موږ په څېړنه کې د ماشومانو د فردي ژوند ځانګړنو څخه خبر او د هغو د ورځینو تجربو او پېښو ځان خبر کړو. په دې څېړنه کې مو د ۲۰ ماشومانو د (موردي مطالعې) قضیې مطالعې اخیستنې لپاره په تصادفي توګه ټاکلي دي. (د مورد څېړنه/ د قضیې مطالعه (Case study) د څرنګوالي یا کیفیت په اساس تحقیقاتو کړنلاره ده، چې د یوه ځانګړې برخه کې د برخه‌والو، یوه کوچني ګروپ یا یوې داسې مؤسسې په هکله مفصل معلومات راټولوي، چې هغه په حقیقي ژوند کې مشاهده کېږي؛ تر څو یو فرد، ډلې، یا هغه اجتماعي پېښه یا پدیده وپېژندل شي، چې هغه ګروپ یا مؤسسه یې منعکسوي).

د قضیې مطالعې په واسطه موږ وکولای شول، چې په تشریحي بڼه د ماشومانو د ژوند شخصي معلومات او پېښې وپلټو.

د کیفي دویم میتود، چې مرکه وه، په دې څېړنه کې مو ترې استفاده کړې ده، د دې په ذریعه د ماشومانو د شاقه کارونو په تړاو د حقوق‌پوهانو، دولتي کارمندانو، د ماشومانو د حقوقو په برخه کې خیریه مؤسسو، د ښوونې او روزنې برخې متخصصینو او د بدن او روان په اړه د ډاکټرانو او د اسلام له نظره د دیني عالمانو سره مرکې ترسره شوې.

**کمي ډاټا:**

کمي ډاټا د دې څېړنې لپاره مهمه ده، دا معلومات د کاغذ پر مخ د سوالنامې له مخې د څېړنې اهدافو او د نمونې اخېستنې میتود ته په کتو د خوست ولایت د وګړو څخه راټول شوي. د پوښتپاڼې په واسطه مو د دوی عمر، زده کړه، د موضوع اړوند په مختلفو بعدونو باندې د ګډونوالو نظرونه او د دې موضوع په اړه پیشنهادونه راټول کړي دي.

**د نمونې اخېستلو میتود او اندازه**

دغه څېړنه د مختلط میتود (Mixed Method) له لارې سرته رسیدلې ده. د څېړنې مسئلې او اهدافو ته په کتو د نمونې له دوه جلا متیودونو څخه استفاده شوې ده، چې عبارت دي له: (۱) کمي برخې لپاره د تصادفي اخېستنې میتود (Simple Random Sampling) څخه کار اخېستل شوی او په تصادفي ډول د خوست ولایت د وګړو، چې شمیر یې ۱۰۰تنه دی، د څېړنې د ګډونوالو په توګه انتخاب شوي دي، دویم د کیفي څېړنې برخې لپاره د قضاوتي نمونې، (Judgmental Sampling Method) چې د( Purposive Sampling Method ) په نوم سره هم یادیږي، استفاده شوې، د یاد میتود له لارې به د څېړنې کیفي برخې لپاره شل نفره داسې کسان د څېړنې د ګډونوالو په توګه انتخاب شي، چې د ماشومانو حقوقو او د شاقه کارونو کولو څخه د رامنځته کیدونکې ستونزې څخه خبر او د حل لارې ورته معلومې وي.

**د ډاټا تحلیل**

یاده څېړنه کې د دوه ډوله (کیفي او کمي) ډاټا څخه کار اخېستل شوي؛ نو د دواړو برخو ډاټا په جلا ډول ترتیب او تحلیل شوې، چې لاندې ډول یې یادونه کوو.

**د کیفي ډاټا تحلیل**

په دې ډاټا باندې د څېړنې اهدافو ته په کتو Qualitative Content Analysis څېړنه ترسره شوې، چې د مرکو او موردي مطالعې څېړنې په ذریعه راټول شوي او تحلیل شوي.

**د کمي ډاټا تحلیل**

په دې ډاټا باندې د څېړنې اهدافو ته په کتو Inferential Statistic استنباطي احصائیه ترسره شوې، چې د پوښتنپاڼې په ذریعه معلومات راټول شوي او (SPSS) سافټویر په ذریعه تحلیل شوې ده.

**د څېړنې اهمیت**

ماشومان د ټولنې یو مهم قشر او راتلونکې ژوند دوی پورې تړلی دی، چې د خپل حق د غوښتلو د بیان توان هم نه لري؛ نو پدې اساس د ټولنې دا مهمه طبقه په اوسني حالت کې د ټولنیزو ستونزو له امله ډېره بد وضیعت کې قرار لري. د دې څېړنې اهمیت دا دی، چې د ماشومانو والدین، مشران، په ټولنه کې نخبه خلک، دولت او ټولنیزه برخه کې مختلف مؤسسات او د بشري حقوقو مسؤلین پر دې پوهه شي، چې پر ماشومانو شاقه کارونه کول نه یوازې د دوی پر اوسني، راتلونکي؛ بلکې ټولنیز، بدني او رواني ژوند باندې هم ژورې منفي اغېزې لري. دا منفي اغېزې څومره او څه ډول دي؟ یاد شوي کسان د ماشومانو وړاندې کوم مسؤلیتونه لري؟ کوم لاملونه دي، چې ماشومان یې شاقه کارونو ته اړ کړي دي؟ څرنګه کېدلی شي، چې پر ماشومانو د شاقه کارونو مخه ونیول شي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې هغه څه دي، چې زموږ د څېړنې منځپانګه جوړوي او د دې موضوع اهمیت په ډاګه کوي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

په اسلامي شرعیت کې د کوچني پېژندنه

علامه ابن اثیر په اسلام کې ماشوم داسې راپېژني: په عربي ژبه کې ماشوم ته ( طفل) وایي، چې اطفال، طفله او نور د نوموړې کلمې د جمع لهپاره کارول کېږي. طفل په لغت کې صبي (ماشوم) ته وایي، چې د صبي کلمه د نارینه او ښځینه ( مذکر او مونث) او د دواړو د جمعې لهپاره هم راځي او د شریعت په اصطلاح کې صبي ( ماشوم) هغه چاته ویل کېږي، چې د ځوانۍ پړاو ته نه وي رسېدلی، یعنې بالغ شوی نه وي، چې دا پړاو د مور له ګېډې څخه له زوکړې نیولې او ځوانۍ ته تر رسېدو پورې وي (۳: ۱۰).

**د ملي او نړیوالو قوانینو له مخې د ماشوم پېژندنه**

د ملګرو ملتونو د کوچنیانو د کنوانسیون په لومړۍ ماده کی راغلي دي، چې: " د دې کنوانسیون په نظر هر انسان چې له اتلس کالنۍ څخه ټیټ عمر لري ماشوم ورته ویل کېږي" (۹: ص :۱).

د ماشوم او کوچني د حقونو د کنوانسیون له مخې تر اتلسو کلونو لاندې افراد ټول ماشومان او کوچنیان شمېرل کېږي.
د افغانستان په قوانینو کې هم د ماشومتوب عمر په اتلس (۱۸) کالنۍ کې پای ته رسېږي (۳: ص ۱۳).

**شاقه یا درانده کارونه**

د ماشوم شاقه کارونه، له ماشوم څخه د هر ډول کار په بڼه هغې ناوړه ګټې اخېستنې ته ویل کېږي، چې ماشومان له خپل ماشومتوب څخه بې برخې کوي، په منظم ډول ښوونځي ته د ماشوم په وړتیا کې خنډ کېږي او همدا کار له رواني، بدني، ټولنیز او اخلاقي اړخه زیان رسوونکی وي. په ټوله نړۍ کې له ماشوم څخه داسې ناوړه ګټه اخیستل، د قانون له مخې منع دي د یو ماشوم لپاره شاقه (درانده) کارونه هغه دي، چې نوموړی له فزیکي رشد څخه وروسته پاتې کوي او دماغي ځواک یې په تدریجي ډول کمزوری کوي، لکه: د خښتو په بټیو کې پر ماشومانو کار کول، یا د خامو خښتو اېستل، په ښارونو کې د لاسي کراچۍ چلول د قالینو اوبدل او داسې نور... دا دې ته ورته نور کارونه د یو ماشوم لپاره شاقه یا درانده کارونه بلل کېږي، یو شمېر پوهانو د ماشومانو لپاره په ښار کې پالش کول هم په درندو کارونو کې حساب کړی دی، د دوی دلیل دا دی، چې د یو ماشوم لپاره ټوله ورځ پالش کول او دې ته سترګې غړول. چې څوک به بوټونه د پالش لپاره ورکوي، چې یو څو روپۍ وګټي، دا ډول انتظار او په خلکو پسې ګرځېدل؛ تر څو بوټونه ورته پالش کړي د ماشومانو لپاره په شاقه کارونو کې شمېرل کېږي؛ ځکه چې ماشوم د پالش کار پیدا کولو لپاره له زړه خوراک سره مخامخ کېږي او له ماشوموالي څخه له هغو حقوقو څخه محرومېږي، چې باید یو ماشوم ته ورکړل شي، لکه: د لوبو حق، د ازادۍ حق، د تعلیم حق، پر ماشوم د شفقت حق او دې ته ورته له نورو حقونو څخه دغه ډول ماشومان محروم پاتې کېږي (۵: ۱۷).

د ماشومانو درانده کارونو هغه ډول کارونو ته ویل کېږي، چې ددوی څخه پکې ناوړه ګټه اخېستل کېږي او له ماشومتوب څخه یې محروموي، په منظم ډول ښوونځي ته تګ کې یې خنډ واقع کېږي او دوی ته ذهني، فزیکي، ټولنیز او اخلاقي توګه زیان رسوي. دا ډول ناوړه ګټه اخېستنه(استثمار) په نړۍ کې د قانون له مخې منع دی. که څه هم دا قانون د ماشومانو ټول کارونه د درانده کارونو په توګه نه ګڼي؛ خو د کار ځینې ډولونه، چې د ماشومانو ذهني رشد او بدن ته زیان نه رسوي لکه: تخنیکي کارونه، د کورنۍ دندې او نور روزنیزې برنامې تعقیبول.https://en.wikipedia.org/wiki/Child_labour
ټول هغه کارونه چې د ماشومانو لخوا ترسره کېږي، د درانده کارونو په توګه طبقه بندي نه شي. د بین الملل د کار سازمان (ILO) په وینا: د ماشومانو درانده کارونه هغه کار ته اشاره کوي، چې هغه ماشوم چې (د ۱۸کلونو څخه یې عمر کم وي)، دوی د خپلې وړتیا او وقار څخه محروموي او دا کړنې ددوی فزیکي او رواني پرمختګ ته زیان رسوي. دا کړنې ددوی ذهني اخلاقي اړخ زیامنوي او ښوونځي ته د تګ مانع یې ګرځي (۱۰: ص: ۹۴۳).

ښوونځي ته د تللو له فرصت څخه دوی بې برخي کوي. دوی دې ته اړ باسي چې له وخته مخکې ښوونځی پرېږدي. دوی دې ته مجبوروي، چې ماشومان دې ښوونځي ته حاضر نه شي او د دې ترڅنګ دې د ډېر اوږد وخت لپاره دراندە کارونه هم وکړي (۸: ص: ۱).

**د شاقه کارونو ډولونه**

زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په درېیو برخو باید وویشل شي:۱ ــ رواني تاوتریخوالی: ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه).

۲ ــ جسمي تاوتریخوالی: (وهل ټکول، شاقه کارونه، جګړو ته اړ اېستل) ۳ ــ جنسي تاوتریخوالی.

**پر ماشومانو د شاقه کارونو اغېزې**

په دې کې شک نه شته، چې شاقه کارونه پر ماشومانو هرو مرو اغېزې کوي، د ماشومانو راتلونکی ګواښــي او په ژوند کې یې له ډول ډول ســتونزو سره مخامخ کوي؛ ددې څېړنې له نظره د شــاقه کارونو له امله پر ماشومانو څرګندې اغېزې چې هر لوستی ورباندې پوهېدای شي په لاندې ډول دي:

۱- له تعلیم څخه محرومیت: پر ماشــومانو د شــاقه کارونو تر ټولو ســتره اغېزه ښــايي دا وي، چې ماشــومان له تعلیم څخه بې برخې کوي، ځکه یو ماشــوم هېڅکله دومره انرژي او توان نه لري، چې هم دې شاقه کارونه وکړي او هم دې تعلیم وکړي، دا هغه ستره اغېزه ده، چې د ماشــومانو راتلونکی له بېلا بېلو ســتونزو سره مخا مخ کوي او د ماشــوم ژوند له پیله تر پایه پــــه ســتونزه کې اچوي؛ ځکه چې ماشــوم بې تعلیمه لوی شي؛ نو په لویوالي کې هم اړ دی، چې کار او مزدوري وکړي، په تعلیمي او علمي مؤسســاتو، دفترونو، تجارت ځایونو او نورو اکاډمیکو مرکزونو کې کار نه شي کولی.

۲- د انرژۍ کموالی او د صحي عذايي رژیم نشتون: (۵: ۱۸، ۱۹)

**پر ماشومانو د درنو کارونو لاملونه**

پر ماشومانو د درنو کارونو لاملونه زیات دي؛ خو زموږ په نظر تر ټولو څرګند لاملونه یې ناامني، په کور دننه مهاجرتونه، فقر، دوامدارې اقتصادي ستونزې، روغتیايي ستونزو ته نه لاسرسی، ناوړه دودونه، کورني تعصبات او د حکومت نه پاملرنه د هغو لاملونو له ډلې دي، چې افغان ماشومان یې له خطر سره مخ کړي دي، له همدې امله شاقه کارونو ته مجبورېږي.

د استاد غضــنفر په څراغ نومي کتاب کې لولو: «لا مهمه پوهه، چې باید حاصلــه یې کړو دا ده، چې د ماشومانو وهل او وېرول، نه یوازې د هغوی اوسنی ژوند ورتریخوي؛ بلکې اینده یې ورخرابوي. رسنۍ، د جوماتونو مــــلا امامان او معارف وزارت د دې پوهې په خپرولو کې لویه ونډه اخیستلای شي (۴: ۱۵۸).

ښاغلی غضنفر د همدې مطلب په بل ځای کې ليکي: « تشدد تر هر چا زيات په ماشومانو باندې بد اثر کوي او د ماشومانو مشکل دا دی چې د خپل درد د بيانولو وس ورسره نشته، د ټولگيو هغه زده کوونکي چې تر نورو کشران او کمزوري دي، ممکن هره ورځ وځورول شي، دغه ماشومان داسې گڼي چې د دوی ځورېدل او رېړېدل د ژوند عادي چاره ده. دوی په ژوند او معارف او زده کړه کې د ښکلا په ځای بدرنگي ويني او دا امکان شته چې ټولنې او انسان ته بدبيني يې د راتلونکي خوی او خصلت برخه وگرځي. (۴: ۱۶۰)

**د عصري علومو له نظره د شاقه يا د درندو کارونو مخنيوي لارې**

د نولسمې پېړۍ د دويمې نيمايي په اوږدو کې، د سوداگريزو اتحاديو د ودې له امله په سوداگريزو ټولنو کې د مقرراتو او اقتصادي لاملونو پر بنسټ د ماشومانو په مزدورۍ کې کمښت راغی. د ماشومانو د مزدورۍ تنظيم، د صنعتي انقلاب د لومړيو ورځو څخه پيل شو. په بريتانيا کې د ماشومانو د مزدورۍ د تنظيم لومړی قانون په (۱۸۰۳ز) کال کې تصويب شو. لکه چې په (۱۸۰۲ ز او ۱۸۱۹ز) کلونو کې د کارخانې قانون تصويب شوی و؛ تر څو په کارخانو او د پمبې په کارځايونو کې د کار کوونکو ماشومانو د کار وخت هره ورځ تر دوولسو ساعتونو پورې محدود کړي. دا قوانين تر ډېره بريده اغېزناک نه وو او د سخت دريځو خوځښتونو څخه وروسته، د بېلگې په ډول: په ۱۸۳۱ز کال کې «د لنډې مودې کمېټې»، شاهي کميسيون چې په (۱۸۳۳ز) کال کې يې وړانديز کړی و؛ تر څو له يوولسو څخه تر اتلس کاله عمر لرونکي ماشومان په يوه ورځ کې زيات نه زيات دوولس ساعته کار وکړي، له نهو څخه تر يوولسو کلونو پورې ماشومان بايد زيات نه زيات اته ساعته کار وکړي او له نهه کلونو څخه کم عمره ماشومان بايد نور له دې وروسته کار ونه کړي؛ خو بيا هم دا قانون يوازې د رخت جوړولو په صنعت کې عملي شو او لا زياتو هڅونو د ۱۸۴۷ز کال يو بل قانون رامنځ ته کړ، چې هم يې د بالغانو او هم د ماشومانو د کار موده په يوه ورځ کې تر لسو ساعتونو محدوده کړه. «لارډ شيفتېسبري» د ماشومانو د مزدورۍ د تنظيم يو څرگند ملاتړی و.

**د اسلام له نظره د ماشومانو د درنده کارونو د مخنيوي لارې چارې**

همدارنگه يو پوه وايي: که مور او پلار ماشوم ته هر څه ورکړي؛ خو چې تعليم ور نه کړي هغو هيڅ شی هم نه دي ورکړي. نو ځکه مور. ويلای شو، چې د ماشوم لپاره د روزنې درې مهم مرکزونه دي لکه: ۱- کور ۲- چاپيريال ۳- ښوونيز چاپيريال

حديث عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال: قال رسول الله ﷺ ليس منا من لم يرحم صغيرنا، ويعرف شرف كبيرنا.

حديث صحيح رواه أبو داود والترمذي، وقال الترمذي: حديث حسن صحيح. څوک چې پر کشرانو رحم او د مشرانو درناوی ونکړي؛ هغه زما له امت څخه نه دی»

متفق عليه دی ) بخاري او مسلم دواړو روايت کړی دی .(تشريح: هغه څوک چې پر خلکو رحم نه کوي الله تعالی پر هغوی رحم نه کوي).

یو بل حدیث شریف کې داسی راغلي دي چې: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي چې: الله (جل جلاله) په هر هغه شخص باندې رحم نه کوي، چې د الله(جل جلاله) په بنده ګانو باندې رحم نه کوي.

رُوِيَ الإِمَامُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ عَنْ عِبَادَةَبنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَيْسَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ لَمْ يُجِلَّ كَبِيرَنَا، وَيَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيَعْرِفْ لِعَالِمِنَا حَقُّهُ.

ژباړه: عباده بن صامت رضی الله عنه وايي : رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل :څوک چې د مشر احترام نه کوی، او په کشر رحم او شفقت نه کوي او زموږ د عالم حق نه پيژني؛ هغه زما له امت څخه نه دی.

**پر ماشومانو د شاقه کارونو د مخنیوي لارې چارې**

په افغانستان کې پر ماشومانو د شاقه کارونو د مخنیوي لپاره هغه ډول هڅې نه دي شوې، چې لازمه ده، په یاده برخه کې دولت، بهرني موسسات، بډایه خلک، د بشري حقونو کمسیون، رسنی او په عامه توګه اړونده ټولنه کولای شي، تر ډېره بریده د ماشومانو د شاقه کارونو مخه ونیسي. له هرڅه وړاندې دولت مکلف دی، د یتیمانو، بې سرپرسته او بېچاره کورنیو د خوراک او څښاک په برخه کې دومره اندازه مرسته وکړي، چې د یادو کورنیو ماشومان د شاقه کارونو ترسره کولو ته اړ نه شي؛ خو تر دې دمه افغان دولت څکه په یاده برخه کې پاتې راغلی، چې په دې هېواد کې د کار ټولنیزو چارو وزارت او د احصایې مرکزي اداري د راپورونو له مخې د هغو ماشومانو شمېر له دوو میلیونو څخه زیاتیږي، چې شاقه کارونه کوي.

**نتیجه ګیري**




۱ـ شکل: څېړني د ګډونوالو عمرونه




۲ـ شکل: څېړني د ګډونوالو د زده کړو کچه

د ماشومانو په راتلونکي او ټولنیز ژوند د شاقه کارونو د اغېزو څېړل د ګډونوالو لپاره د پام وړ موضوع وه، د څېړنې ساحه خوست ولایت و، همدا ډول پدې څېړنه کې د پوښتنپاڼې په ذریعه، چې په ان لاین او لاسي ډول ویشل شوې وې ۱۰۰ تنو خوست میشتو پکې فعاله توګه ګډون ترسره کړی و، ټولې (۱۴) پوښتنې په یوه پوښتنلیک کې رانغاړل شوي دي، چې (۱۳) یې تړلې پوښتنې او یوه خلاصه پوښتنه، چې د کیفي معلوماتو ترلاسه کولو لپاره وه. اوله او دوهمه پوښتنه په څېړنه کې د ګډونوالو د عمر او د زده کړو کچې په اړه وه، چې له هغې جملې څخه یې د (۴۹٪) سلنه وګړو عمرونه د(۲۰ څخه تر ۳۰) کلونو پورې وو، (۴۹٪) سلنه د (۳۰ څخه تر ۴۰) کلنو پورې او پاتې(۲٪) سلنه (۴۰ څخه تر ۵۰) عمرونو درلودونکي وو. دوهمه پوښتنه کې د ددوی د زده کړو کچه (۴۶٪) سلنه ماستر، (۴۵٪) سلنه لېسانس، (۷٪) سلنه دوولسم پاس او (۲٪) دوکتورانو ګډون کړی و( 1-2 - شکل).




۳ـ شکل: آیا شاقه کارونه د ماشومانو په راتلونکي او ټولنیز ژوند منفي اغیزې لري؟

شاقه کارونه د ماشومانو راتلونکې، ټولنیز ژوند او په شخصیت باندې ډېرې منفي اغیزې لري، چې یو له هغو منفي اغېزو څخه په ټولنه کې د ماشومانو بې لارې کیدل، د جرم د ارتقا د کچې لوړیدل دي. د ماشوم په بې سرپرسته کیدو سره هغه ډېر مهم او بنسټیز حقوق لکه: تربیه، تعلیم، غذا، روغتیایي خدمتونه او نور بنسټیز حقوق له لاسه ورکوي. د نړیوالو قوانینو له مخې، هغه درانه او شاقه کارونه چې د ماشومانو فکري او جسمي ودې ته زیان اړوي او د ماشومانو د تعلیم مخه نیسي، منع دي. د افغانستان د کار په قانون کې تر ۱۸کلنۍ په کم عمر کې د ماشومانو درانه کارونه کول په قاطع ډول منع دي؛ خو د دې باوجود د افغانستان په فقر ځپلې ټولنه کې، ماشومان درانه کارونه کوي. ددې پوښتنې په ځواب کې چې آیا دراندە کارونه د ماشومانو په راتلونکي او ټولنیز ژوند اغیزې لري؟د څېړنې (۹۵٪) سلنه تنو ویلي دي، چې دراندە کارونه پر ماشومانو ډېرې زیاتې منفي اغېزې لري، (۴٪) سلنه ګډونوالو زیات او پاتې (۱٪) سلنه په دې برخه نظر لري، چې هو، دا کړنه د ماشومانو په راتلونکي او ټولنیز ژوند ژورې اغېزې لري ( ۳ - شکل).




۴ـ شکل: ستاسو په اند شاقه کارونه د ماشومانو په بدن او روان اغیزې لري؟

کارپوهان وايي: که چېرې حکومت او مرستندویه اداري د ماشومانو د شاقه کارونو په مخنیوي او د بدیلو کارونو په ترویج کې پاتې راشي، لوی شمېر ماشومان به د درنو کارونو له امله له ذهني او جسمي کمزوریو سره مخ شي. د عقلي، عصبي او رواني ناروغیو د متخصصینو له نظره، که چېرې ماشومان په پرله پسې او دایمي توگه د شاقه او درنو کارونو ترسره کولو ته اړ شي، هم يې پر ذهني وده اغیزه کوي او هم يې جسمي وده ځنډولی شي. شاقه کارونه په ماشومانو منفي اغېز لري، دغه ډول خواړه او هغه توکي، چې د ماشومانو له ژوند سره تړاو لري همدا راز د ماشومانو په قد، اندام او وده هم منفي اغېز لري. له دې سره هم مهاله د داخله ناروغیو متخصصینو له نظره، چې ډېر کله ماشومان د نامناسبه کاري شرایطو له کبله، په تنفسي او انتاني ناروغیو او خوارځواکۍ هم اخته کېدلی شي او ان ځینې وخت په نشه روږدي کېږي. «کوچنیتوب په جسمي او دماغي لحاظ د ودې عمر دی؛ خو کله چې درانه کارونه کوي، سم نه‌تغذیه کېږي، خوارځواکه کېږي، نورې تنفسي او انتاني ناروغۍ ورته پېښېږي او د نورو له کړنو په تونله کې اغېزمنېږي، که څوک نشه کوي او یا سگرېټ څکوي، دوی هم پرې روږدي کېږي.» د راټولو شویو معلوماتو په اساس واضحه شوه ۹۳٪ ډېر زیات، ٦٪ زیات، لږ ۱٪ خلک د دې پوښتنې په اړه خپل نظر لري.




۵ ـ شکل: څه فکر کوئ شاقه کارونه د ماشومانو ښوونيز ژوند اغېزمنوي؟

د ملي او نړيوالو قوانينو له مخې، ټول هغه درانه او شاقه کارونه، چې د ماشومانو فکري او جسمي ودې ته زيان اړوي او د ماشومانو تعليم مخه نيسي، منع دي. په حقوقي لحاظ تر۱۸ کلونو کم عمره ماشومان اړ نه‌دي، چې د کورنۍ مشرانو لخوا کارونو ته وهڅول شي. همدا راز په ۱۳۹۷لمريز کال کې د ماشومانو حقونو د ملاتړ قانون په ۲۲مه ماده کې راغلي چې «له ماشوم څخه هر ډول اقتصادي درانده کارونه کول منع دي». دغه راز د همدغه قانون په ۶۳ مه ماده کې د کار قانون په حواله ټينګار شوی چې« د کار قانون له حکمونو سره سم فزيکي، درونډ، روغتيا ته زيان‌رسوونکي او تر ځمکې لاندې کارونو ته د تنکيو ځوانانو استخدام... منع دی».




۶ ـ شکل: که ماشومان شاقه کارونه ونه کړي، کورنۍ به يې له ستونزو سره اخته شي؟

کله چې په يوه هېواد کې کار نه‌وي او کورنۍ ښه اقتصاد ونه‌لري او لويان بې‌روزګاره وي، بې له شکه چې ماشومان به د اړتيا له مخې کار ته مخه کوي. که د بې‌وزلۍ او فقر مخه ونيول شي او کورنيو ته عامه پوهاوی ورکړل شي، د ماشومانو د کار لامل له منځه ځي. فقر د ماشومانو د کار لوی لامل دی. که څه هم د علم زده‌کړه د ټولنې د وګړو له‌پاره مهمه ده، متاسفانه شرايط دومره خراب دي، چې کم عمره ماشومان هم د يوې مړۍ ډوډۍ له‌پاره کار ته اړ کېږي.




۷ـ شکل: ستاسو په نظر د ماشومانو لخوا د شاقه کارونو لاملونه څه دي؟

په دې وروستيو کې د بې روزګارۍ او غربت په ډېرېدو سره ډېر کم عمره ماشومانو د ښوونځيو پر ځای کارونو ته مخه کړې او ښوونځي ترې پاتې دي. په ترسره شوې څېړنيزه پوښتنه کې زيات شمېر ګډوانوالو غربت په نښه کړی، چې د يو حديث نه دا هم ثابته ده، رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په خپله مشهوره دعا کې فرمايي: اې زما ربه ! زه له کفر او فقر څخه له تا نه پناه غواړم ، يوه سړي ترې پوښتنه وکړه: آيا دا دواړه (کفر او فقر) سره برابر دي؟ هغه ځواب ورکړ: هو. په همدې مانا يوه بله دعا هم له رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) نه روايت شوې، چې فرمايلي يې دي: اللهم إني أعوذ بك من الفقر والقلة والذلة، وأعوذ بك من أظلم أو أظلم. رواه أبوداود والنسائى: اې زما ربه! زه د فقر، قحطۍ او خوارۍ څخه له تانه پناه غواړم، او له دې نه پناه غواړم، چې زه دې په چا ظلم وکړم او يا دې په ما څوک ظلم وکړي.
په همدې مانا په بل حديث شريف کې هم راغلي چې فرمايي: كاد الفقر أن يكون كفرا ـ رواه أبو نعيم في الحلية عن أنس. يعنې نژدې ده، چې فقر د کفر لامل شي.




۸ـ شکل: که ماشومان کار ونکړي، کورنۍ به يې لوږه کې ژوند تيروي؟

د راټول شويو معلوماتو څخه دا څرګندیږي، چې که ماشومان کار ونه کړي کورنۍ به يې د ستونزو سره مخامخ او د لوږې څخه به ځوريږي.




۹ ـ شکل: ایا د ماشومانو شاقه کارونه په ټولنه منفي اغېز لري؟

د بې وزله کورنیو ماشومان د سختو اقتصادي ستونزو له کبله ډول، ډول ستونزمنو او سختو کارونو ته لاس اچوي دغه ستونزې، چې مهم علتونه يې په کمو عمرونو کې د هلکانو، بې سرپرستي، ښوونيز او روزنيز، اقتصادي، روغتيايي او نورو اسانتياوو ته يې نه لاسرسی، بې روزګاري او د امنيت له پلوه نه خونديتوب هغه څه دي، چې له کبله يې ماشومان د سختو کارونو تر سره کولو ته اړ کيږي او په ترخ کې يې له سختو ستونزو سره مخامخ کيږي، چې د ټولنې د راز راز بد بختيو سبب ګرځي. دغه راز ډېرى وخت ليدل شوي دي، چې له دا ډول بې وزله ماشومانو څخه د مخدره توکو په قاچاق، غلا، کيسه برۍ او نورو ناوړه او غير انساني چارو کې ګټه پورته کيږي. دا چې، د ماشومانو د تحليل قوه ډېره کمه وي او سن او عمر هم دومره نه وي، چې ټولنه کې هره کړنه په دقيقه توګه تحليل کړای شي؛ نو پدې اساس ډېرى وختونه د نورو شومو اهدافو ښکار کيږي او د يو څو پيسو او لالچ له امله ډېر ژر دوکه کيږي، چې دا ماشومانو د بې لارې کيدلو په سبب په چاپېريال کې نورو ماشومانو ته هم زيان رسوي، چې **له** هغوی سره يوځای کيږي او د دوی ترمنځ متقابلې اړيکې رامنځته کيږي او بيا د دوی ځينې ناوړه يا زيان رسوونکي خويونه او عادتونه هغوی ته انتقاليږي.




۱۰ ـ شکل: آيا د ماشومانو د کار پديده ستاسو د ښار لپاره جدي ده؟

دا چې ماشومان زموږ راتلونکی دی؛ نو د دوی د استعدادونو څخه باید په ښوونه او روزنه کې استفاده وشي؛ تر څو راتلونکی مو روښانه شي، که حالات همداسې روان وي؛ نو په راتلونکي کې به بې سوادي پراخه، معتادین به زیات، بې وزلي به پراخه او افغانستان به له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان وي. د دې هېواد د ابادولو او د راتلونکي نسل د سمې ښوونې او روزنې لپاره به کافي کدر نه وي موجود. دا د دولت دنده ده؛ خو موږ نړیوالو مرستو ته په دې برخه کې اړ یو.




۱۱ ـ شکل: ستاسو په ولایت کې ماشومان په کومو ځایونو کې په شاقه کارونو بوخت دي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې زیات شمېر ګډونوالو چې ۶۹٪ سلنه کېږي ښار کې لاسي ګاډی چلول یاد کړي، ۱۰٪ سلنه وګړو مالداري، ۲۰٪ سلنه وګړو زراعت کې برخه اخېستل او ۱٪ په فابریکو کې کار کول یاد کړي.




۱۲ـ شکل: ایا ماشومان د شاقه کارونو په کولو سره د ژوند کوم خطر یا ګواښ سره مخامخ وي، که

ماشومان د ټولنې یوه نازکه او معصومه طبقه ده، د بدني او ذهني تحلیل له مخې کمزوري دي، دا د ټولنې هغه برخه ده ،چې ډېر ژر اسیب پذیره(زیان قبلوونکي ) کېږي، یانې د دوی معنوي او مادي بدن هر وخت د خطر سره مخامخ وي، که چیرې سالم چاپېریال کې ددوی روزنه ترسره نه شي او په وخت یې تداوي او د حل لارې ونه پلټل شي؛ نو دوی ته زیان رسیږي، چې نه جبرانیږي او جبران یې ډېر مشکل دی.




۱۳- شکل: ماشوم ته د څه ډول ګواښ احتمال ډېر متوجه وي؟

په ټولنه کې ماشومان درې ډوله چاپیریال لري، کور، بهرنی چاپیریال او د ښوونې او روزنې چاپیریال. کورنۍ او د ښوونې او روزنې بنسټ موخه د ښه انسان ټولنې ته وړاندې کول؛ تر څو د ټولنې په خیر تمام شي، که چېرې دغه چاپیریال په دې ونتوانیږي، چې خپل راتلونکي په صحیح مانا سره ورزي؛ نو دغه ماشومان په ټولنه کې د مختلفو ګواښونو سره مخامخ کېږي او په اخره کې تاوان یې ټولنې ته رسیږي.




۱۴ ـ شکل: ایا تاسو په ماشومانو د شاقه کارونو ملاتړ کوئ؟

دا چې نړیوالو او اسلامي قوانینو له نظره د ماشومانو شاقه کارونه منع دي، که څوک يې سرغړونه کوي، په هېواد کې شته قوانين او حقوقي برخه کې ټولنيز مؤسسات ددې ستونزې مخنيوی کوي او مرتکب شخص د هېواد د نافذه قوانينو له مخې جزا ورکول کېږي.




۱۵ ـ شکل: ایا د ماشومانو د شاقه کارونو په اړه کوم قانون شتون لري، تاسو ترې خبر یاست؟

دې پوښتنې ته په کتو زیاتره وګړي، د شاقه کارونو د مخنیوي قانون څخه ناخبره دي او یوازې ډېر لږ وګړي د دې په اړه پوهاوی لري.

**په څېړنه کې د برخه اخیستونکي وړاندیز او نظر**

اسلام یوازې د انسانانو لپاره نه؛ بلکې د ټولو مخلوقاتو (حیواناتو) لپاره هم د رحمت دین دی، اسلام موږ ته د انسانیت، رحم او شفقت درس راکوي او موږ ته د ژوند په ټولو اړخونو کې د عدالت او انصاف لارښوونه کوي. پدې برخه کې عامه پوهاوی ته اړتیا ده او ددې ترڅنګ د دولت لخوا جدي څارنه پکار ده، تر څو یاده پدیده کمه شي. دې موضوع ته باید کورنۍ جدي پاملرنه وکړي، چې شاقه کارونه د ماشومانو په بدن او روان ژورې اغیزې لري؛ نو پدې اساس باید ټول په ګډه سره د دې ناوړه پدیدې مخه ونیسو ترڅو راتلونکی مو روښانه شي. عامه پوهاوی، د دولت او موسساتو همکاري به دغه ستونزه یو څه راکمه کړي. د ماشومانو شاقه کارونو په مورد مو د حکومت څخه هیله ده، چې د ولس لپاره د کار زمینه برابره کړي او دومره عاید ورته په نظر کې ونیول شي؛ تر څو کورنۍ پرې بسیا شي او د کورنۍ سرپرست مجبور نشي، چې ماشومان شاقه کارونو ته مجبور کړي. د ماشومانو د شاقه کارونو اړونده برخه کې اول مسؤلیت د ماشوم کورنۍ او بیا حاکم نظام ته راجع کیږي. پدې برخه کې د شته قوانینو تطبیق لازمي دی.

**د مرکو او قضیو د مطالعې څخه راټول شوي معلومات**

د موضوع د لا واضحولو موخه مو د ټولنیزو علومو متخصصینو، دیني عالمانو، د ښوونې او رزونې برخې متخصصینو، حقوق پوهانو او د روغتیا برخه کې ډاکټرانو سره ددې موضوع اړوند مرکې وکړې، چې لنډیز یې په لاندې ډول وړاندې کیږي.

د دې موضوع په اړه د دیني علماوو نظر داسې و: اسلام یوازې د انسانانو لپاره نـه؛ بلکې د ټولو مخلوقاتو (حیواناتو) لپاره هم د رحمت دین دی، اسلام موږ ته د انسانیت، رحم او شفقت درس راکوي او موږ ته د ژوند په ټولو اړخونو کې د عدالت او انصاف لارښوونه کوي. په دې اړه یې نصوص وړاندې کړل لکه: هغه څوک چې پر خلکو رحم نه کوي الله تعالی پر هغوی رحم نه کوي (متفق علیه). څوک چې د مشر احترام نه کوي او په کشر رحم او شفقت نه کوي او زموږ د عالم حق نه پیژني؛ هغه زما له امت څخه نه دی(قال الهيثمي في مجمع الزوائد \8ص١٤ (رواه أحمد والطبراني وإسناده حسن). ددوی په نظر ماشومان میني او درنښت ته اړتیا لري، کورنۍ باید په خپلو ماشومانو کار ونه کړي، هغوی باید ټولنیزو او اکاډمیکو مرکزونو ته ولیږل شي، زده‌کړې ورباندې وکړي، د نن ورځې ماشومان د سبا ورځې ځوانان دي، حکومت باید دې برخه کې ورسره همکاري وکړي.

د ښوونې او رزونې کارپوهان وایي: دا چې د ټولنې راتلونکي مسؤولیتونه د ماشومانو پر غاړه دي؛ نو په کار ده، چې د ماشومانو په روزنه او ساتنه کې رغنده رول ولوبول شي او د درنو کارونو له ترسره کولو باید راوګرځول شي؛ ځکه چې درونډ کار د ماشومانو په بدني او ذهني ودې ناوړه اغېز کوي. د دوي په نظر په دې وروستیو کې په ښار کې بې سرپرسته ماشومان بېلابېل کارونه ترسره کوي، چې د دوی د زده کړو او روزنې مخنیوی یې کړی. د دوی په نظر په ټولنیزه برخه کې کار کوونکي نړیوالې مؤسسې او حکومت باید د ماشومانو د زده کړو لپاره زمنیې برابرې کړي. په دې وروستیو کې د بې سرپرسته ماشومانو او د شاقه کارونو سره د مخامخ ماشومانو کچه په ډېریدو ده، خصوصاً په ښاري سیمو کې، چې دا په خپله په دې باندې دلالت کوي چې دلته ماشومانو ته سمه پاملرنه نه کیږي، که چېرې ماشومانو ته سمه پاملرنه و نه شي او د دوی سمه روزنه و نه شي؛ نو دوی به د راتلونکي لپاره نه یوازې د ټولنې هغه موثر اشخاص نه وي؛ بلکې د ټولنې لپاره به سرخوږی وي.

د حقوقي چارو کارپوهان وایي: د ماشومانو په بې سرپرسته کېدو سره، دوی یو شمېر بنسټیز حقوق له لاسه ورکوي؛ نو په کار ده، چې حکومت یې دغه حقونو ته پاملرنه وکړي. دوی په خپلو خبرو کې دا څرګنده کړه، چې د ماشومانو حقونو ته پاملرنه و نه شي، په راتلونکي کې د دغو ماشومانو په شخصیت او ژوند منفي اغېزې کولای شي. په راتلونکې کې د طفل په شخصیت باندې ډېرې منفي اغېزې شیندلی شي، چې یو له هغو منفي اغېزو څخه په ټولنه کې د طفل د جرم د ارتقا د کچې لوړیدل دي. د طفل په بې سرپرسته کیدو سره هغه ډېر مهم او بنسټیز حقوق لکه: تربیه، تعلیم، غذا، روغتیایي خدمتونه او نور بنسټیز حقوق له لاسه ورکوي .

په حقوقي لحاظ د ۱۸ کلونو څخه کم عمره ماشومان اړ نه دي، چې د کورنۍ لخوا کارونه ته وهڅول شي، په **۱۳۹۷** ل کال کې د ماشومانو د حقونو ملاتړ قانون په **۲۲** مه ماده کې داسې لیکل شوي: له ماشوم څخه هر ډول درنده اقتصادي ګټه اخیستنه منع ده. د همدغه قانون په **۶۳** مه ماده کې د کار د قانون په حواله تاکید شوی، چې د (د کار قانون له حکمونو سره سم هر ډول فزیکي، درانه کارونه روغتیا ته زیان رسوونکي دي او په شاقه کارونو کې د ماشومانو استخدام منع دی).

د ټولنیزو علومو او روغتیا پوهانو په وینا: درانده اوشا قه کارونه د کوچنیانو په روغتیا سربېره د دوی رواني حالت ته هم ضربه رسوي، ددوی په نظر که چېرې ماشومان پرله پسې او دایمي توګه درانده کارونو ته اړ شي؛ نو ددوی په فزیکي، ذهني او رواني وده ژورې منفي اغیزې لري او وده یې ځنډیږي. ددې ترځنګ ماشومان له ډول، ډول بدني او رواني ناروغیو او د ټولنیزو ستونزو ښکار کېدلی شي. هغوی وویل: «هغه ماشومان، چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم وي، پر هغوی باندي شاقه یا درانه کارونه کول د ماشومانو پر وده او نمو منفي تاثیرات لري، دې ترڅنګ له ماشومانو څخه د ماشومتوب حق اخېستل کېږي، ماشومان باید په همدې وخت کې زده‌کړو ته وهڅول شي او خپل راتلونکی جوړ کړي. د بی وزلۍ له امله ډېری ماشومان د زده کړو پر ځای په کار کولو مجبوره شوي، د دوي په وینا په دې وروستیو کې د بې روزګارۍ کچې لوړېدا ډېر شمېر کورنۍ مجبورې کړې، چې خپل ماشومان د زده کړو پر ځای کار کولو ته وهڅوي او ماشومان هم د خپلو بې وزله کورنیو په خاطر په واړه ځان او تنکیو اوږو د کورنۍ نفقې درانه مسؤولیتونه اخلي. دوی ټول په دې نظر دي چې که د دغو ماشومانو ژوند او زده‌کړو ته پاملرنه و نه شي، ممکن د ټولنې راتلونکي ته یې د ګټې پر ځای تاوان ډېر وي.

**موردي مطالعه (قضیې)**

پدې برخه کې مو عملاً د هغو ماشومانو سره ناسته ترسره کړې، چې په یاده ستونزه اخته او لاس او ګریوان وو او د دوی ژوند مو له نږدې لیدلی او هغه ترخې تجربې مو مشاهده  کړې، چې دوي ورسره مخامخ شوي. کله چې مو ددوی څخه معلومات ترلاسه کول، د دوی عمر، فزیکي بڼه یانې کالي،  زده کړې او داسې نور موارد په نظر کې نیولي، چې زیاتره کم عمره، لباس یې زوړ، بدن یې کمزوری او د بی وزلۍ مجبوریت له امله زده کړې نه کول شامل وو . د دوی څخه په پوښتنې کې دوی ویل چې د بی وزلۍ او بی سرپرستۍ له امله اړ دي، چې درانده کارونه ترسره کړي، زیات ماشومان یې مکتب ته نه ځي. ددوی په وینا چې د کورنیو سرپرستۍ اړ کړي، چې د خپلو کورنیو د اړتیا د پوره کولو لپاره درانده کارونه وکړي او د همدې مجبوریت له امله زده کړې ترې پاتې دي. د بېلګې په توګه ترې د دوو قضیو یادونه کوو، چې زیات ماشومان ورته برخلیک باندې اخته دي.

**۱-۱۱** کلن ماشوم وایي: (پلار مې بوډا دی او د ګټې وټې لپاره نور څوک نه لرم، د مجبوریت له امله په ښار کې لاسي ګاډی چلوم او د خپلې کورنۍ لپاره رزق ګټم).

**۲-** بل ماشوم چې ۱۳ کلن و وایي: (پلار مې کمزوری او سپین ږیری دی، ځکه لاسي ګاډی چلوم، مکتب سره مینه لرم؛ خو د ګټې وټې مو څوک نشته؛ ځکه رانه زده کړې پاتې دی.

**مناقشه**

تر اوسه پورې، چې ددې موضوع په اړه څومره څېړنې ترسره شوې، ټولو دا موندلې، چې د کورنۍ د بې وزلۍ او کم عاید د لرلو له کبله خپل ماشومان کار ته استوي او پدې برخه کې متخصصین وایي: چې د بې وزلۍ له کمیدو او ښوونې او روزنې په ترویجولو سره سم به دغه ستونزه هم هواره شي. د نړۍ د بشري حقونو او په ځانګړې توګه د ماشومانو د حقوقو کمیسیون وایي: د هغو ماشومانو لویه برخه چې په درندو

کارونو کې بوخت دي لويه برخه يې ښوونځيو ته نه درومي، چې دا کړنه په راتلونکې کې، دوی د ژوند په چارو کې له پراخو ستونزو سره لاس او ګريوان کولای شي. پدې څېړنه کې موندنې دا څرګندوي، چې د ټولنې ډېر شمېر وګړي د ماشومانو د حقوقو او درانده کارونه په اړه عامه پوهاوی نه لري. ياده موضوع د خپل چاپيريال لپاره ستره ستونزه ګڼي او ټولنه کې يې خورا منفي اغيزې په ډاګه کوي؛ که چيرې د حل لاره ورته پيدا نه شي؛ نو د نورو ستونزو د زيږيدلو لامل کيږي. پدې برخه کې د نړۍ څېړنې عملي او تطيقي جنبه لري، د معلوماتو د موندنو په اساس د دوی حقوق تامين کيږي او د نه تطبيق په اړه جزا او مکافات شتون لري؛ خو برعکس د دې څېړنې د موندنو په اساس کم شمېر دولتي او ټولنيز- حقوقي برخې کار کوونکي مؤسساتو د دې ستونزې په اړه عامه پوهاوي او د تطبيق کچه ډېره ټيټه ده، چې دا کړنې د ماشومانو د ټولو حقوقو د تلف کيدو په مانا دي. پدې برخه کې د مرکو په واسطه د مختلفو علومو مخصصينو څخه راټول شوي معلومات دا څرګندوي چې ډيری شمېر وګړي د اسلام له نظره د ماشومانو حقوقو څخه ناخبره، د ښوونې او روزنې ته توجو نه کولو، د دوی معنوي او مادي اړخونه له پامه غورځولي دي. د څېړنې څخه دا خبره څرګنده شوه، چې د دې ستونزې څخه هيڅوک ملاتړ نه کوي؛ خو په ضمن کې هيڅ څوک ددې خبرې په اړه جديت نه ښيي. که د هېواد د قانون له نظره موضوع وکتل شي؛ نو د ماشومانو کار کول د نړېوالو کنوانسيونو له اړخه منع شوی او افغانستان هم کلونه وړاندې دغه نړيوال تړونونه لا سليک کړي دي، د دغه تړونونو موخه دا ده، چې ما شومانو ته يې بشري حقونه ورسيږي او په راتلونکي کې يې د ژوند چارې له خنډ سره مخامخ نشي؛ خو برعکس د دې څېړنې موندنې دا څرګندوي وي، چې دولتي حقوقي برخې او ترڅنګ نړيوال حقوقي مؤسساتو پدې اړه کوم اقدام لا تراوسه نه دی ترسره کړی، چې دا څرګندونې د ماشومانو راتلونکي يو نه جبرانيدونکی بُحران رامنځته کولای شي.

**پایله**

د افغانستان په قوانينو کې ماشوم هغه څوک دی، چې عمر يې تر اتلسو کالو کم وي، اتلسو کالونو ته چې ورسيد نو زلمی بلل کېږي. پر ماشومانو د درنو کارونو تر سره کول قانوناً منع دي، لکه: د خښتو په بټيو کې پر ماشومانو کار کول، يا د خامو خښتو ايستل، په ښارونو کې د لاسي کراچۍ چلول، د قالينو اوبدل او داسې نور. پر ماشومانو د درنو کارونو څرګندې اغېزې له زده کړو څخه د دوی بې برخې کول، د لوبو، ساعتېريو او ازادۍ حق يې د کار پواسطه سلبول، له روحي ستونزو او فزيکي کمزوريو سره مخا مخ کېدل، د غذايي رژيم نا خونديتوب او نور دي. په افغانستان له دوو ميليونو څخه زيات ماشومان په شاقه کارونو بوخت دي او د شاقه کارونو لاملونه يې په دې هېواد کې بی وزلي، بی کاري فقر، کهوالي او اقتصادي مشکلات دي. د دې لپاره چې پر ماشومانو د شاقه کارونو مخه نيول شوې وي، دولت ته لازمه ده، چې د قانون په تطبيق سره يې مخه ونيسي، د مخنيوي نورې لارې يې د قومي مشرانو، ديني علمای کرامو، رسنيو استازو، مدني فعالانو او په ټوليزه توګه د لوستې طبقې له خوا په ياده برخه کې هلې ځلې کول، لکه: د عامه پوهاوي ترسره کول، د کورنيو

مشرانو له خوا د ماشومانو حقونو ته پاملرنه او نورې لارې چارې دي، که دا کارونه په سمه توګه وشي؛ نو کارګمارونکي به هم ماشومان پر کارونو نه ګماري. د ماشوم په شخصیت جوړونه کې کورنۍ ډېر زیات رول او مسؤلیت لري، که والدین او د کورنیو مشران خپل مسؤلیت په سمه توګه ترسره نه کړي؛ نو د ماشومانو شخصیت ته ډېر زیانونه رسېږي، ماشومان په غلاوو، نشه یي توکو او داسې نور ټولنیزو ستونزو روږدي کېږي، چې لوی شي؛ نو د همدې شخصیت له مخې ناوړه کارونو ته مخه کوي، چې هم یې خپلې کورنۍ او هم یې ټولنې ته تاوان رسېږي.

یاده څېړنه د ماشومانو د حقوقو برخه کې یو ستره لاسته راوړنه ده، که چېرې پایلې یې د مسؤولینو سره شریکې شي او دوی د ماشومانو د حقوقو قوانین د اسلام له نظره پلي کړي.

څېړنه د ترسره کولو په مهال د یو شمېر ستونزه سره مخامخ وه، لکه د معلوماتو په پار چې مو د یو چا نه معلومات اخیستل؛ دوی معلومات نه شریکول او یا به یې د معلوماتو شریکولو کې ځنډ څخه کار اخېستلو او ددې ترڅنګ مالي ستونزو هم شتون درلود.

یاده څېړنه کې هغه ښکلېلې خواوې چې دولتي او غیر دولتي مؤسسات دي او پدې برخه کې مسؤلیت او د قانون د پلي کولو صلاحیت لري د ستونزو او مالي مشکلاتو له امله ورسره د څېړنې په پار لیدنه نه ده ترسره شوې؛ که چېرې راتلونکي څېړونکي د ماشومانو د حقوقو په برخه کې کار کوونکي دولتي او غیر دولتي مؤسسات د څېړنې په پار، چې د ماشومانو د حقوقو اړوند څه برنامې لري او د تطبیق اندازه یې څومره ده وغړوي، دا کړنه به د یادې ساحې په برخه کې یوه لویه لاسته راوړنه وي.

**وړاندېزونه**

پر ماشومانو د درنو کارونو د ناوړه پایلو زیانونه نه یوازې ماشومانو په بدن، روان او ددوی په راتلونکي؛ بلکې د دوی کورنیو او ټولنې ته هم رسېږي، دا ډېر زیان رسوونکي کړنې دي؛ خو د مخنیوي په اړه یې تر دې دمه هېڅ داسې ګامونه نه دي پورته شوي، چې د دې کار په فیصدۍ کې یې کموالی راوستی وي؛ بلکې د راپورونو له مخې داسې ښودل شوې، چې ورځ تر بلې پسې پراخېږي، د دې لپاره چې د ماشومانو د شاقه کارونو په مخنیوي کې کار شوی وي، په لاندې ډول دولت او ټولنې ته یې وړاندېزونه کېږي.

**الف دولت ته:**

دولت دې د فعلي قانون له څرګندونو سره سم د ماشومانو شاقه کارونو د مخنیوي، یتیمو او بې سرپرسته ماشومانو ته دې د ژوند او بود باش چاره جوړه کړي.

دولت دې هغه کارګمارونکي تر قانوني پوښتنو ګروېږنو لاندې راولي، چې پر ماشومانو شاقه کارونه کوي او قانون دې د کاغذ له مخې د عمل میدان ته راوباسي.

**ب ټولنې ته:**

په ټولنه کې دیني علماکرام، قومي مشران، روڼ اندي، د رسنیو مسؤولین او د ماشومانو د حقوقو په برخه کې کارکوونکي او با روسوخه خلک دې، هر یو پخپله برخه کې د ماشومانو د شاقه کارونو په

مخنیوي کې خپل رول ادا کړي، همدارنګه په مساجدو کې محترم ملاامامان د منبرونو له لارې د اسلام له نظره د ماشومانو حقوق خلکو ته وروښیي او روښانه یې کړي، په ښوونځیو کې ښوونکي او معلمان کولی شي د تدریس ترڅنګ هغوی ته د هغوی د حقوقو په هکله خبرې وکړي او عمومي ډول د ټولنې هر وګړي دا مسؤلیت لري، چې د عامه پوهاوي په برخه کې هلې ځلې وکړي پر ماشومانو دې د ترحم لاس راکاږي او په ځانګړي ډول زموږ محترم تجاران او سوداګر باید د ټولنیز مصؤنیت په برخه کې د ټولنې د بې وزلو کورنیو سره همکاري وکړي او هغه ماشومان چې یتیمان دي، بې سرپرسته دي، کاګران دي، بې وزلي کورنۍ دي او یا هم زیانمن شوي خلك دي له دوی سره دې مرستې وکړي او خپله اسلامي او انساني وجیبه دې ترسره کړي. قومي مشران دې د غونډو او ناستو جوړولو له مخې اړوندو قومونو ته پر ماشومانو د شاقه کارونو د مخنیوي په اړه څرګندونې وکړي او د رسنیو مسؤلین او روڼ اندي دې د سترو راټولیدنو، راډیویي او تلویزیوني خپرونو او همداراز د خواله رسنیو له لارې عامه پوهاوی وکړي او هغه زیانونه دې په ګوته کړي، چې له دې ناوړه پدیدې څخه رامنځته کېږي. خو تر ټولو مهمه داده چې موږ باید قانون تطبیق کړو او د قانون په مخ کې کوم خنډونه او ممانعت موجود دي، هغه لرې کړو ؛ تر څو یوه ښه او فعاله ټولنه ولرو.

**ماخذونه**


۱. القرآن کریم: سورت (النور) (٥٩). (المدثر ١٣-١٢)، (الکهف ٤٦). (التحریم : ٦)
۲. أخرجه البخاري (٢٥٥٤)، ومسلم (١٨٢٩)، متفقٌ عَلَيْهِ وأبو داود (٢٩٢٨)، والترمذي (١٧٠٥)، والنسائي في ((السنن الکبری)) (٩١٧٣)، وأحمد (٥١٦٧).
۳. خوستی، شمس .(۱۳۸۸ل). ښوونیز بنسټونه. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.
۴. مرزایي، مژګان .(۱۳۹۱ل). عرفان. کابل: پوهنې وزارت، میاشتینۍ مجله (لړم/ عقرب).
۵. همت، واحدالله .(۱۳۸۷ل). کورنۍ ژوند. پېښور: زیب ارټ پبلشر.

6. Annabel W. (2008). *the impact of child labor on the educational attainment of children in Vietnam,* Oxford University, UK. Page:8
7. Anumaka, I. B. (2013). Child labour: Impact on academic performance and social implication: A case of Northeast Uganda. Page: 57.
8. Arat, Z. F. (2002). Analyzing child labor as a human rights issue: its causes, aggravating policies, and alternative proposals. Hum. Rts. Q., 24, 177.
9. "Convention on the Rights of the Child". United Nations. Archived from the original on 3 October 2006. Retrieved 5 October 2006.
10. Dennis, M. J. (1999). The ILO convention on the worst forms of child labor. American Journal of International Law, 93(4), 943-948.

11. Munubi, H. (2011). *Assessment of the Causes and Effects of Domestic Child Labor and Its Impacts on Society: A Case Study of Dar Es Salaam, Tanzania* (Doctoral dissertation, St. Cloud State University).
12. Neocleous, Mark. "The political economy of the dead Marx's vampires." History of Political thought 24, no. 4 (2003): 668-684.

# په پوهنتونونو کې د شخړو په کمولو کې د محصلانو ونډه

پوهنمل گل ولی محمدزی د شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي او بانکي څانگې علمي کادر غړی
**ایمیل ادرس:** gulwali.szu@gmail.com

او پوهنیار اکمال ناصر امیري، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، اداري او تجارت څانگې علمي کادر غړی
**ایمیل ادرس:** akmal.amiri@yahoo.com

**لنډیز**

دغه مقاله په پوهنتونونو کې د شخړو په کمولو کې د محصلانو په ونډه باندې بحث کوي او هغه لارې چارې څېړي د کومو له مخې چې په پوهنتونونو او د زده کړو په چاپېریالونو کې د شخړو او ستونزو په راکمولو کې گټورې ثابتېدای شي. په مقاله کې هڅه شوې ده، چې په علمي او اکاډمیکو محیطونو او پوهنتونونو کې رامنځته کېدونکې ممکنه شخړې او ستونزې وپیژندل شي او په ترتیب سره د دا ډول شخړو عمده لاملونه او د هغوی په له منځه وړلو او را کمولو کې د محصلانو ونډه او مسؤلیتونه واضح شوي دي. شخړه هغه حالت دی کله چې په یوه محیط کې دوه یا له دوو زیاتې خواوې د خپلو اهدافو په لاسته راوړلو او تحقق کې له یوه بل سره اختلاف لري. هغه عمده موارد چې په اساس یې شخړې رامنځته کیږي د ضعیفې او کمزورې مفاهمې، د شخصیت له لحاظه توپیر، د سرچینو ناعادلانه وېش، د رواني روغتیا ستونزې، په فعالیتونو او د اوامرو په اجراء کې د مراتبو سلسلې نه مراعاتول، ناسالم رقابتونه او داسې نور هغه لاملونه دي چې په وجه یې په پوهنتونونو او اکاډمیکو محیطونو کې شخړې او ستونزې رامنځته کیږي. محصلان د اکاډمیکو محیطونو د مهمې او لویې کتلې په توگه د شخړو په حل و فصل او د هغوی د لاملونو په له منځه وړلو کې فوق العاده مهم رول لوبولی شي. د زغم او یو بل منلو کلتور رامنځته کول، د شخړې د ښکېلو خواوو ترمنځ د منځگړې توب کول او محصلانو ته د عامه پوهاوي په ورکولو کې د محصلانو رول مهم بلل کیږي.

**کلیدي ټکي:** تاوتریخوالی، د شخړې لاملونه، شخړه، د شخړې او تاوتریخوالي تر منځ توپیر

## سریزه

بِسْمِ اَللهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین. وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ (سورة النفال: الایة ۴۶)

(او یو له بل سره شخړي مه کوئ، که نه کمزوري به شئ او ځواک او برم به مو ولاړ شي).

شخړې یا کشمکشونه په هره اداره کې رامنځته کېدای شي چې پوهنتونونه او اکاډمیکې ادارې هم له هغوی څخه مستثنا نه دي، خو د شخړو د ادارې او مدیریت موثریت هغه څه دي چې د ټولې اکاډمیکې ادارې کارکرده ګي او فعالیتونو باندې اغېز اچولی شي. هغه دلایل چې په ځانګړي ډول په علمي ادارو کې د شخړو د رامنځته کېدو باعث کېږي له بین الذاتي او اداري فکتورونو څخه عبارت دي، له بله طرفه پیوستون، مرسته او همکاري او د یو او بل زغمل هغه عوامل دي چې د شخړو په مدیریت او په عمومي ډول د علمي محیط په سوکالي او پرمختګ کې ګټور او مفید تماميږي. د محصلانو په شمول د یوې علمي ادارې د مسؤلینو لپاره دا تر ټولو مهمه ده، چې د محصلانو او ښوونکو، محصلانو او اداري کارمندانو، استادانو او اداري کارمندانو او په ټوله کې په یوه علمي مرکز کې را پیدا کېدونکې شخړې او ستونزې پرته له دې، چې د محصلانو او استادانو او نورو ذیدخل اړخونو ترمنځ اړیکې خرابې شي او یا هم علمي جریانونه مختل شي، حل و فصل شي. سره له دې چې په علمي مرکزونو کې شخړې، ستونزې او کشمکشونه مخ په ډېرېدو دي، په مقابل کې يې زیاتره پوهنتونونه په خپلو تحصیلي پروګرامونو کې د مذاکرې، زغم، مباحثې او منځګړیتوب د تخنیکونو او مهارتونو د کسب په موخه محصلانو ته بېلابېل کورسونه وړاندې کوي. د تېرو څلورو لسېزو را په دې خوا په اداري جوړښتونو کې، په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د شخړو، مخالفتونو او مشاجرو د حل (Resolution Conflict) ساحې د پام وړ پرمختګ کړی دی (۸: ۴).

شخړې او کشمکشونه د علمي مراکزو له عمده ننګونو څخه بلل کيږي، چې د تدریسي کارکوونکو په ور زده کړه او د محصلانو د زده کړې په مؤثریت د پام وړ اغېز شیندي. د پوهنتونونو په شمول په لویو علمي مراکزو او ادارو کې د مختلفو ټولنیزو، کلتوري او فکري شالید لرونکي افراد بېلابېل توقعات، ارزښتونه، نظریات، ترجیحات، شخصیتونه او انګېزې لري، چې وخت نا وخت د دغو بېلابېلو مشخصاتو عدم مطابقت او اختلاف په دا ډول ادارو کې د شخړو او ستونزو باعث ګرځي. هغه څه چې د علمي ادارو لپاره زیات د اهمیت وړ دي، هغه د مختلفو افرادو د نظریاتو، ارزښتونو، توقعاتو او عقایدو د ټکر د علتونو له منځه وړل او د ټولو دغو مشخصاتو لپاره د مساوي چوکاټ را منځته کول دي، تر څو علمي

اداري د هغه هدف په لوري چې تأسیس شوي دي له ستونزو پرته پرمختګ وکړي. په لویو علمي مراکزو کې د مراجعینو، محصلانو، استادانو او اداري کارمندانو د شمېر زیاتوالی د بېلابېلو کلتورونو، نظریاتو، عقایدو او ارزښتونو ښودنه کوي. له همدې وجې په دا ډول لویو او کوچنیو علمي مرکزونو کې د شخړو او ستونزو را منځته کېدل او د نظریاتو ټکر نه مخنیوی کېدونکي (اجتناب ناپذیر) واقعات وي. خو دا هم د یادونې وړ ده، چې شخړې او نظریاتي اختلافات د اداري د سمون او اصلاح او اهدافو ته په رسېدو کې مرسته هم کوي. له شخړې او نظریاتي اختلاف پرته کېدای شي ډېرې علمي او اداري پروسې د شخصي تمایلاتو او غیرعیني شکل سره پر مخ لاړې شي، چې په دې صورت کې علمي پروسه په یو اړخیز ډول متأثره کیږي یا په بل عبارت د یو طرفه نظریاتو د اغېز لاندې راځي او مؤثریت یې کمیږي. په ادارو کې په عمومي ډول او په پوهنتونونو کې په ځانګړي ډول شخړې، ستونزې او نظریاتي اختلافات هغه وخت را منځته کیږي کله، چې د دوه یا زیاتو ذیدخل اړخونو ارزښتونه، اهداف یا نظریات د یو بل په مقابل کې واقع شي، چې دا حالت په عین وخت کې هم فرصت او هم ننګونه ګڼل کېدای شي. فرصت په دې معنی چې نظریاتي اختلاف او شخړه د یوه رغوونکي انتقاد په ډول استنباط کیږي او د هغه حالت او شرایطو د له منځه وړلو هڅه کیږي د کومو په وجه چې شخړه را منځته شوې ده. برعکس شخړه او ستونزه هغه وخت په ننګونه او ناګوار حالت بدلیږي کله چې یې مسؤل او ذیدخل اړخونه په سم مدیریت کولو او د شخړې د رامنځته کېدو د عواملو په له منځه وړلو کې پاتې راشي(۸: ۵).

په زیاترو علمي مراکزو کې محصلان د خپلمنځي او پوهنتون شموله شخړو او ستونزو د حل په موخه اتحادیې، ټولنې، انجمنونه او کمېټې جوړوي، چې په خپله د محصلانو له خوا رهبري او په مخ بیول کیږي. دغه ډول جوړښتونه، سره له دې چې د محصلینو په ټولنیز-سیاسي درک پورې اړه لري، تر ډېره حده د علمي مراکزو په منځ کې د ستونزو او شخړو په له منځه وړلو کې ګټور ثابت شوي دي.

د پورته توضیحاتو په نظر کې نیولو سره په دې مقاله کې د هغه ممکنه ستونزو په را کمولو او له منځه وړلو کې چې په علمي او اکاډمیکو ادارو کې را منځته کیږي، د محصلانو په رول او نقش باندې بحث شوی تر څو قدرمنو لوستونکو او په ځانګړي ډول محصلانو ته د شخړو د حل په برخه کې د هغوی د رول په اړه پوهاوی ورکړل شي او محصلان وتوانیږي په علمي او اکاډمیکو ادارو کې خپل پیل کړی سفر د زده کړو سره په څنګ کې د هغو مسؤلیتونو سره یو ځای پای ته ورسوي، چې دوی ته په دې برخه کې متوجه دي.

## موخې

د دې مقالې له لیکلو څخه موخه دا ده ترڅو په علمي ادارو کې د شخړو او ستونزو په کمولو کې د محصلانو ونډه او نقش روښانه او واضح شي او همدارنګه هغه لارې چارې چې په اکاډمیکو محیطونو کې د راپیدا کېدونکو شخړو په مخنیوي او حل او فصل کې مرستندوی ثابتېدلی شي لوستونکو، په ځانګړي ډول محصلانو ته وړاندې شي. په دې توګه به محصلان وکولای شي د هغو ممکنه شخړو او ستونزو چې د محصلانو، محصلانو او استادانو، محصلانو او اداري کارمندانو او استادانو او اداري کارمندانو ترمنځ را پورته کیږي، بارز او مؤثر رول ولوبولی شي.

## د کار مواد او میتود

د دې لپاره چې د ( په پوهنتونونو کې د شخړو په کمولو کې د محصلانو ونډه ) تر عنوان لاندې مقاله بشپړه کړم؛ نو د کیفي میتود څخه مې په خپله څېړنه کې کار اخیستی او د څېړنې موضوع له ټاکلو وروسته مې د اړتیا وړ مواد د کتابخانه یي څېړنې د مېتود پر بنسټ د بېلابېلو ژبو له کتابونو، مجلو، مقالو او انټرنېټ پاڼو راټول او د تحلیل او ارزونې وروسته د مقالې په شکل ترتیب او لیکل شوي دي.

## د شخړې مفهوم او ماهیت

شخړه یوه انساني پدیده ده او چېرته چې هم انساني تعامل او فعالیت تر سترګو کیږي، نو هلته به بې له شکه شخړې او مخالفتونه هم رامنځته کیږي. شخړې په شخصي ژوند اداره، او زده کړه اییز چاپېریال کې یو حتمي او نه مخنیوی کېدونکی حالت دی. د شخړې د هغو خاصیتونو له وجې چې په هر ځای کې رامنځته کېدلی شي او خپرېدلی (سرایت کولای) شي، د څېړونکو او مدیرانو ترمنځ ځانګړی ځای او اهمیت پیداکړی دی. دا اهمیت د شخړې یا کونفلیکټ (Conflict) د معنی او ربط او د هغې سره د مقابلې د لارو چارو له وجې رامنځته شوی دی. اړینه نه ده چې شخړه دې حتماً د جدي اختلاف او مخالفت په معنی استنباط شي، بلکې کېدای شي شخړه د پوهنتون په یوه ډیپارټمنټ کې د آمر او اداري کارمند ترمنځ د غونډو د مهال وېش پر سر رامنځته شي. د بېلګې په توګه د ډېپارټمنټ آمر غوښتنه کوي چې د ډیپارټمنټ ټولې اداري غونډې دې د سهار په نهو بجو دایرېږي، په داسې حال کې چې اداري کارمند د دا ډول غونډو لپاره د یولس بجو وخت انتخابوي او استدلال کوي، چې څرنګه چې د سهار په نهو بجو درسي ټولګي جریان لري، نو ممکن ټول استادادن د سهار په نهو بجو غونډو کې ګډون و نه شي کولای. دا په خپل ذات کې یو ډول شخړه او اختلاف دی، نو په دې ډول سره ویلی شو چې شخړه د هغه حالت څخه عبارت ده چې پکې دوه یا زیات اړخونه د خپلو اړتیاوو او اهدافو د لاسته راوړلو په

پروسه کې اختلافات څرګندوي (۲۱۳:۵). کله چې یو جانب له ذیدخل اړخونو څخه دا درک کړي چې مقابل لوری د لومړي اړخ د توقع، ارزښت یا پلان شوې پروسې خلاف رفتار او عمل کوي؛ نو لومړی اړخ د خپل عدم توافق عکس العمل څرګندوي چې دا په خپله شخړه یا اختلاف بلل کیږي. همدارنګه د ځینو څېړونکو له نظره شخړه له هغې پروسې څخه عبارت ده، چې یو اړخ دا درک کړي، چې مقابل لوری د دوی د عمل یا وینا له وجې نا ارامه او ناهیلی شوی او یا هم د ناهیلی کېدو په حالت کې دی (۹:۲). یا په بل ډول ویلای شو چې شخړه هغه پروسه ده کله چې یو اړخ په دې پوه شي چې مقابل لوری یې د ګټو مخالفت کوي؛ نو لومړی اړخ د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره هڅې کوي. ځینې څېړونکي شخړې ته د یوې منفي پدېدې په نظر ګوري، خو ځینې نور بیا فکر کوي چې په سازمانونو او علمي مؤسساتو کې شخړې رغوونکی رول لوبوي او د شخړو په اساس په علمي او اداري پروسو کې بهتروالی او سمون را منځته کیږي. د دې دواړو نظریو په څنګ کې دریيمه نظریه دا ده چې کېدای شي په ځینو حالاتو کې شخړه د شخصي دلچسپي او ګټې په اساس را منځته شوې وي او یو اړخ د شخړې له موجودیت څخه د شخصي پرمختګ د یوې موقع په توګه ګټه واخلي. د کوزر له نظره شخړه د دوه یا زیاتو خواوو ترمنځ د ارزښتونو او حقوقو په سر له مبارزې څخه عبارت ده چې هر یو له دغو اړخونو څخه هڅه کوي چې د مقابل لوري اهداف له منځه یوسي (۷: ۱۱۹).

چارلېس رایت مېلز د شخړې تیوري مؤسس یا بنسټ ګر بلل کیږي. د مېلز له نظره ټولنیز جوړښتونه د خلکو ترمنځ، چې بېلابېلو ارزښتونو ته معتقد وي، د شخړو او اختلافاتو په نتیجه کې رامنځته کېږي. په ټولنیزو جوړښتونو کې اکثره شخړې د واک او سرچینو د غیرعادلانه وېش په اساس را منځته کیږي. مېلز همدارنګه په دې نظر دی چې د ټولنې د نخبه ګانو ګټې زیاتره وخت د عادي وګړو د ګټو سره په ټکر کې وي، د مخورو له خوا د واک او سرچینو انحصار د ټولنې د وګړو ترمنځ د شخړو د سختېدو باعث ګرځي. له بله اړخه د شخړو د تیوري معاصر شکل د آلن سییرز په کتاب کې تر سترګو کیږي. سیرز په دې نظر دی چې په ټولنه کې شخړې د بې عدالتۍ او نامساوات نتېجه ده او دا ډول شخړې د موجوده (غیرعادلانه) اړیکو په بنسټیز بدلون سره له منځه تللی شي. هغه ډله خلک چې په موجوده (غیرعادلانه) اړیکو کې یې ګټې خوندي نه دي، د ټولنیز بدلون باعث کیدلای شي. ځینې نور څېړونکي بیا شخړو ته د طبیعي تعامل په نظر ګوري او په دې نظر دي چې په اداري او ټولنیزو جوړښتونو کې شخړې د مثبت بدلون او سمون باعث کېدلای شي. که چېرې شخړې او نظري اختلافات وجود ونه لري نو کړنې او پروسې به د یوه عادت په شکل بدون له کوم مثبت تغیر څخه مخکې ځي(۷: ۱۲۱).

په علمي ادارو کې د شخړو شکلونه د محیطونو په تغیر سره توپیر کوي. په لویو او مغلقو اکاډمیکو محیطونو کې شخړې هم مغلقې او زیاتې وي نو ځکه یې مدیریت او حل و فصل هم زیاتې پوهې او مهارتونو ته اړتیا لري. خو برعکس په کوچنیو او ساده اکاډمیکو ادارو کې د شخړو شمېر، شکل او پیچلتیاوې هم کمې وي. په اکاډمیکو ادارو کې د ذیدخل(ښکیل) اړخونو تر منځ شخړو او اختلافاتو سره سوړ او سطحي چلند، د ستونزې د لوییدو باعث ګرځیدلی شي چې په ورستیو پړاوونو کې یې کابو او حل کول ستونزمن ښکاري. په علمي ادارو کې زیاتره ستونزې د محصلانو او تدریسي کارکوونکو ترمنځ او همدارنګه د اداري کارمندانو او محصلانو ترمنځ را ولاړیږي او زیاتره وخت د حقوقو د غوښتلو، مساوي حقوقو، ناسم چلند، د دوه اړخیز درناوي نه موجودیت، د اسنادو ناسم مدیریت او استعمال، جعل او فریب او داسې نورو مواردو کې څرګندیږي (۹: ۱۱۳). د محصلانو لپاره اړینه ده چې د استادانو او اداري کارمندانو سره را پورته کېدونکې شخړې په موثر او صحیح ډول پرته له دې، چې د دوی ترمنځ اړیکې کړکېچنې، د مرستې او همکاري فضا زیانمنه او یا هم د زده کړې پروسه له خنډونو سره مخ شي، حل و فصل کړي. د استاد او محصل او یا هم محصل او علمي ادارې ترمنځ د شخړې حل او مدیریت کول یوازې د ادارې او استاد مسؤلیت او دنده نه ده، بلکه په دې اړه د محصلانو چلند او عکس العمل او د ممکنه شخړې په له منځه وړلو کې د هغوی مسؤلیت هم ډېر مهم او اغېزناک تمامیدای شي. په علمي مؤسساتو کې رامنځته کېدونکو شخړو په حل و فصل کې د محصلانو رول هغه وخت مفید او رغنده بلل کېږي کله، چې د دربیم ګړي یا منځګړي ضرورت پیښ نه شي او شخړه حل شي (۳: ۱۰۷).

د انګلیسي کلمه (Conflict)، چې په شخړه، کشمکش، نظریاتي اختلاف او نورو مترادفو معنی ګانو سره ژباړل کېدلای شي، په خپله ستونزه نه ده خو هغه وخت په شخړه اوښتلی شي کله، چې په ضعیف او ناسم ډول مدیریت شي. شخړه هغه وخت ستونزه بلل کیږي کله، چې د لاندې حالاتو څخه په یوه باندې منتج شي:

الف: د زده کړو مؤثریت را کم کړي

ب: اخلاقي مورال را ټیټ کړي

ج: د زیاتو او دوامداره شخړو باعث شي

د: د ښکېلو اړخونو او یا په ټوله کې د علمي محیط د ټولو غړو د ناوړه چلند باعث شي (۵: ۲۱۴).

### د شخړې او تاوتریخوالي تر منځ توپیر

شخړه او تاوتریخوالی سره له دې چې ځینې خلک یې مترادف استعمالوي او له یو بل سره د هغه وضعیت او حالت له مخې چې دواړه کلمې یې ترسیموي له یوې بلې سره ارتباط هم لري، خو په عین وخت کې له یوې بلې څخه بېلې او متفاوتې کلمې دي. لکه څرنګه چې په مخکېني بحث کې هم اشاره ورته وشوه، شخړه اصلاً د دوه یا زیاتو اړخونو د هغوی د توقعاتو، ګټو او اهدافو په نظر کې نیولو سره له یو او بل سره د نظري اختلاف او عدم توافق څخه عبارت دی؛ په داسې حال کې چې تاوتریخوالی له ګواښه ډک د فزیکي قوې استعمال څخه عبارت دی، چې یو اړخ یې د بل اړخ په مقابل کې د بېلا بېلو دلایلو او علتونو په اساس په دا ډول اقدام لاس پورې کوي. تاوتریخوالی ممکن د مرګ، ټپ، جسمي یا رواني صدمې او یا هم کوم بل ډول ضرر باعث شي، ولې په شخړه ( یا نظریاتي اختلاف ) کې دا ډول یو حالت نه وي موجود (۱: ۴). یا که په بل عبارت یې ووایو چې شخړه د تاوتریخوالي په نسبت کم شدت لري؛ خو باید یادونه وکړو، چې که شخړه په خپل وخت او مهارت سره کنترول او مدیریت نه شي، نو په تاوتریخوالي بدلېدلای شي. له بله طرفه د یادونې وړ ده چې پوهنتونونه او علمي مراکز په مکرر ډول د شخړو او نظري اختلافاتو شاهد کېدلای شي خو تاوتریخوالی په دا ډول محیطونو کې په ندرت سره تر سترګو کیږي ځکه چې د دا ډول محیط د کارمندانو او ذیدخل اړخونو د افهام او تفهیم د لوړې سطحې او په ټوله کې علمي اصول او اخلاق د دې ایجاب نه کوي، چې د محصلانو، استادانو او اداري کارمندانو تر منځ اختلافات دې په تاوتریخوالي واوړي (۱۰: ۱۱۲).

### په علمي او اکاډمیکو ادارو کې د شخړو عمده لاملونه

د بروکېنز او میډیا د نظر په اساس په اکاډمیکو او عادي ادارو کې د کارمندانو، استادانو او محصلانو ترمنځ د نظر اختلاف او شخړې یو عادي او نورمال عمل دی، چې د ذیدخل اړخونو د شخصیت او ارزښتونو د متغیروالي له وجې را منځته کېږي. د یوه منظم او کارنده علمي چاپېریال د را منځته کولو او ساتلو لپاره د اکاډمیک محیط د ذیدخل اړخونو ترمنځ را ولاړېدونکو شخړو او مخالفتونو ته په سم وخت او مؤثر ډول ځواب ویل او رسیده ګي کول نه یوازې دا چې د ادارې د مسؤلینو دنده او مسؤلیت دی، بلکه محصلان هم باید د دا ډول محیط په را منځته کولو کې خپل نقش ولوبوي. علمي مؤسساتو کې د شخړو او سختو مخالفتونو څخه یو یې هم دا کېدای شي، چې د پوهنتونونو استادان مخکې له دې چې ځانونه د علمي مؤسسې (پوهنتون) رسمي کارمندان وبولي، هغوی د ځانونه د خپلې رشتې متخصصین بولي مثلاً تاریخ پوه، اقتصاد پوه، ریاضي پوه او داسې نور. د استادانو له خوا دا ډول چلند په

خپله د اداري د نورو کارمندانو مخالفتونه او ناهیلی را پیدا کوي (۹: ۱). که چېرې په یوه اکاډمیک محیط کې محصلان او مسؤلین په دې عقیده وي، چې کوچنۍ شخړې او اختلافات په خپله حل کېږي او له منځه ځي، دا نظریه غلطه ثابته شوې ده او په اکثرو مواردو کې ډېرې ساده ستونزې په لویو او پېچلو ستونزو، چې تاوتریخوالی یې هم له ځان سره لرلی دی، بدلې شوې دي. د یادونې وړ ده چې د دا ډول یوه کارنده او ارام علمي محیط د را منځته کولو لپاره باید هغه لاملونه پیدا او حل لاره یې ولټول شي، چې په یوه علمي محیط کې د شخړو سبب کیږي. په اکاډمیکو محیطونو کې د شخړو د را منځته کېدو عمده لاملونه په لاندې ډول په ګوته کولای شو.

۱. کمزورې مفاهمه

په زیاترو علمي او اکاډمیکو محیطونو کې د شخړو د را منځته کېدو له مهمو لاملونو څخه یو هم کمزورې او ضعیفه مفاهمه ده. څرنګه چې مفاهمه د دوه اشخاصو، ګروپونو یا ځایونو ترمنځ د معلوماتو او پیغامونو د انتقال او پوهېدنې څخه عبارت ده، نو په اکاډمیکو محیطونو کې د معلوماتو ضعیف او ناسم انتقال د شخړو او اختلافاتو باعث کېدای شي، په ځانګړي ډول هغه وخت زیات ستونزمن کیږي کله چې د معلوماتو لېږونکی په دې ونه توانیږي چې خپل پیغام په سم ډول د پیغام اخیستونکي یا ټاکل شوې منبع ته ورسوي او یا هم برعکس کله چې د معلوماتو او پیغام ترلاسه کوونکی د مهارتونو د کموالي او یا هم د پیغام د ګونګوالي له وجې معلومات په سم ډول اخذ نه کړي، نو د شخړې او اختلاف باعث ګرځي. د معلوماتو ناسم انتقال یا د ناسمو معلوماتو انتقال په علمي ادارو کې نه یوازې د شخړو باعث کېږي بلکه د زده کړې پروسه هم له خنډونو سره مخ کوي (٦: ۵۵).

۲. د شخصیت له لحاظه توپیرونه

د شخصیت له لحاظه د یوې اکاډمیکې مؤسسې د کارمندانو، استادانو او محصلانو ترمنځ خورا لوی توپیر موجود وي ځکه چې د دا ډول مؤسساتو کارمندان او محصلان د مختلفو سیمو څخه راغلي او د مختلفو شالیدونو درلودونکي وي. د کارمندانو او محصلانو په شخصیت جوړونه کې د دوی تجربې او د هستوګنې چاپېریال ځانګړی نقش لوبوي. کله چې د علمي مؤسساتو کارمندان او محصلان دغه کلتوري توپیرونه درک او قبول نه کړي، هغه مؤسسات به تکراراً له شخړو او ستونزو سره لاس و ګرېوان وي. نو په علمي چاپېریالونو کې د شخړو د رامنځته کېدو بل لوی لامل د شخصیت له نظره د علمي مؤسساتو د

کارمندانو او محصلانو توپیر څخه عبارت دی، یا په بل عبارت شخصي ارزښتونه او کلتوري مسایل تفاوت او د هغوی نه درک کول د شخړو باعث کېږي(٦: ٥٦).

۳. د سرچینو غیرعادلانه وېش

که چېرې هغه سرچینې چې یوه علمي مؤسسه یې په اختیار کې لري د هغوی د ګټه اخیستونکو ترمنځ په مناسب او عادلانه ډول ونه وېشل شي، ځینې له دې اړخونو څخه د کمترۍ او بې عدالتي احساس کوي. دا ګروپ خلک د خپلو اړتیاوو د رفع کولو او د سرچینو څخه د پوره ګټې اخیستلو په موخه په اختلاف او شخړه لاس پورې کوي. د سرچینو غیرعادلانه وېش په هغه صورت کې زیات ترسترګو کیږي کله چې علمي مؤسسه د سرچینو د کمښت ستونزې سره مخامخ وي او نه شي کولای چې ټولو ذیدخل اړخونو ته مساوي سرچینې او خدمات وړاندې کړي. د سرچینو غیر عادلانه وېش او کمښت په اکاډمیکو محیطونو کې د شخړې د رامنځته کېدو د عواملو څخه بلل کېږي، چې د مناسبو پالیسیو په طرحه کولو سره دا ډول شخړې تر ممکنه حده را کمېدلای شي(۷: ٥٦).

۴. رواني روغتیایي ستونزې

د یوې علمي مؤسسې د کارکوونکو، محصلانو او استادانو ترمنځ د ځینو را ولاړېدونکو شخړو یو بل عمده لامل په شخړو کې د ښکېلو اړخونو یا یو اړخ د رواني روغتیایي ستونزو موجودیت دی. کله چې محصلان، استادان، یا کارمندان دا احساس کړي، چې د دوی نظر یا مفکورې ته احترام نه کیږي او جدي نه نیول کیږي، نو له ذهني پلوه له فشار او سټرس سره مخ کیږي او د کمترۍ احساس کوي. د ذهني فشار او سټرس له وجې یې شخصي ژوند متاثر او متضرر کیږي او له بله پلوه یې د کمترۍ احساس په فکر کې د شخړې احساس را پورته کوي او په دې ډول په اکاډمیکه مؤسسه کې د کارمندانو، استادانو یا محصلانو ترمنځ د شخړې باعث ګرځي(۱۱: ٦).

له دې پورته ذکر شویو لاملونه پرته ځینې نور موارد هم په اکاډمیکو مؤسسو او پوهنتونونو کې د شخړو د رامنځته کېدو باعث کېدلی شي. مثلاً کله چې د فعالیتونو په اجراء او د اوامرو په صدور کې د مراتبو سلسله په نظر کې ونه نیول شي د لوړ پوړې رهبري، استادانو، محصلانو او اداري کارمندانو ترمنځ د شخړې او کشمکش سبب کېدلای شي. همدارنګه د سرچینو په استعمال او د مقامونو په لاسته راوړلو کې ناسالمه سیالي د محصلانو او د پوهنتون د ذیدخل اړخونو ترمنځ د شخړې بل مهم لامل حسابیږي.

په هغو اکاډمیکو محیطونو کې چې سیالي او رقابت ناسالم شکل ځانته غوره کوي او کله چې یوه ډله افراد هڅه کوي چې د نورو سرچینې هم په اختیار کې واخلي، نو ټکرونو او شخړو ته لاره هوارېږي. د پوهنتونونو ادارې او محصلان باید په شریکه سره کار وکړي تر څو په اکاډمیک محیط کې د دا ډول شرایطو د منځته راتګ مخنیوی شوی وي (۵: ۲۱۴).

**په علمي او اکاډمیکو ادارو کې د شخړو په راکمولو کې د محصلانو ونډه او مسؤلیت**

په پورته برخه کې مو په پوهنتونونو او اکاډمیکو محیطونو کې د شخړې د پېژندنې څخه بیا د هغې تر لاملونو پورې ځینې مسایل تر بحث لاندې ونیول، اوس اړینه ده چې په اکاډمیکو مؤسسو کې د شخړو او د هغوی د لاملونو په له منځه وړلو او حل و فصل کې د محصلانو په ونډه او مسؤلیتونو باندې بحث وکړو. په دې برخه کې هغه څه چې ډېر اړین دي دا دي چې محصلان د خپل موقف په درک کولو سره هغو مسؤلیتونو ته متوجه شي، چې دوی ته په اکاډمیکو محیطونو کې د شخړو د له منځه وړلو او یوې سوله ییزې فضاء په رامنځته کولو کې ور له غاړې او متوجه دي. د شخړو د حل لپاره دوه مناسب روشونه وړاندیز کېدلای شي: یو یې عنعنوي روش او دویم یې رسمي (مدون) روش. د شخړو په راکمولو او حل کولو کې د دواړو روشونو اغېز او ګټورتوب له یو بل څخه توپیر لري او هر یو یې په خپل ځای د اهمیت وړ دی. په زیاترو هغو ټولنو کې چې زیات عنعنوي تمایلات لري، رسمي علمي ادارې یې هم له دا ډول تمایل او اغېز څخه مستثنا نه وي. په دې معنی چې په عنعنوي ټولنو کې (لکه افغانستان) څرنګه چې د ژوند د نورو برخو ستونزې او شخړې د عنعناتو او رواجونو په رڼا کې حل و فصل کیږي، همدا ډول د پوهنتونونو او علمي ادارو شخړې هم د عنعنوي طریقو او رواجونو څخه په استفادې حل و فصل کوي، د بېلګې په توګه د منځګړیتوب یا له لارې. کله چې یو شمېر محصلان په علمي محیط کې د شخړو او ستونزو سره مخامخ کیږي، نو نور محصلان د منځګړیتوب له لارې هڅه کوي چې ستونزې ته په وخت رسیده ګي وکړي او شخړه حل کړي. دا کار په زیاترو پوهنتونو او علمي مؤسساتو کې په منظم شکل (یعنې د محصلانو د اتحادیو له لارې) تر سره کیږي، خو په ځینو نورو کې بیا منظم شکل نه لري. د شخړو د حل دویم او رسمي روش ټول هغه لیکلي تعهدات، اصول، طرز العملونه او کړنلارې په بر کې نیسي، چې علمي مؤسسات یې د یوه ارامه او سوله ایز محیط د رامنځته کولو لپاره تدوین او تطبیقوي (۲: ۱۱۷).

په پوهنتونونو کې شخړې له یوه پوهنتون څخه و بل پوهنتون ته د هغه د ځای، اندازې، د محصلانو شمېر، د پوهنتون د رهبري په شکل او همدارنګه په پوهنتون کې د محصلانو د اتحادیو په وضعیت پورې اړه

لري. هغه څه چې په پوهنتونونو او علمي محیطونو کې د شخړو د لامل په اړه د یادولو وړ دي دا دي، چې په ټولو پوهنتونونو او علمي مؤسساتو کې د شخړو لاملونه یو ډول او مشابه نه وي، بلکه له یوې مؤسسې څخه و بلې ته توپیر لري. خو که چېرې په پوهنتونونو کې د شخړې موضوعات سره ورته او مشابه وي، نو دلایل، نتایج او عوامل یې هم مشابه کېدلی شي(۱۰: ۱۰۷).

سره له دې چې د لوړو زده کړو په مؤسساتو کې د شخړو حل او مدیریت یوه ستونزمنه او پېچلې موضوع ده او تر ډېره حده د لوړې کچې مدیریت مداخلې ته اړتیا لري، خو بیا هم محصلان د پوهنتون د داخلي شخړو د را کمولو او حل لپاره یو لړکارونه او اقدامات تر سره کولای شي، چې تر ډېره حده مؤثر او ګټور ثابت شوي دي. د بېلګې په توګه د زغم او یو بل منلو ته د محصلانو تشویقول. محصلان کولی شي د یو بل منلو او د تنوع د زغم کلتور په مروجولو او تشویقولو سره د شخړو او کشمکشونو د رامنځته کېدو څخه د مخنیوي او یا هم په حل کې پوره مرستندوی ثابت شي. څرنګه چې ښکاره ده، په علمي او اکاډمیکو محیطونو کې د شخړو د منځته راتګ له عواملو څخه یو یې هم د مختلف النوع کلتورونو لرونکو خلکو له نظریاتي اختلاف څخه عبارت دی، نو د محصلانو په دا ډول حرکاتو او اقداماتو سره د زغم او یو بل منلو فضا را منځته کیږي او قوي کیږي. کله چې په علمي ادارو کې د زغم او منلو کلتور را منځته او وغوړیږي، نو د هغوی د اوږدمهاله اغېز په حیث د شخړو او اختلافاتو ګراف را ټیټیږي. د دوهمې بېلګې په ډول د منځګړي توب څخه یادونه کولی شو. د شخړو د حل او مخنیوي په اړه بل مهم کار چې محصلان یې کولی شي د منځګړي توب څخه عبارت دی. کله چې د دوه یا زیاتو اړخونو تر منځ شخړه او اختلاف را منځته کیږي، نو د دې اړتیا احساس کیږي تر څو مخکې له دې، چې شخړه جدي او له کنترول څخه ووځي، باید د مخنیوي او حل و فصل لپاره یې هلې ځلې وشي. د دې کار لپاره غوره ده چې ثالث اشخاص یا دریېم ګړي د شخړې د ښکېلو اړخونو تر منځ منځګړي توب وکړي او د دواړو خواوو شکایت او استدلال ته غوږ ونیول شي. دا کار تر بل هر چا محصلان په ښه ډول کولای شي. له دې دوه بېلګو ور ها خوا نور ډېر داسې موارد او ساحې شته، چې د شخړو د حل و فصل لپاره د محصلانو هلې ځلې د پام وړ اغېزې لرلی شي. د مثال په ډول که ټولو محصلانو ته په عمومي ډول او نویو راغلو محصلانو ته په ځانګړي ډول د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره واچول شي او محصلان د زده کړه اییز محیط د اصولو او مقرراتو سره اشنا او د هغوی مسؤلیتونه او دندې ورته روښانه شي، نو په زیاته اندازه به مو د شخړو د منځته راتګ مخنیوی کړی وي (۱۰: ۴).

**پایله**

د پورته موضوعاتو او مباحثو څخه و دې نتیجې ته رسیدلی شو، چې شخړې او اختلافات د بشري ژوند نه جدا کېدونکې او نه مخنیوی کېدونکې پدیدې دي، چې د بل هر ډول اجتماعي، سیاسي، اداري او نظامي محیط او چاپیریال په ډول په اکاډمیکو او علمي ادارو کې هم کله کله سر را پورته کوي. د شخړو د هغو ځانګړتیاوو او پیچلتیاوو له وجې چې په هر ځای کې رامنځته کېدلای شي او خپرېدلی (سرایت کولی) شي، د څېړونکو او مدیرانو ترمنځ ځانګړی ځای او اهمیت پیداکړی دی. څېړونکي نه یوازې دا چې د شخړو د حل لارو چارو په پیدا کولو او څېړلو بوخت دي، بلکې زیاتره یې په دې اند دي چې شخړې ته د حل څخه د مخه باید د هغې د لاملونو د پیدا کولو هڅې وشي. کله چې د شخړې د رامنځته کېدو ممکنه لاملونه پیدا او واضح شي، هڅه دې وشي تر څو د دغو لاملونو د له منځه وړلو او شنډولو هڅه وشي، په دې ډول به د شخړې د رامنځته کېدو مخنیوی شوی وي. د بل هر ډول سازماني چاپېریال په څېر په پوهنتونونو او اکاډمیکو مؤسساتو کې د بېلابېلو ځانګړتیاوو لرونکي انسانان له یوه بل سره تعامل او راشه درشه کوي، نو دا ډول مؤسسات هم د شخړو د منځته راتګ څخه استثناء کېدلی نه شي.

سره له دې چې شخړه او تاوتریخوالی په ځینو مطالبو او لیکنو کې د یو بل مترادف او له توپیر ورکولو پرته استعمالیږي، خو د معنی په لحاظ له یو بل څخه جدا او ځان ته معنی لرونکي کلمات دي. شخړه اصلاً د دوه یا زیاتو اړخونو د هغوی د توقعاتو، ګټو او اهدافو په نظر کې نیولو سره له یو او بل سره د نظري اختلاف او عدم توافق څخه عبارت دی، په داسې حال کې، چې تاوتریخوالی له ګواښه ډک د فزیکي قوې استعمال څخه عبارت دی، چې یو اړخ یې د بل اړخ په مقابل کې د بېلا بېلو دلایلو او علتونو په اساس په دا ډول اقدام لاس پورې کوي.

همدارنګه د هغو محیطونو په تفاوت سره چېرته چې انسانان له یوه بل سره راکړه ورکړه او تعامل کوي او شخړې را منځته کیږي، د شخړو منځته راتګ لاملونه هم له یو بل سره توپیر لري. په زیاترو علمي مؤسساتو کې د شخړو د منځته راتګ عمده لاملونه د کمزورې مفاهمې، د شخصیت له لحاظه توپیرونه، د سرچینو غیرعادلانه وېش او د هغوی د استعمال طریقه، د رواني روغیتا ستونزې، توپیري چلند او داسې نورو څخه عبارت دي.

په زیاترو علمي او اکاډمیکو مؤسساتو کې شخړو ته د ستونزې یا پرابلم په حیث نه، بلکه د اصلاح او سمون د یوې موقع او فرصت په حیث کتل کیږي. شخړه هغه وخت ستونزه نه بلل کیږي کله، چې په

وخت سره مديريت او د اصلاح لپاره ترې استفاده وشي. محصلان د اکاډميکو محيطونو د مهمې او لويې کتلې په توګه د شخړو په حل و فصل او د هغوی د لاملونو په له منځه وړلو کې فوق العاده مهم رول لوبولی شي. د زغم او يو بل منلو کلتور را منځته کول، د شخړې د ښکېلو خواوو ترمنځ د منځګړي توب کول او محصلانو ته د عامه پوهاوي په ورکولو کې د محصلانو رول مهم بلل کيږي.

**مأخذونه**


۱. صديقي، زرولي ۱۳۹۷. تاوتريخوالی او د هغې شاليد. سوله يز يون. د شيخ زايد پوهنتون د سولې مرکز درې مياشتنی خپرونه، خوست

2. Borg, M., Kembro, J., Notander, J. P., & Ohlsson, C. P. (2011). Conflict Management in Student Groups - a Teacher's Perspective in Higher Education. *Högre utbildning*, *1*(2), 111-124. Retrieved from https://journals.lub.lu.se/index.php/hus/article/download/4923/4687

3. Ciuladiene, G., & Kairiene, B. (2017). The Resolution of Conflict between Teacher and Student: Students' Narratives. *Journal of Teacher Education for Sustainability*, *19*(2), 107 - 120.

4. Duckworth, C. L., & Kelley, C. D. (2012). *Conflict Resolution and the Scholarship of Engagement.* Newcastle: Cambridge Scholars Publishing.

5. Ghaffar, A. (2009). Conflict in Schools: Its Causes and Management Strategies. *Journal of Managerial Sciences*, *3*(2), 212-227. Retrieved from Qurtuba University: http://www.qurtuba.edu.pk/jms/default_files/JMS/3_2/05_ghaffar.pdf

6. Isa, A. A. (2015). Conflicts in Organizations: Causes and Consequences. *Journal of Educational Policy and Entrepreneurial Research (JEPER)*, *2*(11), 54 - 59. Retrieved from https://www.researchgate.net/publication/311558401_Conflicts_in_Organizations_Causes_and_Consequences

7. Omisore, B. O., & Abiodun, A. R. (2014). Organizational Conflicts: Causes, Effects and Remedies. *International Journal of Academic Research in Economics and Management Sciences*, *3*(6), 118 - 137. Retrieved from

http://hrmars.com/hrmars_papers/Organizational_Conflicts_Causes,_Effects_and_Remedies.pdf

8. Serrat, O. (2011). *Conflict in Organizations.* Retrieved from Asian Development Bank: https://www.adb.org/sites/default/files/publication/29142/conflict-organizations.pdf

9. Tucker, R. (2017). Conflict Resolution in Student Teams. In N. Abbasi, A. Mills, & R. Tucker, *Collaboration and Student Engagement in Design Education* (pp. 105-124). Hershey PA: IGI Global.

10. Volpe, M. R., & Chandler, D. (1999). *Resolving Conflicts in Institutions of Higher Education: Challenges for Pracademics.* Retrieved from Georgia State University College of Law: https://readingroom.law.gsu.edu/cgi/viewcontent.cgi?referer=https://www.google.co.uk/&httpsredir=1&article=1007&context=seedgrant

11. West, P. W. (2009). Conflict in Higher Education and Its Resolution. *Trends in the Management of Human Resources in Higher Education* (pp. 1-8). University of Strathclyd.

# د چاپي خپرونو د رکود لاملونه او حل لارې

پوهنیار هلال ارشاد، شیخ زاید پوهنتون، ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالېزم څانګه.
**برېښنالیک**: hilalarshad18@gmail.com

**لنډیز**

په یوویشتمې پیړۍ کې د نوې تکنالوژۍ، سوشل میډیا ( فیسبوک، ټویټر، انستګرام...)، راډیو، تلویزیون او په تېره بیا د زرګونو ویبپاڼو له خپریدو سره ځینې خلک په دې باور دي او داسې فکر کوي، چې دلته په افغانستان کې د چاپي رسنیو /خپرونو او د هغې د لوستونکو بازار سوړ شوی او د رکود خوا ته تللي، خو حقیقت دا دی، د چاپي رسنیو لیکنې او د خپرونو لیکل که مسلکي او معیاري وي؛ نو لوستونکي یې شته دي؛ که مونږ په لوړ او معیاري ډیزاین خپلې خپرونې خپرې کړو، د چاپ اصول او قواعد یې په پام کې ونیسو، محتوا یې د خلکو د غوښتنو او ذوقي مسایلو ډکه کړو، د نوي تکنالوژیکي وسایلو په سمه توګه استفاده وکړو او خپل لوستونکي په ټوله مانا وپیژنو؛ نو مونږ دا سوړ بازار ګرمولی شو او د رکود لاملونه یې کمولی شو. که چېرې څوک تېرې ژورنالېستيکي هڅې تر غور لاندې ونیسي، ډېر کم به د نوښت څرک ولګوي. دا مهال په لسګونو چاپي رسنۍ (ورځپاڼې، اوونیزې، جریدې، مجلې او مهالنۍ) خپرېږي، خو دا ټولې خپرونې د ورته والي ښکار دي. د اغېز له مخې تلویزیون او ټولنیزې رسنۍ موثرې دي، د سرعت او پوښښ له مخې راډیو موثره او اغېزمنه ده؛ ولې مطبوعات یا چاپي رسنۍ په دې ډګرونو کې ښېرته پاتې او تر ډېره لوستونکي نه لري؛ خو د مسایلو د تحلیل، تفسیر او شننې له کبله له نورو څخه اغېزمن او د لاربښود حیثیت لري. نو د همدغو موخو د تر لاسه کولو لپاره که د چاپي خپرونو مدیران د چاپي رسنیو د لوستونکو راجلب عمده روشونه، د دوی غوښتنې، علاقه، ذوق، دیني، کلتوري، اقتصادي، سیاسي، سپورتي، ادبي مسایل په پام کې ونیسي؛ ښه ډیزاین، د منځپانګې لپاره د خلکو غوښتنو مطابق خبرونو مسایلو انتخاب هغه څه دي؛ چې لوستونکی راجلب او خپله چاپي خپرونه پرې پیاوړې کړو. همدا راز چاپي رسنۍ (مطبوعات) د ټولو رسنیو بنسټ تشکیلوي؛ نو باید د نوي عصري ډیجیتل (رسنیو) مقابله وکړي.

**کلیدي ټکي**: چاپي خپرونې، د لوستونکو غوښتنې، ډیزاین، رکود، رسنۍ

## ســــریزه

بِسْمِ اَللهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.

په اوسني عصر کې د انټرنیټ په راتګ سره ریښتیا هم چاپي رسنیو ته د خطر زنګ وشو، د انټرنیټ پیدایښت ریښتیا هم چې د خبر او معلوماتو رسونې نړۍ بدله کړه، دوی د خبر په سرعت او ژر رسولو؛ د چاپي رسنیو مدیران دې ته اړ کړل څو د خپل پایښت لپاره اړین ګامونه واخلي. رسنۍ (میډیا) د دې پیړۍ یوه غوره، ارزښتمنه، موثرترنه، او غښتلې وسیله ده، چې د اغېز، ځواک او پوښښ په ډګر کې یې هیڅوک مقابله نه شي کولی؛ ولې په خپل منځ کې د تنوع، پوښښ، ټولنې، علمیت، او رسیدا له کبله یو له بل سره یې توپیر د مختلفو شرایطو په نظر کې نیولو سره لیدل کیږي. په بل عبارت د اغېز له مخې تلویزیون او ټولنیزې رسنۍ موثرې دي، د سرعت او پوښښ له مخې راډیو موثره او اغېزمنه ده؛ ولې چاپي مطبوعات په دې ډګرونو کې بېرته پاتې خو د مسایلو د تحلیل، تفسیر او شننې له کبله له نورو څخه موثر او مهم دي. خو که د لوستونکو جذبولو، راکشولو او لوستلو په اړه وتوانیږو، چې د نوي پرمختللې تکنالوژۍ، تخنیکي وسایلو، علمیت، تجربې او هنر څخه کار واخلو، کولی شو خپل لوستونکي او مینوال پیدا کړو. که د چاپي رسنیو په ترتیب او نشر کې هغه اصول او قواعد چې لوستونکی پرې راخپلولی شو، تطبیق او عملي کړو نو رسنۍ به مو نه ودریږي او د چاپي خپرونو د رکود لاملونو ته به مو تر ډېره ځواب ورکړی وي.

## موخې

**اصلي موخه:** د چاپي خپرونو مسؤولینو او ځوانو ژورنالیستانو ته چې دا برخه یې دنده ګرځي، د چاپي خپرونو د رکود د مخنیوي لارې چارې ورښودل او د چاپي رسنیو مرجول.

- د چاپي رسنیو کارکوونکو ته د چاپي رسنیو او لوستونکو ورپیژندل.
- ژورنالیستان په دې پوهول، چې چاپي رسنۍ ولې رکود خوا ته ځي؟
- څنګه کولی شو، چې په ګران هیواد افغانستان کې د چاپي رسنیو لوستونکي، چې کم او یا په نشت حساب دي؛ ډېر کړو؟

### د کار مواد او میتود

د دغې موضوع د څېړنې لپاره مې له مختلفو علمي کتابونو، مقالو، انټرنیټ، ټولنیزې میډیا، ساحوي او ژوندیو مرکو څخه استفاده کړې ده. په څېړنه کې تر ټولو مهم اصل د څېړنې تګلاره یا میتودولوژي بلل کیږي، چې له مخې یې یو څوک کولای شي، چې د څېړنې ارزښت او دقت په ګوته

کړي. لوستونکي هم ډېرى وخت د يوې تر سره شوې څېړنې له لوستلو وړاندې د څېړنې میتودولوژي لولي او د هغې له مخې د څېړنې د لوستلو یا نه لوستلو پرېکړه کوي. موضوع ته په کتو ما هم د یادې موضوع د څېړنې او تحلیل لپاره له کتابخانه یي، ساحوي، ټولنیزې میډیا، ژوندیو مرکو او انټرنیټ څخه ګټه اخیستې ده. غوره او باوري سرچینې مې کارولې دي، ډېرى يې انګلیسي کتابونه، دري کتابونه، علمي مقالې او ورته نورې ډېرې انټرنیټي مؤثقې سرچینې تشکیلوي. اړونده بېلابېل موضوعات مې په بېلابېلو کتابونو او مقالو کې لوستي دي، له مختلفو دولتي ادارو، استادانو او د نظر خاوندانو سره مې ژوندۍ مرکې کړې دي او د لیکنې په بېلابېلو مناسبو برخو کې مې د مفهوم د تقویې لپاره اقتباس کړی دی.

**پېژندنه**

چاپي رسنۍ له شک پرته د علم او معلوماتو او مطالعې د پراختیا او پرمختګ اغېزمنه وسیله ده. د ابلاغ داسې وسیله ده، چې د هرې ټولنې د انساني هوساینې، نېکمرغۍ، پرمختګ او د ملي موخو او نظریاتو پر واټ د ګام اېښودلو له لارې د رڼا کار ورکولی شي، د ودې، کمال او تکنالوژیک دور په دې پیر کې د ورځپاڼو او جریدو تدوین او خپرول له شک پرته د یوه صنعت او کاروبار حیثیت غوره کوي، لیکن د هر صنعت او کاروبار ځینې غوښتنې وي.ځکه د چاپي رسنیو د علم او معلوماتو زیاتوالی، د زړه او ذهن اوبول، د ټولنیزو مسایلو او ولسي دردونو او ستونزو بیانول، د بېلا بېلو سازشونو او د پردې شاته اړیکو رسوا کول، دیانت او ذهانت، کره کتنې او نیوکې، د ټولنې د رغونې، پرمختګ او خدمت لوړ معیار ټینګوي. که کومه چاپي خپرونه دغه دندې او مسوولیتونه بشپړ نه کړي؛ نو بیا هغه نه یوازې دا چې د خپلې خپرونې رکود رامنځ ته کړي، بلکې د ټولنې د ساتونکي، خادم او حکومت د څلورمې ستنې په توګه خپل ټولنیز رول نه شي ادا کولی.

د نړۍ معتبرې ورځپاڼې د دې هڅه کوي، تر څو د خپلې خپرونې د ترویج ساتلو لپاره غوره ډیزاین او طریقه انتخاب کړي. هدف ته د رسیدو لپاره ورځپاڼې خپله ډیزاینونه او طرحې د وخت په اوږدو کې کاروي، البته په ځینو خاصو وختونو او استثنایي حالتونو کې امکان لري، چې خپل حالت ته تغیر ورکړي. ورځپاڼې د ډیزاین او طرحې د جوړولو لپاره مختلف عناصر غوره کوي، چې د دوی ترمینځ د صفحو اندازه ، د ستونونو تعداد ، د عکسونو حالت، د حروفو اندازه او شکل، د چاپ طریقې او د ورځپاڼې د توزیع تګلاره هغه څه دي، چې چاپي رسنۍ له رکود څخه ژغورلی شي.

**د څېړنې پوښتنې**

په ټولیز ډول هر څېړنه یو لړ ستونزو او پوښتنو ته د حل لاره پیدا کول دي، ما هم د یادې علمي او څېړنیزې موضوع د څېړلو لپاره لاندې پوښتنې ټاکلي دي.

**اصلي پوښتنه:** د چاپي رسنیو د رکود لاملونه څه دي او څنګه کولی شو، چې دا برخه پیاوړې کړو؟

- څنګه کولی شو، تر څو د خپلې کاري ساحې تر کومې چې چاپي خپرونې ویشو، لوستونکي له ځان سره وساتو؟

**د چاپي رسنیو نیمګړي اړخونه**

که د اوسمهال چاپي خپرونو ته ځیر شو، سړی نه پوهېږي چې دوی په کوم معیار خپرونې کوي او د څه لپاره یې کوي. د معیار نه ټاکل او هدف نه لرل د ډېرو خپرونو له چلوونکیو لاره ورکوي او همدا وجه ده، چې چاپي خپرونې د رکود خوا ته تللي، هره خپرونه باید د یوه معیار پر بنسټ خپرونې وکړي او بل هره خپرونه باید یوه سلاکاره ډله ولري چې د خپرونو د کامیابۍ او لا ښه کېدا لپاره ګډې هڅې وکړي، نه لکه د ځینو خپلسرو خپرونو چلوونکیو په شان چې څه یې زړه وغواړي، هماغسې وکړي، ځکه مطبوعات تر درې ګونو قوو وروسته څلورمه قوه ګڼل کېږي او عام اذهان د مطبوعاتو له لارې په ښه ډول راوینښېدلای شي او د یوې موضوع یا پېښې درک له مطبوعاتو څخه په سم او بې پرې ډول کولای شي.

د چاپي رسنیو چلوونکي باید د خپلو خپرونو لپاره یو له بل سره موضوعي وېش وکړي، د بېلګې په توګه لومړنۍ خپرونه دې اقتصاد، ادب او څېړنیزې لیکنې، دویمه خپرونه دې سیاست، تاریخ، تفریحي او ذوقي معلومات او درېیمه خپرونه دې سینما، سپورټ او کیسې غوره کړي او په دې ترتیب دې یو وېش وکړي، نو خپرونې به یې بازار او لوستونکي دواړه پیدا کړي (۴۴:۱۲).

**د چاپي رسنیو منځپانګه:**

په اوسني تکنالوژیک دور کې چې انټرنېټ او تکنالوژي د پرمختګ اوج ته رسیدلي، او دغه مطالب چې مونږ په چاپي خپرونو کې د خپلو مخاطبانو په واک کې ورکوو، په انلاین رسنیو کې د ورځې په زرګونه وارې تکرارېږي، همدا لامل دی، چې چاپي خپرونې تر ډېره پیکه دي او د رکود خوا ته تللې دي، د یوې څېړنې له مخې، یو وخت امریکا کې د ورځپاڼو کلني عایدات ٦٥ میلیارده ډالره وو، خو اوس یې کچه ۱۷ میلیارده ډالرو ( شاوخوا ۷۰٪)ته را لویدلې. برعکس ګوګل په ۲۰۱۳ کال کې یوازې په امریکا کې د اعلاناتو له لارې ۱۷ میلیارده ډالر ترلاسه کړي. یو لوستی انسان د ورځې ۱۴۷ دقیقې

(۳۵٪) وخت په موبايل تېروي، ۱۱۳ دقيقې (۲۷٪) وخت په ټلويزيون، ۱۰۸ دقيقې (۲۶٪) په کمپيوټر او پاتې ۵۰ دقيقې (۱۲٪) وخت په چاپي خپرونو او نورو رسنيزو وسايلو تيروي. دغو شميرو ته په پام، د ورځپاڼو لپاره په اوسني انټرنيټي پېر کې حرکت ننګوونکی دی. کله چې مونږ د منځپانګې نوم اخلو، نو هدف مو دا دی، چې دا خاکه او تشه د چاپي خپرونو په څه ډول ډکېدلای شي، کوم مسايل او خبرونه پکې ځای پر ځای شي، له کومو سره لوستونکي او زمونږ مخاطبين علاقه او مينه لري، چې د دې کار لپاره په هره برخه کې د تخصصي خبريالانو ګمارنه ضرور ده، چې د چاپي خپرونې د ښې منځپانګې د ډکولو سره سره د خبر راپور او د ليکنې محتوا او منځپانګه هم غښتلې وي.

## د مخاطب جلبولو لارې چارې

مخاطب مونږ ته اړ نه دی اما زمونږ او زمونږ د رسنۍ لپاره مخاطب روح دی؛ رسنۍ يې تن دی؛ که تن کې ساه نه وي نو تش کالبوت پاتې کيږي، زمونږ لپاره تر هر څه مهم لوستونکي يا مخاطبان دي، د چاپي خپرونې په منځپانګه او ټولو عناصرو چې د چاپي خپرونې مساحت ډکوي؛ بايد پکې د دوی غوښتنې، اړتياوې، ذوق، پوهه او ديني، کلتوري، فرهنګي مسايل په نظر کې ونيسو، تر څو مو رسنۍ دوامداره پاتې شي، همدا راز ټول خپرنيز توکي چې د چاپي رسنيو منځپانګه ډکوي، د ټولنې غوښتنه او بايد د دوی د اړتيا مناسب وي.

## د ډيزاين له اړخه د خپرونې چلښت

د چاپي خپرونو خبر، سرليکونو، متن او کليشو ته د تورو انتخاب او ډيزاين ځانګړې لوړه سليقه غواړي، مثلاً که ورځپاڼې نظر کې ونيسو؛ نو پر همدې بنسټ هره ورځپاڼه د يو معيار خښتنه ده، ډيزاين ورځپاڼې ته د لوستونکو او مارکيټ په موندلو کې کارنده ونډه لري، ډيزاينر د مسؤلو کسانو په سلا او څارنې سره ورځپاڼې ته ځانګړی چوکاټ برابروي، چې همدا چوکاټ لوستونکي او مخاطبان ځانته پخپله راجلبوي. چلوونکی هم هڅه کوي چې ځانګړي شوي چوکاټ او کليشې ته وړ ليکنې ومومي، په ځينو ورځپاڼو کې ټاکل شوې کليشې خپل چلوونکې لري، تر هر څه د مخه د ورځپاڼې په تندي (لومړي مخ) بايد بېړنی خبر وليکل شي دغه راز د دې مخ ټول خبرونه بايد نوي او تازه وي.

## له چاپي خپرونو د ټولنې د لوستونکو غوښتنې او اړتياوې څه دي؟

هغه خلک چې تل د ښو په لټه کې دي، غير معياري شيان ردوي، په همدې ترتيب د چاپي رسنيو مديرانو ته هم په کار ده، چې د ټولنې د وګړو د غوښتنو او اړتياوو مطابق د خدمت لوړ معيارونه وړاندې کړي. له چاپي خپرونو د لوستونکو او د ټولنې د وګړو غوښتنې او اړتياوې، د چاپي رسنيو ښو ته په کتو توپير مومي. که د ورځپاڼو لوستونکي په پام کې ونيول شي؛ د ورځپاڼه لوستونکو اړتيا او غوښتنه

دا ده، چې د ورځنيو پېښو په اړه تر ټولو کره خبرونه ولولي؛ په اړه يې د ښو ليکوالو او مبصرينو تبصرې ولولي او په ښه کيفيت د ورځپاڼې خپاره شوي مطالب تر دوی پورې ور ورسول شي.

د مقالې موندنې

د دې کتابتوني څېړنې موندنې ښيي، چې د چاپي خپرونو لوستونکي په خپله داسې مثال لري لکه د يوې چاپي رسنۍ روح، پرته له لوستونکو چاپي رسنۍ روح نه لري؛ د چاپي رسنيو منځپانګه په اړينو او د خپلو مخاطبانو د غوښتنو مطابق خبرونو او مسايلو ډکول؛ د مخاطب د راښکون لارې چارې پېژندل؛ د يوه ښه او مناسب ډيزاين زده کړه، چې د يوې چاپي خپرونې د کاميابۍ مهم راز پکې پروت دی، او د لوستونکو په راجلبولو او د خپلې چاپي رسنۍ په دوامداره چلولو کې رغنده رول لوبوي، که د لوستونکو غوښتنې او اړتياوې په پام کې ونه نيول شي رسنۍ مو خپل دوام قطع کوي او د رکود خوا ته ځي. دا ټول هغه مسايل دي، چې د چاپي رسنيو ترويج او رکود په کې نغښتی دی.

**پايله**

رسنۍ د يوې ټولنې د اصلاح، پرمختګ او ودې په برخه کې د ملا د تير حيثيت لري، مطبوعات د هر هيواد ژبه ده، همدا راز د يوې ټولنې د پرمختګ کچه د هغه هيواد د مطبوعاتو او نشراتو له مخې اندازه کولی شو، په نننۍ يويشتمه پيړۍ کې چې تکنالوژي د پرمختګ اخري حد ته رسېدلې، تر بل هر ځواک ميډيا او رسنۍ قوي او موثرې دي، نو د دومره موثريت په درلودو سره له دغه ځواکه بايد چې استفاده وشي، که موږ وګورو په اوسني وخت کې په ټول افغانستان کې په ډېره کمه کچه هيوادوال چاپي خپرونې مطالعه کوي او تر ډېره لوستونکي نه لري. که زموږ منځپانګې د داسې مسايلو او خبرونو ډکې شي، چې هغه ريښتيا هم د لوستونکو د علاقې او ذوق وړ وي، د دوی ديني، کلتوري، فرهنګي، ټولنيز او دوديز مسايل او برخې که په پام کې ونيول شي او مسايل انتخاب شي؛ نو ولې به چاپي رسنۍ په ټپه ودريږي؛ ولې به رکود خوا ته ځي، ولې به خلک اخبار، ورځپاڼې او مجلې نه لولي؟ که د چاپ تر مخه د نړۍ او سيمې په کچه مهم خبرونه او مسايل درک کړو او تر ټولو د مخه يې وړاندې کړو او همدغه مطالب دموضوعاتو ارزښت ته په کتو سره په خپلو خپلو برخو کې ځای پر ځای او په ښه صورت سره چاپ کړو چاپي خپرونې مو مروجې کيږي.

**نتيجه ګيري**

هغه رسنۍ تر نورو ډېرې مخکښې او بريالۍ وي، چې خپل لوستونکي يې په تمامه مانا پېژندلي وي. په لنډ ډول هره خپرونه بايد د يوه ټاکلي معيار پر بنسټ خپرونې وکړي، که د اوسمهال چاپي رسنيو ته ځير شو، سړی نه پوهېږي چې دوی په کوم معيار خپرونې کوي او د څه لپاره يې کوي. د معيار نه ټاکل او

هدف نه لرل د ډېرو خپرونو له چلوونکیو لاره ورکوي. که د چاپي رسنیو مسوولین دغه موضوعاتو ته پام ونه کړي، او خپل لوستونکي په ټوله معنی ونه پيژني، اړتیاوې، غوښتنې، ذوق، علاقه او دیني، کلتوري، فرهنګي او ملي مسایلو په برخه کې د دوی مینه او غوښتنه ونه پیژندل شي، ښه مناسب ډیزاین د چاپي برخې لپاره ونه ټاکي؛ نو لرې نه ده، چې چاپي خپرونې به هیڅکله لوستونکي ونه مومي او د چاپي خپرونو له کاغذونو به په ډېره بې رحمانه توګه په عادي کارونو کې استفاده کېږي.

## وړاندیزونه

د ژورنالېزم سپیڅلي مسلک کې چاپي رسنۍ د معلوماتو، اطلاعاتو، څېړنیزو مطالبو، تفریحي مسایلو، د حکومت او خلکو تر منځ د اړیکو په ساتلو، د یو هیواد د سیاسي نظام په پیاوړي کولو او یا په هغه کې د بدلون په راوستلو او د ټولنې د وګړو په فکري رغونه او تخریب کې د تلویزیون او راډیو سره یو ځای رغنده رول لوبوي، همدا راز رسنۍ او لوستونکی یو له بل سره مستقیم تړاو لري او یو پر بل یې ژور اغېز حتمي دی. د پورته موخو د ترلاسه کولو لپاره موږ ته لازمه ده، چې لاندې ټکي کلک په نظر کې ونیسو، څو وکولی شو چاپي رسنۍ مروجې او له رکود څخه وساتو.

- ✓ د چاپي رسنیو مسؤلین او کارکوونکي ژورنالیستان باید ښه لیکوالان وي، په خپلې ژبې پوره مهارت ولري؛ مطالعه، څېړنه او لیکنه کولی شي، د ورځې د پېښو د سیمې کلتور، فنون، ساینس، تاریخ او د جعرافیې نه خبر وي. د دې نه علاوه د نړیوالو پېښو او د سیاست نه هم باید خبر واوسي. د چاپي رسنیو منځپانګه د خپلو لوستونکو او مخاطبانو د ذوق وړ ډکه کړي، چاپي خپرونو ته د لوستونکو جلبولو تکتیک او د دوی ژوند، پوهې اړتیاوو او غوښتنو ته ورخبر وي؛ د چاپي رسنیو په هر ډول کې یې چې کار کوي، هغه که ورځپانه وي؛ مجله وي... نو باید په داسې زړه راښکونکي انداز یې د تکنالوژۍ د وسایلو پر مټ او د چاپ او صفحې جوړونې اصولو مطابق ډیزاین کړي، چې نوښت پکې وي او د لوستلو وړ وي او لوستونکي پرې تنده خړوبه کړي.

## مأخذونه


١. پاتر، دبورا .(١٣٩٥). ورځپانه لیکل. ژباړن شفیق الله امیري. وایګل چاپ: اکسوس کتابپلورنځی.
٢. کوایل مک، دنیس.(١٣٩١). مخاطب شناسی. ژباړن مهدی منتظر قایم. تهران: د رسنیو مطالعاتو او تحقیقاتو مرکز.
٣. ګلچین فر، شادی.(١٣٨٩). چگونه مخاطبان تبلیغ خود را انتخاب کنم. ژباړن امیر بختیابی. تهران: د اسلامي ارشاداتو او فرهنګ وزارت.

۴. کارکران، میشل.(۲۰۰۵). تاثیر لرونکي انترنیتي متونه. ژباړن علی خویه. تهران: پایگاه اطلاع رسانی تخصصی فن اوری اطلاعات.
۵. فانوس، میر عزیز احمد.(۱۳۸۲). آزادي مطبوعات در نظر و عمل. کابل: کابل پوهنتون ژورنالیزم پوهنځي.
۶. د یونسکو رپوټ.(۱۳۷۰). جریان اخبار بین المللي. ژباړن ح، قاضیان. تهران: د اسلامي ارشاداتو او فرهنګ وزارت.
۷. احمدي، جاویده.(۱۳۹۳). تبلیغات بازرگانی در مطبوعات. کابل: انتشرات عازم.
۸. جعفري، سعید محمد.(۱۳۸۷). شبکه هاي رادیو تلویزیوني بیرون مرزې امریکا درعصر جنګ سرد وسرنوشت کنوني انها، کابل: رسنیو د زده کړي مرکز.
۹. حلیم، صفیه.(۱۳۹۲). ژورنالېزم. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۱۰.فانوس، میر عزیز احمد.(۱۳۹۰). عنوان نویسی در مطبوعات. کابل: انتشارات عازم.
۱۱.سعید، عبدالرسول.(۱۳۸۹). مجله نګاری. کابل: پوهنتون ژورنالېزم پوهنځی.
۱۲.عصمت الهي، محمد هاشم.(۱۳۸۳). نظام مطبوعات افغانستان، تهران: بیکران.
۱۳.تسل، احمد رسول. (۱۳۹۲). رسنۍ او ټولنه. ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.
14. Webster, J. G., & Phalen, P. F. (1997).The mass audience: Rediscovering the dominant model. Mahwah, NJ: Lawrence Erlbaum.
15. Napoli, P. M. (2003).Audience economics: Media institutions and the audience marketplace.NewYork: Columbia University Press.
16. Ettema, J. S., & Whitney, D. C. (1994).Audiencemaking: How the media create the audience.Thousand Oaks, CA: Sage.
17. Webb, Alban, ‘A leap of imagination: BBC Audience Research over the Iron Curtain’, Participations: Journal of Audience & Reception Studies, 8(1), 2011, pp. 154–172.
https://www.bbc.com/pashto/specials/1427_pashtojornalist/page4.shtml

# جنین او احکام یې د اسلام له نظره

مفتي سیدالرحمن سعید، احمدشاه ابدالي د خصوصي لوړو زده کړو مؤسسه د اسلامي ثقافت استاد.
**برېښنا لیک:** Sayid.rahman687@gmail.com

**لنډیز**

د جنین اصلي معنا ستر او پټول دهتر هغې چې حمل د مور په زیلانځ کې وي جنین بلل کیږي. که څه هم ځینې فقهاوو د جنین اطلاق لپاره د خلقیت نښې شرط بللې دي. الله تعالی د انسان لپاره په خپل کتاب قرآن کریم کې نهه پړاوونه بیان کړي دي، چې شپږ پړاوونه یې په جنین پورې اړه لري، چې مفسرینو په خپلو تفسیرونو کې په پوره وضاحت سره بیان کړي دي. د رسول الله په ویناوو کې هم د جنین پړاوونه بیان شوي دي، داسې چې تر هرو څلویښتو ورځو وروسته جنین نوي پړاو ته ننوځي.له شک پرته چې الله تعالی د پوره توان او قدرت لرونکی دی او پر دې قادر دی چې انسانان د جنین له همدې پړاوونو پرته پیدا کړي، خو بیا هم چې له دې پړاوونه څخه یې راتیروي په دې کې د الله تعالی ستر حکمتونه او فلسفه نغښتې ده. فقهاوو رحمهم الله هم د جنین لپاره ځانګړي احکام په خپلو کتابونو کې بیان کړي دي چې له دې جملې څخه یو هم سقط دی.په عموم کې د فقهاوو له نظره سقط دوه حالته لري یو د روح تر راتلو مخکې حالت او بل د روح تر راتلو وروسته. د همدې دواړو حالتونو په اړه فقهاء کرام مختلف نظرونه لري. سقط له شدیدې اړتیا پرته د محققینو فقهاوو له نظره روا نه دی، خو د سختې اړتیا پر مهال د ټاکلو شرایطو له مخې د پخوانیو او اسنیو علماوو له نظره روا بلل شوی دی. د جنین د ژوند ساتل تر خپله وسه لازم او حتمي بلل شوي دي، د دې تر څنګمصنوعیتلقیح In Vitro Fertilization او In Vivo Fertilization د عصري ټکنالوژۍ له پر مختګونو سره د وخت یوه اهمه موضوع ده، چې د وخت علماوو پرې تحقیقات او څیړنې کړي دي مختلف ډولونه لري ځینې ډولونه یې د ضرورت پر مهال په خپلو شرائطو سره روا او ځینې نور یې ناروا بلل شوي دي.

**کلیدي کلمې:** احکام، پړاوونه، تلقیح، جنین، سقط، فقهاء.

**سریزه**

الحمد لله الذي خلق الانسان من سلالة من طين ثم جعله نطفة في قرار مكين ثم خلقه من علق ثم سواه و نفخ فيه من روحه فتبارک الله احسن الخالقين، و الصلاة و السلام على من هو احسن خَلقا و خُلُقا فی العالمين و اله و اصحابه و على عباد الله الصالحين.

اما بعد: جنین د انسـانانو د پیدایښـت لومړی پړاو دی، چې په خپل ذات کې مختلف پړاوونه لري. همدا پړاوونه الله تعالی په خپل کتاب قرآن پاک کې بیان کړي دي او د دې ترڅنګ د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم په حدیثونو کې هم یادونه شـوې ده، نو هغه کسـان چې متکبر دي د الله تعالی او د هغه د رسـول صـلی الله علیه وسـلم له لاربښـوونو څخه سرغړونه کوي، د بعث بعد الموت څخه په انکار کې دي،د همداسـې خلکو د درس اخیسـتلو لپاره الله تعالی د انسـانانو د خلقیت د پیل او د جنین همدا پړاوونه په خپل کتاب کې په ډېرو ځایونو کې یاد کړي دي.انسـانان الله تعالی په خپل کلام پاک کې په ډېر حکمت د توحید، بعث بعد الموت، د قیامت ژوند او داسې نورو ته بار بار رابللي دي او د الله تعالی په سـتر کائناتو آن تردې چې په خپلو نفسـونو کې یې ورته د تفکر کولو امر کړی، تر څو چې انسـان په همدې تفکر سره د الله تعالی په توحید، مغیباتو او په ټولو مؤمن به شـیانو باندې د غښـتلي او کره ایمان لرونکی شي الله تعالی فرمایي: ﴿ وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ (٢٠) وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴾ [الذاریات: ۲۰، ۲۱] ژباړه: او په ځمکه کې د باور کوونکي لپاره ( د الله جلّ جلاله د قدرت) ډېرې نښانې دي او په خپله ستاسې په خپل وجود کې (د عبرت نښانې دي) ایا تاسې په ځیر کتونکي نه یاست؟

ریښتیا هم که انسانان په خپل ځان کې پر خپل پیدایښت او هغو پړاوونو فکر وکړي، چې د لومړي پیدایښت پر مهال ور څخه راتېریږ او دنیا ته په دېره ښکلي بڼه د اشرف المخلوق په حیث راځي، نو انساني فکر او عقل دا حکم په ډېره غښتلتیا سره کوي، چې پر ټولو مؤمن به شیانو له شک پرته کلک ایمان ولري، که څه هم الله تعالی پر دې قادر دی، چې انسانان له یادو پړاوونو پرته پیدا کړي خو دا چې الله تعالی د انسان پیدایښت له مختلفو پړاوونو تېروي، په دې کې د الله تعالی خپل حکمت او فلسفي راز نغښتی دی. په اسلامي شریعت کې د جنین ځانګړي احکام شتون لري. فقهاوو په خپلو کتابونو کې په تفصیل سره بیان کړي،چې یو څو بېلګې یې دلته هم یادې شوې دي، په ځانګړي ډول د سقط په اړه (چې نن سبا کې تقریبا ټوله نړۍ په کې ښکېل ده) یو لنډ بحث شوی دی.

## د څېړنې موخې

دا څېړنیزه مقاله د لاندې موخو درلودونکې ده:

- لوستونکي به د اسلامي شريعت په رڼا کې د جنين له پړاوونوڅخه علمي معلومات ترلاسه کړي.
- د مسلمانانو وروڼو به د جنين په هکله په تفکر سره ايمان لاغښتلی شي او غيرمسلم لوستونکي به په همدې تفکر سره د ايمان په لور دعوت شي.
- لوستونکي به د جنين د همدې پړاوونو له حکمت او فلسفې څخه مثبت تأثرات واخلي.
- د اوسني عصر ټولنه به د سقط جنين پر مهال شرعي احکامپه پام کې ولري.
- لوستونکي بهپه اوسنيوخت کې د تلقيح په ډول د جنين منځته راتګ اړوند ځينې اړينو فقهي احکامو څخه خبر شي.

## د څېړنې تګلاره او مېتود

دا څېړنه کتابتوني ده، نو د ترسره کولو پر وخت له لاندې تګلارې څخه کار اخېستل شوی دی:

١ – د قرآن کريم د ايتونو په ترجمه کې له کابلي تفسير څخه استفاده شوې ده.
٢ – د موضوع اړوند باوري مصادرو او مراجعو ته رجوع شوې ده.
٣–د همدې علمي مقالې لپاره يوازې د حنفي مذهب پهکتابونو اکتفاء نه ده شوې، بلکې د اړتيا پر وخت د نورو مذهبونو کتابونو ته هم رجوع شوې ده.
۴ – د همدې علمي مقالې لپاره د پخوانيو علماوو کتابونو ترڅنګ د اوسنۍ زمانې د علماوو له کتابونو څخه هم استفاده شوې ده.

## د جنين لغوي او اصطلاحي پېژندنه:

### لغوي پېژندنه

د جنين کلمه چې اصل ماده يې(ج، ن، ن) ده، د باب د طَلَبَ يَطْلُبُ څخه د فعيل په وزن او د مفعول په معنا استعمالیږي، چې اصلي معنا يې ستر او پټول ده. په همدې سبب جناتو(پېريانو) ته هم جن وايي ځکه چې دوی د خلکو له سترګو پټ دي او لېواني تهد عقل د پټوالي او خرابتيا له امله مجنون ويل کيږي. جنين چې د جمعې صيغه يې (أَجِنَّةٌ وأَجْنُنٌ) راځي، د نر او ښځې هغه ترکيبي ماده ده چې د مور په رحم کې وي. دا چې جنين هم د مور په رحم کې پټ وي، ځکه ورته جنين وايي. لکه څه ډول چې

الله تعالی په خپل پاک کلام کې فرمایي: ﴿هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى﴾ [النجم: ۳۲]. [۱: ۹۲]، [۱۲: ۷۰].

ژباړه: هغه (الله تعالی) ښه عالم دی پر تاسې باندې. کله یې چې تاسې له ځمکې څخه پیدا کړئ او کله چې وئ تاسې د خپلو مېندو په ګېډو کې (پټ) بچیوئ، نو تاسې خپل ځانونه مه پاکوئ (خپل ځانونه مهستایئ) همدغه الله تعالی پر هغه چا باندې ښه عالم دی چې وېرېږي له الله تعالی څخه (ځان له معاصیو څخه ساتي).

**د جنین اصطلاحي پېژندنه**

د جنین اصطلاحي تعریف کټ مټ د لغوي تعریف په څېر فقهاوو کړی دی لکه څه ډول چې علامه ابن نجیم وایي: (اسْمٌ لِلْوَلَدِ فِي بَطْنِ أُمِّهِ مَا دَامَ فِيهِ وَالْجَمْعُ أَجِنَّةٌ، فَإِذَا وُلِدَ يُسَمَّى وَلَيَدًا ثُمَّ رَضِيعًا).

ژباړه: تر څو چې ولد د مور په خېټه کې وي، د جنین نوم ورته اخېستل کیږي. کله یې چې زوکړه وشوه، ولید بلل کیږي. له دې وروسته بیا رضیع (شیدې رودونکی) بلل کیږي.[۳: ۳۸۹].

البته ځینې فقهاءکرام لکه امام شافعي او امام علاء الدین الکاساني رحمه الله تعالی جنین د مضعه او علقه څخه وروسته د ولد هغه پړاو ته وایي چې د بني آدم ځینې نښې پکې راښکاره شي، لکه: ویښتان، نوکان او داسې نور... [۲۹: ۱۱۵]،[۳۴: ۳۲۵].

دکتور احمد مختار یې د طب په اصطلاح کې داسې تعریفوي، چې د اتمې اونۍ تر اخره پورې جنین بلل کیږي له دې وروسته بیا حمل بلل کیږي.[۱۳: ۴۰۸]

باید صراحت وکړم، چې همدا څېړنه د اسلام له نظره ده نه د طب له نظره، نو د فقهاوو د تعریف سره سم راتلونکي بحثونه د علوق له زمانې نه تر ولادته پورې ټولې دورې سره د اسلام له نظره تړاو لري.

**جین د قرآن کریم د ایتونو په رڼا کې**

د قرآن کریم په زیاتو ایتونو کې د انسان د پیدابښت او د جنین د پړاوونو یادونه شوې ده. د همدې ایتونو څخه ما یو څو بېلګې په لاندې ډول راخیستي دي:

۱ -الله تعالی ویلي دي: ﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى مِنْ قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ [غافر: ٦٧]

ژباړه : الله تعالی هغه (ذات) دی چې (اول) یې ستاسې (نیکه) له خاورو نه پیداکړ بیا یې ( د ادم اولاده) له نطفې نه، بیا یې د وینو له کلکې ټوټې ( پیدا کړل)، بیا به تاسې (د میندو له ارحامو) اطفال راوباسي، بیا به (ستاسې تربیت کوي) د دې لپاره چې تاسې منتها د خپل قوت ته ورسیږئ بیا به ( تاسې ژوندي ساتي) د دې لپاره چې زاړه شئ او ځینې له تاسې څخه هغه دي چې مخکې له بلوغه مړه کړل شي او ساتي مو ددې لپاره چې تر ټاکلي نیټې ( د مرگ تر وخته) ورسیږئ ( او دا هر څه) د دې لپاره دي چې تاسې( د الله په وحدانیت، قدرت او بعث بعد الموت منلو کې) له عقل څخه کار واخلئ.

الله تعالی هغه ذات دی، چې لومړی یې آدم علیه السلام له خاورو راپیدا کړ او د هغه اولاده یې هم له خاورو پیدا کړه، ځکه چې ټول انسانان له نطفې څخه خلق شوي دي چې هغه یې له وینې څخه او وینه یې له غذا څخه او غذا یې له نبات څخه او نبات یې له اوبو څخه او اوبه یې له خارو او ابو څخه پیدا کړل، نو ثابته شوه چې هر انسان له خاورو څخه پیدا شوی دی.[۲۱: ۱۵۸]

۲ - بل ځای الله تعالی ویلي دي: ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ (۱۲) ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ (۱۳) ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ [المؤمنون: ۱۲،۱۳،۱۴].

ژباړه: او قسم دی چې موږ انسان (ادم علیه السلام) له خالصې ختې پیدا کړی دی بیا مو د دغه (ادم اولاده) نطفه ( د منی تړلی څاڅکی) په یوه محکمه قرار گاه (رحم کې) کېښود، بیا مو دا نطفه د وینو (کلکه سرېښناکه) ټوټه وگرځوله، بیا مو دغه د وینو ټوټه د غوښې وړه بوټی وگرځوله، بیا مو دغه د غوښې ټوټه هډوکي وگرځول، بیا مو ( د رگونو، پلو او نورو پیدا کولو وروسته ) دغه هډوکو ته غوښه ورواغوستله، بیا مو ( په نوي صورت) په بل پیدایښت سره پیدا کړ، نو د الله تعالی شان لوی دی او له ټولو ښه پیداکوونکی دی.

وهبة الزحیلي په خپل کتاب تفسیر المنیر کې د جنین پړاوونه داسې تفسیر کړي دي:الله تعالی د انسان د پیدایښت په هکله خبر ورکوي، چې: لومړي ځل مې آدم علیه السلام له خالصې نرمې ختې څخه پیدا کړ.د انسانانپیدایښت په نهو پړاوونو کې بیان شوی دی:

**لومړی پړاو**: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسانَ مِنْ سُلالَةٍ مِنْ طِينٍ﴾ يعنې موږ د انسان جنس له نره خټو څخه پيدا کړ، چې هغه آدم عليه السلام دی. همدا د الله تعالی پر کمال قدرت، وحدانيت او د کمال په ټولو صفتونو د موصوف کيدلو دليل دی.

**دويم پړاو**: ﴿ثُمَّ جَعَلْناهُ نُطْفَةً فِي قَرارٍ مَكِينٍ﴾ يعنې موږ د انسانانو نسل/ جنس د نرانو په شاګانو کې نطفه وګرځاوه، چې بيا د اناثو په رحمونو کې غورځولکيږي.رحم چې د حمل لپاره له ابتدا څخه تر ولادته پورې يو محفوظ ځای دی.[۲۲: ۱۸]

په قرآن کريم کې د نطفې يادونه دولس ځايه شوې ده، کله نا کله ورنه په ماء(اوبو) سره هم تعبير کيږي الله تعالی فرمايي: ﴿ وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنْسانِ مِنْ طِينٍ، ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ مِنْ سُلالَةٍ مِنْ ماءٍ مَهِينٍ ﴾ [السجدة :۷- ۸]

ژباړه: او د انسان( ادم عليه السلام)پيدايښت يې له خټې څخه پيل کړی دی، بيا يې نسل د ده له ضعيفو، حقيرو اوبو څخه پيدا کړ.

بل ځای الله تعالی داسې ويلي دي: ﴿ أَلَمْ نَخْلُقْكُمْ مِنْ ماءٍ مَهِينٍ، فَجَعَلْناهُ فِي قَرارٍ مَكِينٍ، إِلى قَدَرٍ مَعْلُومٍ، فَقَدَرْنا فَنِعْمَ الْقادِرُونَ﴾ [المرسلات:۲۰- ۲۳].

ژباړه: ايا موږ تاسې له سپکو اوبو(منی) څخه نه يئ پيدا کړي؟ نو هغه اوبه مو په محکم ځای ( د مور په رحم) کې تر معلومې نېټې (د ولادت تر وخته) وساتله.

علامه ابن کثير رحمه الله د ﴿قَرارٍ مَكِينٍ﴾ معنا په رحم سره کړې ده او ﴿قَدَرٍ مَعْلُومٍ ﴾ معنا يې په ټاکلې مودې سره کړې ده، تر څو چې محکم وګرځي او د يو حالت څخه بل حالت ته او له يو صفت څخه بل صفت ته نقل شي.[۲: ۴۶٦]

**درېيم پړاو**: ﴿ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً﴾ يعنې بيا مو همدا نطفه په علقه بدله کړه، چې کلکې وينې ته ويل کيږي. همدا نطفه چې د سړي له شا او د ښځې د سينې له هډوکو څخه را وځي په سره وينهد اوږدې ژوري په څېر کړه.[۲۲: ۱۸]

د علقه په هکله ابن کثير ليکي: (قَالَ عِكْرِمَةُ: وَهِيَ دَمٌ) يعنې عکرمه د (علقه) تفسير په وينه سره کوي.[۲: ۴۶٦]

کله چې د نرينه وو د تخم کروموزومونه د ښځې د تخم له کروموزوم سره ګډ شي او ګډ ژوند پيل کړي، نو د طب په اصطلاح کې ورته (Zygote) وايي، قرآن کريم ورڅخه په (نطفةٍ أَمْشَاجٍ) سره تعبير کړی دی، چې په دويمه اونۍ کې همدا کتله په علق سره بدليږي.[۲۶: ۷۴]

په نورو اياتونو کې هم دا يادونه شوې ده لکه: ﴿خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴾ [العلق: ۲]ژباړه: انسان يې پيداکړی دی له ټوټو د تړليو شويو وينو څخه. بل ځای الله تعالی فرمايي: ﴿ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِنْ مَنِيٍّ يُمْنَى (۳۷) ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّى﴾ [القيامة: ۳۷، ۳۸] ژباړه: ايا نه و دغه (انسان) اول يو څاڅکی له مني څخه چې اچول شي( په رحمونو د ښځو کې) بيا دې يوه ټوټه د وينو وه ، نو الله تعالی پيدا کړه (اندامونه يې) پس برابر يې کړ( صورت او روح يې پکې وپوکلو).

**څلورم پړاو:** ﴿فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً﴾ يعنې دا کلکه وينه مو د غوښې په ټوټه بدله کړه لکه ژول شوي غوښه، چې نه پکې کوم شکل او نه پکې کومد پلان اثرات ليدل کيږي.[۲۲: ۱۸]

**پنځم پړاو:** ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظاماً﴾ يعنې بيا مو همدا د غوښې ټوټه هډوکي وګرځول چې د سر، لاسونو او پښو هډوکو، اعصابو او رګونو شکل مو پکې پيدا کړ.[۲۲: ۱۸]، شوکاني رحمه الله د ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظاماً﴾ تفسير داسې کوي: الله تعالی همدا د غوښې ټوټه په يو ځانګړي شکل د ( تعمير) د عمودونو په څېر( د هډوکو په جوړولو سره) يو تر بله سره وتړله.[۳۰: ۵۶۴]

**شپږم پړاو:** ﴿ فَكَسَوْنَا الْعِظامَ لَحْماً﴾ يعنې موږ هډوکي په غوښه پټ، قوي او محکم کړل.[۲۲: ۱۸] الله تعالی پر هر هډوکي باندې مناسبه غوښه برسېره کړله.[۳۰: ۵۶۵]د اناټومۍ څېړونکو دا خبره ثابته کړې ده، چې تر شپاړسمې اونۍ پورې پر هډوکو د غوښې هوارولو پروسه بشپړيږي.[۲۶: ۹۵]

**اوم پړاو:** ﴿ ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقاً آخَرَ﴾ يعنې موږ يو بل پيدايښت ورکړ، چې د اول پيدايښت سره په توپير کې دی؛ ځکه چې موږ روح پکې پو کړ، د حرکت، اوريدلو او ليدلو قوه مو پکې پيدا کړه.[۲۲: ۱۸] همدا ډول مفسرينو د﴿خَلْقاً آخَرَ﴾ تفسير دنيا ته په سره، د ويښتانو په راشنه کيدلو سره، د غاښونو په راوتلو سره او په انسانانو کې د شته قواوو او استعدادونو په بشپړيدلو سره کړی دی.[۲: ۴۶۷]،[۳۰: ۵۶۵]

ابن حجر رحمه الله وايي: ټول علماء په دې خبره سره يوه خوله دي، چې په جنين کې تر څلورو مياشتو مخکې روح نه اچول کيږي.[٦: ۴۸۱] د اناټومۍ اطباوو منلې ده، چې له شپاړسمې اونۍ وروسته ماشوم

ژوندی کیږي (روح پکې اچول کیږي)، د لاسونو او پښو د گوتو نوکان په دوولسمه اوونۍ کې وده کوي، د بدن وزن او اوږدوالی ورځ په ورځ زیاتیږي.[۲۶: ۹۸]

**اتم پړاو:** ﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ لَمَيِّتُونَ﴾ یعنې له همدې لومړي ځل پیدایښت وروسته چې له نشت نه شته شوئ؛ مړه به شئ.

**نهم پړاو:** ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ﴾ یعنې بیا به له قبرونو نه په اخري پیدایښت سره د حساب، جزاء، ثواب او سزا لپاره راپیدا کړی شئ. لکه څرنگه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ﴾ [العنکبوت: ۲۰]یعنې د قیامت پر ورځ به په اخري پیدایښت سره راپیدا کړی شي.[۲۲: ۱۹]

۳- بل ځای الله تعالی ویلي دي: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا﴾ .[الحج :۵]

ژباړه: اې (له بعث څخه منکرو) خلکو! که تاسې له بعث څخه په شک کې یئ ( چې خلک به له قبرونو څخه بیا ژوندي راپورته کیږي، اول خپل حال ته وگورئ!) پس بېشکه چې موږ تاسې پیدا کړي یئ( ستاسې نیکه ادم) له خاورې، بیا (مو پیدا کړه اولاده د آدم) له یوه څاڅکي (مني) څخه، بیا له (یوې ټوټې) کلکې وینې او بیا له یوې بوټۍ غوښې تام الخلقة (چې پوره شکل یې پیدا کړی شوی وي) او ناقص الخلقة (چې پوره شکل یې پیدا شوی نه وي ) ددې لپاره چې موږ تاسې ته بیان کړو (خپل کام حکمت او قدرت) او ثابت پریږدو موږ په ارحامو کې هغه شی چې اراده یې لرو( د هغه د اثبات) تر معلومې نیټې( د زیږیدلو تر وخته) پورې، بیا راوباسو موږ تاسې (د مېندو له گیډو ) په داسې حال کې چې طفل وئ، بیا مو تر دې چې تاسې (جسماً او عقلاً) کمال او قوت خپل ته ورسیږئ او ځینې له تاسې څخه هغه دي چې( له رشد او قوت څخه وروسته یا مخکې) وفات کولی شي او رد کاوه شي ( یعنې ژوندي وي) تر ناکاره عمره پورې تر دې چې( د خپلو ټولو قواوو د بیکاره کیدلو له کبله) له پوهې وروسته په هېڅ شي نه پوهیږي.

علامه ابن کثیر رحمه الله لیکي: کله چې الله تعالی د بعث څخه د منکرانو یادونه وکړه، نو په بیا راژوندي کولو باندې د قدرت دلایل د انسانانو د مشاهدې سره سم د انسانانو په لومړي ځل پیدایښت سره وړاندې کوي: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ﴾ یعنې که تاسې د قیامت په ورځ د بیا ژوند څخه په شک

کې وئ ﴿ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ﴾ يعنې ستاسې اصل جوړښت له خارو څخه وشو، چې آدم عليه السلام دی﴿ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ﴾ يعنې بيا مو د هغه نسل له نرمو حقيرو اوبو څخه پيدا کړ﴿ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ ﴾ کله چې د ښځې په رحم کې ثابته شي او څلويښت ورځې پاتې شي، بيا د الله تعالی په اراده په کلکه سره وينه بدله شي، چې تر څلويښت ورځو په تېرېدلو سره ناشکله او ناصورته غوښه شي، بيا الله تعالی شکل او صورت ورکړي، چې سر، لاسونه، سينه، خېټه، ورانونه، پښې او د بدن پاتې نور غړي ورجوړ کړي، نو کله نا کله مخکې له شکل او صورت ورپيدا کولو څخه وغورځيږي او کله بيا د شکل او صورت له ورجوړيدلو وروسته وغورځيږي او ځينې په رحمونو کې ثابت پاتې شي، چې تاسې يې عيني شاهدان ياستئ، لکه څرنگه چې الله تعالی وايي: ﴿ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى﴾ ... وَقَوْلُهُ: ﴿ ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلا﴾ يعنې بدن، د اوريدلو، ليدلو، حواس، د نيولو او عقل ټولې قواوې مو کمزوي وې، چې مور او پلار درباندې ډېر مهربانه وو بيا الله تعالی په تدريجي ډول دا ټولې قواوې درپوره کړې، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ﴾ يعنې بيا يې قوت درکړ، ځواني او ښايسته صورت يې درکړ[۲: ۳۹۵-۳۹۶].

د ﴿الْأَشُدِّ﴾ په تفسير کې سمرقندي رحمه الله ليکي: له اتلسو کالونو څخه تر دېرشو کالونو پورې د ځينې نورو په اند تر شپږدېرشو کالونو پورې دورې ته وايي [۲۷: ۴۴۹]. خو شوکاني رحمه الله ليکي: د عقل پوره کيدلو(د گټې او نقصانتميز) ته وايي. ځينې وايي چې له دېرشو کالونو څخه تر څلوېښتو کالونو پورې دورې ته ويل کيږي [۳۰: ۵۱۶]. که څه هم په دې اړه د علماوو نظرونه مختلف دي. د مدينې خلک وايي: بلوغ او د کارونو بلدتيا ته وايي، د امام ابوحنيفه په اند ﴿الْأَشُدِّ﴾ پنځه ويشت کالو ته رسيدلو ته واي، د عبدالرحمن بن زيد په اند بلوغ ته وايي. . . خو صحيح خبره دا ده چې کله د پوهانو په څېر په مال کې د تصرف وړتيا ولري، نو دا د رشد او کمال دروه بلل کيږي [۳۱: ۲۰۲].

﴿وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى﴾ يعنې په حالت د قوت او ځوانۍ کې وفات شي﴿وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ﴾ او ځينې نور بيا د بوډه توب دورې ته ورسيږي چې قوت، فهم، عقل او فکر هر څه پکې ضعيف شوي وي [۲: ۳۹۵-۳۹۶].

زخيلي رحمه الله په پاسني ايت کې د جنين او انسان همدا ياد شوي مراحل داسې تفسير کړي دي:

۱ – ﴿فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ﴾ یعنې ستاسې اصل (آدم علیه السلام) مې له خاورو راپیدا کړ او ستاسو غذاگانې مې هم له خارو راپیدا کړي دي، چې له هغې نه مني راپیدا کیږي.

۲ – ﴿ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ﴾ بیا د منیو په تواسط تولد جاري کړ،چې له غذا څخه راپیدا کیږي او غذا خاورو څخه راپیدا شوې ده.

۳- ﴿ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ﴾ یعنې د الله تعالی په اراده سره همدا نطفه ترڅلوېښتو ورځو وروسته سره او کلکه وینه وگرځیدله.

۴ – ﴿ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ﴾ بیا همدا کلکه وینه د غوښې په ټوټه بدله شوه، چې ځینې وخت پوره خلقیت، پوره شکل او د بدن حواس ټول پکې راڅرگند شي او ځینې وخت بیا مخکې د راڅرگندیدلو څخه سقط شي او یا همداسې ناقص الاعضاء پیدا شي . . . خلاصه دا شوه چې مخلقه مضعه هغه ده، چې عیب او نقصان پکې نه وي او غیر مخلقه مضعه هغه ده چې ناقصه او عیب لرونکي وي.

۵ – ﴿ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا﴾ یعنې بیا یې تاسې د میندو له خیټې څخه ماشومان، د جسد، عقل او حواسو د کمزورتیا سره پیدا کړئ، بیا یې هر ماشوم ته قوت په تدریجي ډول ورکړ.

۶ – ﴿ ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ﴾ بیا یې جسدي او عقلي قوه ور پوره کړه تر دې چې د ځوانۍ او د قوت مرحلې ته یې ورساوه.

۷– ﴿وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى، وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ . . . ﴾ یعنې ځینې یې هغه دي چې د قوت یا د ځوانۍ تر مرحلې مخکې مړه شي او ځینې نور بیا تر بوډه توبه پورې ژوند کوي تر دې چې قوت، عقل، فهم ، او هر څه یې د ماشومتوب په څېر ضعیف شي... .[۲۳: ۱۵۸]

### د محمد (صلی الله علیه وسلم) په ویناوو کې د جنین پړاوونه

د جنین د پړاوونو یادونه په مبارکو نبوي احادیثو کې هم شوې ده، د جنین مختلف پړاوونه پکې بیان شوي دي، لکه څرنگه چې نبي علیه السلام فرمایي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ « إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِى بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ثُمَّ يَكُونُ فِى ذَلِكَ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ يَكُونُ فِى ذَلِكَ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ بِكَتْبِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقِىٌّ أَوْ

سَعِيدٌ فَوَالَّذِى لاَ إِلَهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا » [۳۷: ۴۴]

ژباړه: عبد الله بن مسعود (رضي الله تعالی عنه) روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم( چې رښتیني خطاب ورته شوی دی) ویلي دي: ستاسې د هر یوه د مور په خېټه کې تر څلوېښتو ورځو پورې جمعوالی کیږي، بیا همدا ډول(ترڅلوېښتو ورځو پورې) علقه( کلکه/ جامده وینه) شي، بیاپسې همدا ډول(ترڅلوېښتو ورځوې پورې) ژوول شوي غوښې په څېر یوه ټوټه شي، له دې ورسته الله تعالی یوه ملائکه ورته رواستوي، چې هغه پکې روح پو کړي او د څلورو شیانو په لیکلو ورته امر وکړي: ۱- د دې انسان د رزق په لیکلو چې دا به څه خوري ۲- ددې انسان د (مرگ) نیټې په لیکلو ۳- په دنیا کې ددې انسان د عمل په لیکلو ۴- ددې انسان د شقاوت او سعادت په لیکلو(چې نیک بخته( مؤمن) به وي او که بدبخته( کافر) به وي)، نو قسم په هغه ذات، چې له هغه پرته بل خدای نشته، چې یو شخص به د جنتیانو عمل کوي تر دې، چې د ده او جنت تر منځ به یو گز مسافه پاتې وي، ناڅاپه به تقدیر ورباندې وړاندې شي، نو د دوزخیانو عمل به پیل کړي تر هغې چې دوزخ ته داخل شي او یو شخص به د دوزخیانو عملونه کوي تر دې چې د ده او دوزخ تر منځ به یو گز فاصله وي، ناڅاپه به تقدیر ورباندې وړاندې شي، نو د جنتیانو عمل به پیل کړي تر هغې چې جنت ته داخل شي.

په ځینې روایاتو کې چې پنځه څلویښت یا دوه څلویښت شپې او یا د دې په څېر نورې یادونې شوې دي،د دې روایت سره یې امام نووي رحمه الله داسې تطبیق کوي: د دې ټولو روایتونو مطلب دا دی چې د پوره پام لرنې په پار په مسلسل ډول د همدې ملائکې شتون له دې جنین سره لازم او حتمي دی [۳۸: ۱۹۰]. خو ابن حجر رحمه الله وایي: دا د روایتونو اختلاف د جنینو په اختلاف بناء شوی دی [٦: ۴۸۱].

**د جنین د پړاوونو فلسفه**

انسان د الله تعالی په مشیت او اراده پیدا کیږي. که د الله تعالی اراده هر څه ته وشوه، نو پرته له دې چې له پړاوونو او مرحلو یې راتیر کړي، پیدا کولای یې شي، نو اوس پوښتنه دا ده، چې ولې یې جنین له دومره پړاوونو څخه راتیر کړ او یوازې یې د کن په اراده سره پیدا نه کړ؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې الله تعالی هېڅ کار بې حکمته نه کوي، د جنین د مختلفو پړاوونو ځینې حکمتي او فلسفي ټکي په لاندې ډول رااخلو:

۱ – که چېرې په یو اقدام د مور په خېټه کې غټ پیدا شوی وی، نو په مور باندې به ډېر ثقیل او دروند وی ډېر ځله به یې د یوې ناروغی ګمان پرې کولی.

۲ - د دې لپاره چې الله تعالی بندګانو ته خپل قدرت او نعمتونه وښیي او بندګان یې شکریه اداء کړي، چې د همدې پړاوونو یې راتیر کړ، تر دې چې په عقل مزین د ښکلي څېرې لرونکی شخص یې جوړ کړ [۳٦: ۱٦۴].

۳ - د دې لپاره، چې خلک د انسانانو په حشر باندې د الله تعالی قدرت ومنیهغه داسې: کوم ذات چې له حقیرو اوبو څخه د وینې په جوړلو، بیا د دې وینې څخه د غوښې ټوټې په جوړلو او بیا پکې د روح په پوکولو قادر دی، نو هغه ذات په دې هم قادر دی چې بیا یې را ژوندی کړي.

۴ – انسانانو ته په کې درس دی، چې په کارونو کې تعجیل ونه کړي، بلکې له تدریج او حوصلې څخه کار واخلي؛ ځکه الله تعالی سره ددې چې د انسان په یو ځل راپیدا کولو قادر و، خوبیا یې هم په تدریجي ډول پیدا کړ، نو انسانان باید په خپلو کارونو کې له حوصلې څخه کار واخلي [۳۳: ۱۳۱].

۵ - بل دا چې انسانان خپل اصل او فرعه وپېژني او په خپلو جسمي، حسي قوتونو دوکه نشي؛ ځکه چې دا ټول د الله تعالی لورینه او تر یو وخته پورې امانت دي [۳٦: ۱٦۵].

**په اسلامي فقهه کې د جنین احکام**

اسلامي شریعت چې بشپړ او یو معقول دین دی. د ژوند د هر اړخ لپاره ځانګړي اصول، احکام او قوانین لري. جنینهم په اسلامي شریعت کې ځانګړي احکام لري، چې فقهاوو رحمهم الله تعالی په خپلو کتابونو کې د هر باب سره سم یاد کړي او پوره بحث یې پرې کړی دی. د بحث په مناسبت ما هم ځینې په لنډ ډول راخیستي دي:

**د جنین سقط د فقهاوو له نظره**

فقهاء کرام رحمهم الله تعالی د جنین د سقط په اړه د جنین پړاوونو ته په کلتو سره ځانکړي بحثونه لري، چې د جنین حقوق او احکام یې پکې بیان کړي دي،خو یو ځل بیا هم باید یادونه وکړم، چې د فقهاوو له نظره د حمل له علوق څخه تر ولادت دورې پورې په حمل باندې د اطباوو د نظر پر خلاف د جنین اطلاق کیږي، نو د فقهاوو نظرونو ته په پام سره جنین د سقط په اړه دوه پړاوونه لري:

**لومړی پړاو:** د روح له پوکلو څخه مخکې د جنین سقط: په همدې مرحله کې د سقط په اړه فقهاء درې ډوله نظرونه لري:

۱ – مباح: لکه څه ډول، چې د نهر الفائق لیکوال لیکي: هَلْ يُبَاحُ الْإِسْقَاطُ بَعْدَ الْحَمْلِ؟ نَعَمْ يُبَاحُ مَا لَمْ يَتَخَلَّقْ مِنْهُ شَيْءٌ [۴: ۲۷۶] [۸:۱۷۶].

یعنې هغه وخت د حمل اسقاط روا دی، چې ژوند په کې نه وي راڅرګند شوي. دا نظر د ابن همام او ابن نجیم په شمول ډېرو فقهاوو رااخیستی دی [۹:۴۰۱]،[۵: ۲۱۵].

۲ – مکروه: دا د یو شمېر حنفي فقهاوو نظر هم دی، علامه الشامي یې نسبت علي بن موسی ته کړی دی [۸: ۱۷۶].

۳ – حرام: د حنفي فقهاوو له نظره د جنین سقط مخکې له دې چې روح پکې وپوکل شي له شدیدې اړتیا پرته روا نه دی، اما د سختې اړتیا پر مهال پروا نه لري لکه څه ډول چې علامه شامي په شمول یوشمېر علماوو رحمهم الله داسې تصریح کړې ده: فَإِبَاحَةُ الْإِسْقَاطِ مَحْمُولَةٌ عَلَى حَالَةِ الْعُذْرِ.[۸: ۱۷۶].

ژباړه: د حمل د سقط جواز د اړتیا پر حالت کې دی.

همدا ډول شمس الدین الرملي زیاتوي: أَمَّا حَالَةُ نَفْخِ الرُّوحِ فَمَا بَعْدَهُ إِلَى الْوَضْعِ فَلَا شَكَّ فِي التَّحْرِيمِ، وَأَمَّا قَبْلَهُ فَلَا يُقَالُ إِنَّهُ خِلَافُ الْأَوْلَى بَلْ مُحْتَمِلٌ لِلتَّنْزِيهِ وَالتَّحْرِيمِ، وَيَقْوَى التَّحْرِيمُ فِيمَا قَرُبَ مِنْ زَمَنِ النَّفْخِ [۲۰: ۴۴۲].

ژباړه: کله چې روح پکې واچول شي، نو له شک پرته چې بیا یې سقط روا نه دی، خو کله چې روح پکې اچول شوی نه وي، نو بیا د تنزیه او تحریم دواړه قولونه شتون لري البته تحریم( حراموالی ) یې په هغه وخت کې ډېر قوی دی، چې د روح پیدا کیدلو ته نږدې وي.

همدا ډول احمد الدردیر لیکي: ( وَلَا يَجُوزُ إِخْرَاجُ الْمَنِيِّ الْمُتَكَوِّنِ فِي الرَّحِمِ وَلَوْ قَبْلَ الْأَرْبَعِينَ يَوْمًاوَإِذَا نُفِخَتْ فِيهِ الرُّوحُ حَرُمَ إِجْمَاعًا ) .[۱۹: ۲۶۶]

ژباړه: کومه نطفه چې یو ځل په زیلانځ کې ثابته شي بیا د هغې لرې کول روا نه دي. که څه هم له څلوېښتو ورځو څخه مخکې وي. علامه دسوقي رحمه الله د همدې عبارت په شرح کې لیکي: (هَذَا هُوَ

الْمُعْتَمَدُ وَقِيلَ يُكْرَهُ إِخْرَاجُهُ قَبْلَ الْأَرْبَعِينَ). يعنې همدا قول معتمد دی البته ځینې علماوو ویلي دي، چې له څلويښتو ورځو څخه مخکې يې سقط کول مکروه دي.

رملي رحمه الله ليکي: که نطفه په زيلانځ کې قرار پيدا کړي، نو لرې کول يې ګناه ده، خو چې هر څومره د همدې نطفې وخت زياتيږي همدومره يې د لرې کولو ګناه زياتيږي او د روح له پيدا کېدلو څخه وروسته يې د لرې کولو ګناه لازياتيږي.[۲۰: ۴۴۲]

**دويم پړاو:** د روح له پوکلو څخه وروسته د جنين سقط: کله چې په جنين کې الله تعالی روح راپيدا کړي، نو له دې وروسته يې د لرې کولو په اړه يو شمېر علماوو ليکلي دي، چې د فقهاوو په اجماع سره يې لرې کول ناروا دي [۲۴: ۲٦۴۷]، [۱۹: ۲٦٦]، [۱۰: ۴۰۰].

حنفي مذهب په دې اړه داسې دی، چې کله يې خلقيت،ژوند نښې پکې راښکاره شي( يعنې روح پکې را پيدا شي)، نو سقط کول يې روا نه دي. دوی زياتوي: ان ترې که د مور ژوند ته هم خطر وي سقط کول يې روا نه دي [۲۹: ۳۵٦].

ابن نجيم ليکي: وَفِي النَّوَادِرِ:امْرَأَةٌ حَامِلٌ اعْتَرَضَ الْوَلَدُ فِي بَطْنِهَا وَلَا يُمْكِنُ إلَّا بِقَطْعِهِ أَرْبَاعًا وَلَوْ لَمْ يُفْعَلْ ذَلِكَ يُخَافُ عَلَى أُمِّهِ مِنْ الْمَوْتِ فَإِنْ كَانَ الْوَلَدُ مَيِّتًا فِي الْبَطْنِ فَلَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ كَانَ حَيًّا لَا يَجُوزُ؛ لِأَنَّ إحْيَاءَ نَفْسٍ بِقَتْلِ نَفْسٍ أُخْرَى لَمْ يَرِدْ فِي الشَّرْعِ [۳: ۲۳۳].

ژباړه: که چېرې د حمل د زيږون امکان نه و مګر د ماشوم په ټوټې کولو سره او که دا کار ونه کړي، نو د مور د مرګ خطر لري، نو که ماشوم مړ و بيا خير ده پروا نه لري( ټوټې کول يې روا دي) او که ژوندی و بيا (د ماشوم ټوټې کول) روا نه دي؛ ځکه چې د يو انسان ژوند ساتل د بل په مړه کولو سره روا نه دي.

بايديادونه وکړم، چې که حمل د داسې حالاتو سره مخامخ شو، چې د ده پرېښول د مور ژوند ته ګواښ و او کله نا کله داسې هم کيږيچې د مور ژوند په پای ته رسيدلو سره د حمل ژوند پخپله له منځه ځي، نو په داسې حالت کې د اوس وخت ځينې علماوو د حمل سقط روا بللی دی، لکه درابطة العاليم الاسلمي فقهي مجلس چې په ۱۵ رجب ۱۴۱۰هـ، الموافق ۱۰ فبراير ۱۹۹۰ م داير شوي و، تر۲۲ رجب ۱۴۱۰ هـ نيټې پورې يې دوام وکړ [۱۷: ۱۲۸]، [۱٦: ٦۰۹]، [۴۰].

زما شخصي نظر: زیات علماء چې د حنفي علماوو د حرمت نظر بیانوي، نو له قطار څخه یې د علامه شامي رحمه الله دا قول رانقلوي: لِأَنَّ مَوْتَ الْأُمِّ بِهِ مَوْهُومٌ ، فَلَا يَجُوزُ قَتْلُ آدَمِيٍّ حَيٍّ لِأَمْرٍ مَوْهُومٍ [۷: ۲۳۸]. یعنې د حمل په پاتې کیدلو سره د مورمرګ یو توهم دی، لهذا د یو ژوندي انسان مرګ د توهم له امله روا نه دی. دلته که مورر ځیر شو علامه شامي رحمه الله د هغه حالت څخه سکوت او چوپتیا کړې ده،چې په هغه کې د مور مرګ یقیني وي، نو د پخوانیو او اوسنیو علماوو نظرونو ته په پام سره د مور او حمل دواړو د ژوند ساتلو پوره هڅه لازمه او واجبه ده، خو که داسې حالت پېښ شي، چې یو نا یو بهضرور له منځه ځي، نو زیاتره وخت د مور په ژوند پسې د حمل ژوند تړلی وي، لهذا د مور ژوند ته ترجیح ورکول به ان شاء الله چې ګناه نه وي.

## د جنین طبي ستونزو پر وخت یې سقط کول

که په عصري طبي الآتو سره دقیقه معلومه شوه چې کوم جنین طبي ستونزه لري، د بېلګې په ډول ناقص الخلقیت و یاپه داسې کومهیوه ناعلاجه ناروغۍ اخته دی، چې که پیدا شي په ټولنه او کورنۍ به بوج شي، که روح پکې نه وي غورځیدلی، نوسقط یې د والدینو په غوښتنه روا دی البته د روح له غورځیدولو څخه وروسته یې سقط د وخت علماوو ناجایز بللی دی، لکه: عبداللهبن عبد الرحمن الجبرین[۱۸: ۴۶]، دکتور عَبد الله بن محمد الطيّار، دکتور عبد الله بن محمّد المطلق، دکتور محمَّد بن إبراهيم الموسَىٰ[۳۲: ۱۱۱] ، أبو عبد الرحمن عبد الله بن عبد الرحمن بن صالح بن حمد بن محمد بن حمد بن إبراهيم البسام التميمي.[١٦: ١٠٦]،[۴۱]

## د مړې امیداوارې مېرمنې څخه د جنین رایستل

که څه هم د مور له مرګ څخه وروسته جنین ډېر وخت د مور په خېټه کې ژوندی نه شي پاتې کیدلی، ځکه چې د مور په مرګ سره دی هم ډېر ژر مري، خو بیا هم که تلوار وشو او معلومه شوه، چې لاژوندی دی یا حرکت کوي، نو راایستل یې روا دي. لکه په دې هکله، د حنفي مذهب سترو علماوو په خپلو کتابونو کې پرې تصریح کړې ده، د بېلګې په ډولد المحيط البرهاني لیکوال محمود بن أحمد برهان الدين[۱۴: ۳۸۰] ، علامه ابن عابدین الشامي[۷: ۲۳۸]، علامه علاء الدين الكاساني[۳۵: ۱۳۰] او ا بن قدامة عبد الله بن أحمد[۱۱: ۴۱۰].

**په مصنوعي تلقيحکې د In Vivo Fertilization سره د جنين منځته راتلل**

په اوسني عصر کې دا هغو زوجينو( خاوند او مېرمن) په اړه چې جنسي ضعف او ناروغي ولري او د اولادونو له خواږه نعمت څخه بې برخې وي، متخصص ډاکټر صاحبان د نر او ښځې نطفې رااخلي او بيا يې د ښځې په زيلانځ کې اچوي،تر څو خاوند او مېرمن د اولادونو څښتن شي،دې ته مصنوعي تلقيح د In Vivo Fertilization طريقه بلل کيږي، په همدې اړه د وخت جيدو علماوو خپل تحقيقات کړي دي، په۸/ صفر /۱۴۰۷هـ تر۱۳/ صفر /۱۴۰۷ هـ د اردون په پايتخت کې د مجمع الفقه الإسلامي داير شوي مجلسپرې پوره بحث کړی دی.تلقيح مختلف ډولونه لري هر يو يې ځانګړی حکم لري، چې په لاندې ډول يې يادونه کوو:

لومړی: د خاوند څخه نطفه رااخيستل شي او له يوې داسې ښځې څخه هسته( هګۍ) رااخيستل شي، چې د خاوند مېرمن نه وي‌بيا د همدې خاوند د مېرمنې په رحم او زيلانځ کې واچول شي.

دويم: د يو سړي چې د همدې مېرمنې خاوند نه وي نطفه او د مېرمنې هسته رااخيستل شي او د مېرمنې په رحم کې واچول شي.

دريیم: د خاوند نطفه چې د مېرمنې په رحم کې واچول شي.

لومړي دواړه صورتونه ناروا او شريعت ممنوع بللي دي، ځکه دا کار لذاته ممنوع دی او له دې امله چې دنسب او موروالی‌قدر ضايع کېدل اود موروالي له منځه تګ دی. دريیم صورت د سختې اړتيا پر وخت روا دی، خو په ډېر دقت بايد دا عمليات وشي، چې د خاوند نطفه د بل چا د نطفې سره خلط او بدله نه شي، د عورت ستر ته بايد پوره پاملرنه وشي، په داسې ډول چې که په زوجينو کې هر يو دا عمليات کولی شول، نو ډېره ښه او که په زوجينو کې هېڅ يو نه شول کولای، نو که مسلمانه ډاکټره وه هغه به د مېرمنې په زيلانځ کې همدا نطفه ځای پر ځای کړي، که مسلمانه ډاکټره نه وه بيا دې کافره ډاکټره همدا عمليات وکړي، که کافره ډاکټره هم نه وه، بيا دې مسلمان ډاکټر همدا عمليات وکړي او که مسلمان ډاکټر هم نه پيدا کيده، بيا خېر دی کافر ډاکټر هم دا عمليات کولی شي. هر څومره چې ممکنه وه بايد عورت پټ کړل شي، د اړتيا څخه زيات ځای دې نه ښکاره کيږي او د علمياتو پر وخت بايد خاوند حاضر وي تر څو چې د اجنابيانو د خلوت مخه ونيول شي [۲۴: ۲۶۴۹]، [۲۵:۵۰۹۹].

څلورم: د مېرمنې او خاوند نطفه او هسته چې راواخيستل شي او بيا د همدې خاوند د بلې مېرمنې په زيلانځ کې واچول شي. همدا صورت هم علماوو ناروا بللی دی [۳۲: ٦٦-٦٧].

**په مصنوعي تلقيح کې د In Vitro Fertilization (IVF) د له لارې د جنين منځته راتلل**

دا د مصنوعي تلقيح يو بله طريقه چې يو ځل د نطفه او هسته د باندې تلقيح شي کله چې زايګوټ صورت ونيسي بيا د ښځې زيلانځ ته واچول شي، چې همدې طريقې ته In Vitro Fertilization ويل کيږي، همدا طريقه هم مختلف ډولونه لري، چې له يو ډول پرته نور ټول ډولونه يې ناروا بلل کيږي. تفصيل يې په لاندې ډول دی:

لومړی: د خاوند او مېرمنې نطفه او هسته چې له زيلانځ څخه د باندې تلقيح شي او بيا د همدې مېرمنې په زيلانځ کې واچول شي.

دويم: د پردۍ ښځې او پردي خاوند نطفه او هسته يوځل د باندې تلقيح شي، چې زايګوټ ورڅخه جوړ شي، بيا همدا زيګوټ رواخيستل شي د مېرمنې په زيلانځ کې واچول شي.

دريم: کله چې د خاوند او مېرمنې نطفه او هسته راواخيستل شي د باندې تلقيح شي، بيا يې د همدې خاوند د بلې مېرمنې په زيلانځ کې واچول شي.

څلورم: د خاوند او مېرمن نطفه او هسته راواخيستل شي د باندې تلقيح شي او بيا د يوې بلې ښځې په رحم کې واچول شي [۲۵: ۵۰۹۹].

پينځم: د يوې پردۍ ښځې هسته چې د بل سړي د مني سره د باندې تلقيح شي، بيا د همدې سړي د مېرمنې زيلانځ ته همدا زايګوټ واچول.

شپږم: د مېرمنې هسته او د خاوند نطفه چې د يو بل حيوان په زيلانځ کې تلقيح شي او له ټاکلي وخت تيريدلو وروسته همدا زايګوټ رواخيستل شي د همدې مېرمنې زيلانځ ته انتقال شي.

لومړي ډول د جنسي ضعف له امله د اړتيا پر مهال علماوو روا بللی دی، خو ستر عورت (چې پاس مو پرې بحث وکړ) بايد په پام کې ونيول شي. پاتې نور ډولونه علماوو ناروا بللي دي ځکه دا کار لذاته

ممنوع دی او له دې امله چې د نسب او موروالی قدر ضایع کېدل او د موروالي له منځه تګ دی [۲۸: ۱۹۱]، [۳۲: ٦٥].

باید یادونه وکړم، چې په درېیم ډول (د خاوند او مېرمنې نطفه او هسته چې راواخیستل شي د باندې تلقیح شي او بیا یې د همدې خاوند د بلې مېرمنې په زیلانځ کې واچول شي او یا مخکې له دې، چې د باندې تلقیح شي د همدې خاوند د بلې مېرمنې په زیلانځ کې تلقیح شي) که څه هم په لومړي ځل مجمع الفقه الاسلامي چې په مکه مکرمه کې دایر شوی و، د ضرورت پروخت د روا فتوا ورکړې وه، په دویم ځل چې په جده کې همدا مجلس دایر شو د پاس یادې شوې ستونزو له امله بېرته د جواز له حکم څخه راوګرځېدلو او د ناروا حکم یې ورکړ [۳۲: ٦٦- ٦٧].

**پایله**

که څه هم انسانان له مختلفو پړاوونو څخه تیرېږي، خو د جنین مرحلې یې اوه پړاوونه لري، که په جنین کې روح اچول شوی نه وي مخکې یې سقط کول د اړتیا پر وخت روا دی، خو کله چې روح پکې و اچول شي بیا یې سقط کول د پخوانیو علماوو په اند روا نه دی البته د عصري علماوو په اند که د مور ژوند ته ګواښ و، نو سقط کول یې روا دي، د تلقیح In Vitro Fertilization (IVF) له یو صورت څخه پرته، هغه دا چې د خاوند او مېرمنې نطفه او هسته چې له زیلانځ څخه د باندې تلقیح شي او بیا د همدې مېرمنې په زیلانځ کې واچول شي. نور ټول صورتونه ناروا دي، د تلقیح د In Vivo Fertilization هم له یو صورت پرته هغه دا چې د خاوند نطفه چې د مېرمنې په رحم کې واچول شي. نورټول صورتونه ناروا بلل شوي دي.

**وړانديزونه**

۱- علماء کرام بايد د جنين مراحل په خپلو بيانونو او خطبو کې خپلو اولسونو ته بيان کړي تر څو چې په بعث بعدالموت باور او عقيده د خلکو لاپياوړي شي او له تکبر او ځان لوړ ګڼلو څخه ځانونه وساتي.

۲- د جنين سقط چې په اوس عصر کې ټوله نړۍ په کې ښکېل ده، چې له بل هر وخت زيات کيږي بايد علماء او ليکوالان يې د روا او ناروا په اړه خپلې هڅې لانور هم ګړندۍ وساتي.

۳ – هېڅوک دې د د سقط کولو لپاره بهانې نه لټوي بلکې د شديدې اړتيا پرته دې د روا حالاتونو په صورت کې هم ترې ځانونه وساتي.

۴– ډاکټر صاحبان دې د فقهي متخصصينو له مشورې او فتوا پرته په خپل سرد سقط دواګانو او علمياتو څخه ډډه وکړي.

۵ – مسلمانان ورونه دې د مصنوعي تلقيح له دوو روا صورتونو پرته هېڅ بل ډول ناروا تلقيح نه ترسره کوي او روا صورتونه ته دې اړتيا په پام کې ولري.

٦ – علماء دې د تلقيح ټول روا او ناروا صورتونه څخه خپل عام اولس خبر کړي، تر چې د اړتيا پر وخت د ناروا صورتونو څخه ټولنه وژغورل شي.

وصلی الله تعالی علی خير خلقه محمد و اله و اصحابه اجمعين.

## مصادر

قرآن کریم

۱ -ابن منظور، محمد بن مکرم بن على أبو الفضل. (۱۴۱۴هـ).لسان العرب، ج ۱۳، ط: ۳، بیروت: دارصادر.

۲ - ابن کثیر، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير.(۱۴۲۰هـ - ۱۹۹۹ م). تفسیر ابن کثیر، ج۵، تحقیق: سامي بن محمد سلامة، مصر، قاهره: دار طيبة.

۳ – ابن نجيم، زين الدين بن إبراهيم بن محمد. (ت بعد ۱۱۳۸ هـ). البحر الرائق شرح كنز الدقائق ، ج۸، ط:۲، لبنان: دارالکتاب.

۴ - ابن نجيم، سراج الدين عمر بن إبراهيم. (۱۴۲۲هـ - ۲۰۰۲م). النهر الفائق شرح كنز الدقائق،ج۲، ط: ۱ تحقيق: أحمد عزو عناية، بيروت:دارالکتب العلمية.

۵ -ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد. (ت بعد ۱۱۳۸ هـ). البحر الرائق شرح كنز الدقائق،ج ۳ ، ط:۲، بیروت: دار الكتاب الإسلامي.

٦ - ابن حجر، أحمد بن عليأبو الفضل. ( ب،ت). فتح الباري، ج ۱۱، بيروت: دارالمعرفة.

۷ – ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. (۱۴۱۲هـ - ۱۹۹۲م). رد المحتار علي الدر المختار، ج۲، ط: ۲، بيروت: دار الفكر.

۸ – ابن عابدين، محمد أمين بن عمر.(۱۴۱۲هـ - ۱۹۹۲م). رد المحتار على الدر المختار، ج۳، ط: ۳، دار الفكر.

۹ – ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد. (ب، ت). فتح القدير، ج ۳، دار الفكر.

۱۰ –ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن أبي القاسم بن محمد الحراني الحنبلي الدمشقي. (۱۴۰۸هـ - ۱۹۸۷م). الفتاوى الكبرى لابن تيمية، ج۳، ط: ۱، دارالکتب العلمية.

۱۱ - ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة. (۱۳۸۸هـ - ۱۹۶۸م). المغني لابن قدامة، ج۲، مصر: مكتبة القاهرة.

۱۲ - أبو حبيب، سعدي. (۱۴۰۸ هـ = ۱۹۸۸ م). القاموس الفقهي، ط:۲، سوريه، دمشق: دار الفكر.

۱۳ - أحمد مختار عبد الحميد عمر. (۱۴۲۹ هـ - ۲۰۰۸م). معجم اللغة العربية، ج۱، ط:۱، سعودية، رياض: عالم الكتب.

۱۴ -برهان الدين، أبو المعالي محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي. (۱۴۲۴ هـ - ۲۰۰۴ م). المحيط البرهاني في الفقه النعماني، ج۵، ط: ۱، بيروت، لبنان: دار الكتب العلمية.

۱۵ - البسام، أبو عبد الرحمن عبد الله بن عبد الرحمن بن صالح بن حمد بن محمد بن حمد بن إبراهيم التميمي. (۱۴۲۳ هـ - ۲۰۰۳ م). توضِيحُ الأحكَامِ مِن بُلوُغ المَرَام، ج۵، مكّة المكرّمة: مكتَبة الأسدي.

۱٦- البسام، أبو عبد الرحمن عبد الله بن عبد الرحمن بن صالح بن حمد بن محمد بن حمد بن إبراهيم التميمي. (۱۴۲۳ هـ - ۲۰۰۳ م). توضِيحُ الأحكَامِ مِن بُلوُغ المَرَام، ج٦، مكّة المكرّمة: مكتَبة الأسدي.

١٧ –التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله. (١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م.). موسوعة الفقه الإسلامي، ج٤، ط: ١، بيت الافكار الدولية.

١٨- الجبرين، عبد الله بن عبد الرحمن.(ب، ت). الفتاوى الشرعية في المسائل الطبية، ج٣، اعداد: إبراهيم بن عبد العزيز الشثري، المكتبة الشاملة.

١٩ –الدردير، أحمد بن محمد بن أحمد العدوي، أبو البركات المالكي.(ب، ت). الشرح الكبير للشيخ الدردير وحاشية الدسوقي، ج٢، دار الفكر

٢٠ –الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة. (١٤٠٤هـ١٩٨٤م). نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج، ج٨، بيروت: دار الفكر.

٢١ – الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (١٤١٨ هـ). التفسير المنير للزحيلي، ج٢٤، ط: ٢، دمشق: دار الفكر المعاصر.

٢٢ - الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (١٤١٨ هـ). التفسير المنير للزحيلي، ج١٨، ط: ٢، دمشق: دار الفكر المعاصر.

٢٣ - الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (١٤١٨ هـ). التفسير المنير للزحيلي، ج١٧، ط: ٢، دمشق: دار الفكر المعاصر.

٢٤ - الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (١٤١٨ هـ). الفقه الإسلامي وأدلته ، ج٤، ط: ١٢، دمشق: دار الفكر.

٢٥ - الزحيلي، وهبة بن مصطفى. (١٤١٨ هـ). الفقه الإسلامي وأدلته ، ج٧، ط: ١٢، دمشق: دار الفكر.

٢٦ - زاهدي جان محمد احمدزی.( ١٣٨٦هـ ش ٢٠٠٨م). طب د اسلام له نظره، ط: ٢، پېښور، دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه.

٢٧ - السمرقندي، أبو الليث نصر بن محمد بن إبراهيم الفقيه الحنفي. (ب، ت). تفسير السمرقندي = بحر العلوم، ج٢، بيروت: دار الفكر.

٢٨ - سالم أبو مالك كمال بن السيد. (٢٠٠٣ م). صحيح فقه السنة وأدلته وتوضيح مذاهب الأئمة، ج٣، تعليقات: فضيلة الشيخناصر الدين الألباني، فضيلة الشيخعبد العزيز بن باز، فضيلة الشيخمحمد بن صالح العثيمين مصر، القاهرة: المكتبة التوفيقية.

٢٩ - الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي. (١٤١٠هـ١٩٩٠م). الأم للشافعي، ج٦، بيروت: دار المعرفة.

٣٠ - الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله. (١٤١٤ هـ). فتح القدير للشوكاني، ج٣، ط:١، دمشق، بيروت: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب.

٣١ - الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله. (١٤١٤ هـ). فتح القدير للشوكاني، ج٢، ط:١، دمشق، بيروت: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب.

٣٢ - الطيّار، عَبد الله بن محمد ، عبد الله بن محمّد المطلق، محمَّد بن إبراهيم الموسَى. (١٤٣٣ هـ ٢٠١٢م). الفِقهُ الميَسَّر، ج١٢، ط:٢، سعوديه، رياض: مَدَارُ الوَطن.

۳۳ - العينى، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين. (ب، ت). عمدة القاري شرح صحيح البخاري، ج۱۵، بيروت: دار إحياء التراث العربي.

۳۴ -الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي (۱۴۰۶هـ ۱۰۸۶م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، ج۷، ط: ۲، دار الكتب العلمية.

۳۵ – الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي (۱۴۰۶هـ ۱۰۸۶م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، ج۵، ط: ۲، دار الكتب العلمية.

۳٦ -المباركفوري، أبو الحسن عبيد الله بن محمد عبد السلام بن خان محمد بن أمان الله بن حسام الدين الرحماني. (۱۴۰۴ هـ ۱۹۸۴ م). مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، ج ۱، ط: ۳، هند، نارس: إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء.

۳۷ - مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (ب، ت). صحيح مسلم)، ج۴، بيروت:دار إحياء التراث العربي.

۳۸ - النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف. (۱۳۹۲م). المنهاج شرح صحيح مسلم، ج۱٦، ط:۲، بيروت: دار إحياء التراث العربي.

۳۹ - نظام الدين البلخي، و لجنة علماء. (۱۳۱۰ هـ). الفتاوى الهندية، ج۵، دار الفكر.

۴۰ - ( اسلام ويب islamweb.net) تاريخ النشر۷/رجب/۱۴۴۰ه. ق
(www.islamweb.net/amp/ar/fatwa/456223/

۴۱ - (اسلام ويب islamweb.net تاريخ النشر۱٦/رمضان/ ۱۴۴۳ه ق
(www.islamweb.net/amp/ar/fatwa/456223/

# په مالي پوهه کې د رياضياتو د تطبيق او رياضيکي موډولونو د اهميت څېړل

پوهنمل احسان الله همتي او پوهنمل محمد زبير تنوير، شيخ زايد پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، رياضي څانگه

**برېښناليک:** Ehsanullah.hemati@gmail.com & Tanweer.zubair@gmail.com

**لنډيز**

د دې مقالې د ليکلو څخه مو موخه دا ده، چې لوستونکي د رياضياتو او مالي پوهې ترمنځ په اړيکه باندې پوه شي. څرنگه چې په نړۍ کې د مالي بازارونو مختلف ډولونه شتون لري او هر يو يې د هغه د مالي محصول د تبادلې له مخې تعريف او پېژندل کېږي، دا چې په حقيقت کې دغه تبادلې د رياضيکي روابطو څخه پرته بل څه نه دي، نو د دې لپاره چې په دې برخه کې مو پوهه ترلاسه کړې وي او په دې برخه کې مو د رياضياتو تطبيقات پېژندلي وي، په دې اساس مو د رياضياتو اساسي مفهومونه په ساده ډول د دوی د تطبيق سره يوځای تشريح کړي دي. دا چې پر اطلاعاتو باندې مبتني هره مالي پروسه يو رياضيکي موډل دی او دا موډولونه ډېر پيچلي حالتونه درلودلای شئ، چې کولای شئ د همدې ليکنې په مأخذونو کې يې پيدا کړئ، چې موډل جوړونه يې شايد يو له مهمترينو مفهومونو څخه وي.

**کليدي ټکي:** تعميم شوي هايپربولا، دارايي، رياضيکي موډل، قيمت گذاري، مالي پوهه.

**سريزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.

مالي رياضيات د رياضياتو يوه څانگه ده، چې د مالي بازارونو حرکت د رياضيکي موډلونو په طرحه کولو او د دوی په مطالعه کولو سره تشريح کوي. د اطلاع په ډول کولای شو ووايو، چې دغه څانگه د تصادفي پروسو، اقتصاد، مالي مهندسي، احتمالاتو، احصايي او عددي محاسبو سره په يوه نقطه کې ځای لري. مالي رياضيات د نورو ورته علومو لکه رياضيات، احتمالات، اقتصاد، په عمليو کې تحقيق، کمپيوټري علوم او حتی له فزيک سره د مشترک سرحد په درلودلو په چټکۍ د پرمختگ په حال کې دي. دغه څانگه د مالي اقتصاد د څانگې سره نېږدې اړيکه لري. په مالي اقتصاد کې اکثره تيوريکي بحثونه مطرح کېږي، ليکن په دغه رشته کې رياضيکي موډلونو ته د عملي تجربو له مخې توجه کېږي. د مثال په ډول په داسې حال کې چې مالي اقتصاد پوهه د دغه موضوع د جوړېدو دلايل چې څنگه د يوه مقداري شرکت ونډې مشخصې دي څېړي، ليکن مالي رياضي پوهه د ذکر شوو ونډو همغه قيمتونه

چې موجود دي، قبلوي او وروسته کوشش کوي چې د تصادفي پروسو د ترلاسه شوو موجوديو څخه پېژندل شوی ارزښت لاسته راوړي.

د يوې دارايۍ مالي موډل د پارامترونو ترمنځ د روابطو يو رياضيکي سيستم دی، چې د دارايۍ په قيمت باندې تاثير اچوي او د هغې تقريبي حرکت تعيين کوي. په ټولو بازارونو کې معاملې د دارايیو په قيمتونو باندې استوارې دي. بنا پر دې د معامله ګر لپاره د دارايۍ قيمت پر مفهوم باندې پوهيدل ضروري دي. د يوې دارايۍ قيمت په يوازې ځان د ټاکلو وړ نه دی، بلکې د پيمانې په نوم يوې بلې دارايۍ ته اړتيا لري. د لومړۍ دارايۍ څخه د يو واحد قيمت د دويمې دارايۍ د واحدونو له تعداد سره مساوي دی، په هغه صورت کې دا واحد د هغه واحدونو له شمېر سره په بازار کې همزمان يو ډول مطلوبيت ولري. بنا پر دې عرضه او تقاضا د قيمت ګذارۍ مهمترين عوامل دي.

پر اطلاعاتو باندې مبتني هره مالي پروسه يو رياضيکي موډل دی. دا چې د رياضيکي موډل اطلاعات څه شی دي او څنګه هغې ته رسيږو د ډېر زيات اهميت لرونکي دي او په يوه رياضيکي موډل کې دغې دواړو ته اړتيا ده او له دې څخه پرته نشو کولای په مالي او اقتصادي برخه کې فکر وکړو. د هر مالي موډل لپاره مهمه پوښتنه دا ده چې په کومه اندازه کېدای شي، دا موډل ناسم وي او د فرضيو خلاف په کومه اندازه کېدای شي ګټور وي، بايد له موډل څخه شروع وشي او وروسته د سالم عقل او تجربې څخه پکې کار واخيستل شي.

دا چې د دې مقالې اصلي موضوع هم په مالي پوهه کې د رياضياتو پر تطبيق او د رياضيکي موډلونو پر اهميت باندې راڅرخي. نو لومړی مو رياضيات، رياضيکي موډلونه او د دوی اهميت تشريح او د نمونې په ډول مو د تعميم شوي هايپربولا موډل وړاندې کړی دی. وروسته مو د رياضياتو څخه ځينې تطبيقاتي مثالونه د مالي پوهې په مختلفو برخو کې مطرح کړي دي، تر څو وکولای شو په مالي برخه کې د رياضيکي فورمولونو په تطبيق کې له ستونزو سره مخ نشو او په اسانۍ سره اړوند مسايل حل کړو، په دې ليکنه کې مې د امکان تر بريده هڅه کړې ده، چې موضوعاتو ته ښه تسلسل ورکړم او د موضوع په پای کې مې د هغه منابعو څخه يادونه کړې ده چې په دې مقاله کې ترې ګټه پورته شوې ده.

**موخې**

د دغې نيول شوې څېړنيزې مقالې لنډې موخې په لاندې ډول دي:

۱- د رياضياتو او مالي پوهې ترمنځ په اړيکه باندې پوهيدنه

۲ – په مالي پوهه کې د رياضيکي موډلونو معرفي کول

۳ – په مالي پوهه کې د رياضياتو څخه د تطبيقاتي فورمولونو معرفي او تطبيق کول

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري، په ۱۴۰۳ ل کال کې ترسره شوې ده تقريباً له هغو منابعو څخه پکې استفاده شوې ده، چې په معتبرو نړيوالو ژورنالونو کې خپاره شوې دي. په دې ليکنه کې له مختلفو انټرنيټي سايټونو څخه هم استفاده شوې ده.

**رياضيات، رياضيکي موډلونه او د دوی اهميت**

د رياضياتو د تکامل مراحلو ته په کتو سره به وګورئ، چې ابتدايي رياضيات په پيل کې د اجسامو د شمېرلو، اندازه ګيرۍ او د مساحت د تعيين کولو د اړتيا له مخې منځ ته راغلي وو او دغه پوهه د مجرد سيستم او بعدونو په شکل کې وه. نن ورځ رياضي پوهان رياضيات داسې تعريفوي، چې : رياضيات د تعريفونو، بديهي اصولو، موضوعه اصولو، او د دغه تعريفونو او اصولو څخه د لاسته راغلو نتايجو سيستم دی. حتی هندسې چې کلونو يې د دغه سيستم د تعريف مطابق د اقليدسي هندسې تر عنوان لاندې په نړۍ کې رول لوبولو، په لومړيو کې يې د بشر د غوښتنو مطابق شکل نيولی و. ولې د رياضياتو څخه د خپل پراخ تطبيقاتي سرحد د درلودلو له امله د بشري پوهې په اکثره څانګو کې کار اخيستل کېږي. د احصايې او احتمالاتو په څير څانګې چې په لومړيو کې د رياضياتو د څانګې په توګه نومول شوي وې وروسته په ټولو څانګو کې د دوی د پراخ تطبيق له امله د څانګرې مستقلې څانګې په توګه وپېژندل شوې. ځينې نورې څانګې فزيک او ميخانيک د رياضياتو سره نېږدې اړيکه لري او حتی داسې مسايل وړاندې کوي چې رياضي پوهان يې په حل باندې اقدام کوي. د انساني علومو څانګې په تدريجي ډول د دغه چوکاټ څخه د ګټې اخيستو په صورت کې رامنځته شوي دي. نن ورځ د رياضيکي پوهې څخه ګټه اخيستنه د اجتماعي علومو په مختلفو څانګو کې په پراخ ډول د تطبيق وړ ده او د اقتصاد څانګې، مديريت، مالي پوهې او د حسابدارۍ څانګه د نورو انساني علومو د څانګو په منځ کې په چټکۍ سره د

رياضياتو څخه د خپلو مطالبو د بيانولو لپاره ګټه پورته کوي. دغه پوهه په اقتصاد، مالي پوهه، مديريت او حسابدارۍ کې پراخ تطبيق لري.

رياضي د بشري پوهې په ټولو څانګو کې د نظريو د بيانولو لپاره يو قوي سافټوير دی. په همدې اساس پخوانيو تحولاتو ته په کتو سره په مالي پوهه کې د رياضياتو د اهميت او د خالص شکل لپاره کولای شو په رياضياتو کې د کمپيوتر رول ته اشاره وکړو، چې يو له هغه چلينجونو څخه دی، چې د مالي مديريت په ټولګيو کې يې ليدلی شئ. په سختۍ سره کولای شئ، د مالي مديريت محصلين په دې قانع کړئ، چې رياضيکي مسائل نشئ کولای يوازې د کمپيوتر څخه په ګټه اخيستنه سره حل کړئ. ځکه کمپيوتر نشي کولای دا تشخيص کړي، چې کوم ډول مسائل د کومو تخنيکونو په مرسته د حل وړ دي. کمپيوترونه يوازې په دې قادر دي، هغه مسائل، چې د غيرفکري عمليو په ډول دي، دقيقاً همغه ډول حل کړي په کوم ډول چې برنامه ريزي شوي دي، اما نشي کولای د حل لارې شايستګي يې تشخيص کړي. د دې تر څنګ کمپيوټرونه د رياضيکي عمليو څخه د ترلاسه شوو نتايجو تطبيقات نشي درک کولای.

مالي تحليلګر بايد د يوې مسئلې لپاره د يوه تطبيق کوونکي په توګه يو فورمول جوړ کړي، د مسئلې د حل لارې تخنيک مشخص او لاسته راتلونکي نتايج تفسير کړي. مالي تحليل په مالي موډل جوړونه باندې پيل کيږي. يو موډل په حقيقت کې د متحولينو او د دوی د عواملو ترمنځ د روابطو د توصيف لپاره يو خيالي جوړښت دی. د مثال په ډول د ابتدايي رياضياتو په مفهومونو باندې پوهه درلودل تقريباً په مالي تحليل باندې د حاکميت لپاره ضروري ده او د ارزونې موډلونه هم په سرمايه ګذارۍ او د سرمايوي بوديجه بندۍ په تصميمونو کې تطبيق کيږي. د موډلونو تطبيق په مالي پوهه کې يو ضروري امر دی، ځکه چې د بازارونو مستقيم تحليل فوق العاده مشکل او پيچلی کار دی.

مالي موډلونه تقريباً رياضيکي موډلونه دي. که څه هم دا ممکنه ده چې دا موضوع د هغه کسانو لپاره چې په رياضي نه پوهيږي، جالب خبر نه دی. ليکن په هر حال رياضيکي موډلونه ښکاره او دقيقه ګټه رسوي، تر څو هغوی په دې قادر کړي، چې د متحولينو ترمنځ د روابطو څخه مناسب اطلاعات راټول کړي. په يوه رياضيکي موډل کې په معمولي ډول د مستقلو متحولينو او مربوطو متحولينو ترمنځ مشخصه رابطه فورمول کيږي. مستقل متحولين ( چې د پارامتر، غيرمتجانسو متحولينو او يا x متحولينو په نوم هم ياديږي ) په حقيقت کې هغه متحولين دي، چې د موډل څخه بهر تعين کيږي، او مربوط متحولين ( د y متحولين ) د موډل په ذريعه مشخص کيږي او هغه متحولين دي، چې بايد د پارامتر په واسطه يې توضيح وکړل شي. فرض کړئ چې تاسو قصد لرئ، چې د ونډو بازار کړنه توضيح کړئ او وروسته د لږ فکر او

بررسي څخه دې نتيجې ته ورسيږئ، چې د ونډو بازار د اقليمي وضعيت سره نېږدې اړيکه لري. بنا پر دې د ونډو بازار د حرارت، اوربښت او رطوبت په شمول د يو شمېر مستقلو متحولينو مربوط متحول دی. يو ښه او مناسب مالي موډل هغه موډل دی، چې د علمي مباني له مخې، د هغه مفروضاتو او د آزمويښت وړ پيشنهاداتو (فرضيو) يا د ټولو هغه ثبوت شوو موډولونو څخه جوړ شوی وي، چې د اقتصادي اصولو څخه سرچينه اخلي. موډل زموږ سره د واقعيت د پيچلو بعدونو په درک کولو کې مرسته کوي، چې د هغه څخه د راتلونکي پيش بينۍ په برخه کې ګټه اخيستلای شو. د موډلونو او تيوريو څخه کولای شو په مناسبو تصميم نيونو کې ګټه پورته کړو. څرنګه چې د مالي پوهې په برخه کې زيات موډلونه شتون لري، موږ د نمونې په ډول دلته يوازې يو موډل چې د دارايۍ د قيمت ګذارۍ لپاره د تعميم شوې هايپربولا موډل بلل کېږي په لاندې ډول وړاندې کوو.

## د دارايۍ د قيمت ګذارۍ لپاره د تعميم شوي هايپربولا موډل

په ۱۹۹۵م کال کې ابرلين او کلر د دارايۍ د قيمت ګذارۍ لپاره يو نوی موډل معرفي کړ، چې د هغې اساسي فرضيه د لوګاريتم د خروجي لپاره د هايپربولا توزيع کول وو. ابرلين او کلر وښودل چې د ونډو د ورځنيو قيمتونو د لوګاريتم د خروجي لپاره د نورمال توزيع څخه ګټه اخيستنه مناسبه نه ده او له بل لوري دوی دا وښودل چې د هايپربولا توزيع کول د حقيقي ډاټا سره په ښه ډول برابروالی لري (۷، ص-ص ۲۸۱- ۲۹۹).

په ۱۹۹۸م کال کې ابرلين او پراوز دغه موډل ته د تعميم شوي هايپربولا د توزيع په حالت کې د لوګاريتم د خروجي لپاره پراختيا ورکړه. (۸، ص ۲۸۱)




تراکمونه: NYSE صنعتي انډکس        QQ – ترسیم: NYSE صنعتي انډکس

(۱- شکل) :- د تراکم او QQ-plot د مختلفو توزيع ګانو په برابرۍ کې لوګاريتمي خروجي ته په ورکولو سره د NYSE شاخص رانښيي. ( ۲ جون ۱۹۹۰ څخه تر ۱۱ نوامبر ۱۹۹٦) (۹، ص-ص ۲۰۰- ۲۳۴)

پورتني شکلونه د پراوز په واسطه په ۱۹۹۹م کال کې ترسيم شوي دي، چې د تراکم او QQ-plot د نورمال توزيع ګانو، د ګاوسي معکوس نورمال، تعميم شوي هايپربولا او تجربو په نظر کې نيولو سره د لوګاريتم خروجي لپاره NYSE شاخص ښيي. دوی وښودل، چې د تعميم شوي هايپربولا توزيع د پورته ذکر شوو ټولو توزيع ګانو په نسبت د تجربوي ډاټا لپاره ښه برابري لري. (۹، ص-ص ۲۰۰- ۲۳۴)

اوس د لومړنۍ دارايي لپاره د تعميم شوي هايپربولا د موډل په معرفي کېدو باندې پيل کوو. د بلک شولز په موډل کې د دارايي قيمت په هره لحظه کې د يو براوني طاقت د حرکت پرمخ وړلو سره تعيينېږي.

$$(1) S_t = S_0 e^{B_t^0}$$

په دې رابطه کې $B_t^0 = \mu t + \sigma w_t$ د براوني حرکت پرمخ وړل بلل کېږي. البته کولای شو (1) رابطه د ايتو فورمول څخه په ګټه اخيستنه په لاندې ډول وليکو:

$$S_t = S_0 + \int_0^t S_u dB_u^1 \text{ يا } \frac{dS_t}{S_t} = \left(\mu + \frac{\sigma^2}{2}\right) dt + \sigma dw_t = dB_t^1$$

په دې رابطه کې $B_t^1 = \left(\mu + \frac{\sigma^2}{2}\right) t + \sigma dw_t$ د $B_t^0$ څخه جلا براوني پروسه ده.

پام مو وي، چې د لوی پروسې هر عنوان د تعويض کېدو قابليت د تعميم شوي هايپربولا د لوی پروسې د ځانګړي حالت سره لري، په دې صورت کې هغه مطالب، چې په دې جريان کې راغلي دي، کېدای شي د تعميم شوي هايپربولا د لوی پروسې لپاره بغير د کوم کمي او زياتي څخه وليکل شي.

تعریف: که چېرې په (1) رابطه کې $B_t^0$ د لوی د یوې پروسې په واسطه تعویض شي، د طاقت د لوی موډل ټولګي تشکیلېږي. (۹، ص-ص ۲۰۰- ۲۳۴)

$$(2) S_t = S_0 e^{Z_t}$$

چې په دې رابطه کې $Z_t$ د $J_Z$ په اندازه په ټوپ وهلو سره د لوی یوه پروسه ده. په پورتنۍ رابطه کې د ایتو فورمول په کارولو سره لرو چې:

$$.\frac{dS_t}{S_0} = S_t(dZ_t + \frac{\sigma^2}{2}dt + (e^{\Delta Z_t} - 1 - \Delta Z_t))$$

اوس که چېرې $S_0 = 1$ او $Z_t$ د تعمیم شوي هایپربولا د لوی یوه پروسه وي، پورتنۍ رابطه کولای شو په لاندې ډول ولیکو:

$$(3) dS_t = S_t(dZ_t + e^{\Delta Z_t} - 1 - \Delta Z_t)$$

چې دا د تعمیم شوي هایپربولا موډل بلل کېږي.

**په مالي پوهه کې د ریاضیاتو تطبیقي مثالونه**

په دې برخه کې د ریاضیاتو څخه ځینې تطبیقاتي مثالونه د مالي پوهې په مختلفو برخو کې مطرح کوو، په هغه صورت کې چې په اقتصادي مسائلو او مالي مدیریت کې متحولین د ریاضي د سمبولونو په واسطه بیان شي او وکولای شو د دوی ټول خواص په ریاضیکي ډول بیان کړو، نو په نتیجه کې به یې له تابع ګانو سره مخامخ شو. په دې برخه کې د دغه مثالونو بیان مونږ ته په مالي پوهه کې د ریاضیاتو پراخ تطبیق بیانوي او مونږ په دې قادروي چې په مالي پوهه کې د ریاضیاتو په اهمیت باندې اګاه شو.

**په قیمت ګذارۍ کې د ریاضیاتو تطبیق**

دیوې دارایۍ قیمت ګذاري شاید په مالي مدیریت کې یوه له مهمترینو او پیچلو مسئلو څخه وي، په ځانګړي ډول په هغه حالت کې کله چې نغدي جریانونه د پیش بینۍ وړ نه وي، یا دا چې کله نغدي جریانونه د اوږد مهاله دورو لپاره برآورد کېږي. د دغه ډول مسایلو د حل په موخه کولای شو بېلابېل ریاضیکي فورمولونه تطبیق کړو، چې ځینې یې په لاندې ډول وړاندې کوو.

**الف. د لومړني مصرف او فیصدي ګټې محاسبه**

فرض کړئ چې د کمپیوټرونو یوې جوړوونکي فابریکې یو پایه کمپیوټر په (27300) افغانۍ خرڅ کړ، که چېرې فابریکې په هره پایه کمپیوټر کې 40% فیصده ګټه کړې وي، نو په هر کمپیوټر باندې د فابریکې له خوا څومره مصرف شوی دی او په هر کمپیوټر کې یې څو افغانۍ ګټه کړې ده.

د دې ډول مسایلو د حل لپاره له دغه فورمول ( C لومړنی مصرف + Cr فیصدي ګټه = S د خرڅلاو قیمت) څخه ګټه پورته کوو، نو لرو چې:

$$S = C(1+r) \Rightarrow C = \frac{S}{1+r}$$

$$C = \frac{27300}{1+0.4} = \frac{27300}{1.4} = 19500$$

$$P = S - C = 27300 - 19500 = 7800$$

لیدل کېږي چې فابریکې په یوه پایه کمپیوټر باندې (19500) افغانۍ مصرف کړی او په یوه پایه کمپیوټر کې یې (7800) افغانۍ ګټه کړې ده. (۱، ص-ص ۶۵-۸۶ )

**ب. ساده ګټه (ربح) مرکبه ګټه او فعلي ارزښت**

کله چې یو څوک له بانک څخه قرض اخلي، مجبور دی چې بانک ته یو څه ګټه ورکړي او یا یو څوک په بانک کې خپله سرمایه ذخیره کوي، بانک مجبور دی چې نوموړي شخص ته ګټه ورکړي. دلته قرض شوي روپیو ته اصلي سرمایه، د اصلي سرمایې او د هغې د ګټې مجموعې ته مجموعي مقدار ویل کېږي. د ګټې نرخ عموماً د اصلي سرمایې له مخې د یوه ټاکلي وخت له مخې چې معمولاً په مالي محاسبو کې یو کال وي د فیصدی په ډول سنجول کېږي.

که چېرې ګټه یوازې د قرض شوې سرمایې په مقدار پورې اړه ولري، دا ډول ربحې ته ساده ربح ویل کېږي او که چېرې د سرمایې ګټه په هر راتلونکي پیریود کې بېرته په سرمایه ورزیاته کېږي، نو دا ډول ربحې ته مرکبه ربح ویل کېږي. په ساده ربح کې معمولاً یو کال 360 ورځې او میاشت 30 ورځې په پام کې نیول کېږي.

فرض کړئ محب د افغانستان بانک څخه (15000) افغانۍ د (3.5) کالو په موده د (8%) نرخ له مخې د ساده ربحې په شکل په پور اخیستې دي، محب به له 3.5 کالو وروسته افغانستان بانک ته څو افغانۍ ورکوي؟

د ساده ربحې د تعریف له مخې ساده ګټه I د فعلي ارزښت P، د ګټې فیصدي r او د کالونو شمېر t د ضرب څخه په لاس راځي یعنې I = P. r . t او مجموعي مقدار له A = P(1+rt) څخه لاسته راځي.

$$P = 15000, r = 0.08, t = 3.5 A = ?$$

$$A = P(1+rt) = 15000(1+0.08\times 3.5) = 15000(1.28) \Rightarrow A = 19200$$

محب به د 3.5 کالو له تیریدو وروسته بانک ته (19200) افغانۍ تسلیم کوي.

فرض کړئ تنوير (30000) افغانۍ سرمايه د (7%) په نرخ په نيم کلني پيريود سره د مرکبې ربحې په شکل په باختر بانک کې واچوله نو له دې مقدار سرمايې څخه به د (8) کلونو وروسته له باختر بانک څخه تنوير ته څومره سرمايه په لاس ورشي؟

که چېرې مرکب مقدار S، اصلي سرمايه P او د پيريودونو شمېر n وبلل شي، نو لرو چې:

$$S = P(1+i)^n$$

$$P = 30000, i = \frac{1}{2}\times 7\% = 0.035, n = 8\times 2 = 16, S = ?$$

$$S = P(1+i)^n = 30000(1+0.035)^{16} = 30000(1.035)^{16}$$

$$x = (1.035)^{16} \Rightarrow \log x = 16\log 1.035 = 16\times 0.015 = 0.24$$

$$x = anti\ \log(0.24) = 1.7378$$

$$S = 30000(1.035)^{16} = 30000\times 1.7378 = 52134$$

**ج. د پيسو د دوه چنده کولو لپاره د لازمي وخت محاسبه کول د لوګاريتم په ذريعه**

څومره وخت وروسته به هغه مقدار پيسې چې په يوه بانکي حساب کې په مرکبه ربح د کلني پيريود (5%) په نرخ ذخيره شوي دي دوه برابره شي؟ د مثال په ډول که چېرې ذخيره شوې پيسې (1000) ډالره وي، څومره وخت وروسته به دا پيسې (2000) ډالر شي؟

د دغه وخت د ټاکلو کولو لپاره بايد په $2000\$ = 1000\$(1+0.05)^n$ معادله کې n محاسبه شي.
په دې موخه لومړی د معادلې دواړه خواوې په (1000) باندې ويشو او بيا د دواړو اړخونو طبيعي لوګاريتم پيدا کوو.

$$\ln\left(\frac{2000}{1000}\right) = \ln\left(1+0.05\right)^n = n\ln(1.05)$$

$$\ln\left(2\right) = n\ln(1.05)$$

$$0.693147 = n\times 0.4879$$

$$\frac{0.693147}{0.4879} = n = 14.2067$$

یعنې (1000) ډالر به په بانک کې د (14.2) کالو له تیریدو وروسته د مرکبې ربحې په (5%) نرخ دوه برابره شي. (۳، ص-ص ۲۳۹- ۳۷۵)

**د. د قسطونو محاسبه کول**

هاند یو ویلډز موټر د 3 کالو په موده په (750000) افغانیو او یو ټیلر موټر د 8 کالو په موده په (10000000) افغانیو په قرض اخیستي دي. که چېرې هاند او د ده قرض ورکوونکي په دې موافقه وکړي چې دا دواړه قرضونه به په دوو مساوي قسطونو کې یو یې 5 کاله او بل یې 6 کاله وروسته د (6%) په ارزښت د نیم کلني پیریود په نظر کې نیولو سره خلاص کړل شي د هر قسط مقدار به څومره وي؟

د هر قسط روپیو لپاره (x) او د مقایسوي نیټې (6) کالو لپاره لاندې دیاګرام په نظر کې نیسو.




د مقایسوي نیټې په نظر کې نیولو سره د قرضونو مقدار په لاندې ډول پیدا کوو.

$$\text{د قرضونو مقدار} = 750000(1+0.03)^{6} + 10000000(1+0.03)^{-4}$$

څرنگه چې د قرضونو د ورکړې اندازه د مقايسوي نيټې په نظر کې نيولو سره د $x + x(1.03)^2$ څخه عبارت ده بنا پردې لرو چې:

$$x + x(1.03)^2 = 750000(1+0.03)^6 + 10000000(1+0.06)^{-4}$$
$$x + x(1.03)^2 = 750000(1.19405) + 10000000(0.88849)$$
$$2.0609x = 895537.5 + 8884900 = 9780437.5$$
$$x = \frac{9780437.5}{2.0609} = 47457111.825$$

**اعظمي او اصغري تطبيقات**

فرض کړئ يوه فابريکه د خپلو توليداتو څخه يو واحد په (128) افغانۍ په يو کال کې خرڅوي، چې د مصارفو تابع يې $(C = 0.01x^2 + 8x + 7)$ ده په دې ډول چې x د واحدونو شمېر راښيي. نو دغه فابريکه بايد څومره واحدونه خرڅ کړي تر څو اعظمي گټه ترلاسه شي او اعظمي گټه به يې څومره وي؟

څرنگه چې د عايداتو تابع $(R = 128x)$ کيږي نو د گټې د اعظمي حالت د پيدا کولو لپاره لرو چې:

$$P = 128x - \left(0.01x^2 + 8x + 7\right) = 128x - 0.01x^2 - 8x - 7$$
$$\frac{dP}{dx} = 120 - 0.02x$$
$$120 - 0.02x = 0$$
$$0.02x = 120$$
$$x = \frac{120}{0.02} = 6000$$

په نتيجه کې اعظمي گټه هغه وخت ترلاسه کولای شي چې (6000) واحده خرڅ کړي.

$$P = 120(6000) - 0.01(6000)^2 - 7$$
$$P = 720000 - 360000 - 7$$
$$P = 359993 afs$$

د دغه واحدونو د خرڅلاو په نتيجه کې به يې (359993) افغانۍ گټه کړې وي.

فرض کړئ چې د مصارفو تابع ($C = x^3 - 120x^2 + 4500x$) وي د x واحدونو مقدار پیدا کړئ چې په هغه کې مصارف اصغري حالت غوره کړي.

$$\frac{dC}{dx} = 3x^2 - 240x + 4500 = 0$$

$$x^2 - 80x - 1500 = (x - 30)(x - 50) = 0$$

$$\frac{d^2y}{dx^2} = 6x - 240$$

نو په (x=50) کې د اصغري قیمت لرونکي ده او دا قیمت عبارت دی له (50000) افغانیو څخه.

**د عمر د بیمې ریاضیات**

د عمر بیمه د بیمې د خدماتو له ډولونو څخه یو ډول دی، چې د هغې پراساس د بیمې شرکتونه د اړتیا وړ مالي منابع د قانع کېدو لپاره د خلکو سره د ژوند په برخه کې ملاتړ کوي. د مثال په ډول د خلکو د معاشاتو د ورکړې په برخه کې د یوې معیاري مالي زندګی د تامین لپاره هغوی ته تقاعد د دوی د معاش له ځای څخه د دوامداره عاید د قطع کېدو وروسته چې ورکول کېږي یو ډول د عمر بیمه حسابیږي. همدارنګه یتیمو ماشومانو ته د معاشاتو ورکړه د دوی د اړتیاوو د پوره کېدو او د مالي منابع د تامین په برخه کې چې دوی وکولای شي، خپل تحصیل پای ته ورسوي، هم د عمر بیمې له ډول څخه شمېرل کېږي. د عمر ریاضیاتو په مباحثو کې له مخکې څخه یو لړ پوښتنو ته په لاندې ډول ځواب ورکړل شوی دی.

د دې لپاره چې یو شخص وکولای شي له میاشتني تقاعد څخه وروسته (20000000) افغانۍ د بیمې د معاش په نوم ترلاسه کړي، د خپل کاري عمر په اوږدو کې د میاشتنۍ تنحوا څخه باید څومره افغانۍ د بیمې شرکت ته تحویل کړي؟

د دې لپاره چې شخص وکولای شي د دې تضمین وکړي چې د ده د مرګ څخه وروسته به د راتلونکو لسو کالونو په جریان کې د ده کورنۍ وکولای شي چې (10) میلیونه افغانۍ د بیمې له شرکت څخه ترلاسه کړي، څومره پیسې باید د بیمې شرکت ته تحویل کړي؟

پورتنیو پوښتنو ته د ځواب ورکولو لپاره او د اړتیا وړ اطلاعاتو د تحلیل لپاره په دغه ځوابونو کې د عمر بیمې د ریاضیاتو له مفهومونو څخه ګټه اخیستل کېږي. د عمر بیمې ریاضیات د مالي ریاضیاتو د

مفهومونو او فورمولونو څخه متاثر دي. دلته یې د یو مثال په وړاندې کولو سره عمر بیمې د ریاضیاتو مبحث صرف د موضوع د طرحې د وړاندې کېدو لپاره مطرح کوو.

**په کلاسیک عمر کې د بیمې ارزیابي**

د کلاسیک مالي مدیریت په فضأ کې لاندې فرضیې په پام کې ونیسئ:

د وخت اوږدوالی یو کال په پام کې ونیسئ.

د کلني نرخ ونډه د r ثابت رقم فرض کړئ.

بنا پر دې د نن ورځې یوه افغانۍ به په راتلونکې یو کال کې د r+1 افغانیو قیمت ولري.

او د راتلونکي یو کال یوه افغانۍ به په حاضر وخت کې $\frac{1}{1+r}$ افغانۍ قیمت ولري.

د i شخص د برنولي متحول $B_i$ په واسطه ښودل کېږي.

$$B_i = \begin{cases} 1 & \text{که i شخص یو کال بعد مړ شي.} \\ 0 & \text{که i شخص یو کال بعد ژوندی وي} \end{cases}$$

د دې پیښې احتمال چې i شخص به مړ شي په لاندې ډول ښیو.

$$\Pr(B_i = 1) = P_1 > 0$$

د دې پیښې احتمال چې i شخص به ژوندی پاتې شي هم په لاندې ډول ښیو.

$$\Pr(B_i = 0) = P_0 > 0$$

فرض کړئ چې د عمر بیمې د $(Bi \times Ci)$ ورکړل شوي مبلغ د قرارداد تضمین شوی وي، چې په دې عبارت کې Ci یو حقیقي عدد دی او ټول اشخاص په لاندې ډومین کې قرارا لري:( const یو ثابت عدد دی) $0 \le Ci \le const$ د عمر بیمې د کلاسیکو ریاضیاتو پر اساس:

$$\begin{aligned} Pv^{i} &= (1+r)^{-1} \cdot Ci \cdot E[Bi] \\ &= (1+r)^{-1} \cdot Ci \cdot P_1 \end{aligned}$$

چې په دې عبارت کې Pv د عمر بیمې د قرارداد د غوښتنې وړ ورکړل شوی فعلي ارزښت دی.

**پایله**

د دې مقالې په جریان کې مونږ دې پایلې ته ورسیدو، چې ریاضیات په اقتصاد، په ځانګړې ډول په مالي پوهه کې د خورا زیات اهمیت لرونکي دي، ځکه په دې باندې پوهیدل چې څنګه د دارایي قیمت پیدا کېږي، د زیات اهمیت وړ دي چې دا کار له ریاضیاتو څخه بغیر ناشونی دی. همدارنګه ټول بانکي سیستم د ریاضیاتو د مختلفو فورمولونو څخه په ګټه اخیستنه سره اداره کېږي، د مثال په ډول د پور د ورکړې حالتونه چې بیرته یې بانکونه له هغوی څخه ګټه ترلاسه کوي چې د دې کار لپاره ریاضیات دوه مهم فورمولونه (د ساده ربح فورمول او مرکبه ربح فورمول په نومونو باندې) د مالي برخې لپاره وړاندې کوي.

همدارنګه د لوګاریتم په مرسته هم کولای شو په په مالي برخه کې اهمې لاسته راوړنې ولرو، د قسطونو په مسئله کې هم د ریاضیاتو څخه ګټه اخیستنه د پام وړ لاسته راوړنه بللی شو. په فابریکو کې د اعظمي ګټې د معلومولو لپاره همدارنګه د مصارفو د اصغري کېدو په موخه د مشتق کارونه هم په یاده برخه کې د پام وړ ګام بلل کېږي، د متریکسونو څخه ګټه اخیستنه او د عمر بیمې ریاضیات هغه څه دي چې په دې برخه کې ترې یادونه کولای شو. بالاخره ویلای شو، چې ریاضیات په مالي برخه کې د پوهې د حاصلولو لپاره اړین او ضروري امر دی، چې بغیر له ریاضیاتو نشو کولای په مالي پوهه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولرو. یعنې ټول هغه مسایل، چې د مالي برخې اړوند دي، په ریاضیاتو کې د توضیح شوو فورمولونو څخه په ګټه اخیستنه او په سمه توګه د دوی په تطبیق کولو سره حل کولای شو، له دې څخه بغیر د دا ډول مسائلو حل ستونزمن او ناشونی ښکاري.

**مأخذونه**

1. پور کاظمي، محمدحسین. (۱۳۸۵). ریاضیات برای اقتصاد ومدیریت. تهران: انتشارات نشرانی.
2. جنت زی، ګل محمد او محمدزی، ګل ولي. (۱۳۹۲). اقتصادي ریاضي. ننګرهار: همدرد مطبعه.
۳. صالحي، جمشید او ابراهیمي، ایرج. (۱۳۹۱). ریاضیات و کاربردهای آن در مدیریت ۱ ،۲. تهران: نشر هستان.
4. رهنمای، رودپشتي او فریدون، محمد جلیلي. (۱۳۸۹). ریاضیات مالي و سرمایه ګذاري. تهران: انتشارات ترمه

5. رهنمای، رودپشتي او فریدون، هاشم، نیکو مرام. (۱۳۸۵). مدیریت مالي راهبردی. تهران: انتشارات کساکاوس

6. ALEXANDER, G. J. SHARPER, W. F. BAILEY, J. V. (2000). Fundamentals of investments (Third Edition). New Jersey: Prentice Hall.

7. Eberlein, E. and Keller, U. (1995). Hyperbolic distributions in finance. Bernoulli.

8. Eberlein, E. and Prause, K. (1998). The generalized hyperbolic model: Financial derivatives and risk measures. FDM preprint 56, University of Freiburg.

9. Prause, K. (1999). The generalized hyperbolic model: Estimation, financial derivatives, and risk measures. Dissertation. Mathematics Fakultät der Albert- Ludwigs-Universität Freiburg imBreisgau.

10. Samuelson, P. (1965). Rational theory of warrant pricing. Industrial Management.

11. Schoutens, W. (2003). Lévy processes in finance: Pricing Financial Derivatives Wiley

12. Teall, John. (2002). Quantitative Methods For Finance And Investments. Electronic resource: John Wiley & Sons Inc.

# د انسان په روغتيا باندې د کثافاتو اغېزې او د هغې د مخنيوي لارې چارې

پوهنمل قدیرالله هاند او پوهنمل رحمت الله عابد، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې روزنې پوهنځی، بیولوژي څانګې استادان.

برېښنا لیکونه: Qadirullah.H1986@gmail.com[1]، Rahmatullahabid100@gmail.com[2]

## لنډيز

په دې لنډه کتابتوني څېړنيزه مقاله کې د کثافاتو پېژندنه او د هغې د رامنځ ته کيدو پر لاملونو، د کثافاتو له امله موجوده او پېښيدونکو ستونزو، علاوه له دې څخه په نوموړي تحقيقي ليکنه کې په خوندي توګه د کثافاتو د دفن کيدو پر لارو چارو، د کثافاتو څخه د بيا ګټې اخيستنې اړونده کړنلارې او يو شمېر نور ميتودونه په ګوته شوي دي؛ د دې لپاره چې مصؤن صحي ژوند او له کثافاتو څخه پاک او خوندي چاپيريال ولرو، د ساينس او معاصرو طبيعي علومو له مخې د هر ډول ککړتياو پر مخنيوي هم ټينګار شوی دی. همدارنګه په دې مقاله کې د کثافاتو په اړوند داسې معلومات وړاندې کېږي ترڅو په ټولنه کې اوسنۍ مهمې ستونزې لکه د خاورې ککړتيا، د اوبوککړتيا، د بيلابيلو ککړتياو له امله د معلومو او نامعلومو ناروغيو او خطرونو د را منځ ته کيدو، د فضله موادو د دفن کولو ستونزې او داسې نور هغه څه دي چې د ټولنې خلک يې بايد پر ضرورنو او د مخنيوي پر لارو چارو وپوهيږي.

**کليدي کليمې**: روغتيا او صحي چاپيريال ، کثافات ، د کثافاتو خطرونه ، د کثافاتو څخه د خونديتوب لارې چارې

## سريزه

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.

کثافات هغه پاتې شوني مواد دي، کوم چې د انسان د فعاليت په نتيجه کې په مختلفو برخو لکه: کرنه ،صنعت ، اتومي بټيو، د معدني قيمتي ډبرو د توليد په پروسه کې، د کور په کارونو او ښارونو کې توليديږي. دا کثافات چې په حقيقت کې يې ټول ډولونه مضر دي، ځکه چې هر ډول يې په خپل ځای کې په چاپيريال او د چاپيريال په اوسيدونکو (حيواناتواو نباتاتو) باندې منفي اغېزې لري. د دوی شتون خاوره ، اوبه او هوا ککړوي، چې په پايله کې يې د ګېډې ناروغۍ ، کولرا ( Cholera) ، په هستوي پروتينونو کې تغير، سالنډي ( نفس تنګي)، سرطانونه او د عمر کموالی منځته راوړي. مونږ ته په کار ده چې د کثافاتو د نوعيت او څرنګوالي په پام کې نيولو سره کثافات سره جلا کړو؛ نو همدې اصل ته په کتو هغه کثافات چې ساتنه او مجدده ګټه اخيستنه يې مشکله ده، د صحي قوانينو مطابق بايد دفن شي،

هغه ډله کثافات چې په لږ زحمت سره په بل شکل سره ورځخه ګټه اخيستلای شو لکه د عضوي سرې (کمپوست) په توګه او هغه چې په فزيکي لحاظ جلا کول غواړي لکه؛ فلزي ټوټې، المونيمي قطي او نور جلا په مجدده توګه په لږ مصرف سره بيا د قطيو جوړولو کې ور ځخه کار اخيستلای شو.

خو هغه کثافات چې وړانګيز فعاليت له ځانه ښيي لکه؛ بطرۍ، چې په هغه کې زهري مواد ( سرب او کادميوم) استعماليږي او يا روغني رنګونه، ورنش ، د فرشونو پاکوونکي او نورو لپاره په کار ده ، چې پر ځای يې مسؤن او ډاډمن بديل په کار يوړل شي. او يا په داسې ډول دفن شي چې لږ تر لږه تر سلو کالو پورې هغې ته د انسان لاس ونه رسيږي (۱، ص. ۱۰).

د خلکو عامه پوهاوی هغه څه دي چې په دې کثافاتو او د هغوی اړوند خطرونو په کنترول کې ډېره مرسته کولای شي. دا ټکی هم د يادولو وړ دی، چې کثافات بايد په آزاده هوا کې ونه سوځول شي، دا ځکه چې هغه غازونه، لوګی، کاربن ډای اکسايډ، کاربن مونو اکسايډ او نور چې د سوځېدو په لړ کې هوا ته پورته کېږي او هغه چې په ځمکه کې د سوځولو ځخه وروسته پاتې کېږي، ټول په خپل وار سره هوا ، خاوره او اوبه ککړوي؛ چې په پايله کې نه جبرانيدونکي ستونزې را زيږوي. د نفوسو زياتوالی د کثافاتو د توليد يو بل لامل دی چې کنترول يې علمي لارې چارې غواړي (۲، ص. ۱۵).

**د دغې څېړنيزې کتابتوني مقالې څخه زمونږ موخې / هدفونه دادي:**

- لوستونکي به د کثافاتو څخه رامنځته کيدونکي خطرونه او ستونزې وپېژني.
- لوستونکي به د ککړتياوو پر ډولونو پوه شي.
- لوستونکي به د کثافاتو د مخنيوي پر لارو چارو پوه شي.
- په ټولنه کې به د کثافاتو په اړوند د خلکو عامه پوهاوی رامنځته شي.
- لوستونکي به د يو شمېر کثافاتو څخه د بيا ګټې اخيستنې(Recycle) اړوند کړنلارې زده کړي.

**د کار مواد او کړنلاره**

موږ د دې څېړنيزې مقالې په ليکنه کې زيار ايستلی چې د کتابتوني کړنلارې څخه داسې کار او ګټه واخلو، ترڅو هغه علمي مواد چې په دې وروستيو وختونو کې پرې کار سرته رسيدلای، د خپلې ټولنې سره شريک کړو. همدارنګه د هغو ورکشاپونو ، نړيوالو علمي کنفرانسونو، معتبرو علمي کتابونو، نړيوالو

علمي بریښنایي ژورنالونو او سایټونو څخه ګټه پورته شوې، چې د موضوع په تړاو دایر او خپاره شوي وو.

**کثافات او د هغې د را منځته کیدو لاملونه**

کثافات هغه مواد دي چې نن په نړۍ کې په ډول، ډول نومونو لکه اضافي پاتې شوني، زبالې، کثافات او بې کاره موادو په نوم یادول کېږي چې بیولوژیکي تعریف یې په لاندې ډول دی.

کثافات: د هغو اضافي او زایدو موادو څخه عبارت دی چې د انسان د کړو وړو په نتیجه کې لکه کرنه، مالدارۍ، صنعت، د کورنیو کارونو له امله په ښارونو کې تولیدېږي. انسان په ډېره مشکله مادي نعمتونه لاسته راوړي، خو ډېر په اسانه یې په کثافاتو بدلوي او په طبعیت کې یې په بې مسولیته توګه غورځوي(۲، ص. ۳۴ ). په تېرو تاریخي پیړیو کې د کثافاتو تولید دومره لویه ستونزه نه وه ، ځکه چې د نړۍ نفوس کم او صنعت دومره پرمختګ نه و کړی، خو اوس چې له یوې خوا د نړۍ نفوس د ۲۰۲۴ م کال د احصایې له مخې اته ملیارده، یو سل اتلس میلویونه، اته لکه پنځه دیرش زره، نهه سوه نهه نوي (۸،۱۱۸،۸۳۵،۹۹۹) ته رسیدلی او په هره دقیقه کې د ۲۶۷ څخه زیات وګړي پیدا کېږي(۱۰). له بلې خوا همدا انسان دی چې په افراطي توګه د مادي نعمتونو د تولید په موخه د طبیعت څخه ګټه اخلي؛ نو همدا وجه ده چې د کثافاتو تولید (عضوي کثافات، صنعتي کثافات، خطرناک اضافي مواد، ښاري پاتې شوني) په چاپیریال کې ډول، ډول روغتیایي ستونزې لکه انسانې او حیوانې ناروغۍ، بد بویونه، بدې منظرې، د انسانانو د عمر کموالی او په DNA او RNA کې تغیرات او نور منځته راوړي.

د چاپیریال پیژندنې یو عالم چې Gareet Hardin نومیده وایي « د ککړتیا او کثافاتو ستونزه د نفوسو د زیات والي محصول دی» (۲، ص. ۲۰). یوبل امریکایې پوه چې د چاپیریال پیژندنې اړوند مسلې څیړي او Paul Arlesh نومیږي، د چاپیریال تخریب د موټرونو په فعالیت، د فرش او لوښو د مینځلو فابریکو په فضله موادو، حشراتو وژونکي کیمیاوي موادو، د کثافاتو د تصفیې د فابریکو نه شتون، د اوبو کموالی او د کاربن ډای اکسایډ په زیاتوالي پورې تړلې بولي، چې دا ټول هغه څه دي چې د نفوسو په تراکم پورې تړلي دي. یو شمېر نور پوهان بیا د زیاتو مصرفي توکو کارول د کثافاتو د ایجاد باعث بولي. یو شمیر غربي پوهان د کثافاتو د تولید لوی عامل( تقاضا) بولي. د مثال په توګه امریکا د نړۍ د نفوسو ٪۶ سلنه تشکیلوي خو د کثافاتو مجموعي حجم یې د نړۍ ۷۰ سلنه دی. که موږ د کثافاتو له ډلې څخه یو مهم توکی پلاستیک په نظر کې ونیسو، نو پلاستیکي کڅوړه، لوښي او نور تر پنځوسو کالونو پورې

په خاوره کې پرته د تجزیې او تغیر شکل څخه په خپل حال پاتې کېږي. دا پلاستيکي توکي له يوې خوا په کرنيزو ځمکو کې د لمر د وړانګو د نفوذ مخه نيسي او له بلې خوا د ژونديو اجسامو لپاره يو ډېر ناوړه او زيانمنوونکی رول لوبوي. همدغه د ککړتيا لوی لامل دی چې يو امريکايي د يو هندي په پرتله ۳۰۰ واره زيات پلاستيک کاروي (۸).

مالتوس په ۱۸۰۳م کال کې نړيوالو ته خبرداری ورکړ او ويې ويل چې: « د نړۍ نفوس مخ په زياتيدو دی او په راتلونکې کې د غذايي موادو د کمبود ستونزه حتمي او په خپله ګېډه کې به لوږه، فقر، مرګونه، مرضونه او د کثافاتو ستونزه او نور راوزيږوي(۲،ص. ۳۵)

د بلې خوا په ښارونو کې د نفوسو تراکم په خپله د کثافاتو د ډېروالي يو لوی لامل دی. د يوې نړيوالې څېړنې پر بنا يوازې امريکا د همدغه ٦ سلنه نړيوال نفوس په لرلو سره د ٪۴۰ څخه تر ٪۵۰ سلنه پورې نړيوال توليدات مصرفوي(۴، ص. ۳۳). د نفوس د ښار اداري د وړاندوينې له مخې به په ۲۰۵۰ م کال کې د مختلفو لاملونو له کبله لکه (وچکالي، جنګونه، کارموندنه، ښاري خدمتونه...) د کليو خلک ښارونو ته مخه کړي په دې توګه به ۲/۳ برخه د نفوسو په ښارونو کې هستوګن شي او د کثافاتو اندازه به د اوس په پرتله څو چنده لوړه شي(۳، ص ص. ۱،۵،۸،۹)




۱ . شکل: د کثافاتو ډولونه راښيي(۱۱).

## له کثافاتو څخه رامنځته کیدونکې ستونزې

که چېرې د کثافاتو د ښخولو ( دفن کولو ) لپاره مناسب چاپېریال د بیولوژیکي قوانینو پر بنا انتخاب نه شي، کیدای شي چې انسانان د ډول، ډول ستونزو سره مخامخ کړي. د مثال په توګه که چېرې د غذايي موادو پاتې شوني ( کثافات ) د څښلو اوبو ته لاره پیدا کړي نو کیدای شي چې د ګېډې ناروغۍ لکه (Giardiasis)، (Cryptosporidiasis) اسهال او نور منځته راوړي. همدارنګه که مصنوعي آفت وژونکي دواګانې (Synthetic Pesticides) ، د کیمیاوي سرو پاتې شوني، د درندو فلزاتو پاتې شوني(Tertilizers)، د عضوي مقاومو مرکباتو پاتې شوني(Pops) Persistent Organic pollutants او داسې نور، کله چې دا ډول مواد د څښلو د اوبو سره په تماس کې شي نو ګڼ شمېر د پوستکي ناروغۍ، د جګر ناروغۍ، د عصبي سیستم مرضونه او سرطانونه به پیدا کړي(۵، ص. ۴۵).

یو لړ نور کثافات لکه صنعتي فاضله مواد، د رادیو اکتیف موادو پاتې شوني، کیمیاوي رنګونه، ورنش او روغنیات لکه بریک تیل یا روغني رنګونه، استعمال شوي بطرۍ... او داسې نور چې د بحرونو، سیندونو او روانو اوبو ته لاره پیدا کړي؛ نو سربېره پر ګڼ شمېر مرضونو د الجیانوپلانکتونونو(Planctones) او نورو بحري حیواناتو د منځه تللو سبب هم ګرځي. په دې توګه انسانان د یوې خوا د غذايي موادو لویه زېرمه (بحري ژوندي موجودات) د لاسه ورکوي او له بلې خوا به په راتلونکو ۲۵ یا ۳۰ کالونو کې د اکسیجن اندازه هم کمه شي؛ دا ځکه چې د اتوموسفیر د اکسیجن نیمايي برخه د بحري الجیو په واسطه تولیدیږي (٦، ص. ۸۱، ۸۲، ۸٦ ).

## د کثافاتو په سمه او صحي توګه دفن کول

که چېرې کثافات په سمه توګه دفن (ښخ ) شي، نو د مچانو، موږکانو، کوڅه ډبو سپیو، پیشوګانو او نورو حشراتو چې د مرضونو په انتقال کې ونډه لري د تماس مخه به یې نیول شوې وي. په ډاډمنه توګه د کثافاتو د ښخیدو په پایله کې هغه مرضونه لکه اسهالات (آمیبي او غیر آمیبي)، تراخم، حصبه، وبا، توبرکلوز، طاعون، د تور تېپ ناروغۍ او نور چې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه د ماشو او مچانو په واسطه انتقال مومي ،مخه یې نیول کېږي (٦، ص. ۸۱، ۸۲، ۸٦)



۲ . شکل: د کثافاتو د ښخېدو ځای ښیي(۷)

د کثافاتو د ښخېدو پر مهال باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱.د کثافاتو د محل څخه د ښخولو تر ځای پورې اقتصادي ترانسپورت.
۲.د ښخولو (دفن) ځای فاصله د ځمکې د سطحې او د ځمکې لاندې اوبو څخه باید په پام کې ونیول شي.
۳.د ښخولو ځای باید د دریابونو، چینو، کاریزونو او غرنیو اوبو د مسیر څخه لیرې وي.
۴.د کثافاتو د ښخېدو ځای باید د داسې ډبرو په منځ کې ونه کیندل شي چې په اسانۍ درزونه پیدا کوي.
۵.د کثافاتو د ښخېدو ځای باید په وچه ځمکه کې وي.
۶.د کثافاتو د ښخولو لپاره مناسب ځای باید په لوړو (مرتفع) سیمو کې وي.
۷.د کثافاتو د ښخولو پر مهال باید د ځان خوندیتوب (**Biosafety**) ته پوره پاملرنه وشي؛ او داسې نور.

**د کثافاتو د دفن کولو لارې چارې**

د کثافاتو د ښخولو کولو په اړه هغه ټکي چې پاس ترې یادونه وشوه، باید په پام کې ونیول شي. سربېره پر دې کله مو چې نظر د کثافاتو مقدار ته ځای انتخاب کړ، نو اول د همغو کثافاتو په اندازه ځای ژوروو، بیا یې لاندې برخه د رس په خاوره پوښو، څنګونه یې هم د رس په خاوره اخړ کوو او یا یې کانګرېټ

کوو او د پاسه هم د رس خاوره پرې اچوو، وروسته بیا ښه فشار پرې واردوو تر څو د هوا او نورو ژوندیو اجسامو لکه سپي، پیشوګانې او نور د لاس رسي څخه په امن کې پاتې شي. که چیرې داسې ځای په طبیعي توګه په پورتنیو شرایطو برابر وجود ولري، چې هلته د رس خاوره وي، بیا یې اضافي کارونو ته ضرورت نشته لکه د ښنګونو (ښنډو) اخړ کول یا کانګرېټ وغیره.

په ځینو هیوادو کې دیوالونه او لاندې برخه ښه کانګریټ کوي. همدارنګه په هغه ځایونو کې چې کثافات دفن کېږي، باید چې د باد د الوتلو لوری د ښار، کلي او عمومي لارو تر څنګ نه وي. دا ځکه چې هغه غازات چې د دفن شوو موادو څخه راوځي د ډول، ډول ستونزو سبب ګرځي. ویل کېږي چې د کثافاتو د دفن ځایونو ته نږدې تعمیراتي ساختمانونه باید جوړ نه شي(۹). د دې ترڅنګ دا هم په کار ده چې کثافات په ازاده هوا کې ونه سوځول شي؛ ځکه چې زیانونه یې بې حده زیات دي (کوم چې وړاندې ذکر شول).

له کثافاتو څخه د بیا ځل لپاره ګټه اخیستنه ( Recycle of garbage)

له کثافاتو څخه بیا ګټه اخیستنه په مختلفو لارو تر سره کېږي؛ مثلا د کود یا سرې په موخه او یا دا چې شیشه، اوسپنه، المونیم، لرګي، د نباتاتو پاڼې، هډوکي او نور هر یو په ځانګړې توګه یو له بل څخه جلا کول او د بیا ځل لپاره مجرداً د هغې د دویم او درېیم ځل لپاره کارونې او ګټې اخیستنې ته په لاندې توګه اشاره کوو.




۳ . شکل: د کثافاتو څخه د بیاځل لپاره د ګټې اخیستنې دوران راښیي(۱۲).

**د کمپوست یا کود په جوړولو کې له کثافاتو څخه ګټه اخیستنه**

د کود په جوړولو کې له کثافاتو څخه په بېلا بېلو هېوادونو کې په مختلفو طریقو سره ګټه پورته کېږي؛ هغه هېوادونه چې عصري ټکنالوژي او قوي اقتصاد لري، د ښاري فضله موادو لکه لرګي، د نباتاتو پاڼې، هډوکي، انساني او حیواني فضله مواد، اوسپنه... او نور ولري؛ د ځانګړو ماشینونو په مرسته یې میده میده کوي او بیا یې په خاصو حجرو کې ځای پر ځای کوي او ښه یې پرېس کوي. کله، کله ځینې تجزیه کوونکي باکتریاوې او فنجیان هم پرې ور علاوه کوي تر څو په اسانۍ سره د دوی تجزیه شروع شي، ورپسې د پاسه د ۹ سانتي متره په پنډوالي سره خاوره پرې ورعلاوه کوي، چې په دې توګه د ۴ څخه تر ۸ اونیو پورې په سره بدلیږي او وروسته بیا د نباتاتو د ودې په موخه استعمالیږي. پاتې دې نه وي چې د حجرې (ژور ځایونه) د ۲.۵ مترو په اندازه ژوروالی لري، خو په ځینو هېوادونو کې چې د ماشینونو په واسطه کثافات میده کېږي، د اضافي مصرف د مخنیوي په موخه هغه توکي لکه اوسپنه او نور کلک شیان ورڅخه جلا کوي، بیا یې د پورتني میتود په واسطه په نسبتاً کم وخت کې په سره یا کمپوست بدلوي.

په بیا ګټه اخیستنه (Recycle) کې په زیاترو مخ پر ودې هیوادونو کې د صورت بندۍ یا جلا کولو څخه کار اخیستل کېږي. د مثال په توګه حیواني او نباتي پاتې شوني د طبیعي سرې په موخه، شیشې بیا د شیشې په جوړولو کې، کاغذونه بېرته د مقوا کاغذ په جوړولو کې، المونیم او اوسپنه بېرته د نوي المونیم او اوسپنې جوړولو په موخه په کار وړل کېږي. د نمونې په توګه که موږ په یو کال کې بېکاره کاغذونه د محیط څخه راټول کړو، نو دا به دومره کاغذونه شي چې د سل میلیونه اصلي کاغذي ونو معادل به وي. لکه څه ډول چې څرګنده، ده زاړه کاغذونه په ډېره اسانۍ سره په نویو کاغذونو بدلیږي. شیشه چې نن ورځ په هر ځای کې پرته وي، د خپل خاصیت له مخې زر کاله هم خپل خاصیت له لاسه نه ورکوي؛ خو که موږ همدغه ماتې شیشې راټولې کړو، نو په ډېره کمه انرژۍ سره د یو لږ اندازه موادو پر علاوه کېدو سره په ډېره ښه شیشه بدلیږي. همدارنګه المونیم او اوسپنه په ۹۰٪ سلنه کمه انرژی او مصرف سره په نوي المونیم او اوسپنه بدلیږي؛ یا په بل عبارت که موږ د معدني ډبرو څخه اوسپنه او المونیم لاسته راوړو، نو د هغو په پرتله ۹۰ سلنه کمه انرژي او مصرف غواړي.

## د څېړنې موندنې او پایله

لکه څه ډول چې مونږ او تاسو ټولو ته څرګنده ده، د کثافاتو او فضله موادو ستونزه یوه ډیره لویه معضله ده، چې ګڼ شمېر لاملونه لري. دا لاملونه د ټولنې د خلکو نه پوهاوی، زوړ فرهنګ، رواجونه، د یوې ټاکلې ستراتیژۍ نه شتون، د اړونده ادارو تر منځ د نه همکاري ستونزه، مصرفي توکو ته زیاته تقاضا او نور هغه څه دي چې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې په مختلفو کچو سره شتون لري(۸).

کثافات او فضولات هغه څه دي، چې په محیط کې اوبه، خاوره او هوا کې ډول ډول ستونزې منځ ته راوړي لکه: اسهالات، سرطانونه، جلدي ناروغی، د موږکانو زیاتیدل، د انسان او حیواناتو په DNA او RNA کې تغیرات، تنفسي ستونزې، د عمر کموالی، په عصبي سیستم کې تغیرات، د هډوکو د متابولیزم ستونزې، محرقه، پیچش او نور ډول ډول ناروغی منځته راوړي(۱، ص. ۸، ۱۸)

نو په کار ده چې د همدغو کثافاتو صورت بندي وشي؛ تر څو هغه توکي سره جلا شي چې د دویم او درېیم ځل لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي. هغه توکي چې د بیا ګټې اخیستنې وړتیا نه لري په کار ده چې په یوه مناسب ځای کې د پورتنیو صحي او بیولوژیکي میتودونو په پام کې نیولو سره ښخ (دفن) شي، تر څو د دوی له شر څخه مږه او ژوندی نړۍ په امن کې وي.

## وړاندیزونه

لکه څه ډول چې پورته یادونه وشوه د کثافاتو او فضله موادو موجودیت، راټولول، صورت بندي او بیا ګټه اخیستنه یو ستونزمن کار دی، چې څو اړخیزه هلې ځلې ایجابوي. دا کار د یوې هر اړخیزه ستراتیژۍ، په کار کې د اړونده څانګو تر منځ همغږي، په فردي او اجتماعي توګه د مسولیت احساس او کافي مادي امکاناتو ته اړتیا لري. خو د فضله موادو څخه که بیا ګټه اخیستنه تر سره کېږي او یا دا چې د پاک او صحي چاپېریال د درلودو په موخه کثافات دفن کېږي، نو لاندې ټکي ډېر د پام وړ دي :

- په کار ده چې د ښې روغتیا په موخه د ځمکې پر مخ اوبه ککړې نه شي.
- اړینه ده چې د ځمکې لاندې اوبو سره د کثافاتو د تماس مخنیوی وشي.
- د ټولنې هر فرد مکلف دی چې د ځمکې مخ (سطحه) الوده او مالوثه نه کړي.
- د مچانو او موږکانو سره د تماس څخه دې ډډه وشي.

- په تازه توګه د عضوي او غذايي پاتې شونو ځخه د سرې په حيث ګټه اخيستنه دې ودرول شي، ځکه چې روغتيا ته زيان لري.
- د هستوګنې د ځايونو ځخه د کثافاتو بيړنی انتقال، تر څو د بوی او زيان ځخه يې اوسيدونکي زيانمن نه شي .
- د کثافاتو د ښخولو (دفن) ځای بايد چې د اوبو له منبع څخه د ۱۵ نه تر ۳۰ مترو پورې فاصله ولري
- د کثافاتو د دفن ځای بايد د بيولوژيکي او صحي نورمونو مطابق وټاکل شي.
- کومو ويالو او سيندونو ته چې د کثافاتو د توئيدو لارې ورغلې وي، د هغو په امتداد د يو کيلو متر په سور بايد ونې کېنول شي، تر څو کثافات يې د ريښو په واسطه جذب کړي او په کار ده چې دا ډول ونې په هېڅ صورت قطع نه شي.

## مأخذونه

۱-احمدی مهدي. موسوی غلام رضا.کليات بهداشت محيط. تهران: انتشارات شهراب؛ (۱۳۸۴).

۲- آناتولي سخاروف. «سخرانيني اکاروژيو شپحې سريدی» ايزداتيل ستوا مير؛ (۲۰۰۵م).

۳- باری کامونر. انسان و محيط زيست. مترجم: بهروز دهزاد. تهران: موج سبز؛ (۱۳۸۲).

۴- بوتکين کيلر. يونس کريم پور. مترجم: مسايل محيط زيست . تهران: انتشارات جهاد دانشگاهی؛ (۱۳۷۹).

۵- قدردان حبيب الله. تکنالوژي بيوګاز. پشاور: مرکز انتشارات اسلامی؛ (۱۹۹۹م).

٦- کنت وانت. عبدالحسين وهاب زاده. مترجم: مبانی محيط زيست. مشهد: انتشارات جهاد دانشگاهی؛ (۱۳۸۳).

۷ – درشو. اثرات زيست محيطی دفن زباله ها [منابع برقي] // دست رسی:
/https://www.darshoo.ir/the-environmental-impact-of-landfill (لاسته راوړنه:
.(۲۹,۰۴,۲۰۲۴

8- Microsoft Encarta, encyclopedia / chlorofluorocarbons / understa, ding the greengouse effect.

9- Ricki Levis. Life. 3nded. Boston... WCB/MC Graw – Hill, 1998: P 896 . http: /www/Answer. Com/library/science tp Thechnology, encyclopedia.

10- United Nation, World Population History. [Electronic resource] // URL: https://worldpopulationreview.com/. (Accessed: 29.04.2024).

11- iStock, Types of waste. [Electronic resource] // URL: https://www.istockphoto.com/vector/types-of-waste-vector-flat-isolated-illustration-gm1214281750-353224447?searchscope=image%2Cfilm (Accessed: 29.04.2024).

12- Vector Stock, Cycle of recycling waste. . [Electronic resource] // URL: https://cdn1.vectorstock.com/i/1000x1000/68/40/cycle-of-recycling-waste-into-consumer-goods-vector-47366840.jpg (Accessed: 29.04.2024).

# د لوړ ترتیب پولینومي معادلو د حل موندلو څېړل

پوهنمل عبدالله عابد، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، ریاضي څانګه

**ایمیل ادرس: abdullahmangal579@gmail.com**

**لنډیز**

د پولینومي معادلو حل موندل هغه مفهوم دی، چې له لسیزو راهیسې په تطبیقي ریاضي کې کارول کېږي. په دې مقاله کې د لوړې درجې پولینومي معادلو د یو یا زیاتو (حقیقي یا مختلط) جذرونو موندلو کړنلارې او تخنیکونه یې داسې تر بحث لاندې نیول شوي دي، چې معیارونه یې له تطبیقي ریاضیاتو څخه سرچینه اخلي. پیل یې په داسې لوړ ترتیب پولینومي معادلو صورت نیسي، چې د حل لپاره یې د مختلطو عددونو جذرونه په تکراري بڼه نیول کېږي. د څلورمې درجې پولینومي معادلو د حل موندلو لپاره دوه داسې تخنیکونه تشریح شوي دي، چې بنسټ یې د درېیمې درجې پولینومي معادلو د حل موندلو لپاره د مختلطو عددونو جذرونو ته اړتیا نه لري او د یوه حقیقي جذر د مجاورت په مرسته د حل پروسه صورت نیسي. نوموړی تخنیک په (۲۰۱۶) میلادي کال کې رامنځته شوی دی، چې د لوړ ترتیب پولینومي معادلو پېژندنې او حل موندلو لپاره تعریفونه او قضایاوې د ($n$ـ ام) ترتیب سیستم له مخې په پام کې نیول شوي دي او د پولینومي معادلو ټول ډولونه تر پوښښ لاندې نیسي. هغه ($n$ـ ام) ترتیب پولینومي معادلې چې د حل موندلو قابلیت ونه لري د الجبري عملیاتو او حسابي الګوریتمونو په مرسته د حل شکل ته اړول شوي دي. په ټوله کې دغه الګوریتم د لوړ ترتیب پولینومي معادلو لپاره اغېزمن حسابېږي.ذکر شوي کړنلاره د کمپیوټري الګوریتم او (Grobner) حل موندنې کړنلارې سره د عددي الګوریتم له مخې واضح کېږي.

**کلیدي کلیمې:** پولینومي معادلې، حقیقي جذرونه، مختلط جذرونه، مجاورت، څلورم ترتیب پولینومي معادلې، د حل موندلو الګوریتم.

**سریزه**

بِسْمِ اَللهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام علی سيدالمرسلين و علی اله و اصحابه اجمعين.اما بعد:

پولینومي معادلې او د هغې حل موندل اوږده تاریخي مخینه لري. پیل یې په ( 2000 ) قبل المیلاد کې د بابلیانو له دورې سره تړل کېږي، دې تاریخي ارزښت ته په کتو د پولینومي معادلو حل موندلو لپاره له بېلا بېلو کړنلارو او تخنیکونو څخه ګټه اخېستل شوې ده. ریاضي پوهانو داسې تخنیکونه رامنځته کړي،چې له مخې یې د پولینوم جذرونو لپاره انټروال او د حقیقي جذرونو شمېر ټاکل کېدای شي، د مختلطو عددنو د جذرو تکراري نیول د پروسې په پایله کې د پام وړ اغېز لري، په همدې اساس د درېیم ترتیب پولینومي معادلو د حل موندلو لپاره د عددي الګوریتم کارول اغېزمن دي. دغه کړنلاره په( ۲۰۱٦ ) م کال کې داسې وپېژندل شوه، چې د مختلطو عددنو جذرونو ته اړتیا ونه لري. د پېچلې فورمولې یا ګراف په مرسته سرته رسول کېږي او د یوه حقیقي جذر مجاورت په لومړي سر کې معلومېږي. وروسته د درېمې درجې پولینومي معادلې جذرونه حتی د قلم په وسیله د موندلو وړ دي. څرنګه چې څلورم ترتیب پولینومي معادلې په ساینس او تکنالوژۍ کې د تطبیق وړ پراخه ساحه لري، له دې امله د حل موندلو لپاره یې معمولاً دوه کړنلارې تر بحث لاندې نیول کېږي. ذکر شوې دواړه کړنلارې د درېمې درجې پولینومي معادلو د حل موندلو په تخنیک استوارې دي. لومړۍ کړنلاره د هر ډول څلورم ترتیب پولینومي معادلو حل موندلو لپاره کارول کېږي او دویمه کړنلاره په هغه صورت کې کارول کېږي، چې د معادلې ټول جذرونه مختلط نه وي، نو واضح ده، چې د دې کړنلارې له مخې هغه څلورم ترتیب معادلې په اغېزمنه توګه د حل وړ دي چې ضریبونه یې حقیقي وي. ددې مقالې په یوه بحث کې به د دې کړنلارې پرمختللی شکل د لوړ ترتیب پولینومي معادلو دحل موندلو لپاره په داسې توګه تر بحث لاندې ونیسو، چې په الګوریتم کې یې د کمپیوټر پروګرامینګ هم د کارونې وړ وي. په لومړیو کې د جذرونو مجاورت په انفرادي توګه معلوموو او وروسته د الجبري الګوریتم په مرسته جذرونه په لاس راوړو. د جذرونو د انفرادي مجاورت معلومول د دې کړنلارې مهمه نقطه بلل کیږي. په مخکنیو کړنلارو او تخنیکونو کې مختلطې فورمولې، د مختلطو عددونو جذرونه او ګرافونه شامل نه وو، خو په دې مقاله کې په داسې تخنیک بحث کېږي، چې د څلورمې درجې پولینومي معادلې ترڅنګ پنځم یا لوړ ترتیب پولینومي معادلې حل کړي.

**موخې**

**۱-** په مختلفو تخنیکونو سره د لوړ ترتیب پولینومي معادلو د حقیقي او مختلطو جذرونو موندل

۲- له دریمې درجې پولینومي معادلو څخه د لوړ ترتیب معادلو حل موندل

۳- د لوړ ترتیب پولینومي معادلو د جذورونو په شمېر باندې پوهېدل

**کړنلاره او کار توکي**

نوموړې څېړنه د کتابتوني مېتود له مخې سرته رسیدلې ده، چې ګڼ شمېر علمي او معتبر ملي او بین المللي ژورنالونه، کتابونه او انټرنېټي ویب سایټونه پلټل شوي، مطالب یې په ساده او روانه پښتو ژبه د ریاضیکي معیارونو په پام کې نیولو سره لیکل شوي دي.

**څلورم ترتیب پولینومي معادلې**

د څلورم ترتیب پولینومي معادلو د حل موندلو لپاره بېلابېلې کړنلارې منځته راغلې دي، چې دلته یې موږ یوازې دوې کړنلارې په پرتله ییزه توګه تر بحث لاندې نیسو. په لومړۍ کړنلاره کې تر پام لاندې معادله له څلورمې درجې څخه دریمې درجې ته کموو او وروسته د دریم ترتیب پولینومي معادلې د حل موندلو تخنیک څخه په ګټه اخېستلو سره یې حل په لاس راوړو (۱، ۲ – ۵).په دویمه کړنلاره کې د یوه متحول درلودونکي څلورم ترتیب پولینومي معادلې مشتق نیسو، واضح ده،چې دریم ترتیب ته تنقیص کېږي او وروسته یې د جذرونو موندلو لپاره د حل پروسه ترسره کوو(۲، ص، ۷). دواړه کړنلارې په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو.

**د څلورم ترتیب پولینومي معادلو د حل موندلو لپاره لومړۍ کړنلاره**

لاندې څلورم ترتیب پولینومي معادله په پام کې نیسو:

$$f(x) = x^4 + \alpha_1 x^3 + \alpha_2 x^2 + \alpha_3 x + \alpha_4 = 0 \qquad \dots \qquad (1)$$

اوس که په (۱) معادله کې $x = z - (\alpha_1/4)$وضع کړو، پس  معادله د $z$ له جنسه په لاندې ډول لیکلای شو:

$$f(z) = z^4 + az^2 + bz + c \qquad \dots \qquad (2)$$

په دې ډول چې

$$a = \alpha_2 - 3\left({\alpha_1^2}/_8\right)$$

$$b = \alpha_3 - \left({\alpha_1\alpha_2}/_2\right) + \left({\alpha_1^3}/_8\right)$$

$$c = \alpha_4 - \left({\alpha_1\alpha_3}/_4\right) + \left({\alpha_1^2\alpha_2}/_{16}\right) - 3\left({\alpha_1^4}/_{256}\right)$$

(۲) رابطه د دویمې درجې معادلو په شکل فکتور کولای شو، چې دا چاره د لومړي ځل لپاره فرانسوي رياضي پوه ديکارت (Descartes) کړې وه (٦، ص، ٨). که $R_1$ او $R_2$ د څلورم ترتيب پولينومي معادلې جذرونه وي پس لرو چې:

$$f(z) = (z - R_1)(z - R_2)(z^2 + pz + q)$$
$$= [z^2 - (R_1 + R_2)z + R_1R_2][z^2 + pz + q]$$

که $R_1 + R_2 = \gamma$ او $R_1 \cdot R_2 = \lambda$ شي له (۲) معادلې سره يې پرتله کوو او لرو چې:

$$p = R_1 + R_2 = \gamma$$

او همدارنګه لرو چې:

$$a = q + \lambda - \gamma^2 \quad .... \quad (3)$$

$$b = \gamma(\lambda - q) \quad .... \quad (4)$$

$$c = q\lambda \quad .... \quad (5)$$

اوس (۳) او (۴) اړيکې له سره تنظيموو او پايله يې د ۲ په توان ليکو او پوهېږو چې

$$(a + \gamma^2)^2 = (\lambda + q)^2 \quad .... \quad (6)$$

$$\left({b}/_{\gamma}\right)^2 = (\lambda - q)^2 \quad .... \quad (7)$$

اوس (٧)رابطه له (٦) څخه تفريقوو او په (٥) معادله کې د $q\lambda$ په ځای $c$ وضع کوو

$$(a + \gamma^2)^2 - \left({b}/_{\gamma}\right)^2 = 4c \quad .... \quad (8)$$

په لاس راغلې رابطه په $\gamma^2$کې ضربوو او $\gamma^2 = t$ سره يې وضع کوو او لرو چې

$$f(t) = t^3 + \delta_1 t^2 + \delta_2 t + \delta_3 = 0 \qquad .... \quad (9)$$

په دې ډول چې $\delta_1 = 2a$، $\delta_2 = a^2 - 4c$ او $\delta_3 = -b^2$وي، پس دلته گورو چې (۹) معادله کم ترکمه يو حقيقي جذر $t_1$لري. لکه څرنگه چې $t = \gamma^2$دی $t_1$په (۳) معادله کې او $q = c/_\lambda$په (۵) کې وضع کوو(۳، ۳-۶).

$$a + t_1 = \lambda + \left(c/_\lambda\right)$$

$$\lambda^2 - (a + t_1)\lambda + c = 0 \qquad .... \quad (10)$$

چې په لاس راغلې معادله د $\lambda$ لپاره د حل وړ ده، اوس چې $t_1$او $\lambda = R_1 \cdot R_2$په لاس راوړو، نو پوهيږو چې :

$$R_1 + R_2 = \sqrt{t_1}$$

$$R_1 \cdot R_2 = \lambda$$

معادلې د $R_1$ او $R_2$ لپاره د حل وړ دي، نو حلونه يې په ترتيب سره د (۲) معادلې جذرونه بلل کيږي(۲، ص، ۶). همدارنگه د معادلې پاتې جذرونه يعنې $R_3$ او $R_4$ د $z^2 + t_1^{0.5} z + \left(c/_\lambda\right) = 0$ معادلې له حل څخه په لاس راځي. د (۱) معادلې جذرونه د $\frac{\alpha_1}{4}$ او د $f(z)$ دجذرونو د تفريق له حاصل څخه په لاس راوړلی شو(۴، ۴۱۶ – ۴۲۲ ).

**د څلورم ترتيب پولينومي معادلو د حل موندلو لپاره دويمه کړنلاره**

په دې کړنلاره کې لومړی د غوښتل شوي څلورم ترتيب پولينومي معادلې تر ټولو لوړه او ټيټه نقطه په (۱) معادله کې د $f(x)$ د مشتق څخه په داسې ډول په لاس راوړو، چې د $f(x)$مشتق نظر $x$ ته نيول شوی وي او په لاس راغلې رابطه په صفر سره وضع کوو.

$$g(x) = \left[ df^{(x)} /_{dx} /_4 \right] = x^3 + 0.75\alpha_1 x^2 + 0.5\alpha_2 x + 0.25\alpha_3 = 0 \qquad ... \quad (11)$$

د درییم ترتیب پولینومي معادلې جذرونه په لاس راوړل کېدای شي او د $f(x)$ جذرونو د $g(x)$ په جذرو پورې اړه لري، ځکه اړینه ده، چې لومړی د $f(x)$ جذرونه په لاس راوړو(۵، ۵۱ – ۵۷ ).

**د جذرونو ډولونه**

د جذرونو د ډولونو پېژندلو لپاره دوې قضیې بغیر له ثبوته وړاندې کوو:

**لومړی قضیه:** د $f(x)$ څلورم ترتیب پولینومي معادله چې ضریبونه یې حقیقي عددونه وي هغه وخت د حقیقي جذرونو درلودونکې ده کله چې $\alpha_4 < 0$ (٦، ص، ۷۱).

**دویمه قضیه:** که $f(x)$ د $x_{min}$ یو اصغري نقطهولري په دې ډول چې $f(x_{min}) < 0$ وي $f(x)$ دوه حقیقي جذرونه لري( ۵، ۵۱ – ۵۷).

**د جذر موندلو کړنلاره**

a) که $f(x)$ دوه حقیقي جذرونه ولري لاندې دوه حالتونه واقع کېږي.

*i.* که چېرې $\alpha_4 > 0$ وي پس $f(x)$ د اصغري نقطې او $x = 0$ ترمنځ یو حقیقي جذر لري، چې دلته $x = 0$ او اصغري نقطه په ترتیب سره د $r_1$ حقیقي جذر اعظمي او اصغري لیمیټ څخه په لاس راځي او $r_1$ د متداوم مجاورت څخه په لاس راځي او وروسته په $x - r_1$ $f(x)$ وېشل کېږي او په همدې ډول پروسې ته تر هغه وخته ادامه ورکوو ترڅو د راکړل شوې څلورمه درجه پولینومي معادلې پاتې جذرونه په لاس راشي.

*ii.* که $\alpha_4 < 0$ وي کولای شو، هغه خط چې اصغري نقطه له $x = 0$ سره وصل کوي تنظیم کړو، همدارنګه د خط او افقي محور ترمنځ د تقاطع نقطه هغه وخت د جذر خورا لوړلیمیټ بلل کېږي، کله چې $f(x)$ په ذکر شوي نقطه کې مثبت وي. نوموړې نقطه او اصغري نقطه دواړه په ترتیب سره د $r_1$ د حقیقي جذر لوړ او ښکته لیمیټ بلل کېږي او $r_1$ د متداوم مجاورت څخه په لاس راځي او وروسته په $x - r_1$ $f(x)$ وېشل کېږي او په همدې ډول پروسې ته تر هغه وخته ادامه ورکوو، ترڅو د راکړل شوې څلورم ترتیب پولینومي معادلې پاتې جذرونه په لاس راشي(۷، ۱۲-۱۵).

b) که $f(x)$ څلور حقيقي جذرونه ولري، اعظمي او لومړنی اصغري نقطه په ترتیب سره د حقيقي جذر او ښکته لیمیټونه بلل کېږي، چې له مجاورت څخه په ګټه اخيستنې سره حقيقي جذر په لاس راځي، همدارنګه اعظمي او ور پسې بله اصغري نقطه په ترتیب سره د بل حقيقي جذر لپاره اوښکته لیمیټ بلل کېږي؛ د پروسې په ادامه ، $[x^2-(r_1+r_2)x+r_1r_2]$ په $f(x)$ داسې وېشو چې $r_1$ او $r_2$ يې دوه پېژندل شوي حقيقي جذرونه واوسي او د پولينومي معادلې پاتې جذرونه له فکتور نيوني څخه وروسته په لاس راوړل کېږي(۸، ۲۲۰-۲۲۴).

## د لوړ ترتیب پولینومي معادلو حل موندل

د يوه متحول درلودونکې ($n$-ام )ترتیب پولينومي معادله چې ضريبونه يې حقيقي عددونه وي، په لاندې ډول په پام کې نيسو:

$$f(x) = x^n + \alpha_1 x^{n-1} + \alpha_2 x^{n-2} + \alpha_3 x^{n-3} + \cdots + \alpha_n = 0 \qquad \ldots \quad (12)$$

په دې ډول چې $\alpha_1, \alpha_2, \alpha_3, \ldots, \alpha_n$ حقيقي عددونه وي(٦، ٢٥١- ٢٥٩).اوس که د راکړل شوي معادلې ترتيب طاق وي، يو يا زيات حقيقي جذرونه لري او که $n$ جفت وي او $\alpha_n < 0$ وي، هم حقيقي جذرونه لري او که $n$ جفت وي او $\alpha_n > 0$ وي نو د حقيقي جذرونو درلودل تر شک لاندې دي(۹، ص، ۱۰۰). د $f(x)$ قيمت په $[-۱،۰،۱]$ انټروال کې هغه وخت موندل کېږي، چې $f(x)$ په دې انټروال کې يو جذر ولري. کله چې دا ډول جذرونه ومونډل شي، د فکتور نيونې په وسيله جلا کېږي او د $f(x)$ قيمتونه هم د $[-۱،۰،۱]$ په مجاورت کې په دقيقه توګه موندل کېدای شي(٦، ٢٥١- ٢٥۴). همدارنګه د $f(x)$ د علامې بدلون هم بايد په پام کې ونيول شي. اوس که حالات واقع شي د پروسې له تکرار څخه په ګټه اخيستنې سره حقيقي جذرونه په لاس راوړو او په هغه جذرونو زياته تکيه کېږي، چې د ۱ په شا او خوا وي(٦، ص، ٧١).دلته د $r$ لپاره لاندې دوه حالتونه امکان لري.

i. که $|r| < 1$ شي او د پولينومي معادلې جذر هم په معنا لرونکې توګه له ۱ څخه کوچنی وي نوغوښتل شوې پولينومي معادله به د (Levi_Civita Fiel) د فرعي سيټ په صفت عمليه اجرأ کوي، په داسې حال کې چې ترتيب به يې تنقيص کړی وي او د پولينومي معادلې لوړ ترتيب به په پام کې نه وي نيول شوی، يعنې :

$$f(x) \approx \alpha_{n-2} r^2 + \alpha_{n-1} r + \alpha_n \quad \ldots. \quad (13)$$

که معادله په صفر سره وضع شي او جذرونه يې په لاس راوړو نو پوهېږو چې

$$r = {[-\alpha_{n-1} \pm S_1]}/{2\alpha_{n-2}} \quad .... \quad (14)$$

دلته $S_1 = [k_1]^{0.5}$ او $k_1 = (\alpha_{n-1}^2 - 4\alpha_{n-2}\alpha_n), k_1 \geq 0$ دی چې د $r$ لپاره حقيقي ترتيب دی، اوس که په ۱۳ معادله کې د دويم ترتيب درلودونکی حد په پام کې ونه نيسو $r \approx -\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}$ په پايله کې ويلای شو، چې $\left|\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}\right|$ بايد تر ۱ کوچنی وي. که دا حالت صورت ونيسي او $k_1 \geq 0$ وي د $f(x)$ د ليميټ هغه قيمت چې په (۱۴) معادله کې راکړل شوی او $x = -(\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}})$ دی، دلته ګورو، چې که په دوه ټکو کې $f(x)$ مثبت علامې ولري نو حقيقي جذر د دوه ټکو ترمنځ د متداوم مجاورت په پايله کې په لاس راځي. که $k_1 < 0$ وي، مګر $\left|\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}\right| < 1$ نو د $f(x)$ لومړنی مشتق په $-(\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}})$ کې موندلای شو او هغه خط چې په دې نقطه کې تنظيم شوی دی، ميلان يې $\acute{f}(x)$ دی او $f(x)$ د خط او د $x$ محور د تقاطع په نقطه کې ملاحظه کېدلای شي. که $f(x)$ په دې نقطه کې مثبتې علامې ولري، نو حقيقي جذرونه يې د دوه ټکو ترمنځ موندل کېږي.

.ii که $|r| > 1$ وي د لوړ ترتيب $(n \geq 5)$ پولينوم لپاره، يعنې :

$$f(x) \approx r^n + \alpha_1 r^{n-1} + \alpha_2 r^{n-2} = r^{n-2}(r^2 + \alpha_1 r + \alpha_2) \quad ... \quad (15)$$

پس د دې معادلې غير صفري جذرونه په $r = \frac{-\alpha_1 \pm s_2}{2}$ کې دي، په دې ډول چې $s_2 = [k_2]^{0.5}$ او $k_2 = \alpha_1^2 - 4\alpha_2 \text{ , } k_2 \geq 0$ او د $r$ ترتيب حقيقي وي، که په (۱۵) معادله کې د $n$ تر ټولو کوچنی ترتيب په پام کې ونه نيول شي د $r \approx -\alpha_1$ معنا دا ده، چې تر دې شرايطو لاندې $|\alpha_1|$ بايد تر ۱ کوچنی وي. که دا حالت واقع شي او $k_2 \geq 0$ وي د $f(x)$ د $r = \frac{-\alpha_1 \pm s_2}{2}$ معادلې په ښکته ليميټ کې همدارنګه په $x = -\alpha_1$ کې موندل کېږي که $f(x)$ په دې ټکو کې مثبتې علامې ولري، نو حقيقي جذرونه د دې ټکو ترمنځ د متداوم مجاورت په پايله کې په لاس راځي(۱۰، ۶۰- ٦۴ ).

**د لوړ ترتيب پولينومي معادلو د جذر موندلو کړنلاره**

د يو متحول درلودونکې ام

$(n-$ام$)$ترتیب $n \geq 5$ ، پولینومي معادله چې ضریبونه یې حقیقي عددونه وي، د حقیقي جذرونو موندلو لپاره یې کړنلاره په لاندې مواردو کې خلاصه کېږي.

- د $f(x) = x^n + \alpha_1 x^{n-1} + \alpha_2 x^{n-2} + \alpha_3 x^{n-3} + \cdots + \alpha_n = 0$ پولینومي معادله په پام کې نیسو:
- $f(x)$په ۱,۱−,۰نقطو کې تشخیص کوو، که دلته جذر موجود ؤ، د فکټور نیونې په لاره یې جلا کوو.
- د$f(x)$ $|r| = 1$ په مجاورت کې څېړو، که په دې ساحه کې علامې بدلون وکړ، د دې لپاره چې د $f(x)$حقیقي جذرونه پیدا کړو، نو د دوه ټکو ترمنځ د مخالفې علامې له مخې جذرونه د فکټور نیونې په لاره جلا کوو.که $\left|\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}\right| < 1$ حالت واقع شي،$k_1$په لاندې ډول محاسبه کوو.

$k_1 = (\alpha_{n-1}^2 - 4\alpha_{n-2}\alpha_n)$

- ګورو چې آیا $k_1 \geq 0$ کېږي که نه؟ که $f(x)$ $k_1 > 0$په $r = {[-\alpha_{n-1} \pm S_1]}/{2\alpha_{n-2}}$کې پیدا کوو، په دې ډول چې $s_1 = [k_1]^{0.5}$شي او همدارنګه $f(x)$په $x = -\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}$محاسبه کوو.
- که په دوه ټکو کې $f(x)$مخالفې علامې شتون لري، حقیقي جذر یې د دوه نقطو تر منځ د متداوم مجاورت په کړنلاره پیدا کېږي. که $k_1 < 0$ په $-\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}$کې $f'(x)$پیدا کوو او په $m_1$سره یې ښیو، وروسته $x_1 = -\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}$او$f(x_1) = y_1$همدارنګه $x_2 = x_1 - (\frac{y_1}{m_1})$ پیدا کولو لپاره اقدام کوو.
- اوس $f(x_2)$ پیدا کوو، که $f(x_1)$او $f(x_2)$ مختلفې علامې ولري، حقیقي جذر یې د متداوم مجاورت څخه په استفاده په لاس راوړو او د فکټور نیونې په لاره یې جلا کوو.
- که $|\alpha_1| > 1$ وي $k_2 = (\alpha_1^2 - 4\alpha_2)$ محاسبه کوو اوګورو چې آیا $k_2 \geq 0$ دی، که $k_2 > 0$ وي، $f(x)$ په $r = {[-\alpha_1 \pm S_1]}/{2}$کې محاسبه کوو، په دې ډول چې $s_2 = [k_2^{0.5}]$ وي او همدارنګه $f(x)$ په $x = -\alpha_1$کې محاسبه کوو.که چېرې $f(x)$ د دې ټکو له

ډلې په دوه نقطو کې مختلفې علامې موجودې وي، حقیقي جذر یې د نقطو ترمنځ د متداوم مجاورت په پایله کې په لاس راځي او په لاس راغلي جذرونه د فکټور نیونې په وسیله سره جلا کوو. که چېرې $k_2 < 0$ وي $\acute{f}(x)$ په $x = -\alpha_1$ کې په لاس راوړو او په $m_2$ سره یې ښیو او د $x_3 = -\alpha_1$ په لاس راوړلو لپاره پیل کوو. ګورو چې $f(x_3) = y_3$ او $x_4 = x_3 - (\frac{y_3}{m_2})$ په لاس راځي. همدارنګه $f(x_4)$ محاسبه کوو، که چېرې $f(x_3)$ او $f(x_4)$ مختلفې علامې لرلې، حقیقي جذر د $x_3$ او $x_4$ ترمنځ د متداوم مجاورت په پایله کې په لاس راځي او په لاس راغلي جذرونه د فکټور نیونې په وسیله یو له بله سره جلا کوو. اوس که $\left|\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}\right| > 1$ او $|\alpha_1| < 1$ اړینه ده، چې د $|r| = 1^2$ په مجاورت کې د جذر موندلو لپاره هڅې وشي. کله چې له فکټور نیونې وروسته د پولینومي معادلې ترتیب ۴ ته راښکته شو نو د څلورم ترتیب پولینومي معادلې د جذر موندلو کړنلارې څخه په ګټه اخستنې سره یې پاتې جذرونه په لاس راوړو(۱۱، ۲۲ – ۲۵).

د ذکرشوي کړنلارې د تطبیق او د موضوع د ښه وضاحت لپاره لاندې مثال په پام کې نیسو.

**لومړی مثال:** د پنځم ترتیب پولینومي معادلې لاندې جوړښت په پام کې نیسو

$$f(x) = x^5 - 8x^4 - 21x^3 + 8x^2 - 4x + 240 = 0$$

د پولینومي معادلې دا راکړل شوی جوړښت له سټنډرډ شکل سره پرتله کوو، وینو چې:

$$\alpha_1 = -8 \quad , \quad \alpha_2 = -21 \quad , \alpha_3 = 8 \quad , \alpha_4 = -4 \quad , \quad \alpha_5 = 240$$

دلته واضح معلومېږي، چې دغه پولینومي معادله په ۱,۰,۱− کې جذر نه لري نو لیکو چې:

$$\left|\frac{\alpha_n}{\alpha_{n-1}}\right| = \frac{240}{4} = 60 > 1$$

$$\alpha_1 = 8 > 1$$

$$k_2 = \alpha_1^2 - 4\alpha_2 = 8^2 - 4(-21) = 148 > 0$$

$$s_2 = [k_2]^{0.5} = 12.16$$

همدارنګه د یوه جذر د لیمیټ لپاره لرو، چې

$$Limit\ of\ a\ root = \frac{[-a_1 \pm s_2]}{2} = -2.08, 10.08$$

$$f(-2.08) = 283.23$$

$$f(10.08) = 978.12$$

$$f(-\alpha_1) = f(8) = -10032$$

د متداوم مجاورت پروسه د ۸ او ۱۰.۰۸ په ټکو کې پیلوو، وروسته له اووه ځله تکرار ځخه $r = 10$ په لاس راځي. همدارنګه د فکتور نیونې په مرسته تر سترګو کیږي چې،

$$f_1(x) = {f(x)}/{(x-10)} = x^4 + 2x^3 - x^2 - 2x - 24$$

ددې لپاره چې د $f_1(x)$ د پولینومي معادلې جذرونه په لاس راوړو، په همدې مقاله کې د ذکر شویو کړنلارو څخه یې په ګټه اخېستنې سره په لاس راوړلای شو. که د لومړۍ کړنلارې څخه ګټه واخلو $x = z - \left(\frac{2}{4}\right) = z - 0.5$ کیږي او $f_1(z)$ لپاره لرو چې $f_1(z) = z^4 - 2.5z^2 - 23.4375$ ګورو، چې د $f_1(z)$ جذرونه په $z = \pm 2.5$ په لاس راځي او د $f_1(x)$ جذرونه عبارت دي له :

$$r_2 = -2.5 - 0.5 = -3$$

$$r_3 = 2.5 - 0.5 = 2$$

د فکتور نیونې لپاره لرو چې :

$$\frac{f_1(x)}{(x-2)(x+3)} = x^2 + x + 4$$

اوس که $f_2(x) = x^2 + x + 4 = 0$ په پام کې ونیسو په پایله کې لرو، چې $r_4, r_5 = -0.5 \pm 1.936i$ کیږي. له دې امله وایو چې د راکړل شوې ۵ ترتیب پولینومي معادلې $f(x)$ جذرونه په ۳،۲،۱۰– او (۰.۵– ± ۱.۹۳٦$i$) کې په لاس راغلل چې ګرافیکي ښودنه یې په (۱) شکل کې ښودل شوېده(۱۲، ۲۱ – ۲۵).




۱ شکل نوموړی ګراف په لومړي مثال کې f(x) تشریح کوي.

له دې امله لیدل کیږي، چې $f_2(z) = z^4 + az^2 + bz + c$ په دې ډول چې :

$$a = 2{,}696 \ , \quad b = -2.7356 \quad , \quad c = 6.429$$

که $t = \gamma^2 = (R_1 + R_2)^2$ وي، په دې ډول چې $R_1$او $R_2$ د $f_2(z)$دوه جذرونه وي په پایله کې لاندې دریم ترتیب پولینومي معادله په لاس راځي

$$f(t) = t^3 + 5.392t^2 - 18.447t - 7.4835$$

دلته د $f(t)$یو حقیقي جذر د هغې کړنلارې په مرسته په لاس راغلی چې د دې مقالې په لومړی برخه کې بحث پرې شوی دی، چې له لس ځله معکوس او تکرار څخه وروسته $t_1 = 2.646$ کیږي، له دې امله $\sqrt{t_1} = \pm 1.6266$ او $R_1 + R_2 = 1.6266$، اوس د (۱۱) معادلې څخه په ګټه اخیستنې سره $R_1R_2 = \lambda$ کیږي ، نو پوهیږو چې :

$$\lambda^2 - 5.342\lambda + 6.429 = 0$$

د دویم ترتیب پولینومي معادلې جذرونه په $\lambda = 1.831$ او $\lambda = 3.51$ ټکو کې دي یعنې

$$R_1 + R_2 = 1.6266 \quad and \quad R_1R_2 = 1.831$$

د اړیکې په پایله کې په لاس راځي چې $R_1$،$R_2 = 0.8133 \pm 1.08145i$ د (۱۰) معادلې څخه په ګټه اخیستنې سره لیکلای شو، چې $z^2 + 1.6266 + 3.51 = 0$، همدارنګه $R_3$او $R_4$د تر پام لاندې معادلې جذرونه په لاندې ډول دي $R_1R_2 = -0.8133 \pm 1.68777i$

ددې لپاره چې د $f_2(x)$ جذرونه په لاس راوړو په $۱.۰۸۱۴۵i \pm ۰.۷۰۳۸$ او $۱.٦۸۷۷٦i \pm ۰.۹۲۲۸-$ کې ۰.۱۰۹۵ د $f_2(z)$ له جذر څخه تفريق کوو، چې د دې پروسې په ترسره کولو سره د $f(x)$ جذرونه په $۱.٦۸۷۷٦i \pm ۰.۹۲۲۸-$ , ۰.۷۴٦ , ۱.۱۰۸- او $۱.۰۸۱۴۵i \pm ۰.۷۰۳۸$ کې په لاس راځي(٦،٧-٨).

د څلورم ترتيب پولينومي معادلو د جذرو نو د عينت پرتله ييز جدول(۱۳، ۱٦۵ – ۱۷۰).

| د معادلې حالت | پايله |
|---|---|
| که $g(x)$ يو حقيقي جذر ولري | امکان لري چې $f(x)$ به په هغه نقطه کې يو اصغري ټکی ولري |
| که $g(x)$ درې حقيقي جذرونه ولري | $f(x)$ دوه اصغري او يوه اعظمي نقطه لري |
| که $\alpha_4 < 0$ وي | $f(x)$ حقيقي جذرونه لري |
| که $\alpha_4 = 0$ وي | $f(x)$ په $x = 0$ کې يو حقيقي جذر لري |
| که $\alpha_4 > 0$ وي | $f(x)$ امکان لري حقيقي جذرونه ولري او امکان شته چې و يې ونه لري |
| که $g(x)$ يو جذر ولري خو درې ځله تکرار شوی وي او همدارنګه په همدې نقطه کې $f(x)$ صفر وي | پس همدا د $f(x)$ حقيقي جذر دی چې څلور ځله تکرار شوی دی |
| که $g(x)$ يو جذر ولري او په همدې نقطه کې $f(x)$ صفر وي | دا د $f(x)$ تکراري حقيقي جذر دی |
| که $f(x)$ په اصغري نقطه کې غير صفري يا منفي وي | تر پام لاندې څلورمه درجه پولينومي معادله حقيقي جذر نه لري |

| | |
|---|---|
| که $g(x)$ یو حقیقي جذر ولري او $f(x)$ په اصغري نقطه کې صفر یا منفي وي | $f(x)$ دوه حقیقي جذرونه لري او دوه مختلط جذرونه لري |
| که $g(x)$ درې درې حقیقي جذرونه ولري ، نو $f(x)$ په دوه اصغري ټکو کې منفي وي او همدارنګه په اعظمي نقطه کې منفي نه وي | د پولینومي معادلې ټول جذرونه حقیقي دي |

**پایله**

هغه کړنلارې چې په مقدمه کې یې یادونه شوې معمولاً د ښکته ترتیب او د حقیقي ضریب لرونکو پولینومي معادلو د جذر موندلو لپاره کارول کیږي ، خو د دې بحث تکیه په داسې تخنیکونو شوېده، چې د لوړ ترتیب او پېچلي الجبري جوړښت پولینومي معادلو د حل موندلو لپاره کارول کیږي. دلته د څېړل شوي تخنیک پروسه ساده او په لازمه کچه اغېزمنه ده، حتی چې د ګوتو او قلم د محاسبې په مټ د څلورم ترتیب پولینومي معادلې جذرونه په لنډه موده کې په لاس راکوي. په دې مقاله کې دوې کړنلارې د یو متحوله $n$ ـ ام ترتیب $n \geq 5$ ، پولینومي معادلو چې ضریبونه یې حقیقي وي د حقیقي جذر موندلو لپاره ډېر عمومي تخنیک قدم په قدم د روانو جملو او الجبري جوړښتونو په وسیله تشریح شوي دي. د بحث عمده نقطه دا وه، چې څنګه یوه پولینومي معادله له لوړ ترتیب څخه ښکته ترتیب ته داسې راکمه کړو چې د پروسې په جریان کې د جذرو د نوعیت او تعداد په اړه وپوهېږو؟ په دویمه کړنلاره کې دا چاره د مشتق په وسیله صورت نیسي او د معادلې لوړه او ټیټهنقطه په راکړل شوې معادله کې وضع کوو او د جذر موندلو او جلا کولو پروسه ترسره کوو. له پخوانیو کړنلارو سره یې توپیر دا دی چې د مختلطو عددونو د جذرونو موندلو، پېچلو فورمولونو او یا ګرافونو کارولو ته اړتیا نه لري. په یو تخنیک کې مهمه دا ده، چې د پروسې په لومړي سر کې د انفرادي حقیقي جذرونو په مجاورت موندلو ټینګار کیږي او وروسته د الجبري یا تکراري پروسې په مرسته د موخې جذرونه په دقیقه او اغېزمنه توګه په لاس راځي.

## مأخذونه

1. Buya S.B. (Journal of Applied Science and Innovations, ***2017 Volume 1 issue 2). "On Solvability of Higher*** Degree Polynomial Equations".
2. David, M. (2006). Elementary number Theory, 2nd Edition. New York: USB Publishers
3. Buya, S. B. (2017). The General quintic equation, its solution by Factorization into cubic and quadratic factors. Journal of applied science and innovations volume 1 Issue 2.
4. D. G. Hook and P. R. McAree. Using Sturm sequences to bracket real roots of polynomial equations. Graphics gems, pages 416– 422, 1990.
5. Faucette, W.M. (1996) A Geometric Interpretation of the Solution of the General Quartic Polynomial. The American Mathematical Monthly, 103, 51-*57*.
6. Shmakov, S.L. (2011) A Universal Method of Solving Quartic Equations. International Journal of Pure and Applied Mathematics, 71, 251-259.
7. Froberg, C.E. (1965) Introduction to Numerical Analysis. Addison-Wesley Publishing Company Inc., Reading
8. Kanwar, D. (2017). Advanced Discrete Mathematics. CHANDIGARH, CHANDIGARH, India: SurinderPahuja for Mohinder Capital Publisher.
9. Tehrani, F.T. (2016) A Simple Approach to Solving Cubic Equations. The Mathematical Gazette, 100, 225-232.
10. Buya, S. B. (2017). Simple Algebraic proofs of Fermat's Last Theorem. Advances in Applied Science Research, 60-64.

11. Stein, W. (2009). Elementary Number Theory: Primes, Congruences and Secrets. 1st Ed. Springer Publication.
12. Froberg, C.E. (1965) Introduction to Numerical Analysis. Addison-Wesley Publishing Company Inc., Reading
13. Aude, H.T.R. (1949) Notes on Quartic Curves. The American Mathematical Monthly, 56, 165-170
14. E. Anderson and et al. LAPACK Users' Guide. Society for Industrial and Applied Mathematics, Philadelphia, PA, third edition, 1999.
15. Kappe, L.C. and Warren, B. (1989) An Elementary Test for the Galois Group of a Quartic Polynomial. The American Mathematical Monthly, 96, 133-137
16. Koshy, T. (2007). Elementary Number Theory with Applications. 2nd Ed. Elsevier Publishing Inc
17. M.Burton. (2014). Elementary Number Thoery,2nd Edition. Newyork: UBS Publishers
18. Rees, E.L. (1922) Graphical Discussion of the Roots of a Quartic Equation. The AmericanMathematicalMonthly,29,51-55 Sharma, P. (2015). Analytic Number Theory, Shimla, India: SurinderPahuja for Mohinder Capital Publisher.

# په کرسټالي جالۍ کې د اېکس وړانګو د تداخل په وخت کې د چارج لرونکي حالت مطالعه

پوهنیار مولا خان زیارمل، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، فزیک څانګه.

**برېښنا لیک:** m.ziarmall@gmail.com

**لنډیز**

د 19 مې پیړۍ په پای کې د اېکس وړانګو کشف د مادې د جوړښت په مطالعه کې د رښتیني پرمختګ لامل شو. اېکس وړانګې چې د الکترومقناطیسي څپو د ډلې څخه دي، چې د څپې اوږدوالی او د هغې انرژي تـه په پام د جامدې مادې اتومونو سره ټکر کوي، نو له همدې امله د یو کرسټالي جالۍ په جوړښت کې د هغـه درې اړخیزه تداخل رامنځته کېږي. کله چې دا ډول وړانګې په کرسټال واردې شي نو د وړانګو یوه پیچلې بڼه رامنځته کېږي، کوم چې کرسټالي جوړښت یې منعکس کوي. په دې برخه کې په کرسټالي جالۍ کې د ځانګړي اتوم سره د ټکر په وخت کې او همدا شان د ټولې کرسټالي جالۍ چارجداره کېدل مطالعه شوي، د کرسټالي جالیو دغه اتومونه د یو بعدي، دوه بعدي او درې بعدي جوړښتونه لري او د هغو اېکس وړانګو چې انرژي یې د $(50-10)$ کیلو واټ په انټروال کې دی چارج لرونکي حالت ته د انتقال لپاره ورڅخه استفاده کېږي.

**کلیدي کلمې:** اېکس وړانګې، بریګا اصول، تداخل، کرسټالي جالۍ، د ځانګړي اتوم او کرسټالي جالۍ چارجداره کول.

**سریزه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِیمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.

د کرسټالونو یو مهم خاصیت چې د تراکم شوي محیط (مایع او بې شکله جامداتو) د نورو ډولونو څخه یې جلا کوي د فضایي دورې جوړښت دی، د جوړښت محوري تناوب: اتومونه (مالیکولونه او ایونونه ) چې له هغې څخه کرسټال جوړ شوی، کوم چې د اندازې له مخې په درې بعدي برخو ویشل کېږي، په درې بعدي کې هغه نقطې چې اتومونه پخپله پکې موقعیت لري (په دقیق ډول، هغه اتومونه چې په

صفر درجه حرارت کې اهتزازات ترسره کوي) د کرسټالي شبکې د غوټو په نوم یادېږي. دوره یي جالونه د محوري تناظر څرګندونکي دي.

یو ابتدایي فضا جال هم د براوې جالی په نوم یادیږي. په ۱۸۴۸ز کال کي براوې د حجم په اړه د ریاضیاتو ستونزه حل کړه، داسې چې د اړخونو د اوږدوالي او متوازي اضلاع د زاویو ترمنځ باید څه ډول اړیکه وي چې په دې سره درې اړخیز ځای ډک کیدای شی (د دوی تر منځ چې کومه تشه پرته ده) البته دا ځای د هر شکل ورته متوازي اضلاع په واسطه ډک کیدای شي. په هر صورت حقیقت دادی؛ چې د کرسټال ابتدایي حجره ممکن د نقطې جالی ځانګړي ځانګړتیاوي لري ( د ځینو ګردشونو، انعکاسونو په اړه انعطاف...) چې د کرسټال فزیکي ځانګړتیاوې اغیزمنې کوي، مګرد نقطې جالی ټول ډولونه ورسره مطابقت نه لري. د تغیر انګېرنې اړتیا سره (د مثال په توګه، د شپږم ترتیب نږدې لرونکي بلاکونه کولای شي پرته له ماتیدو څخه تش ځایونه ډک کړي، اما په پنځم ترتیب نږدې لرونکي بلاکونو کې دا نا ممکنه ده). دا معلومه شوه چې یوازې اووه ډوله متوازي الاضلاع شتون لري چې مختلف ډولونه د نقطې نږدېوالي (اووه کرسټال ګرافیک سیسټمونه) لري او ځینې تصویرونه دوی کولی شي د حجم په مرکز یا د ټولو مخونو په مرکزونو کې اضافي اتومونه ولري او کیدای شي دا ټول حالتونه یوازې د پورتنیو او ښکتنیو سطحو په مرکزونو کې وي(۱،ص ص.۱-۲۰).

**موخې:**

- کرسټالي جالی او د ابتدایي حجرې پېژندنه
- په کرسټالي جالی کې د یو اتوم چارجداره کیدل
- په کرسټالي جالی کې د ټولو اتومونو چارجداره کیدل او تداخلي پېښې باندې پوهیدل

## د کار مواد او کړنلاره

د دغه موضوع په ترتیبولو کې مې له کتابتوني کړنلارې څخه ګټه اخیستې ده، همدارنګه د انټرنېټ څخه هم یکې استفاده شوې ده. لومړی مې مختلف معلومات له کتابونو، اړونده ژورنالونو او مقالو څخه راټول او وروسته مې د هغه اړین مواد په دې لیکنه کې ځای پر ځای کړي دي.

**په کرستالي جالۍ کې د ځانګړي اتوم چارجداره کېدل**

دلته به په کرستالي جالۍ کې د يو ځانګړي اتوم چارجداره کيدل کله چې الکترومقناطيسي څپې په کرستالي جالۍ واردې شي د کلاسيک الکتروډيناميک په چوکاټ کې تشريح کړو(۱،ص ص.۱-۲۰). هغه کرستالي جالۍ چې د اېکس وړانګو د تداخل په وخت کې چارج لرونکي حالت ته انتقال کوي، د يو بعدي کرستالي اتومونو (As, Mn, Zn, Cd, Si, C)، دوه بعدي کرستالي اتومونو (CdTe, HgTe, AlSb, InAs, GaSb) او درې بعدي کرستالي اتومونو ($(Cd_{1-x-y}Zn_xMn_y)_3As_2$, $Bi_{1-x}Sb_x$, $Bi_2Se_3$, $Bi_2Te_3$, $Pb_{1-x}Sn_xTe$, $Hg_{1-x}Cd_x$) څخه عبارت دي (۲،ص.۱۹۴ او ۳، ص.۸۲). دا حالتونه د ايوني اتومي (الماس، کارين، سليکان او داسې نور)، ماليکولي (اکسيجن، هايدروجن، نايتروجن او داسې نور) او فلزي جاليو په بڼه وي ۱- شکل(۴،ص.۲۲).




۱- شکل: د کرستالي جالۍ ايوني، اتومي، ماليکولي او فلزي بڼه.

د دغو کرستالي اتومونو چارج لرونکي حالت ته د انتقال لپاره د اېکس وړانګو درېيو ډولونو سختې ($0,1A^0 < \lambda < 10A^0$)، متوسطې ($10A^0 < \lambda < 300A^0$) او نرمې ($300A^0 < \lambda < 1000A^0$) څخه چې انرژي يې د $(50 - 10)$ کيلو واټ ده استفاده کېږي(۵،ص ص.۴،۵).

اجازه راکړئ چې د الکترومقناطيسي څپو يوه ګيډۍ په اتوم کې په الکترون باندې په آزاد ډول واردې شي ۱- شکل د څپو برښنايي ساحه يې:

$$E^{(in)}(r,t) = Re\left\{E_0^{(in)} e^{ikr - i\omega t}\right\} \qquad (1)$$

د الکترون اهتزازاتو رامنځته کول (د ضعیفې ساحې لاندې د الکترون حرکت غیر متقابل ګڼل کیدای شي، کوم چې د مقناطیسي څپې ساحې ته د تېریدو امکان ورکوي) اهتزازات پیل کیږي (دا چې تعجیلي حرکت کوي)، نو له همدې امله الکترون د الکترومقناطیسي څپې په ډول مطالعه کیدای شي. د څپو بریښنایي ساحه د چارجداره اتوم د اهتزازاتو وړانګې، کوم چې د $\boldsymbol{R}$ په نقطه کې د رامنځته کیدونکي مومنټ $t$ په وخت کې د لاندې فارمول پواسطه تعریف کیږي (٦،ص.٩٣٦).

$$\boldsymbol{E}^{(rad)} = \frac{1}{c^2 R}\left[\left[\ddot{d}, e_R\right], e_R\right] \;, \qquad (2)$$




۲- شکل د الکترومقناطیسي څپې د وېش هغه نقطه چې د بریښنایي څپو چارج ګرځندی کیږي او د هغه له خوا چارج کیږي (تامسن تجزیه)

په (2) رابطه کې $\boldsymbol{R}$ د چارج موقعیت د مشاهده کوونکې نقطې څخه ، $e_R = \boldsymbol{R}/R$ واحد وکتور دی او د ډایپول د مومنټ $d$ دویم مشتق په $t - R/c$ وخت کې محاسبه کیږي، نو په دې توګه (2) فورمول کې $\ddot{d}$ د حرکت معادله داسې تعریف کیږي.

$$\ddot{d} = \frac{e^2}{m} E^{(in)}(\acute{r}, t - R/c) = \frac{e^2}{m} Re\left\{E_0^{(in)} e^{ikr'} e^{-i\omega\left(t - \frac{R}{c}\right)}\right\} \;, \qquad (3)$$

کوم چې $\acute{r}$ د امکان نه لرونکې چارجداره ذرې وکتوري شعاع (نوهغه نقطه به ځای په ځای کړو، چې په راتلونکې کې به مورږ دا فورمول د څو چارجونو د وړانګو لپاره وکاروو، کوم چې د $\acute{r} \neq 0$ ۲- شکل وګورئ)، نو بیا:

$$E^{(rad)} = \frac{e^2}{mc^2R} Re\{[[E_0^{(in)}, e_R], e_R] e^{ikr'} e^{-i\omega(t-R/c}\}. \quad (4)$$

په الکترو مقناطیسي څپو کې د انرژي جریان د کثافت له مخې ټاکل کېږي(۷،ص.۴٦ او ۸،ص.۱۴۷).

$$\sum = \frac{c}{4\pi}[E, H] = c\frac{E^2}{4\pi} e_{k'} \ , \quad (5)$$

پوهېږو چې پوتنشیل د برېښنایی ساحې او مقناطیسيـ ساحو په مطلق قیمت کې سره مساوي دی او یو بل د څپو د تکثیر لوري ته عمودي دی او جهت د څپو (5 فارمول کې ورته اشاره شوې او همداسې فرض شوی) او د ویشل شوې څپې $e_{k'}$ (تکثیر به په یوه واحد لوري معرفي کړو او د دې تمرین په توګه وړاندیز کوو چې د وړاندې شوې څپې مقناطیسيـ ساحه $[E, H]$ محاسبه کړو او ډاډ ترلاسه کړو، چې د پوتنشیل وکتور جهت $R$ سره سمون لري مثلا $e_{k'} = e_R$). د ویشل شویو وړانګو د ساحو قدرت په (4) کې ځای پر ځای کوو.

$$\overline{R_eA.R_eB} = \frac{1}{2}R_e(A.B^*), \quad (6)$$

کوم چې $A(t) = A_0e^{-i\omega t}, B(t) = B_0e^{-i\omega t}$ د بشپړې مودې په اوږدو کې اوسط ترلاسه کوو (د اوسط علامه نه لیکو) د انرژي د جریان کثافت مفهوم يې:

$$\left|\sum(rad)\right| = \frac{c}{4\pi}\left(\frac{e^2}{mc^2R}\right)^2 \frac{1}{2}\left[\left[E_0^{(in)}, e_R\right], e_R\right]^2$$
$$= \frac{c}{8\pi}\frac{E_0^{(in)^2}}{R^2}\left(\frac{e^2}{mc^2}\right)^2 \left[e_0^{(in)}, e_R\right]^2, \quad (7)$$

کوم چې $e_0^{(in)} = E_0^{(in)}/\left|E_0^{(in)}\right|$ د څپو قطبي وکتور دی.

د انرژی د جریان کثافت په $R^2 d\Omega$ کې ضربوو، کوم چې $d\Omega$ حاده زاویه ده، د وخت په واحد کې تجزیه شوې انرژي نظر $d\Omega$ زاویې ته لرو چې:

$$\frac{d\varepsilon}{d\Omega} = E_0^{(in)^2} \frac{c}{8\pi} (\frac{e^2}{mc^2})^2 [e_0^{(in)}, e_R]^2. \quad (8)$$

د واردې شوې څپې د انرژي د جریان اوسط کثافت(1) داسې دی:

$$|\Sigma(in)| = \frac{c}{8\pi} E_0^{(in)^2} \qquad (9)$$

یو ځلې بیا کولای شو چې د (5) او (6) معادلو څخه کار واخلو او د متوسطې انرژي د تناسب په هر واحد وخت کې چې په هغه کې د عنصر حاده زاویه چې په (8) کې توزیع شوې په مرکز کې د اوسط انرژي کثافت ښيي ( په مطلق ډول قیمت یې (8)) معادلې ته د دیفرینسیل تجزیې برخه ویل کېږی). د یوه واحد چارج کولو لپاره د تامسن تجزیې فارمول پېژندل کېږي:

$$\frac{d\sigma T}{d\Omega} = \frac{1}{|\Sigma(in)|}\frac{d\varepsilon}{d\Omega} = (\frac{e^2}{mc^2})^2[e_0^{(in)}, e_R]^2 = r_0^2 sin^2\vartheta \, , \qquad (10)$$

لکه څنګه چې $\vartheta$ د څپې د قطبي وکتور ترمنځ زاویه او $e_0^{(in)}$ د $e_R$ په جهت د واردوونکي سیستم څخه مشاهده شوی دی د $r_0 = \frac{e^2}{mc^2}$ جهت بنستیز ثابت یا د الکترون د کلاسیکې شعاع په نامه پېژندل کېږي.

د غیرقطبي وړانګو د تشریح کولو لپاره چې پایله یې د(10) معادله کې د ټولو ممکنه اړخونو څخه چې اوسط یې $e_0^{(in)}$ راځي، ترڅو همغه سیستم غوره کړو چې مشاهده شوې نقطه $(x, y)$ په کې واقع شي(۳- شکل). د θ زاویه د $K$ په جهت کوم چې د واردې شوې څپې جهت یې د $e_R$ مشاهده کوونکې نقطې ته دی په اسانی ترلاسه کېږي.

$$\cos\vartheta = e_R e_0^{(in)} = (e_R)_x\,(e_0^{(in)})_x = \sin\theta\cos\alpha.$$

بیا $sin^2\theta$ اوسط قیمت کولای شو چې د لاندې معادلې په واسطه ترلاسه کړو.

$$\overline{sin^2\vartheta} = 1 - \overline{cos^2\vartheta} = 1 - \frac{1}{2}sin^2\theta = \frac{1}{2}(1 + cos^2\theta).$$




۳- شکل د قطبي کېدو پېښې په اړه د تامسن تجزيې شوې مستوي کوم چې د څپې وکتور او د وارووونکي څپې نقطه $K$ د وړانګو د تجزيې مشاهده کوونکې $p$ د $(x, y)$ له مستوي څخه.

په دې توګه د تامسن تجزيې ديفرانسيلي برخه د غير قطبي برخې لپاره د لاندې فارمول په واسطه تشريح کېږي.

$$\frac{d\sigma_T}{d\Omega} = \frac{r_0^2}{2}(1 + cos^2\theta)\,. \qquad (11)$$




۴- شکل د الکترو مقناطيسي څپو د تجزيې په اړه د سيستم د چارجونو د مسالو هندسي نمونه (۴،ص.۲۲)

اوس د څپې (1) تجزيې ته په کتو د سیستم چارجونه لکه د الکتروني قشر په اتوم کې، د رونتګن فوتونونو د داخلي ګیډی ته نږدې او مستقله ده، په دې حالت کې د ځارنې په نقطه کې د ویشل شوې څپې ساحه به غوره شوې ساحې ته نږدې وي(4) فرمول به د ساحوي مساوي چارچونو د موقعیت مشاهده کوونکې نقطه کې د کرستالونو د ایکسرې توپیر لپاره $R_i$ فاصله په دې ډول شریح شي.

$$R_i = r - r'_i \quad , \qquad (12)$$

کوم چې $r$ د مشاهده کوونکې نقطې وکتوري شعاع ده، $r'$ به د $i$ آم غیر چارجداره وکتوري شعاع وي، په لویو فاصلو کې وړانګیز سیستمونه $|r| \gg |r'_i|$ .

$$R_i = \sqrt{(r - r'_i)^2} = \sqrt{r^2 - 2rr'_i + r'^2_i} \approx r\left(1 - \frac{rr'}{r^2}\right) = r - e_i r'_i \ , (13)$$

کوم چې $e_r = \boldsymbol{r}/r$ د مشاهده شوې نقطې په لور واحد وکتور وي، د (4) انکشاف تکمیلولو او ترلاسه کوو چې:

$$E_i^{(rad)} = \frac{r_0}{R_i} R_e\{\left[\left[E_0^{(in)}, e_i\right], e_i\right] e^{ikr'_i} e^{-i\omega(t - R_i \frac{i}{c}} \} \approx \frac{r_0}{r} R_e\{\left[\left[E_0^{(in)}, e_r\right], e_r\right] e^{ik'r'_i} e^{-i\omega(t - r/c}\}, \ (14)$$

که چېرې $e_i = r'_i/r'_i, K = (\omega/c)e_r$ د تجزیه شوې څپې وکتور وي، نو په دې توګه دا هغه ساحه $E = \sum_{i=1}^{z} E_i$ ده چې په هغه کې د څپو سیستم د $z$ چارجونه تشکیل شوي او په لاندې ډول يې لیکلی شو:

$$E = \frac{r_0}{r}\left[\left[E_0^{(in)}, e_r\right] R_e\right] \{e^{-i\omega(t - r/c} \sum_{i=1}^{z} e^{i(k - k')r'}\}. \quad (15)$$

په دې حالت کې د تجزيې برخه په اسانۍ سره په لاندې ډول داسې لیکو:

$$\frac{d\sigma}{d\Omega} = \frac{r_0^2}{2}(1 + cos^2\theta)\left|\sum_{i=1}^{z} e^{iqr'}\right|^2, \qquad (16)$$

کوم چې $q = k - k'$ د واردې شوې څپې د وکتورونو توپیر دی، $q = 2k sin\,{}^{\theta}/_{2}$ .

د وړانګو د تجزيې فريکونسي څه ډول ده؟ هغه چارجونه چې په ځانګړي وخت کې د جذب شوي ساحې له خوا انحصار وي، نو په يوازې توګه د $e^{-i\omega t}$ اکسپونينشيل له خوا ټاکل شوي دي. له بلې خوا په هغه سيستم کې چې د متقابلو ذراتو لرونکي دي، خپل حرکت اجرا کوي، د وخت په جوړ شوي سيستم کې د الکترونونو انحصارول په وکتوري شعاع کی هم شتون لري (د طرحه شوي طريقې اصلاح په هغه شرايطو کې چې د واردې شويو څپو فريکونسي $\omega$ د نورو څخه ځانګړې وي). له دغې نمونې څخه پوهېږو چې کوهرنټ څپو فريکونسي تحفظ کېږي او د ترکيبي څپو فريکونسي د تغير وړ دي(۹،ص.۸۹). د دې لپاره چې ټوله تجزيه شوې مشابه برخه (16) وويشو، کوم چې $e^{-i\omega t}$ برخه يې په وخت پوري تړلې ده او اوسط يې نظر وخت ته $\sum_i e^{iqr_i'}$ مجموعه ده. دغه نمونې ته په يو اتوم کې د الکترو مقناطيسي وړانګو تجزيه وايي.

$$\frac{d\sigma_{coh}}{d\Omega} = \frac{r_0^2}{2}(1 + cos^2\theta)|F(q)|^2 = \frac{d\sigma_T(q)}{d\Omega}|F(q)|^2 \qquad (17)$$

د تامسن د تجزيې څخه د $|F(q)|^2$ په اندازه توپير لري هغه په لاندې ډول ليکو:

$$F(q) = \sum_{i=1}^{z} e^{iqr'_i}, \qquad (18)$$

$F(q)$ قيمت يې د فوريه په سلسله کې د يو اتوم د چارج د کثافت په ډول ليدل کيدای شي.

$$F(q) = \frac{1}{e}\int \rho(r')e^{iqr'}d^3r'$$

(دې ته اتومي فکتور وايي). د څپې د لوی طول موج لپاره $\lambda \gg a$ کوم چې a ته زمونږ د سيستم د تجزيې ځانګړې اندازه ده (د اتوم الکتروني قشر) د $F(q)$ قيمت په سيستم کې ټولو الکترونونو $Z$ ته توجيه کېږي کوم چې د کوهرنټ څپو تجزيه د تامسن څخه د $Z^2$ په اندازه توپير لري. په عمومي حالت کې د $|F(q)|^2$ ضربي عامل په (17) فارمول کې د تامسن د تجزيې تناظر څخه سرغړونه کوي، د تناظر دغه ليدنه به د $ka$ په اندازه لويه ده(۱۰،ص.۱۲۱ او ۱۱،ص. ۳۴۴).

### په کرسټالونو کې د تداخل تنظيم

اوس هغه حالت په پام کې نيسو کله چې اتومونه په دوامداره توګه په فضا کې موقعيت ولري او يو درې اړخيزه کرسټالي جالۍ يې جوړه وي، په دې حالت کې د چارجونو وکتوري شعاع په دې توګه ښودل کېږي.

$$r_i' = a_n + r_s'' \,, \qquad (19)$$

چې $a_n$ د (1) انتقالي وکتور دی، نو په دې اساس د ابتدایي حجرې $r_s''$ وکتور د چارج وکتور دی، کوم چې په ابتدایي حجرو کې شتون درلود. په ساده ډول د حرارت په واسطه د کرستالي جالۍ په زاویو کې د اتومونو موقعیتونه ( د دې وکتور ساده کولو لپاره موږ یو ابتدایي حجره فرض کوو او دې ته په کتلو سره د دې قضیو پرمختللې تیوري عمومي کوو )، نو بیا د (17) رابطه کې د $|F(q)|^2$ قیمت لاندې شکل اختیاروي.

$$|F(q)|^2 = |F_1(q|^2 \left|\sum_{n=1}^{N} e^{iqa_n}\right|^2, \qquad (20)$$

چې $F_1(q)$ ته بې چارجه اتوم فکتور وایي، مجموعه یې د جالۍ د ټولو اتومونو لپاره $a_n$ شعاعي وکتور دی. په دې حالت کې د څپې تجزیه په کرسټال او اتوم کې د $\left|\sum_n e^{iqa_n}\right|^2$ فکتور په اندازه توپیر لري.

$$d\sigma^{(N)}(q) = \left|\sum_{n=1}^{N} e^{iqa_n}\right|^2 d\sigma^{(1)}(q). \qquad (21)$$

د $\left|\sum_{n=1}^{N} e^{iqa_n}\right|^2$ قیمت په (21) ,(20) رابطو کې د لاون بریګه د تداخل فکتور دی، کوم چې د رونتګن وړانګو تجزیه تشریح کوي، لکه د نیوترونونو تجزیه په کرسټال کې او ځیني نورې پیښې یادولی شو.

د ابتدایي حجرو $\sum_{n=1}^{N} e^{iqa_n}$ مجموعې ته کتنه کوو، کوم چې $a_n = n_1 a_1 + n_2 a_2 + n_3 a_3$ انتقالي وکټور کې به درې حدونه ولرو، چې مجموعه یې د کرسټالوګرافیک په درېیو مختصاتو کې دا ډول ده (۱۲،ص.۱۹).

$$\sum_n e^{iqa_n} = \sum_{n_1=1}^{N_1} e^{i(q.a_1)n_1} \sum_{n_2=1}^{N_2} e^{i(q.a_2)n_2} \sum_{n_3=1}^{N_3} e^{i(q.a_3)n_3}$$

دا چې $N_1, N_2, N_3$ عددونه د ابتدایي حجرو د کرستالوګرافي په جهتونو محورونه دي، هر یو د دغو درېیو مجموعي هندسي سلسله جوړوي:

$$\sum_{n_j=1}^{N_j} e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})n_j} = \frac{1-e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j}}{1-e^{i\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j}}} = \frac{e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}}{e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}}\frac{e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}-e^{-i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}}{e^{-i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}-e^{-i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}} = \frac{e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})N_j/2}}{e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})/2}}\frac{\sin(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j}N_j/2)}{\sin(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j}/2)} .$$

د مطلقه قیمت مربع نیولو څخه وروسته ترلاسه کوو چې:

$$\left|\sum_{n_j=1}^{N_j} e^{i(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j})}n_j\right|^2 = (\frac{\sin(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j}N_j/2)}{\sin(\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j}/2)})^2$$

د $N_j \gg 1$ (دقیقا $N_j\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a}_j \gg 1$) دغه تابع به د اعظمي څوکو لړۍ نماینده ګي وکړي، کوم چې په صفري نقطو کې ترلاسه کیږي.

$$\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a_j}/2 = \pi m_{j,} \qquad m_j = 0, \pm 1, \pm 2, ....$$

په حقیقت کی په دې تابع کې یو له دغو نقطو څخه ګورو، د مثال په ډول:

$$\boldsymbol{q}.\boldsymbol{a}_j/2 = \pi m_j + \alpha, \qquad |\alpha| \ll 1.$$

په اسانۍ سره لیدل کیږي چې:

$$\sin(N_j\, q.a_j/2 = \sin(N_j\, \pi m_j + N_j\alpha) = \cos(N_j\pi m_j)\sin(N_j\alpha), \sin(\ q.a_j/2) = \sin(\pi m_j + \alpha) = \cos\pi m_j \sin\alpha\,,$$

او بیا

$$\frac{sin^2(q.a_jN_j/2)}{sin^2(q.a_j/2)} = \frac{sin^2N_j\alpha}{sin^2\alpha} \approx \frac{sin^2N_j\alpha}{\alpha^2}.$$

د پېژندل شوي نسبت په استعمال سره لرو چې:

$$\lim_{N\to\infty}\frac{sin^2N_\alpha}{N\alpha^2} = \pi\delta(\alpha),$$

ترلاسه کوو:

$$\left|\sum_{n_j=1}^{N_j} e^{i(q.a_j)}n_j\right|^2 = \pi N_j \sum_{m_j} \delta(q.a_j/2 - \pi m_j) = 2\pi N_j \sum_{m_j} \delta\big(q.a_j - 2\pi m_j\big).$$

په دې توګه، د یو کرستال لپاره چې د ډېرو واحدو حجرو د لاون بریګه د تداخل فکتور به دا بڼه ولري:

$$\left|\sum_{n=1}^{N} e^{iqa_n}\right|^2 = (2\pi)^3 N_1 N_2 N_3 \sum_{m_{1,}m_{2,}m_3} \delta(q.a_1 - 2\pi m_1)\,\delta(q.a_2 - 2\pi m_2)\delta(q.a_3 - 2\pi m_3). \quad (22)$$

د توپیر ویش لپاره د (21) دیفرانسیلي اعظمي حد د معادلې په لاربښوونو کې د عملیې لاندې مساوات ولري(۱۳،ص.۳۳).

$$q.a_1 = 2\pi m_1$$

$$q.a_2 = 2\pi m_2 \qquad (23)$$

$$q.a_3 = 2\pi m_3$$

د لاون د اصولو په شان واضح شوي دي، خو دغه مساوات هغه وخت مونږ پېژندلي دي، کله چې په متقابلې جالۍ مفاهیم معرفي کړي، په دغو نمونو کې اعظمي شدت کله چې په کرستال کې د $K'$ په جهت د رونتګن وړانګې مشاهده شي او د $k$ په جهت یې د وړانګو د مشاهدې څخه توپیر کېږي، کوم چې د متقابلې جالۍ اختیاري وکتور په ګوته کوي(۱۴، ص-ص.۱۱۳-۱۴۵ او ۱۵،ص-ص. ۷۴-۷۸).

$$K - K' = g \qquad (24)$$

یا

$$K - g = K'. \quad (25)$$

د $g$ ویکتور کوم چې مونږ په تېرو برخو کې ولیدل، د کرستال د مستوي په ځینو اتومونو باندې عمود دی. لیدل کېږي چې وارده شوې زاویه په مستوي باندې (زاویه د وارد شوي $K$ جهت ترمنځ او د مستوي سره نارمل دی په ۴- شکل کې لیدل کېږي) د کرستالونو له خوا د تداخل تیوري په تعقیب کې د ویکتورونو او $K$ ترمنځ پرته زاویه کوم چې په θ ښودل کېږي (د $K$ او $K'$ ترمنځ زاویه) د ویشل شویو

وړانګو د څپو داوږدوالي سره مساوي ده. په دې توګه $|k'| = |K|$ هغه زاويه θ چې د ویشل شویو وړانګو ترمنځ جوړېږی د (25)معادلې څخه يې ترلاسه کوو:

$$2kg = g^2 \qquad (26)$$

يا:

$$-2kg\cos\theta + \frac{g^2}{2} = 0,$$

له دې ځايه:

$$k\cos\theta = \frac{g}{2}\,. \qquad (27)$$

دا حالت د رونتګن وړانګو په کرسټال کې د متقابلې مستوي په ډول د بریګا اصولو په ډول پېژندل کېږي. هغه د لاندې نمونې په ډول ليکل کېږي.

$$2d\cos\theta = m\lambda\ , \qquad (28)$$

دا چې $d$ په متقابله مستوي کې د انتخاب شوو دوو $m$ آم اتومونو د جهتونو ترمنځ زاويه او $\lambda$ د وړانګو څپو اوږدوالی دی. (28) فارمول واضح کوي چې د وړانګو فریکونسي د څپې د اوږدوالي سره د دوه وصل شويو مستويګانو ترمنځ د بریګا انعکاس نه مني، کوم چې په هغه زاويه باندې وارده شوې ده (١٦،ص.٨٧، ١٧،ص- ص.٥٩-٧٧ او ١٨.ص-ص. ١٢٦٦-١٢٧٤).

**پايله**

منظم هندسي شکل لرونکي جسمونه د کرسټال په نوم يادېږي، کوم چې جامد او مايع حالت لري، په جامد ډوله کرسټالي موادو کې لکه CdTe, HgTe, AlSb, InAs, ,GaSb As, Mn, Zn, Cd, Si, C $(Cd_{1-x-y}Zn_xMn_y)_3As_2$, $Bi_{1-x}Sb_x$, $Bi_2Se_3$, $Bi_2Te_3$, $Pb_{1-x}Sn_xTe$, $Hg_{1-x}Cd_x$ او داسې نورو کې، کله چې X-ray وړانګه په هغې وارده شي د تداخل په وخت کې لومړی د اړونده کرسټال يو ځانګړی اتوم چارجداره کېږي، د چارجداره کېدو دا عمليه په ټوله کرسټالي جالی کې صورت نيسي. دا حالت د رونتګن وړانګو په واسطه په کرسټال کې د متقابلې مستوي په ډول د بریګا اصولو په ډول پېژندل کېږي او د $2d\cos\theta = m\lambda$ رابطې په واسطه ترلاسه کېږي، کوم چې $d$ په متقابله مستوي کې د انتخاب

شوي دوو $m$ آم اتومونو د جهتونو ترمنځ زاويه او $\lambda$ د وړانگو څپو اوږدوالي دی. دا فارمول واضح کوي چې د وړانگو فريکونسي د څپې د اوږدوالي سره د دوه وصل شويو مستويگانو ترمنځ د بريگا انعکاس نه مني، کوم چې په هغه زاويه وارده شوې وي.

**وړانديزونه**

په کرستالي جالۍ کې د ايکس وړانگو د تداخل په وخت کې د چارج لرونکي حالت مطالعې څخه وروسته مو د مسلک مينوالو او لوستونکو ته لاندې وړانديزونه دي:

- فزيک څانگه د خپلو محصلينو د عملي کار لپاره دې په لابراتوار کې د جامدو کرستالي موادو سره جوخت مايع کرستالي مواد هم ځای پر ځای کړي، تر څو محصلين په طبيعت کې د کرستالي موادو د تطبيق ساحې وپېژني.
- د $\boldsymbol{Cd}$، $\boldsymbol{Zn}$، $\boldsymbol{Mn}$، $\boldsymbol{As}$ او دې ته ورته نورو جامدو کرستالي موادو د مخلوط په وخت کې دی د هغې عايقوالي حالت وڅېړل شي.
- د مايع کرستالونو **$C_{18}H_{19}N$ (5CB)** او دېته ورته نور د چارجداره کېدو حالت مطالعه شي، تر څو په اينده کې په سولر سيستم کې د مايع کرستالونو د تطبيق ساحې مخکې له مخکې پېژندل شوې وي.

**مأخذونه**


1. Сыщенко В.В. Теории твердого тела для начинающих.-М.-Ижевск, РХД, (2017).
2. Moore J. E. The birth of topological insulators. Nature, (2010).
3. Ando Y. Topological insulator materials. Journal of the Physical Society of Japan, (2013).
4. В.Н.Глазков, структура и колебания кристалических решёток, Москва ,(2022).
5. Богдан Т.В,основы рентгеновской дифрактометрии, Москва, (2012).
6. Левич В.Г., Водвин Ю.А., Мямлин В.А. Курс теоритеческой физики. Том 2. – М., Наукаа, (1971).
7. Кттель.Ч. Элементарная физика твердого тела. – М., Наука, (1965)

8. Займан Дж. Принцпы теории твердого тела.- М., Мир, (1966) .
9. Ланду Л.Д., Лифшиц Е.М. Теория поля.- М., Наука, (1988) .
10. Тилли Д.Р., Тилли Дж. Сверхтекучесть и сверхпроводимост. – М., Мир, (1977) .
11. Ахиезер А.и., Шульга Н.Ф. Электродинамика высоких энергий в веществе.- М., Наука, (1993) .
12. Сыщенко В.В. Квантовая Электродинамика для начинающих.- М.- Ижевск, РХД, (2016) .
13. Rössler U. Solid state theory. An introduction. _ Springer, (2009).
14. Louie S.G. M.S. Dresselhaus, G. Dresselhaus, Ph. Avouris (eds.), Carbon Nanotubes: Synthesis, Structure, Properties, and Applications. Springer Topics in Applied Physics, vol. 80. _ Berlin, Springer, (2001) .
15. Shul'ga N.F., Syshchenko V.V., Tarnovsky A.I. Incoherent bremsstrahlung in _at and bent crystals Problems of Atomic Science and Technology, Series: Nuclear Physics Investigations, N. 1 (57), (2012) .
16. Ланду Л.Д., Лифшиц Е.М. Электродинамика сплошных сред.- М., Наука, (1992) .
17. Kohn W. An essay on condensed matter physics in the twentieth century Rev. Mod. Phys, (1999) .
18. Henshaw D.G., Woods A.D.B. Modes of atomic motions in liquid helium by inelastic scattering of neutrons Phys. Rev, (1961) .

# په انساني حجراتو کې د کریب سایکل د کیمیاوي میکانېزم څېړل

پوهنیار مهاجر الهام، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، کیمیا څانګه

**ایمیل ادرس:** muhajir.ilham2018@gmail.com

**لنډیز**

ټول ژوندي موجودات د خپل ژوند د بقا لپاره غذایي موادو ته ضرورت لري، دغه غذایي مواد تي لرونکي حیوانات او انسانان د هاضمې سیستم له لارې په یو خاص مغلق میخانکیت سره له هضم وروسته په انرژۍ بدلوي، دا چې دغه غذایي مواد د تي لرونکو حیواناتو په بدن کې څرنګه په انرژي بدلیږي په دغې تحقیقاتي مقاله کې بحث وربانديې شوی دی. کله چې په یو کاریوتیک حجراتو کې غذایي مواد د هاضمې سیستم د انزایمونو په واسطه له لومړني هضم څخه تېر شي د حجراتو په سایتو پلازم کې فعالیږي وروسته د دې له پاره چې کریب سیکل ته داخل شي د مایتوکاندریا د غشاء له لارې د مایتوکاندریا داخل ته داخلیږي او د مایتوکاندریا په داخل کې د اوکسدیشن له عملیې وروسته د ATP(adenosine triphosphate) په شکل په انرژۍ بدلیږي، د ATP (adenosine triphosphate) مالیکول د هایدرولیز په نتیجه کې ژوندیو حجراتو ته حیاتي انرژي برابروي او د الکترون ترانسپورټ سیستم له لارې د اوکسدیشن عملیې د الکترونونو انتقال صورت نیسي او د پروتون په شتون کې د اوبو مالیکولونه تولیدیږي.

**کلیدي کلمې:** انساني حجرات، حیاتي انرژي تولید، کریب سایکل، مایتوکاندریا.

**سریزه**

بِسْمِ اَللهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِیمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین اما بعد:

په ۱۹۳۷ میلادي کال کې د هینز کریب (Hans Krebs) له خوا د کریب یا ترای کاربوکسیلیک اسید سیکل(tri carboxylic acid cycle) مکمل دوران وړاندې شو او په ۱۹۵۳ کال یې د همدې مهم کشف په اساس د نوبل جایزه واخیسته، نوموړی دوران اوس د (Krebs cycle) په نوم یادیږي. هینز کریب دغه دوران د ترای کاربوکسلیک اسید سایکل (TCA) په نوم پیشنهاد کړی و، خو مطمین نه وه چې په دغه سیکل کې ترای کاربوکسلیک اسید د منځني مالیکول په حیث شتون لري او کنه، وروسته اوګستون (Ogston) په اثبات ورسوله چې ترای کاربوکسلیک اسید چې په حقیقت کې سیتریک اسید

(Citric Acid) دي؛ په دغه دوران کې شتون لري، له همدې امله وروسته د سيتريک اسيد دوران (Citric Acid Cycle) نوم هم ورکړل شو (۱). داسې وړاندوينه کيږي چې کريب سايکل په ځمکه کې د ټولو ژونديو موجوداتو د ژوند له پاره مهم دوران ګڼل کيږي، نوموړی سيکل د انرژي په ځانګړی ډول د ATP(Adenosine Tri Phosphate) چې د حجراتو د انرژي نړيوال واحد بلل کيږي په توليد کې مهم رول لري. د انرژي د توليد څخه علاوه په دغه لار کې د کاربن منځني ماليکولونه چې د کريب سايکل په جريان کې توليديږي د نورو ماليکولونو د جوړولو لپاره، لکه: امينو اسيدونه، ليپيډونه (شحميات)، نيوکليوتايدونه او داسې نورو بيو ماليکولونو په جوړولو کې د لومړنی مادې ( Precursors) په حيث ډېر ارزښت لري (۲). د کريب يا ترای کاربوکسليک اسيد سيکل (TAC) د کاربوهايدريتونو، امينو اسيدونو، شحمي اسيدونو او کيتونی اجسامو د اوکسيديتيف ميتابوليزم اخري کړنلاره چې په پايله کې کاربني اسکليت په کاربن ډاي اوکسايډ (CO2) بدليږي. د اوکسيديشن په کړنلارو (Pathways) کې قندونه، شحمي اسيدونه، پروټين يا امينو اسيدونه او کيتوني اجسام لومړی ټول په اسيتايل کو انزايم ای (Acetyl-CoA) باندې بدليږي، چې د TCA cycle له پاره يو سبستريت دی او بيا دغه ماده په کريب سايکل کې په کاربن ډای اوکسايډ بدليږي. په دغه اوکسيديشن کې چې کومه انرژي توليديږي په انسانانو او حيواناتو کې په زياته اندازه د ATP د توليد له پاره کارول کيږي ( ۳، ص،۳۶۳-۳۶۰ ). د کريب سايکل په بشپړ ډول په مايتوکاندريا کې صورت نيسي، له همدې امله د الکترون ترانسپورت سيستم تعاملاتو ته ډېر نږدې دی په دغه سيستم کې ارجاع شوي کوانزايمونه لکه NADH، FADH2 او GTP خپل الکترونونه د الکترون ترانسپورت ځنځير د لارې اکسيجن ته ورکوي او په پايله کې يې اوکسيديتيف فاسفوريليشن له لارې ATP جوړيږي. له دې توضيحاتو څخه معلوميږي چې کريب يا TCA cycle يوه هوازي کړنلاره ده، ځکه چې په دغه لاره کې ماليکولي اکسيجن ته د الکترون د نيولو له پاره اړتيا ليدل کيږي. د بدن ډېری کټابوليک لارې د (TCA) سايکل سره يو ځای کيږي، هغه تعاملات چې د کريب سايکل له پاره منځني ماليکولونه جوړوي، لکه: د ځينو امينو اسيدونو د کټابوليزم څخه د (TCA) سيکل منځني ماليکولونه جوړيدل دا ډول تعاملات د (anaplerotic reactions ) په نوم يادېږي. څرنګه چې مخکې مو يادونه وکړه د (TCA) سايکل د نورو ماليکولونو د بيوسنتيز له پاره مهم ماليکولونه هم په دغه دوران کې توليديږي، د بيلګې په توګه د دې دوران کاربني اسکليټ چې د ځينو امينو اسيدونو څخه پلاس راځي کيدای شي، چې د ګلوکوز جوړولو پاره وکارول شي، په همدې ډول يو شمېر امينو اسيدونه هم د کريب سايکل د منځني ماليکولونو څخه جوړيږي، چې نوموړي امينو اسيدونه د نورو امينو اسيدونو په جوړولو او هېم

(Heme) په جوړولو کې کارول کیږي. له همدې امله دا دوره د یوې تړلې دایرې په توګه ونه لیدل شي بلکې د یوې ترافیکي خلقې په توګه د اړتیا سره سم مرکبات ورداخلیږي او پرېږدي یا ترې خارجیږي (۴، ص، ۱۰۹-۱۰۷). په هر صورت د (Krebs Cycle) دبدن د پاره د انرژۍ د تولید یوه غوره لار ده، تقریباً دوه پر دریمه برخه (ATP) په دغه لار کې د حیاتي تیلو د اوکسیدیشن څخه په لاس راځي، د کریب سایکل مرحله هغه وخت شروع کیږي، کله چې دوه کاربوني فعاله ټوټه چې (Acetyl-CoA) هم ورته ویل کیږي د اوکزالواسیتیت (Oxaloacetate) سره تراکم وکړي او په نتیجه کې سیتریک اسید (Citric Acid) چې یو ترای کاربوکسلیک اسید دی جوړیږي. استایل کوانزایم اې (acetyl-CoA) د قندونو، پروتینو، کیتونو، شحمیاتو او الکولو د کتابولیزم په نتیجه کې رامنځ ته کیږي، که چیرې په کافي اندازه اکسیجن شتون ولري نوموړي په کریب سیکل کې د منځه ځي او په کاربن ډای اوکسایډ بدلیږي او د استایل کوانزایم اې هر مالیکول کله چې مکمل په احتراق ورسیږي ۱۲ مالیکوله (ATP) جوړوي، د کریب سایکل په اصل کې بېلاه بېل تعاملات دي او هر تعامل یې د ځانګړو انزایمونو پر فاصله سرته رسیږي چې وروسته به پرې بحث وشي.

**موخې**

د دغې څېړنیزې مقالې څخه زمونږ موخې په لاندې ډول دي:

- د انسان په بدن کې د کریب یا ترای کاربوکسلیک اسید دوران په کیمیاوي میکانیزم پوهیدل
- په میتا کاندریا کې د کریب سیکل څخه تولید شوي حیاتي انرژۍ د تولید په میکانیزم پوهیدل
- په حجراتو کې د (acetyl-CoA) اوکسیدیشن څخه د ($CO_2$) د تولید په میخانیکیت پوهیدل
- د الکترون ترانسپورټ سیستم په اوږدو کې د یو شمیر مهمو کو انزایمونو لکه (NADH، $FADH_2$ او GTP) د تولید په میخانیکیت پوهیدل
- د (TCA) دوران په طبعیت کې (Amphibolic) دي او کنه؟

**مواد او کړنلاره**

دغه تحقیق چې په ۱۴۰۳ کال کې ترسره شوی دی، د څېړنې ډول یې کتابتوني دی چې تقریباً د ۹ هغو مقالو څخه په کې استفاده شوې ده، چې په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوي دي. په دې لیکنه کې چې له کومو څېړنو څخه استفاده شوې ټولې یې د ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۲۱ میلادي کلونو منځ کې خپرې شوي دي او د نړۍ په زیاتو پرمختللو هېوادونو کې سرته رسیدلي دي پورته څېړنې په مختلفو انترنیتي سایټونو، لکه:(Scopus Web of Science, Science Direct, Google Scholar

) او داسې نورو کې د کليدي کليمو (Doi ) نمبر عنوانونو او نورو مشخصاتو پر اساس پلټل شوي دي او همدارنګه له معتبرو داخلي او خارجي معياري کتابونو څخه هم پکې استفاده شوې ده، چې په انساني حجراتو کې د کريب سيکل (ترای کاربوکسليک اسيد) په ميکانيزم پوهيدو په اړه معلومات پکې را ټول شوي دي او د مسلک مينوالو ته به وړاندې شي.

## د کريب سايکل تعاملات (Reactions of the Krebs cycle)

استيايل کوانزيم اې (acetyl-CoA) چې د پايرويک اسيد يا پايرويټ (pyruvate) د ډيکاربوکسليشن په پايله منځ ته راځي دغه دوران (کريب سيکل) ته داخليږي په مکمل ډول په دغه جريان کې اوکسيدايز کيږي او انرژي توليدوي. پايرويت د ګلايکوليسيز (glycolysis) عمليې په جريان کې توليديږي او اوکسيديتيف ډيکاربوکسليشن په پايله کې په استيايل کوانزايم ای باندې بدليږي او بيا کريب سيکل ته داخليږي، چې دا په حقيقت کې د کريب سيکل او ګلايکوليسيز ترمنځ ارتباط په ګوته کوي. همدارنګه استيايل کوانزايم اې د شحمي اسيدونو د بيتا اوکسيديشن څخه هم په لاس راځي، د کريب سيکل ټول اړونده انزايمونه د حجراتو په ميتاکاندريا کې شتون لري. په لاندې اول شکل کې د پايرويت acetyl-CoA منابع او د استعمال لارې ښودل شوي دي.




(۱) شکل: د استيايل کوانزايم اې منابع او د استعمال لوري

## د پايرويت بدليدل په استيايل کوانزايم اې باندې (Conversion of pyruvate to acetyl-CoA)

پايرويټ چې د هوازي ګلايکوليسيز (aerobic glycolysis) اخري محصول دی، کله چې ميتاکاندريا ته داخل شي وروسته بيا (TCA) سيکل ته داخليږي. پايرويت د اوکسيديتيف ډيکاربوکسليشن عمليې (oxidative decarboxylation) پواسطه په (acetyl-CoA) باندې بدليږي، توليد شوي استيايل کوانزايم اې د (TCA) په دوران (سيکل) کې سوځي او انرژي توليدوي،

دا يو غير رجعي تعامل دی، چې په ميتاکاندريا کې صورت نيسي. د دې مرحلې مربوطه انزايمونه چې مغلق جوړښت لري د pyruvate dehydrogenase complex (PDH) په نوم يادېږي او صرف په ميتاکاندريا کې پيدا کيږي. (PDH ) اصلاً د دريو انزايمونو جوړ دي، لکه: pyruvate dehydrogenase ($E_1$)، dihydrolipoamide acetyltransferase ($E_2$) او dihydrolipoamide dehydrogenase (E3). ( PDH-complex ) د خپل فعاليت له پاره يو شمېر کوانزايمونو ته اړتيا لري، لکه: تيامين پايرو فاسفيټ (TPP) ، lipoamide، FAD، coenzyme A (COA) او NAD+ (Nicotin amide adenine dinucleotide) ، Lipoamide په خپل جوړښت کې( lipoic acid ) لري چې د امينو گروپ يې د (lysine ) امينو گروپ سره وصل دی. د پايرويت بدليدل په استايل کوانزايم اې باندې لاندې معادله کې په لنډ ډول ښودل شوی دي.

$$\text{pyruvate} + \text{CoA} + \text{NAD}^+ \xrightarrow{\text{Enz}} \text{acetyl-CoA} + CO_2 + \text{NADH}$$

تعامل په لومړي پړاو کې پايرويک اسيد د E1 انزايم په موجوديت کې د TPP(thiamine pyro phohspate) سره يو ځای کيږي هايدروکسي ايتايل تيامين پايرو فاسفيت (hydroxyethyl-TPP ) جوړيږي او کاربوکسل گروپ د CO2 په شکل خارجيږي. په دويم پړاو کې د (E2) انزايم په مرسته (hydroxylethyl-TPP) د ليپويک اسيد سره يو ځای کيږي په پايله کې يې(TPP) ازاديږي او lipoamide acetyl جوړيږي.

په دريم پړاو کې اسيتايل ليپوامايډ د( acetyl-SH) سره د دويم انزايم (E2) په موجوديت کې يو ځاي کيږي ليپو اسيد ازاديږي او acetyl-CoA چې يوه دوه کاربوني ټوټه ده، په لاس راځي. دا چې توليد شوی ليپواسيد په ارجاع شوي حالت کې دي د هايدروجن اتومونه يې د( FAD ) په واسطه اخېستل کيږي او په اوکسيدايز شکل بدليږي او دا بيا د بلې مرحلې له پاره چمتوالی نيسي، د (FAD ) په واسطه اخېستل شوي د هايدروجن اتومونه بيا (NAD+ )ته ورکول کيږي او په (NADH + H+ ) بدليږي هر ماليکول د( NADH +H+ ) په تنفسي ځنځير کله چې اوکسيديشن شي درې ماليکوله 3ATP جوړوي. د پايرويت څخه د اسيتايل کوانزايم ای جوړيدو ميکانيزم په لاندې دويم شکل کې ښودل کيږي. کله چې اسيتايل کوانزايم اې چې يوه دوه کاربوني ټوټه ده د کريب يا ( TCA ) سيکل

ته داخليږي او بېلا بېلو انزايمي تعاملاتو څخه وروسته چې لاندې واضح شوي دي په( $CO_2$ ) بدليږي او په دې توګه دوه کاربوني ټوټه د حجراتو په ميتاکاندريا کې په احتراق رسيږي او انرژي توليدوي.




(۲)شکل : د پايرويت بدليدل په اسيتايل کوانزايم اې باندې

## د کريب سايکل اول پړاو: د سيتريک اسيد (citric acid) جوړيدل

د سيتريک اسيد اول پړاو هغه وخت شروع کيږي کله چې( acetyl-CoA )چې يوه دوه کاربوني ټوټه د اوبو او( citrate synthases ) انزايم په موجوديت کې د يوي څلور کاربوني ټوټي (oxaloacetate) سره تراکم وکړي او په نتيجه کې يې يوه شپږ کاربوني ټوټه چې (tricarboxylic acid)citrate نوميږي په لاس راځي، په( acetyl-CoA ) تايو استر اړيکي د ماتيدو په پايله کې تعامل مخکې ځي. که څه هم دا يو غير رجعي تعامل دی، ليکن بدن کولای شي نوموړی تعامل د نورو انزايمونو پرمټ معکوس کړي ( ۴، ص، ۵۸۰-۵۶۶) د دې پړاو کيمياوي معادله لاندې ښودل شوې ده.




**دویم پړاو: د ايزو سيتريت (isocitrate) جوړېدل**

سيتريت چې يو دريمي (tertiary) الکولي گروپ لري له دې وجهې د نور اوکسيديشن لەپاره يو کمزوری کانديد بلل کېږي، ځکه چې د اوکسيديشن په وخت کې کيدای شي د کاربن او کاربن ترمنځ اړيکه ماته د دې ستونزې د رفع کېدو له پاره سيتريت د( aconitase ) انزايم په واسطه په دوه مرحلو کې چې لومړی په (Cis-Acontase) او بيا په ( isocitrate ) بدليږي د تعامل ميکانيزم يې لاندې ښودل شوی دی.




**دريیم پړاو: د الفا کيتو گلوتاريت (Alpha ketoglutarate) جوړېدل**

دغه تعامل چې ميکانيزم يی لاندې ښودل شوی دی د ( isocitrate dehydrogenase ) انزایم پر مټ کتلايز کيږي. د تعامل په اول پړاو کې ( isocitrate د isocitrate dehydrogenase ) او ( $NAD^+$ ) په موجوديت کې د هايدروجن دوه اتومه د لاسه ورکوي په پايله کې يې ( oxalosuccinate ) جوړيږي په عينې وخت کې تعامل مخکې ځې ( oxalosuccinate ) يو اتوم کاربن د $CO_2$ په شکل خارجوي او په ( alpha-ketoglutarate ) جوړيږي، دا لمړی ځل دي چې د دوه کاربنو څخه چې دي دوران داخل شوي دي يو کاربن د کاربن ډاي اوکسايد په شکل خارجيږي او د ( $NADH + H^+$ ) په شکل انرژی په لاس راځي چې وروسته ( $NADH + H^+$ )

د الکترون ترانسپورت سیستم (ETC) کې اوکسیدایز کیږي او (adenosine tri phosphate) ATP جوړوي نو ځکه درېیم پړاو د انرژي تولید له مخې مهم دي (۵، ص، ۶۲۰-۶۰۱).




**څلورم پړاو: د سکسینایل کوانزایم اې (succinyl-CoA) جوړېدل**

په دغه پړاو کې په لاس راغلي الفا کیټو ګلوتاریت د (alpha keto-glutarate dehydrogenase) انزایم په موجودیت کې چې یو (multienzyme complex) دی، په ترکیب کې یې درې پروټیني انزایمونه او پنځه کوانزایمونه شته اوکسیدیتیف ډیکاربوکسلیشن کیږي. په پایله کې یې (succinyl-CoA) جوړیږي یعني په دغه پړاو کې د دوه کاربوني توټې څخه پاتې یو کاربن هم د کاربن ډای اوکسایډ په شکل خارجیږي او په دې توګه استایل کوانزایم ای (دوه کاربوني توټه) په مکمل ډول په (CO2) بدلیږي او له منځه ځي. د کریب په سیکل (دوران) کې دا یو غیر رجعي تعامل دی په دغه تعامل کې چې کوم (NADH + H+) جوړیږي په (ETC) کې اوکسیدیشن کیږي (ATP) جوړوي، د دې پړاو تعامل میکانیزم لاندې لیدلای شئ.



**پنځم پړاو: د سکسينيټ (succinate) جوړېدل**

د کريب سيکل پنځم پړاو چې د ( succinate thiokinase ) انزايم پرمټ سرته رسيږي په دغه پړاو کې د لوړې انرژۍ فاسفيټ يعني ( GTP ) د ( GDP ) څخه جوړيږي وروسته ( GTP ) خپل د فاسفيټ گروپ (ADP) ته د لاندې تعامل پرمټ ورکوي او په پايله کې ATP په لاس راځي.

$$GTP + ADP \xrightleftharpoons{\text{Nucleoside diphosphate kinase}} ATP + GTP$$

(Succinyl-CoA) د لوړې انرژۍ منځنی ماليکول بلل کيږي، کله چې د ( succinyl-CoA ) د لوړې انرژۍ تايوايستري اړيکه (thioester bond) د ( succinate thiokinase ) انزايم په واسطه ماته شي، کومه انرژي چې په دغه جريان کې توليديږي د يوه فاسفيټ جوړه کيدو يا پيوندیدو لامل کيږي او يو ماليکول (ATP) په لومړی ځل په دغه دوران کې د (Guanine tri phosphate) ( GTP ) څخه په لاس راځي، (Succinyl-CoA ) د شحمياتو په ميتابوليزم کې د ( propionyl- CoA ) او د امينو اسيدونو د ميتابوليزم په نتيجه کې هم توليديږي. د ( succinate ) جوړيدو تعامل لاندې ښودل شوی دي (٦، ص، ١١۴-١٠٩).




Succinyl-CoA

Sccinate

**شپږم پړاو : فوميريټ (fumarate) جوړېدل**

د ( succinate dehydrogenase ) انزايم او FAD(flavine adenine dinucleotide) کوانزايم په موجوديت کې سکسينيت ډيهايدروجنيشن کيږي، يعني هايدروجن دوه اتومه د لاسه ورکوي په پايله کې يی ( fumarate ) جوړيږي چې يو ډای کاربوکسليک غير مشبوع تيزاب دی، جوړيږي.

د دې تعامل په جریان کې چې لاندې ښودل شوی دی یوه اندازه انرژي هم د ( FADH2 ) په شکل تولیدیږي، تولید شوی (FADH2 ) د الکترون انتقال ځنځیر (electrons transport chain ) ته داخلیږي د اوکسیدیشن څخه وروسته دوه مالیکوله ( ATP ) تولیدوي. د ( succinate dehydrogenase ) فعالیت په مکمل ډول د ( malonate ) له خوا منعه کیږي.




Succinate
Fumarate

**اووم پړاو : د مالیټ (malate) جوړیدل**

په شپږم پړاو کې لاس ته راغلی ( fumarate ) د ( fumarase ) انزایم پرمټ په ( malate ) بدلیږي، په دغه تعامل کې چې لاندې ښودل شوی دی یو مالیکول اوبه $(H_2O)$ د ( fumarate ) په دوه ګوني اړیکې باندې نصبیږي او په پایله کې په مالیټ بدلیږي(۷، ص،۱۰۱٦-۱۰۵۰).




Fumarate
L-Malate

**اتم پړاو : د اوګزالو اسیتیت (oxaloacetate) دوباره جوړیدل**

د TCA دوران په اخري اتم پړاو کې ( L-malate ) د ( malate dehydrogenase ) انزایم په واسطه په اوکزالواسیتیت بدلیږي. دغه تعامل د سرته رسیدو له پاره ( + 30 kJ/mol ) د جذب انرژي ($\Delta G0$) ته اړتیا لري. د تعامل په دغه پړاو کې د تیر په څیر بیا هم ( $NADH + H^+$ ) جوړیږي کله ذکر شوی کوانزایم د الکترون انتقال ځنځیر (ECT) ته داخل شي ( ATPs ) جوړوي چې د حجراتو د انرژۍ نړیوال واحد هم بلل کیږي. که څه هم د اوګزالواسیتیت غلظت په حجراتو کې کم دي خو د کریب سیکل په دوران کې د اتصال محل (junction) یا کتالیست په څیر خورا ډېر ارزښت لري او

په اخر کې بیدون د تغیر څخه ثابت پاتي کیږي. هغه استیایل کوانزایم اې (acetyl-CoA) چې د غذايي موادو د کتابولیزم په نتیجه کې تولیدیږي کله چې د اوگزالو اسیتیت سره تراکم وکړي په مکمل ډول اوکسیدیشن کیږي. په ( $CO_2$ ) بدلیږي او اوگزالواسیتیت د بل پړاو له پاره چمتو کیږي په همدې ترتیب په بدن کې تولید شوی ( acetyl-CoA ) په مسلسل ډول د انرژۍ تولید په خاطر په احتراق رسیږي په لاندې تعامل کې د ( L-malate ) اوښتل په ( oxaloacetate ) باندې لیدلای شئ.




د کریب سایکل (ترای کاربوکسلیک اسید سیکل) یا د سیتریک اسید دوران چې د یوې دورې لنډیز په لاندې درېیم شکل کې یې ډول ښودل شوی دی، د ذکر شوي دوران مهمې دندې په لاندې ډول دي:

- دا د اوکسیډیټف (**oxidative**) اخري لاره ده چې **acetyl-CoA** په کې **$CO_2$** بدلیږي
- د ارجاعي کوانزایمونو چې د تنفسي ځینځیر له پاره سبستریت بلل کیږي ښه منبع ده
- د کتابولیک او انابولیک کړنلارو ترمنځ ارتباطي اهمیت یعنې ( **amphibolic** ) رول لري
- د امینو اسیدونو او نوکلیوتایدونو د جوړېدو لومړنی ماده چمتو کوي
- د دې دوران اجزاوې د نورو کړنلارو په انزایمونو باندې په مستقیم او یا غیره مستقیم ډول اغېزه لري.



(۳) شکل : د کریب سیکل (ترای کاربوکسلیک اسید سیکل) یا دسیتریک اسید دوران د یوې دورې خلاصه

## په کریب سایکل کې د انرژي د تولید پړاوونه

د کریب سیکل په یوه دوران کې ( $3\ NADH + H^+$ ) مالیکوله تولیدیږي چې هر مالیکول د ( $NADH + H^+$ ) کله چې په ( ETC ) کې اوکسیډیشن شي ( 2 ½ ATP ) جوړوي، چې مجموعه (7.5) ½ 7 = ½ 2 x 3 د لوړې انرژۍ فاسفیټ (ATP) کیږي. یو مالیکول ( $FADH_2$ ) هم په دغه دوران کې جوړیږي، چې هر مالیکول یې ( 1 ½ ATP ) جوړوي، علاوه له دینه یو مالیکول ( GTP ) چې د یو مالیکول ( ATP ) معادل بلل کیږي هم د سبستریت په سطحه د کریب سیکل په فې دوران کې جوړیږي، نو ویلی چې کریب سیکل په هر دوران سره ( 10 ATP ) یا د لوړې انرژۍ فاسفیټ جوړیږي. هر مالیکول د ( ATP ) چې په حجراتو کې هایدرولیز شي ( 8.8kcal ) تودوخه تولیدوي. د کریب سیکل د تعاملاتو د ازادې انرژۍ بدلون د ساعت عقربې په څېر

په ناڅاپي ډول بدلون کوي، تقریباً ۳۳٪ د ازادي انرژۍ د دې دوران د ( ATP ) په څیر ذخیره کیږي او پاتې انرژي د چاپیریال په وړاندې د بدن د تودخي درجي د لوړ ساتلو له پاره کارول کیږي.

**د لويو ميتابوليکي کړنلارو ادغام (پيوستون)**

کاربوهايدريت د ګلايکوليسيز له لارې په پايرويټ (pyruvate) بدليږي، وروسته په ( acetyl-CoA ) بدليږي دا بيا د سيتريک اسيد سيکل ته داخليږي. شحميات د بيتا اوکسيديشن (beta-oxidation) څخه وروسته هم په ( acetyl-CoA ) بدليږي چې وروسته د سيتريک اسيد سايکل ته داخليږي. همدارنګه ګلوکوجينيک امينو اسيد (glucogenic amino acid) او کيټو جينيک امينو اسيد هم په ( acetyl-CoA ) بدليږي او بيا د اوکسيديشن په خاطر دغه سايکل ته داخليږي، د ميتابولېزم ادغام د کليدي ميتابولايتونو په واسطه په دغه مهمه نقطه کې ترسره کيږي، ډېري لارې کولای شي چې په دې نقطه کې سره يو ځاي شي چې په پايله کې يې د يوې سرچينې څخه د کاربن اتومونه د بل ترکيب له پاره وکارول کيداي شي. مهم ميتابولايتونه د کريب په دوران کې ( pyruvate، acetyl-CoA او oxaloacetate ) څخه عبارت دي.

**د امپيبوليک لار ( amphibolic pathway)**

ټولې نورې لارې، لکه د شحمياتو بيتا اوکسيديشن (beta-oxidation) يا د ګلايکوجن جوړيدل به يا کتابوليک وي يا انابوليک. په حقيقت کې د ( TCA-cycle ) امپيبوليک ( amphibolic ) ( کتابوليک او نابوليک) دواړه طبعيت لري. د ( TCA ) دوران ته په دوامداره توګه څلور کاربوني ټوټه داخليږي او ليرې کيږي په لاندې ۴ او ۵ شکلونو کې د ( TCA ) دوران ته د کاربوني واحدونو داخلېدل او خارجېدل ښودل شوي دي. د ( TCA ) دوران ته ځينې وخت ترافيکي دايره هم ويل کيږي چې مختلف سرکونه په يوه نقطه کې سره يو ځاى کيږي او بيا د همدغه نقطې څخه يوي او بلې خوا تيريږي، په همدې ډول بېلا بېل مرکبات د (TCA ) دوران ته ننوځي يا يې پرېږدي، نو ځکه ځينې وختونه د ( TCA ) دوران د ميتابوليک ترافيکي خلقي په نوم هم يادېږي. مهم انابوليک تعاملات چې د سيتريک اسيد دوران اړوند دي عبارت دي له.

۱ – ( oxaloacetate ) جوړيدل د ( aspartate ) يا اسپارټيک اسيد د جوړيدو د لومړني مادې په تو ګه کارول کيږي

۲ – ( alpha ketoglutarate ) چې کريب سيکل منځنۍ ماليکول دی په ( glutamate ) بدليږي

۳- ( succinoyl-CoA ) د هيم (heme) د جوړيدو له پاره کارول کيږي

۴- د میتاکاندریا سیتریت (citrate) سایتوپلازم ته انتقالیږي، د ماتیدو څخه وروسته په ( acetyl-CoA ) بدلیږي نوموړي مالیکول د شحمي اسیدونو د جوړیدو د پیل ټکی بلل کیږي.

۵ - د دې لپاره چې د کریب سایکل بیلانس وساتل شي یو شمېر امینو اسیدونه او نور مالیکولونه چې، په لاندې شکلونو کې لیدل کیږي سیکل ته داخلیږي د بیلګې په توګه د ګلوتامیت انتقال الفا کیټو ګلوتاریت ته او د اسپارتیت انتقال اوګزالواستیت ته، علاوه له دې څخه کله چې پایرویت په اوګزالواسیتیت بدلیږي ATP ته اړتیا لري او په همدې ترتیب کله پایرویت څخه $CO_2$ خارجیږي په مالیټ بدلیږي +NADP او مالیک یا مالیټ اړونده انزایمونو ته اړتیا لري تر څو د سیکل تعاملات مخکې لاړ شي (۸، ص،۲۱۷-۲۲۲).




(۴) شکل: کریب سیکل ته د کاربوني واحدونو داخلیدل او خارجیدل

## شحمیات د قندونو د پیلتي (wick) په واسطه سوځي

په څراغ (lamp) کې تیل (oil) په خپله رڼا نه خپروي؛ د تیلو شغله یوې پیلتې ته اړتیا لري ترڅو تیل د پیلتي پرمټ وسوځي او روښانه شي، په همدې ډول په بدن کې د شحم څخه تولید شوي ( acetyl-CoA ) داوکسیدیشن یا د منځه تلو له پاره د اوګزالواسیتیت (oxaloacetate) کومک ته اړتیا لري. د ( TCA ) په یوه دوران کې ( acetyl-CoA ) په دوه مالیکوله ( $CO_2$ ) بدلیږي، دلته اوګزالواسیتیت د یوه حقیقي کتالیست په توګه عمل کوي په دې ډول چې یو ځل چې دوران ته داخل شي او اخر کې بېرته د دوران څخه جدا کیږي. د اوګزالواسیتیت لویه منبع پایرویت (کاربوهایدریت) دي، ځکه نو

کاربوهایدریت فوق العاده د شحمیاتو د اوکسیدیشن له پاره ضروري دي یا شحمیات د قندونو په شغله کې سوځي. که چیري په بدن کې د کاربوهایدریتو مقدار زیات شي په شحمیاتو بدلیږي. په هر صورت شحمیات نه شي کولای چې په گلوکوز تبدیل شي ځکه چې د پایرویت ډیهادروجینیز تعامل (د پایرویت اوښتل په استیایل کوانزایم اې باندي) په مطلق ډول یو غیر معکوس تعامل دی. د بلې خوا د شحیماتو څخه تولید شوي استیایل کوانزایم اې کله چې سکسینایل کوانزایم ته ورسیږي په ( TCA ) سیکل کې په مکمل ډول اوکسیدیشن کیږي. له دې کبله شحمیات نشي کولای چې په کاربوهایدریت تبدیل شي.

Carbohydrates ⟶ Fat

Fat(acetyl-CoA) —X⟶ Carbohydrates

## د سیتریک اسید سیکل کنترول

په خاصو شرایطو لکه گلایکو لیسیز (glycolysis ) الکترون انتقال ځینځیر (ETC) په څېر د ( TCA ) سیکل باید په احتیاط سره کنترول شي. که چیرې دې دوران ته د زیات څرخېدو اجازه ورکړل شي په زیاته اندازه میتابولیک انرژي رجعي کوانزایمونو او ( ATP ) د زیات تولید له امله ضایع کوي. که چیري سیکل په ډېر قرار ډول و څرخیږی په کافي اندازه ( ATP ) چې حجره ورته اړتیا لري تولید نشي. دلته د ځینو انزایمونو او تعاملاتو څخه یادونه کوو چې په کریب کې د کنترولیدو وړ دي.

### ۱ – سیتریت ( citrate ) او سیتریت سنتیز( citrate synthase )

د اوگزالو اسیتیت او استیایل کوانزایم څخه د سیتریت جوړیدل د کریب سیکل د کنترول مهمه برخه ده، ( ATP ) په الوستریکي (allosteric) ډول د ( citrate synthase ) فعالیت منعه کوي، سیتریت PFK (phosphor fructokinase) چې گلایکولیسیز کلیدي انزایم دي منعه کوي خو ( fructose -1-6-biphosphatase ) انزایم تحریکوي او ( acetyl-CoA carboxylase ) انزایم چې د جوړیدو کلیدي یا مهم انزایم دی فعالوي. کله چې د حجرې انرژي ټیټه وي، د ( TCA ) سیکل مؤثریت یا کار کول تېز وي او سیکل په کلک ډول د تنفسي ځنځیر (ETC) سره جفت (جوړه ) کیږي او ( ATP ) جوړوي. غیر هوازي (hypoxia) حالت د ( ETC ) فعالیت نهي کوي،

کله چې ( NADH ) او ( $FADH_2$ ) راټول شي یعنې مقدار یې زیات شي د دې لامل کیږي چې د کریب سیکل فعالیت بند (نهي) کړي.

**۲- ایزوسیتریت ډیهایدروجینیز (isocitrate dehydrogenase)**

د درېیم پړاو اړوند (isocitrate dehydrogenase) د ( NADH ) او ( ATP ) له خوا منعه کیږي؛ خو د (ADP ) او ( $NAD^+$ ) له خوا یې په الوستریکي ډول فعالیت زیاتیږي او د سبستریت سره یې یو ځای کېدل یې زیاتوي. له دې وجهې د ( $NAD^+/NADH$ ) او ( ADP/ATP ) لوړ نسبتونه ( isocitrate dehydrogenase ) او د ( ATC ) فعالیت تحریکوي.

**۳- د الفا کیتو ګلو تاریت ډیهایدروجنیز (alpha ketoglutarate dehydrogenase) کنټرول**

د الفا کیټو ګلوتاریت ډیهایدروجینیز کمپلیکس که څه هم الوستریک انزایم نه دي؛ خو د ( NADH ) او ( succinoyl-CoA ) له خوا یې فعالیت نهي کیږي او ممکن د ( GTP ) په واسطه یې هم فعالیت نهي شي. له بلې خوا هغه تیل (fuel) چې د کاربوهایدریتو څخه تولیدیږي د ( acetyl-CoA ) په څېر د (TCA-cycle ) ته په لومړني ډول داخلیږي، له دې کبله د استایل کوانزایم ای کنټرول د ( TCA-cycle ) د کنټرول مهمه نقطه بلل کیږي. دا تعامل لکه څرنګه چې مخکې یادونه شویده د (pyruvate dehydrogenase)PDH انزایمي کمپلیکس سرته رسیږي. د ( PDH ) کمپلیکس د فعالیت د ( acetyl-CoA ) او ( NADH ) په واسطه نهي کیږي او د کوانزایم اې (COA یا COASH) او ( $NAD^+$ ) له خوا یې فعالیت زیاتیږي. ځکه چې د ( TCA ) دوران درې تعاملات او همدارنګه ( PDH ) یا پایرویت ډیهایدروجینیز ( $NAD^+$ ) د کوفکتور (cofactor) په توګه کاروي، د ( $NAD^+/NADH$ ) حجروي تناسب د ( TCA ) دوران له لارې د کاربن په جریان باندې ډېره اغېزه لري (۹).

**د کریب سایکل نهي کوونکي**

پورته ذکر شوی د کریب سایکل میکانیزم فزیالوژیکي او کنترولونکی طبعیت لري. مګر لاندې زهري (غیره فزیالوژیکي) اجینتونه (agents) د کریب سایکل اړونده لاندې تعاملات نهي کوي او له کاره یې غورځوي:

۱ - **Aconitase** يو داسې انزايم دی چې د حجرې په ميتابولېزم کې رول لري. ذکر شوی انزايم په شکلونو شتون لري چې يو يې ميتاکاندريا کې شتون لري د ( $ACO_2$ ) په نوم ياديږي د ( ATP ) په جوړولو کې رول لري او دويم ډول يې ( ACO1 ) په نوم ياديږي، په سايتوپلازم کې شتون لري. د اوسپنې په کنټرول يا ثبات او توازن کې اهميت لره، خو ميتاکاندريا يې ( $ACO_2$) aconitase په کريب سيکل کې سيتريت (citate) په اکونيتيټ (aconitate) بدلوي، د څېړنو په واسطه ثابته شوې ده چې د دغه انزايم فعاليت د فلورواسيتيت (fluoroacetate) او جست (zinc) په واسطه نهي کيږي.

۲ – **Alpha ketoglutarate dehydrogenase** دغه انزايم په کريب سيکل کې ( alpha ketoglutarate ) په ( succinyl-CoA ) بدلوي، د دې انزايم فعاليت په غير رقابتي ډول د ارسينيت (arsenite) له خوا نهي کيږي.

۳ – ( **Succinate dehydrogenase** ) دغه انزايم ( succinate ) په ( fumarate ) بدلوي، د نوموړي انزايم فعاليت د مالونيټ (malonate) له خوا په رقابتي ډول نهي کيږي.

**د کريب سايکل اړوند ميتابوليک نيمګړتياوي**

که څه هم په خورا کمه اندازه ليدل شوی ده چې د يو شمېر انزايمونو کموالي د ( TCA ) په دوران اغېزه کوي، د ځينو انزايمونو يادونه په لاندې اول جدول کې شوی ده چې کموالی يې د ( TCA ) په دوران او د حجراتو کې د انرژي په توليد اغيزه منفي اغيزه لرلي شي ( ۸، ص، ۲۳۴ ).

(۱) جدول: داوکسيډېتف ميتابوليزم ميتابوليکي نيمګړتياوي

| | | |
|---|---|---|
| غير نورمال حالت | په تعامل کې کتاليستي رول | انزايم |
| د لکتيک اسيد اسيدوسيز (تيزابي کيدل)، دماغي بي نظمي | Pyruvate → acetyl-CoA | Pyruvate dehydrogenase |
| عضوي يوريا، ګلوتاريک اسيد يوريا، اسيدوسيز، د ګلوکوز کموال (hypoglycemia)، د | Fatty acyl-CoA → Alpha,beta-unsaturated fatty acyl-CoA | Acyl-CoA dehydrogenase |

| | | |
|---|---|---|
| FAD څخه CoQ ته د الکترون اغیزمنیدل | | |
| د اوګزالواسیتیت کموالي چې د TCA له پاره اړین دی، د امونیا زیاتوال، د الانین زیاتوالي. | Pyruvate → Oxaloacetate | Pyruvate carboxylase |

**پایله**

څرنګه چې پوهیږو ټول تې لرونکي ژوندي حیوانات د خپل ژوند دبقاء او پاېدنې په موخه اساسي غذایي موادو ته ضرورت لري دغه ټول غذایي مواد د یوې پیچلې فزیکي او کیمیاوي عملیې وروسته په انرژي بدلیږي دا چې دغه انرژي په یوه ژوندی حجره کې څرنګه منځ ته راځي د دې څیړه نیزې مقالې په پایله کې ویلای شو ټول هغه اساسي غذایي مواد چې تي لرونکي ژندي موجودات ضرورت ورته لري، په سایتو پلازم کې له ټوټه کیدو وروسته په کوچنیو اجزاوو باندې بدلیږي، د یو شمیر انزایمونو په واسطه دغه کوچنی ټوټې د اسایتایل کوانزان اې په شکل د مایتو کاندریا له غشا څخه تیریږي او په داخل د مایو کاندریا د حجروي اکسجن په واسطه په انرژي باندې بدلیږي، دا چې دغه انرژي په کوم ډول سره منځ ته راځي د کریب سایکل د لس ګونو کیمیا وي پیچلو کیمیاوي عملیو وروسته صورت نیسي، په نتیجه کې ویلای شوچې: د کریب سیکل په یوه دوران کې $3NADH+H^+$ مالیکوله تولیدیږي چې هر مالیکول د $NADH + H^+$ کله چې په ETC کې او کسیدیشن شي ATP ½ 2 جوړوي چې مجموعه (7.5) ½ 7 = ½ 2 x 3 د لوړي انرژي فاسفیټ (ATP) کیږي. یو مالیکول $FADH_2$ هم په دغه دوران کې جوړیږي چې هر مالیکول یې ATP ½ 1 جوړوي، علاوه له دینه یو مالیکول GTP چې د یو مالیکول ATP معادل بلل کیږي هم د سبستریت په سطخه د کریب سیکل په في دوران کې جوړیږي. بعد ویلي چې کریب سیکل په هر دوران سره ATP 10 یا د لوړي انرژي فاسفیټ جوړیږي. هر مالیکول د ATP چې په حجراتو کې هایدرولیز شي 8.8kcal تودوخه تولیدوي. د کریب سیکل د تعاملاتو د ازادي انرژي بدلون د ساعت عقربې په څیر په ناځاپي ډول بدلون کوي، تقریباً ۳۳٪ د ازادي انرژي د دې دوران د ATP په څیر ذخیره کیږي او پاتې انرژي د چاپیریال په وړاندې د بدن د تودخې درجې د لوړ ساتلو لپاره کارول کیږي.

**وړانديزونه**

۱- څرنگه چې ټول انسانان د خپل ژوند د بقاء لپاره غذايي موادو ته ضرورت لري نو هر انسان ته ضروري ده، چې خپل ورځني غذايي مواد د ( BMR ) مطابق استعمال کړي يعنې د زيات مقدار شحم، پروتين او کاربوهايدريتونو د خوړولو څخه دې ځانونه وساتي.

۲- د الکترون ترانسپورټ سيستم او په ميتاکندريا کې د غذايي موادو اوکسديشن يو پېچلې عمليه ده او دغه عمليه مستقيماً د نشه يي موادو په استعمال سره زيانمنه کيږي نو د نشه يي موادو د استعمال څخه دې په جدي توگه مخنيوی وشي.

۳- د دې لپاره چې په بدن کې د غذايي موادو هضم په نورمال ډول سره صورت ونيسي نو هر نورمال انسان بايد وروسته له درې يا شپږ مياشتو څخه يو ځل د ټولو انزايمونو او کو انزايمونو د فعاليت لپاره معياري ټيستونه تر سره کړي.

۴- هغه کارمندان چې د فلزاتو په کارخونو کې ورځنی کار کوي بايد د درندو فلزاتو لکه سرب، پلاتين، کوبالت او داسې نورو له زيات تماس څخه ځان وساتي، دا ځکه چې دغه فلزات د يادې عمليې د نهيه کوونکو عواملو په توگه عمل کوي.

**مأخذونه**

[1] Bryan A. Wilson, Jontahan C. Schisler, Monte S. Willis, MD, phD. Sir Hans Adolf Krebs: Architect of Metabolic Cycles. Luminaries, 2010 (41), doi: 10.1309.

[2] Ryan J. Mailloux. Still at the center of it all; novel function of the oxidative Krebs cycle. Bioenergetics : Open Access. 2015 (4), doi: 10.4172/2167-7662.1000122.

[3] Dawn B. Marks PhD, Allan D. Marks. MD, Colleen M. Smith. PhD. Basic Medical Biochemistry A clinical approach. Second edition. Lippincott's Williams and Willke's; (2011), pages: 360-363.

[4] Regnald H. Garret, Charles M. Grisham. Biochemistry, Fourth edition. Mary Finich publisher; (2010), Pages: 566-580.

[5] David. Nelson, Michael M. Cox, Lehininger principles of biochemistry, fifth edition. Jaffari. Publisher; (2008), Pages: 601-620.

[6] Richard A. Harvey, PhD, Dense R. Ferrier,PhD. Lippincott's Illustrated Reviews: Biochemistry, fifth edition. Lippocott Williams & Wilkins; (2011), Pages: 109-114.

[7] David E. Metzler. Biochemistry the Chemical Reaction of Living Cells, Second edition. Elsevier Academic Press; (2008), Pages: 1050, 1016.

[8] DM Vasudevan, Sreekumari S. Textbook of Biochemistry for Medical Students, Seventh edition. Jaypee Brothers Medical Publisher; (2013), Pages: 217-222.

[8] David E. Metzler. Biochemistry the Chemical Reaction of Living Cells, Second edition. Elsevier Academic Press; (2008), Pages: 1050, 1016.

[9] Amin Gasmi, Massimliano Peana, Maria Arshad, Monica Butanariu, Alain Menzel, Geir Bjoklund. Krebs cycle: activators, inhibitors and their roles in modulation of carcinogenesis. Archives of Toxicology, 2021(95), 1161-1178.

**Introduction of Krebs (Tricarboxylic acid cycle) Cycle Chemical mechanism in Human Cells**

Teaching Assistant Muhajer Alham, Shaikh Zayed Univesity, Education Faculty, Department of Chemistry.

Email address: muhajir.ilham2018@gmail.com

**Abstrat**

All living organisms need nutrients for their survival, animals and humans with these nutrients convert them into energy after digestion with a special closed mechanism through the digestive system. How it is converted into energy in the body is discussed in this research paper. When the nutrients in a karyotic cell undergo primary digestion by the enzymes of the digestive system, they are activated in the cytoplasm of the cell in order to enter the Krebs cycle then enter the mitochondria through the mitochondrial membrane. After the process of oxidation inside the mitochondria, it is converted into energy in the form of ATP (adenosine triphosphate). Electrons are transferred and water molecules are produced in the presence of protons.

**Key words**: Humane cells, Kreb cycle,Vital energy production, Mitochonderia

# Study of charged states during X-ray interference in crystalline lattices

Teaching Assistant Mawla Khan Ziarmal, Shaikh Zayed university, Education Faculty, Physics Department

**Email address:** m.ziarmall@gmail.com

## Abstract

The discovery of X-rays at the end of the 19th century led to a real breakthrough in the study of the structure of matter. X-rays, which belong to the group of electromagnetic waves, collide with the atoms of solid matter depending on the wavelength and energy, which is why the three-dimensional interference occurs in the structure of a crystalline lattice. When such rays are crystallized, a complex pattern of rays is formed, which reflects the crystal structure. In this section, during the collision with a specific atom in the crystal lattice, as well as the charging of the entire crystal lattice, these atoms of the crystal lattice have one-dimensional, two-dimensional, and three-dimensional structures, and the X-rays that Its energy is in the range of (10-50) kilowatts and is used to transfer it to a charged state.

**Key words:** X-rays, Bragg's principle, interference, crystal lattice, charging of particular atom and crystal lattice.

## Solution of Higher Order Polynomial Equations

S.T.A Abdullah Abid Shaikh Zayed University, Education faculty, Mathematic department.

**Email:** abdullahmangal579@gmail.com

**Abstract**

Solution of polynomial equations is an important concept that has been used in applied mathematics for decades. In this paper, new approaches and techniques for finding one or more roots (either Real or Complex) of higher-order polynomial equations are discussed, the basis of which is the new standards. This article beginning with such high-order polynomial equations which solve by taking the roots of complex numbers iteratively. Following the procedure, two techniques for solving quartic equations are described that are based on a new method which was developed in 2016 for solving cubic equations that do not require roots of complex numbers, its would solve by approximation of a real root, Also for introduction of Higher order polynomial equations and its Solution, definitions and theorems are considered in terms of the nth order system which includes all types of polynomial equations including those nth order polynomial equations that cannot be solved Algebraic operations and computational algorithms have been converted into a solvable form. Overall, Higher order polynomial equations are solved by this new and efficient algorithmic technique the proposed methods rely on initially identifying the vicinities of the roots and do not require the use of complicated formulas, roots of complex numbers, or application of graphs. It is proposed that under the stated conditions, the methods presented provide efficient techniques to find the roots of polynomials equations.

**Key words:** Complex roots, Polynomial Equations, Quartic Equations, Real Roots, Solution Algorithm, vicinity.

# Effects of waste on human health and methods of prevention

S. T. Assistant Qadirullah Haand[1] and S. T. Assistant Rahmatullah Abid[2], Shaikh Zayed University, Education Faculty, Department of Biology.

**Email:** qadirullah.H1986@gmail.com[1], rahmatullahabid100@gmail.com[2]

## Abstract

In this short bibliographic research paper, the introduction of garbage and the causes of its occurrence, the existing and occurring problems due to garbage, in addition to this, in this research paper, the ways of safely burying garbage, Related waste recycling procedures and a number of other methods have been identified; In order to have a safe, healthy life and a garbage-free, safe environment, according to the modern science, prevention of all kinds of pollution has been emphasized. Also, in this article, information related to waste is presented so that the current important problems in the society such as soil pollution, water pollution, the emergence of known and unknown diseases and risks due to various pollutions, waste materials The problem of burial and so on is something that the people of the society should know about the necessity and the ways to prevent it.

**Keywords:** Health and a healthy environment, safety ways of protection from waste, the dangers of waste, waste.

# Investigating the importance of mathematical applications and mathematical modules in financial knowledge

Senior Teaching Assistance Ehsanullah Hemati & Senior Teaching Assistance Mohammad Zubair Tanweer, Education Faculty, Mathematic department.

**Email address:** Ehsanullah.hemati@gmail.com & Tanweer.zubair@gmail.com

## Abstract

The aim of this article is to make the readers understand the relationship between mathematics and financial knowledge. Since there are different types of financial markets in the world and each one is defined and recognized by the exchange of its financial products, that in reality these conversions are nothing but mathematical calculations. Therefore, in order for us to have gained knowledge in this field and to have known the applications of mathematics in this field. Accordingly, we have explained the basic concepts of mathematics along with their application in a simple manner. Every data-based financial process is a mathematical model. And these modules can have very complex situations, you can find it in the sources of this article, which modeling is probably one of the most important concepts.

**Key words**: Financial knowledge, Mathematical model, generalized hyperbola, wealth

# Fetus and its Rulings according to Islam

Mufti Sayed Rahman Saeed, Lecturer of Islamic Culture at Ahmad Shah Abdali Institute of Higher Education

Email Add: Sayid.rahman687@gmail.com

**Abstract**

The original meaning of the word fetus is to cover and hide until the fetus is in the womb of the mother, which is known as fetus. Although some jurists have called the signs of life a condition for the adoption of the fetus, Allah Almighty has described nine stages for man in his book Quran, six of which are related to the fetus, which the commentators have explained with full clarity in their interpretations. The stages of the fetus are also described in the speeches of the Messenger of Allah, such that after every forty days, the fetus enters a new stage. There is no doubt that Allah Almighty is all-powerful and capable of creating human beings without these stages of embryos, but even if He takes them out of these stages, the great wisdom and philosophy of Allah are hidden in this matter. The jurists, May God have mercy on them, have also stated special rulings regarding the fetus in their books, one of which is about abortion. In general, from the point of view of the jurists, abortion has two situations, one before the entry of the soul into the fetus and the other after the entry of the soul. The jurists have different opinions about these two situations. Abortion is not permissible in the opinion of scholarly jurists unless there is a dire need, but it has been called permissible in the opinion of ancient and modern scholars according to certain conditions during dire need. Preservation of the life of the fetus is necessary and inevitable. In addition to this, artificial insemination, like in vitro fertilization and in vivo fertilization, with the advances of modern technology, is an important topic of the time that scholars have researched. According to their research, these inseminations have different types, some of which are permissible under their specific conditions and others are prohibited.

**Key words:** Abortion, Fetus, Insemination, Jurists, Rulings, stages.

# Causes and solutions to the stagnation of print publishing

Teaching Assistant Hilal Arshad, Communication and Public Relations Fculty, Journalism Department
Email Add: hilalarshad18@gmail.com

**Abstract**

In the 21st century, with the spread of new technology, social media (Facebook, Twitter, Instagram...), radio, television and especially thousands of websites, some people believe and think that here in Afghanistan The market of print media/publications and its readers has cooled down and gone towards stagnation, but the truth is, if the writing of print media and publications is professional and standard; So there are readers; If we publish our publications with a high and standard design, take into account the principles and rules of printing, fill the contents with people's needs and tastes, use new technological tools properly and our readers as a whole. Understand the meaning; so we can warm up this cold market and reduce the causes of stagnation. If one considers past journalistic efforts, very few will spark innovation. Currently, there are dozens of print media (newspapers, weeklies, journals, magazines and periodicals), but all these publications are similar. In terms of impact, television and social media are efficient, in terms of speed and coverage, radio is efficient and effective; Why does the press or print media remain behind in these fields and do not have many readers; But due to the analysis, interpretation and analysis of issues, it is more effective than others and has the status of a guide. So, in order to achieve these goals, if the editors of the print publications, the main methods of attracting the readers of the print media, their desires, interests, tastes; Consider religious, cultural, economic, political, sports, literary issues; Good design, selection of news items according to people's needs for content is what; To attract readers and strengthen our print publication. Also, print media (press) forms the basis of all media; so it has to cope with the new modern digital (media).

**Key words:** Print publications, Reader requests, design, stagnation and the media

# The Role of Students in Conflict Reduction in Universities

Senior Teaching Assistant Gulwali Mohammadzai, Shaikh Zayed University, Economic faculty, Banking and Finance Department.

Email: gulwali.szu@gmail.com

Teaching Assistant Akmalnasir Amiri, Shaikh Zayed University, Economic faculty, BBA Department.

Email: akmal.amiri@yahoo.com

## Abstract

This article investigates students' contribution to reduction and resolution of conflicts and explores the measurements that contribute to conflict resolution in universities. It identifies the main conflicts and their respective causes in academic settings, as well as the role and responsibility of students in reducing and resolving conflicts. Conflicts arise from differing goals among parties and can stem from limited understanding, personality differences, resource disparities, mental health issues, and non- compliance with hierarchy. Through qualitative analysis of literature, case studies, and expert opinions, findings emphasize students' significant contribution to conflict reduction. Through fostering tolerance, mediating between parties, and promoting awareness students play a proactive role in conflict reduction, contributing to harmonious academic environment.

**Keywords:** Animosity, Factors of conflict, conflict, Difference between Animosity and Conflict.

# Investigating the effects of child labor on children's future and social life

S.T. Assit Qudratullah Saddiqi and T. Assit Amir Mohammad Sabir,
Shaikh Zayed University, Department of Sociology and Philosophy.

Email: qudratullahsadiqi@gmail.com, amirmsabir@gmail.com

**Abstract**

Throughout history, child labor has been used at various levels. Child labor is an international problem that affects children all over the world; many children suffer from this problem and experience various forms of violence. Many children under the age of 18 work in various sectors. The main reasons of child labor in third world countries are poverty, unemployment, illiteracy and lack of education, which deprives children of their childhood, and prevents children from going to school regularly and this work is harmful to the child from psychological, physical, social and moral aspects. All over the world, child abuse is prohibited by law, and all these reasons have a profound negative impact on the child's future and social life. The child is the future of the society and all the hopes of a good life depend on it, any society's workforce, which is knowledgeable and skilled; as a result, the society develops quickly and powerfully in every aspect. The child is the youth of our society and society has great expectations from him in the future. Therefore, the healthy protection of this workforce is necessary, if children's future and social lives are not taken care of, so due to various reasons, societies lose this power. From the findings of the research, it is clear that heavy work on children has irreparable negative effects on the future of our society and on every aspect of their lives. The purpose of this study was that the next generation of the society is not able to express their rights; therefore, their rights should be secured and they should enjoy all the rights of life. Parents, the government, religious and charitable organizations of the community, the media, and elite members of the community can play an important role in preventing child labor. In this research, both qualitative (interview, case study) and quantitative (questionnaire) research methods have been used to collect data.

**Key Words**: poverty, social life, causes of child labor, child labor, and children

**Introducation The Arabon (Deposit) contract**

Senior Teaching Assistant Pasoon Miakhil, Sheikh Zayed University, Law and political science Faculty, Department of Law at, Khost - Afghanistan.

Email: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**Abstract:**

The Arabon (Deposit) contract consists of the payment of an advance money by the customer before buying something. In such contract both sides should know that they can sue each other based on Arbon contract. Also, if there is a dispute about advance payment what steps to be considered for solution. It is a contract or a settlement, which creates an agreement between the will of individuals and bring obligations for both sides of the contract. In addition, if a dispute has happened then contract or a contract documents, evidence or other related means of proof of judicial are credible and hearable in legal & Judicial system. But most of the time it happens that the customer does not break his promise and remains obliged for the contract, that is why they take Arabon (deposit) from csutomer.so that the seller is satisfied for the sales of his goods; On the other hand, the customer/buyer gives advance payment to the seller so that the seller is also bound to perform the obligation and satisfied with the purchase of the goods, so that the promises made are not compromised.
However, if such an event occurs that any of the parties are not performing his/her obligations, then parties to the contract can request their right and submit a petition for their right to the legal and judicial bodies.
**Key words:** seller and buyer, creation of obligation, sales of goods, Arabon (deposit), contract.

## The reasons for the suffering of pashto language

Senior Teaching Assistant Gul Ahmad Mohabat, Sheikh Zayed University, Faculty of languages and literature, Pashto Department.

Email: gul.mohabat@gmail.com

### Abstract

This study aims to show us the reasons and the ways that why the Pashto language is currently suffering and what can be done to prevent this. According to this research, we know that many bad and wrong combinations are used in Pashto language, which are not the original form of Pashto language and they have been entered Pashto language through illegal ways. Such combinations have entered the Pashto territory through journalistic translations, the disregard of the speakers, arbitrary neologism in the language, and a number of other ways. This study also shows us some solutions, how we can prevent such kind of ways that have harmed our language. This is a field and qualitative research, in which the interview method has been used.

**Key words:** Bad combinations, Journalistic Translations, Arbitrarily Neologism, Language hammering.

# Sources of Public opinion training, enhancement and guidance

Associate Professor Mohammad Khan Niazi & Assistant Professor Asddullah Tanai, Communication and Journalism Faculty, Department of Public Relations.

Emil address: belalahmad2020@gmail.com

**Abstract**

In this article, information has been written regarding the media, religious scholars, Commentators, lecturers, institutions, propaganda, education, public and regarding the political stance of authorities and use of influence in the society. Because the mentioned institutions have caused public opinion to ask and fight for their rights. Stated institutions have been recommended to use their influence for the spiritual and material enhancement and development of the society and call the public to unity. Wake them up for the ongoing and current events and moments and keep them aware no to become a victim of the plan of the enemies.

**Key words:** Lecturers, awareness, Public Opinion, negligence, influence.

## Linguistic study of Morphophonemic transitions in language

Assistant professor Khalid Takal, Academy Sciences Afghanistan, Department of Linguistics.

Email Add: Khalidtakal145@gmail.com

**Abstract**

Language is a social phenomenon, which came to existent in a contractual manner among members of the society, in order to communicate with each other and solve their problems. Morphemes in a language change based on their environment or some other reasons, which linguists call it morphophonemic changes which are different in types. It is an interesting discussion in the history of language evolution. These transitions between phonemes occur in lexical, morphematic and lexical contexts if they are permanent morphemes, that is why they are called morphological-phonetic transitions. These transitions usually do not create a change in meaning, but in these transitions, sounds become harmonious or dissimilar, or create dissonance between themselves, or homogenous sounds merge into each other according to their phonetic characteristics, or delete a sound. This article is a research about morphophonemic changes in the language and the nature of these changes with various examples

**Key words:** Transition, Language, Linguistics, Phonology, Morphology

**The Codes of Poetry of Muhammad Siddiq Pasarlai**

Assist. Prof. Zahir Shah Zaheer, Shaikh Zayed University, Languages and Literature Faculty, Pashto Department.

**Email:** zahirzaheer123@gmail.com

**Abstract**

In general, in the field of literature, how much poetry has been written in Eastern languages and how many styles and schools have come into being, among them all, Hindi style poetry is more distinguished than others due to its poetic characteristics. One of its privileges is that it is high in terms of imagination and poetry, and very deep in terms of content and thought. This is the reason why it takes a little effort to understand the poetry of the Indian style, but when the reader of literature understands it to some extent, it brings many new words and questions to the mind, despite its impact and enjoyment. There are classical period poets in Hindi style in Urdu, Persian and Pashto languages, which have been categorized in the history of literature, but if we talk about contemporary poetry, perhaps there are many poets in Hindi style. However, those poets whom contempporary literary scholars call poets following the Hindi style are few in number and one such poet in Pashto contemporary literature is Muhammad Siddique Pasrali, who is called a poet following the Hindi style.

**Key words:** Pasarlai, Indian style, poetry, codes and exploration.

# Ijma in the Interpretation of the Holy Quran and its Examples

Assistant Professor Ashiqullah Ahmazai Department of Islamic Education, Faculty of Sharia Shiekh Zayed University Khost Afghanistan

**Email Add:** ashoqullah.ahmadzai2019@gmail.com

## Abstract

Consensus (Ijma) is the third principle from the principles of Islamic Shari'ah and the third reason among its arguments, and it exists in various sciences of Islamic Shari'ah, such as: fiqh (Islamic jurisprudence), principles of jurisprudence, etc. Therefore, it is very important, as there is consensus in the interpretation of the Qur'an. This scientific article has been written in order to better explain this issue; In order to identify different types of consensus, such as: the interpretation passages of all the commentators agree on a word, which the commentators quote in the consensus, which is called consensus on the word. Sometimes there is consensus on the meaning, sometimes there will be consensus on one meaning, sometimes on many meanings, and sometimes commentators will quote such consensuses, which will not be included in the paraphrasing and interpretation of the verse, Such as: consensus on issues of the Qur'anic sciences, such as: Makki and Madani surahs, the number of verses, etc. According to Ibn Jarir al-Tabari and some other commentators: consensus is the agreement of many commentators; Therefore, one should look at the religion quoting the consensus in Ijma. Thus, examples have been cited for a number of consensuses; In order to make this issue clear by giving an example, it will also become clear that there is consensus on one interpretation of the commentators in the interpretation like other sciences.

**Key words**: Consideration of Ajma, Ijma, Interpretation, Interpreter (Explainer), Quran

# Jus Cogens

Associate Professor Mohammadullah Mandozay and Senior Teaching Assistant Fazal Rahman Ayoubi, Shakh Zayed University, Law and Political Science Faculty, International Relations and Political Science Department.

Email: prof.mandozay@gmail.com & fazal.ayobi@yahoo.com

**Abstract**

Jus cogens rules, these are the rules that are directly related to human life that neither legislative power can create nor destroy. The principle of keeping promises, implementing international commitments in good faith, the principle of the prohibition of force and the prevention of war, the principle of legitimate defense, the principle of the prohibition of mass killings, the principle of the prohibition of slavery, eradicating colonialism, the principle of non-racial discrimination, the right of peoples to determine their own destiny, respect for the sovereignty, independence and territorial integrity of countries... whenever an international agreement is signed between two or more countries. If it is in conflict with these regulations, the contract is void and terminated.

**Key words:** Racism, Jus cogens, slavery, self-defense, mass murder, genocide colonialism, nullity.

# Importance and Effects of Media Policy

Associate Professor Mohammad Khan Niazi, Shaikh Zayed University, Communication and Journalism Faculty, Public Relations Department.

**Emil address:** belalahmad2020@gmail.com

## Abstract

Abstract: In this article, both press and policy are identified. Scientific and professional information has been written about the impact on the policy structure, organization, society and journalist; If the government, media and journalists consider their structure and work, all parties will be freed from various problems, conflicts between the three parties will be avoided, unnecessary influence and propaganda of the enemies will be prevented, and on the contrary, harmony, sympathy, and Progress is taking place, the three parties are moving towards a useful national union, this is the reason why the media prefers the role of a bridge between nations and governments.

**Key words:** Administration, Policy, Structure, Problems, Influence, Press.

# The First Defeat of Mughals' Pride by Jalal-ud-Din Khwarazm Shah in Parwan

Associate Professor Zarwali Sediqi, Shaikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography.
Email: zarwalisedeqi@gmail.com

## Abstract

Parwan, which is located in the north of the country has a special strategic value since ancient times and this location and nature has not only beautified the province, but it has also made it strong militarily, therefore, the Alexander's invasions were repelled many times.

The invasions of Changiz Khan had a wide spread fear and oppression over the entire region at that time, but Jalal-ud-Din Khwarazm Shah shook the Mughals' cruelty and pride up to some extent in a short time in Parwan, the Mughals also realized that the land of brave people has the ability to take revenge. Therefore, they became worried and decided to free themselves from this place with skills and tactics through changing their military tactics so that to decline the intentions of this movement.
It is worth mentioning that in terms of time, this war took place in the year 618 HQ, which was a very surprising war for Changiz Khan, personally. This war was successful at a time when the Mughals had brought a pervasive negative change in the political, social, economic and cultural fields and as a result this civilized region had turned into a destructive and terrifying nightmare due to the bad nature of Mughals as they knew nothing, but destruction and killings.
Now the astonishing question is, how and through which means and techniques Jalal-ud-Din Khwarazm Shah was able to defeat the Mughals in Parwan after the successive defeats his father has had.
Jalal-ud-Din Mohammad Khwarazm Shah' personality had a special role in this war and Changiz himself admitted his ability and expertise saying: (Every father may rear a child like him).
This article encompasses the three wars of Parwan, their styles, military tactics and the alliance of the nations, such as Ghori, Khalji, Turki,

Qabchaq and other Afghan nations who supported the Sultan and brought this war into victory. In these wars, they were united against their common enemy and were able to defeat the arrogant enemy. Changiz himself admitted their defeat in this war and said that they had not been defeated so for, therefore, they would make strategy for the future so that not to face such defeats again.

**Keywords:** Changiz Khan, Jalal-ud-Din, Khwarazm Shahian, Mughals, Parwan.

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2024, No: 34**


## Editorial Board


- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assis. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assist Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**
- **Assist. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **S. T. A. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**